فتاوی یعقوبیہ

تالیف

ذو المجد الفاخر والعلم الذاخر والفہم الماہر

شیخ الحدیث والتفسیر

مفتی عبدالرزاق کدنوی عفی عنہ

مدیر مدرسہ محمدیہ نورزئی چوک خروٹ آباد کوئٹہ

ناشر

قاری بسم اللہ نوری کاریزی

مکتبہ حقانیہ

کانسی روڈ کوئٹہ



Maktaba Tul Ishaat



تمام فنون کے کتب ہمارے ویب سائٹ اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید نئے کتب شامل کر رہے ہیں نئے شامل شدہ کتب لیے روزانہ ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو باقاعدگی سے چیک کیا کریں۔

اپنی کتاب کو ہمارے ویب سائٹ پر شائع کرنے کے لیے رابطہ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ و دعوت
آڈیو دروس	مناظرے	تمام فنون

maktaba.tul.ishaatofficial@gmail.com

فتاوٰی

یعقوبیه

جلد (۸)

تألیف:

ذو المجد الفاخر والعلم الذاخر والفهم الباهر



قاری بسم اللہ لوی کاریزی

مکتبہ حقانیہ

کانسی روڈ۔ کوئٹہ

تقریظ

شیخ الحدیث والتفسیر فصیح اللسان حضرت مولانا نظر محمد صاحب الافغانی ادام اللہ برکاته الجاری بانی و مدیر جامعه ام القراء چمن .

الحمدللہ العلی العظیم وصلوات اللہ البر الرحیم علی صاحب الخلق العظیم محمد و علی آله و صحبه و کل من اهتدیٰ بهدیه المستقیم اما بعد: فیقول الفقیر الی اللہ نظر محمد الافغانی انما طالعت نماز ج من الفتاوی الیعقوبیة لاخینا فی اللہ الشیخ الفقیهه المفتي النبیه الشیخ عبدالرازق زید مجده المدیر باالمدرسة المحمدیة فی کویته و علی الاسف انی لم آستوعب المطالعة لتزاهم آشغالی و تفاقم هوممی و مع ذلک حین قلبت الحدقة فی نبذات من تلک الفتاویٰ و نماز ج منها عثرت علی تفوقهه و عموم و قوفهه فی آنحا العلوم من دراية الحدیث وروایة و من ناحیة الفقه الحنفی دقا وجلا و سن ناحیة الحوادث والنوازل فی العصر الحاظر و ما الیه ذلک من رد البدع والمنکرات واصلاح الصدور المعتقدات مع الترجمة السهلة الوجیزة الی لغتنا الافغانیة السلمانیة فجزی اللہ تعالیٰ المؤلف خیر الجزاء و تقبل جهوده و مساعیه فی تلک الفتاویٰ و فی المصنفات اللتی صنفها قبلها و وفقه لتالیفات آخر کما یحب ویرضی و علی العلماء والائمة ان یطالعوها و یستفیدوا منهاخذما نظرت ودع شیئا سمعت به . فی طلعة الشمس ما یغنیک عن زحل .

حضرت مولانا نظر محمد صاحب الافغانی

تقریظ

شیخ القرآن والحدیث حضرت مولانا حمد الله صاحب استاذ و بانی مدرسه عشره مبشره بائی پاس آخری استاپ الله دی دشیخ صاحب په عمر کښې برکت واچوي .

الحمد الله الذی خلق السموات والارض وجعل الظلمت والنور و فضل العلم علی الجهل فقال قل هل یستوی الذین یعلمون والذین لا یعلمون انما یتذکر اولوالاباب وصلوات ربی و سلامه علی محمد عبده و رسوله القائل من یرد الله به خیر یفقهه فی الدین و علی آله واصحابه القاده السادة و علی من تبعهم باحسان الی یوم الدین .

اما بعد: کله چې ما عاجزه بنده فتاوی یعقوبیه چې پر ۱۲ جلدو مشتمله ده چې د ذوالمجد الفاخر والعلم الذاخر جامع المنقول والمعقول محسود الاقرآن المفتي الاعظم جناب مولانا عبدالرازق کدنوی حفظه الله تألیف وو وکتل نو می په اخلاص داوویل چې صادق هغه قائل ښې ویلی دي کم ترک الاول للاخر ځکه چې ډیری داسې جدیده مسائل پکښې سته چې متقد مینونه دي بیان کړي خو په دې مذکور کتاب کی سره د تحقیق او معتبرو حوالو سره بیان شوی دي .

تقریظ

شیخ القرآن والحدیث مناظر اسلام فصیح اللسان حضرت مولانا منظور احمد مینگل صاحب شیخ الحدیث مدرسة صدیقیة کراچی باکستان .

الحمد للہ رب العالمین والصلوۃ والسلام علی اشرف الانبیاء محمد المصطفیٰ وعلیٰ آلہ واصحابہ نجوم الہدیٰ وفقہاء ملۃ الی یوم الجزی۔ امابعد:

اسلام ایک کامل مکمل دین ہے جس میں ہر شعبہ زندگی کے حوالے سے رہنمائی موجود ہے قرآن مقدس جو ہدی للمتقین ہے بغیر کسی تغیر وتبدیل کے پوری آب وتاب کے ساتھ محفوظ ہے دوسری طرف رحمت عالم ﷺ کے فرامین مبارکہ بھی محفوظ ہیں جنہیں امت کے خوش نصیب طبقے محدثین عظام نے فرب مبلغ اوعیٰ من سامع کے تحت بعد والوں کو منتقل کیا۔ فقہا کرام نے خداداد بصیرت کی بنیاد پر قرآن وسنت میں غوطہ زن ہو کر فقہ کی صورت میں جو عظیم ذخیرہ ملت کے سامنے پیش کیا وہ رہتی دنیا تک عملی میدان میں رہنمائی فراہم کرتا رہے گا لیکن پھر بھی النصوص محدودۃ والحوادث محدودۃ کے پیش نظر نوازل اور پیش آمدہ مسائل کا صحیح حل تلاش کرنا ہر دور کے فقہاء کی ذمہ داری ہوتی ہے جنہیں وہ بہتر طریقے سے نباہ رہے ہیں موجودہ دور میں مرکز رشد وہدایت دارالعلوم دیوبند کی طرف منسوب اہل علم اکابر نے دین کے تمام شعبوں کی خوب آبیاری کی صرف فقہ وافتاء کے باب میں جو عظیم ذخیرہ عربی اوا ردو زبان میں مدون کیا اسے دیکھ کر عقلیں دنگ رہ جاتی ہیں ضرورت اس بات کی ہے کہ دیگر زبانوں میں اس طرح کی تالیفات اور تراجم کا اہتمام کیا جائے پیش نظر مسودہ فتاوی یعقوبیہ اسی سلسلے کی ایک کڑی ہے جس کو حضرت مولانا مفتی عبدالرازق الکدنوی صاحب نے پشتو زبان میں مرتب کیا ہے فقہا مسائل میں بالخصوص آراء کے اختلاف بدیہی الامر حقیقت ہے اس وجہ سے اہل علم کے خلاف کی گنجائش موجود ہے۔ مؤلف اس قابل قدر محنت پر قابل داد اور کتاب قابل دید ہے۔ خوشبو آن است کہ خود بیوید نہ آنکہ عطار بگوید

اللہ تعالیٰ اسے مؤلف کے لئے ذخیرہ آخرت اور امت کے لئے باعث ہدایت اور رہنمائی بنائیں آمین

﴿حضرت مولانا ڈاکٹر منظور احمد مینگل صاحب﴾ ﴿حفظہ اللہ﴾

رئیس جامعہ صدیقیہ گلشن معمار کراچی

فهرست

فتاوٰی

یعقوبیه

جلد (۸)

تألیف:

ذو المجد الفاخر والعلم الذاخر والفهم الباهر



قاری بسم اللہ لوی کاریزی

مکتبہ حقانیہ
کانسی روڈ۔ کوئٹہ

دکتا ب لنډه پيژندګلوي

****

دکتاب نوم:
مؤلف مفتي عبدُ الرّازق کدنوي
کمپوزر: راز محمّد راز،مرکز کتابت،کوټه
دخپرېدو کال: ۲۰۲۰ عيسوي
صفحات: ( )

فصل فی الیمین

سـوال :......

څـه فـرمـايـي عـلـمـاء كـرام د دې مسـئـلـې په حقله چي قاضي و مدعى عـلـيـه تـه پـه هـره دعـوى كي قسم وركولى سي په دې شرط چي د مدعي گواهان نه وي او كه نه؟

جواب :......د مـدعـي كـه گـواهـان نه وو قاضي و مدعى عليه ته په دعوى صـحـيـح كـي قسم وركـولـى سي او پـه دعـوه فـاسـده كي قسم نـه سي وركولى:

"والـدليل على ذلك ما فى التتارخانية فنقول الدعاوى نوعان صحيح و فـاسـد و الاسـتـحـلاف انما يجرى فى الصحيح منها لا فى الفاسد"(ص ۲٤۲ / ج: ۱۱ الـفصل فى اليمين ۲۵ ـ معين الحكام / ص: ۷٤ ـ المحيط البرهانى / ص: ۳۷۹ / ج: ۱۲ ادارة القرآن كراتشى)

سـوال :......

څه فرمايي علماء كرام د دې مسـئـلـې په حقله، مدعي كه دعوه وكړه په مـدعـى عليه باندي د يو شي او مدعى عليه په هغه شي كي شكمن وو او مـدعـي د قسـم مـطـالـبـه وكړه مـدعـى عـلـيـه به په دغه شكمن صورت كي قسم كوي او كه نه؟ فصل فى اليمين

جواب :......

پـه صـورت مسـئـولـه كـي بـه مـدعـى عليه قسم نه كوي ځكه چي په

حـرام کـې واقـع نـه سـي بـلـکـه لـه خصم سره دې صلح وکړي او که بیې بیې قسمه اکتفاء نه کوله نو مدعي علیه به په غالب الرأی عمل وکړي :

”والحجة على ذلك و فى الابانة إذا شك الرجل فيما يدعى عليه ينبغى أن يرضى خصمه بشيئ و يصالحه و لا يعجل باليمين احترازعن الوقوع فى الحرام فإن أبى الخصم الا أن يحلف ان كان اكبر رأيه أن المدعى محق لا محلف و ان كان اكبر رأيه أنه مبطل و سعة أن يحلف “(الفتاوى التتارخانيه / ص: ٢٤٢ / ج: ١١ ، الفصل الخامس والعشرون - در المختار على رد المحتار / ص: ٤٧٢ / ج: ٤ ، كتاب دعوى م رشيديه)

سـوال :......

څـه فـرمـايـي عـلـمـاء کرام د دې مسئلې په حقله چې قاضي به قسم په کوم صفت او کیفیت ورکوي یعني کوم الفاظ به ورته وایي؟

جواب :......

قـاضـي تـه اختیار دی یعني د قسم اکتفاء په یوه نامه د الله (ج) کیږي مـګر که مال ډېر قیمتي وي او یا مدعی علیه شرارتي وي بیا دې پـه قسم کې شدت ورسره وکړي :

”والحجة على ما قلناه و أما بيان صفته فنقول أن يكتفى بذكر اسم الله وحده بأن قال بالله و الله جاز و ان شاء غلظ فى اليمين - و فى الخانية فذكر اسم الله فى الصفة و يبالغ فيه ، م: و بعضهم قالوا ينظر إلى المدعى به فان كان عظيما غلظ عليه و ان كان حقيرا اكتفى بذكر اسم الله وحده - و فى الفتاوى العتابية ثم هو بالخيار ان شاء غلظ فى الاموال الخطيرة إذا كان المدعى عليه ممن لا يبالى ، م : ثم قدر بعضهم العظيم بنصاب الزكوة و

بعضهم قدروا بنصاب السرقة"(الفتاوى التتارخانيه / ص: ٢٤٤ / ج: ١١ ، كتاب آداب القاضى ، فى الفصل اليمين ـ معين الحكام / ص: ٧٥ ـ رد المحتار / ص: ٤٧٦ / ج: ٤ ـ المحيط البرهانى / ص: ٣٨٠ / ج: ١٢ ادارة القرآن ـ)

سوال :......

څه فرمايي علماء کرام د دې مسئلې په حقله چې زموږ په قومو کې دا خبره مشهوره او مروجه ده چې قسم چې يو چا ته ورکوي په مسجد کې به يې ورکوي آيا دا صحيح ده چې قسم بل ځای نه ورکول کيږي بې له مسجده او که نه؟

جواب :......

په صورت مسئوله کې دا خبره غلطه ده د إمام صاحب په مذهب کې قسم هر ځای ورکول کېدای سي تر مکان پوري هيڅ تعلق نلري :

"والحجة على ما قلناه قول صاحب الدر لا يحستحب التغليظ على المسلم بزمان و لا مكان كذا فى الحاوى و ظاهره أنه مباح"(در المختار على رد المحتار / ص: ٤٧٦ / ج: ٤ ـ المحيط البرهانى / ص: ٣٨١ / ج: ١٢ الفصل الخامس و العشرون فى اليمين ـ الفتاوى التتارخانية / ص: ٢٤٥ / ج: ١١ ، كتاب آداب القاضى ، ـ م رشيديه)

سوال :......

څه فرمايي علماء کرام و مفتيان عظام د دې مسئلې په حقله چې مدعى عليه ګونګی وي، قاضي صاحب به قسم څنګه ځيني طلبوي ؟

جواب :......

د ګونګي په حق کې اشاره داسې ده لکه نطق د صحيح په حق کې

يعني قاضي به قسم په اشاره ځيني اخلي که په اشاره يې د قسم اجابت وکړ فيصله به د ده په حق کي وکړي او که يې اعراض ځيني وکړ فيصله به پر ده باندي وکړي:

”و ان علم القاضی أن بلسانه آفة بأن علم أنه اخرس يأمره أن يجب بالاشارة و يعمل باشارته لأن الاشارة من الأخرس قائم مقام الكلام من الناطق ألا ترى أنه عمل اشارته فی حق النكاح و الطلاق فان اشار بالاقرار تم الاقرار و ان اشار بالانكار عرض عليه اليمين فان اشار بالاجابة كان يميناً و إن شار بالانكار قضی عليه بالنكول آه“(الفتاوی التتارخانية / ص: ۲۷۲ / ج: ۱۱ ـ رشيديه)

سوال:......

څه فرمايي علماء كرام د دې مسئلې په حقله که مدعی عليهم گونگی وي او هم كوڼ وي بيا به قاضي قسم څنګه ورکوي؟

جواب:......

مدعی عليه که هم گونگی وي او هم كوڼ وي، قاضي به قسم په کتابت ځيني واخلي او که مدعی عليه په کتاب نه پوهېدو بيا به قسم داسي ځيني واخلي لکه له گونګي چي يې اخلي يعني په اشاره به يې ځيني واخلي:

”و الدليل علی ذلك فان كان المدعی عليه اصم مع كونه اخرس و القاضی يعرفه أنه اصم فالقاضی يكتب له و يأمره أن يجيب بالكتابة و إن كان لا يعرف الكتابة و له اشارة معروفة يؤمر بالاشارة ليجيب و يعامل هو كمايعامل مع الاخرس“(الفتاوی التتارخانية / ص: ۲۷۳ / ج: ۱۱ م

رشيديه - در المختار على رد المحتار / ص: ۴۷۳ / ج: ٤ ، كتاب الدعوى)

سـوال :......

څه فرمايي علماء كرام د دې مسئلې په حقله كه مدعى عليه هم ګونګى وي او هم كوڼ وي او هم ړوند وي بيا به قاضي قسم څنګه ځيني اخلي؟

جواب :......

مدعى عليه كه پلار او يا نيكه درلودو او يا يو له دوى وصي درلود مدعي به خصومت له دغو مذكورو كسانو سره وكړي او كه دغه هم نه وو موجود، قاضي به د مدعى عليه له جانبه وصي مقرر كړي، مدعي به خپل خصومت له هغه سره وكړي:

”والحجة على ما قلناه و ان كان المدعى عليه مع كونه أخرس و أصم أعمى فالقاضى ينصب عنه و صيا يأمر المدعى بالخصومة معه إذا لم يكن له أب او جد او وصيهما“(الفتاوى التتارخانية / ص: ۲۷۳ / ج: ۱، كتاب آداب القاضى ، - مكتبه رشيديه)

سـوال :......

څه فرمايي علماء كرام د دې مسئلې په حقله چي مدعي او مدعى عليه پخپل مينځ كي صلح سره وكړي و مدعى عليه ته ووايي چي ته قسم وكړه بس خلاص يې هغه قسم وكړي بې له مجلسه د قاضي له هغه وروسته مدعي ګواهان راولي د قاضي و مجلس ته او مدعى عليه ووايي چي ما خو يو وار قسم كړى دى ،په دې صورت كي مدعي خپل حق حاصلولى سي او كه نه؟

جواب :......

پـه صـورت مسئـولـه كـي د مـدعـي حق پـه ګواهانو ثابت دی د مدعی عليه پـه قسم د ده حق نـه ختميږي:

”والـدلـيل عـلـى ذلك قال فى كتاب الصلح رجل ادعى على رجل ديناً او عيناً و الـمدعى عليه ينكر ذلك فاصطلحا على أن يحلف المدعى عليه و هـو برأ من المال فحلف المدعى عليه فالصلح باطل و المدعى على دعواه إن أقام بيـنة أخـذه بها و هذا لأن المدعى عليه لو استفاد آه۔ إلى قوله لأن اليـمين عند غير القاضى غير معتبر لأن المعتبر يمين قاطعة للخصومة واليمين عـنـد غير القاضى غير قاطعة للخصومة“ (المحيط البرهانى / ص: ٤٠٢ / ج: ١٢ ، كتاب الـقـضـاء ـ م ادارـة الـقرآن ـ در الـمختار على رد المحتار / ص: ٤٧١ / ج: ٤ ، مكتبه رشيديه كوئته)

سـوال:......

څـه فـرمـايـي عـلـمـاء كرام د دې مسئلې پـه حقله چي صـورت د انكار د مـدعـی عـلـيـه كي پـه صلح سره و كړه مدعى عليه ورتـه و ای چي تـه قسم وكړه چي دغـه شـی ستا ده او يا دونـه روپۍ ستا پـر مابـاندي دي مثلا بس ستـا د مـال زه ضـامن يم دركوم يې، او مدعي قسـم و كړي دغـه صلح جائز ده او كه نه، پـه دغـه قسم حق ثابتيږي او كه نه؟

جواب:......

دغــه صـلـح بـاطـل ده ځـكـه دا د شـريعـت خلاف ده، هـره صلح چي د شـريـعـت خلاف وي هغـه اعـتبار نلري ځـكه قسم و مدعي علـيـه تـه وركول كيږي نـه و مدعي تـه:

”و الـدلـيل عـلـى ذلك و كـذلك لـو اصطلحا على أن المدعى لو حلف

فالمدعی علیه ضامن للمال و حلف فالصلح فباطل و لا شیئ علی المدعی علیه لأنه صلح علی مخالفة الشرع لأنهما بهذا الصلح جعلا الیمین حجة للمدعی و الیمین فی الشرع لم یجعل حجة للمدعی"(المحیط البرهانی / ص: ۴۰۲ / ج: ۱۲ ، کتاب القضاء الفصل الخامس والعشرون - در المختار علی رد المحتار / ص: ۴۷۱ / ج: ۴ مکتبه رشیدیه کوئته)

سوال:......

څه فرمایي علماء کرام د دې مسئلې په حقله چي په کومو مسائلو کي قاضي قسم ورکولی سي او په کومو مسائلو کي یې نه سي ورکولی؟

جواب:......

په حدودو کي اتفاقاً قسم نه سي ورکولی ماسوی له سرقې و غله ته قسم ورکولی سي لپاره د اثبات د مال، نه لپاره د قطع ید او یو څو نوري مسائلي دي . إمام صاحب وایي نه یې سي ورکولی او صاحبین وایي ورکولی یې سي او مفتی به قول د صاحبینو دی . خلاصه داده چي له حدودو ماسوی په ټولو مسائلو کي قسم ورکېدلی سي صرف په حدودو کي نه سي ورکېدلی:

"والحجة علی ذلك و لا یستحلف فی الحدد الا فی السرقة لأن المقصود من الیمین النکول والنکول بذل او اقرار فهی شبهة والحد لایقام لحجة فیها شبهة لأنه یحتال لدرئها آه - والحاصل أن المفتی به التحلیف فی الکل الا فی الحدود و منها حد قذف و لعان فلا یمین اجماعاً إلی قوله و کذا یستحلف السارق لأجل المال فان نکل ضمن و لم یقطع"(رد المختار

علـى هامش رد المحتار / ص: ٤٧٣ / ج: ٤ ، كتاب الدعوى ـ معين الحكام / ص: ٧٧ ـ مكتبه حاجى عبد الغفار قندهار)

سـوال:......

څه فرمايي علماء كرام د دې مسئلې په حقله چې يو سړى د بل پر ځاى قسم كولى سي او كه نه؟ مثلاً د زيد پر عمر د قسم حق وي بكر ووايي د عمر پر ځاى زه قسم كوم او يا زيد ووايي چې د عمر پر ځاى دي بكر قسم وكړي بس عمر زما له دعوې خلاص دى؟

جواب:......

په صورت مسئوله كي بكر د عمر پر ځاى قسم نه سي كولى او نه زيد و بكر ته قسم وركولى سي ځكه په استحلاف كي يو د بل نائب جوړېداى سي مثلاً په صورت مسئوله كي د زيد پر ځاى بكر وكالة و عمر ته قسم وركړي او په حلف كي يو د بل نائب نه سي جوړېداى ماسوى له يوې مسئلې هغه دا ده چې مدعى عليه هم ګونګى وي او هم كوڼ وي او هم ړوند وي بيا به د ده پر ځاى قسم ولي كولى سي:

"والدليل على ذلك النيابة تجرى فى الاستحلاف لا الحلف و فرع على الاول بقوله فالوكيل والوصى والمتولى وأبو الصغير يملك الاستحلاف فله طلب يمين خصمه و لا يحلف أحد منهم"(در المختار على رد المحتار / ص: ٤٧٣ / ج: ٤ ، رشيديه)



باب الایمان و النذور

د قسم ورکولو حکم:

سوال:......

آیا په قسم ورکولو باندي قسم واقع کیږي؟

جواب:......

کوم سړي ته چي قسم ورکول سي خبره باندي وکړل سي په دې سره قسم نه واقع کیږي او نه هغه خبره واقع کیږي لیکن که چیري هغه قسم ورکړي او ده قسم واخیست بیا قسم واقع کیږي:

"و فیه دلیل علی أن من أقسم غیره و قال: و الله لتفعلن کذا، ولم ینو شیئاً او نوی انه یفعل ذٰلك و لا بد، فهو حالف، فان لم یفعل المخاطب حنث۔ وان اراد الاستحلاف فهو استحلاف، ولا شیئ واحد منهما إذا لم یفعل"(اعلاء السنن ١١/٤٥٦ کتاب الأیمان)

بلا ضرورته قسم اخیستل:

سوال:......

پر رښتیا خبرو باندي قسم اخیستل درست دي که یا؟

جواب:......

بې ضرورته پر رښتیاخبره قسم اخیستل شرعًا بد کار دی:

"و ذکر بعضهم أن کثرة الحلف مذمومة و لو فی الحق، لما فیها من الجرأة علی اسمه جلّ شانه"(روح المعانی: ٢٩/٢٧ ـ سورة القلم: ١٠)(ولا

تجعلوا الله عُرضة لأيمانكم)الاية. و بهذه الآية ثبت أن الإكثار بالحلف مكروه و أن الحلاف مجترئ على الله. و لا يكون برا متقيا. التفسير المظهري. سورة البقرة ٢٢٤. ١. ٢٨٢. أن الاكثار بالحلف مكروه. (التفسير المظهري: ١٠. ٣٤). (سورة القلم: ١٠).

(و لا تطع كل حلاف) و كفى به فزجره لمن اعتاد الحلف. تفسير القاسمي ٩/ ٢٥٥. (سورة القلم: ١٠).

و الأفضل في اليمين بالله تعالى تقليلها و في تكثير اليمين المضافة إلى المستقبل تعريض اسم الله لهتك. قلت: و عليه الصوفية. قال. فبالله لا تحلف و إن كانت صادقاً و لا تكذبن يوما و إن كنت هازلا. (حاشية الطحطاوي على الدر المختار، كتاب الأيمان: ٢/ ٣٤)

سوال:

د يو مسلمان پر قسم باندې يقين بيه وکړل سي که نه. يعني يو سړی په ظاهره ديندار ه دی او هغه ديو مولوي د رمخه قسم وا خيستی هغه يو حديث ورته بيان کړی چي څوک چي قسم اخلي هغه د غه حديث د رويه کذب دی نو د ديو مسلمان د رشتوني کېدو يا د دروغجنو ني څه شرعي طريقه سته؟

جواب:

پر هره خبره قسم اخيستل د دروغجن سړي عدت وي او هغه حديث چي مولوي بيان کړی هغه ت نه وو ليکلی چي موږ يې تحقيق کړی وای چي په ظاهره ديندار وي پر هغه يقين نه کول بيه خبره نه ده. په کوم ځايو کي چي د فيصلې معيار پر قسم وي هلته پر داسي قسم

شرعاً فیصله کیږي .

او په سنن ابو داؤد، کتاب الأیمان :۲/۱۰۸ کي او په مشکوة کي په فصل اول ص: ۳۲۷ کي یې یو قیصه را نقل کړې ده چي نبی ﷺ پر یو فاجر او ظالم سړي باندي د هغه په قسم اخیستلو باندي پر هغه یقین وکړی نو باید پر ظاهراً دیندار خو بیخي یقین وسي . (فتاوی محمودیه / ج: ۱۴/ ص: ۳۱، ۲۳)

پر دروا‌غو قسم اخیستل:

سوال :......

یوچا په کېه کي قسم واخیستی بیا یې اقرار نه کاوئ یعني دغه قسم یې پر دروا‌غو واخیستی . د دې څه عذاب دئ، د ده عذاب څنګه کمیږي؟

جواب :......

پر دروا‌غو قسم اخیستل ګناه کبیره ده . په لاس کي قرآن اخیستل بیا قسم اخیستل دا تر هغه هم خطرناک دئ، کله عذاب په دنیا کي هم راسي او بیا چي کله درواغ په دنیا کي ښکاره سي نو هم ډېر ذلالت او رسوایي وي، باید پر خپل دغه حرکت استغفار او توبه د خپل رب څخه وغواړي:

"عن عمران بن حصین رضی الله عنه قال : قال النبی ﷺ : من حلف علی یمین مصبورة کاذباً ، فلیبتوأ بوجهه مقعده من النار"(سنن ابی داؤد : ۲/۱۰٦ ، ۱۰۷ ، کتاب الایمان من الکبائر الاشراك بالله ، و حقوق الوالدین ، وقتل النفس و الیمین الغموس) (اعلاء السنن ۱۱/۳٤)

ان لها ثلثة ارکان : الا قلاع و الندم علی فعل تلك المعصية والعزم على ان لا يعود اليها ابداً ، فان كانت المعصية لحق آدمى فلها ركن رابع ، و هو التحلل من صاحب ذلك الحق ، و اصلها الندم و هو ركنها الأعظم ۔ و اتفقوا على أن التوبة عن جميع المعاصى واجبة ، و أنها واجبة على الفور لا يجوز تأخيرها سواء كانت المعصية صغيرة او كبيرة ۔(شرح النووى على صحيح المسلم كتاب التوبة :۲/ ۳۵٤۔ و كذا فى روح المعانى (سورة التحريم :۸) :۲۸ / ۱۵۹ ۔ قال الله تعالى (قُلْ يَا عِبَادِىَ الَّذِيْنَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا مِن رَّحْمَةِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيْعاً إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيْمُ)(سورة الزمر :٥٤)

پر درواغو قسم:

سوال :......

زيد د مجبوري لـه كبله د عمر څخه درې زره (۳۰۰۰) روپۍ واخيستې يو څو موده وروسته چي كله عمر هغه پيسې د زيد څخه وغوښتې نو زيد انكار وكړو چي ما ته يې د سره راكړي نه دي بيا يې بكر پر دغه خبره شاهد كړى او بكر پر دغه قسم هم واخيست د دغه په باره كي اوس شرعي څه حكم دى؟

جواب :......

كه يې چيري پر درواغو قسم كړى وي نو دا ګناه كبيره ده او دا و شرك ته قريب دى توبه او استغفار لازم دى . (راجع / ص: ۳۳ رقم الحاشيه ۱ . رجع / ص: : ۳۳، رقم الحاشية ۲) په غير الله سره قسم .

سوال :......

د الله د اسم بغیر په بل شي سره قسم څنګه دي مثلاً نصاری به په بائبل سره، یا بعضي خلک وای چي زما دي ستا پر سر سره قسم وي ددې په شریعت کي څه حکم دی صرف د بغض او عناد د وجهي؟

جواب:......

بنه دا دی چي نه واخیستل سي که چیري زیات ضرورت پیدا سي نو صرف د الله په نومانو او صفاتو سره قسم اخیستی سي او که په قرآن سره یې قسم واخیست نو قسم منعقد دی . (عالمګیریه / ص: ۶۴۴، در مختار / ص: ۲۹۱) او بغیر د شرعي وجهي بغض ګناه ده:

"عن ابی هریرةؓ قال: قال رسول الله ﷺ: ایاکم و الظن، فان الظن اکذب الحدیث ۔ و لا تحسسوا و لا تجسسوا و لا تناجشوا و لا تحاسدو و لا تباغضوا "(مشکوة، فصل اول / ص: ٤٢٧)

په بت خانه سره قسم:

سوال:......

د زید او عمر پر یوه خبره سر جنجال سو، نو عمر د بت خانې سره ولاړ وو او پر بتخانه یې لاس ونیوی چي زما دي په دغه بتخانه سره قسم وي، آیا د عمر د مسلمان کېدلو باوجود په دغه بتخانه سره په قسم اخیستلو د ده و اسلام ته خو به څه ضرر نه رسوي؟

جواب:......

صرف په الله سره قسم جائز دی په دغه صورت کي دي تجدید د ایمان او د نکاح وکړي په ندامت سره دي تائب سي:

"عن ابی هریرةؓ قال: قال رسول الله ﷺ من حلف منکم فقال فی

حلفه باللات ، فلیقل لا اله الا الله"(مسلم ، کتاب الأیمان : ۲/٤٦) (بخاري : ۲/۹۸٤)۔ (تکملة فتح الملهم : ۲/۱۸۲)

په قرآن سره قسم:

سوال:......

په قرآن سره قسم اخیستل څنګه دی؟

جواب:......باید نه یې واخلي او که یې په قرآن سره قسم واخیستی نو د قسم چې څه احکام دي هغه به جاري کیږي .

"و لا یقسم بغیر الله تعالی کالنبی و القرآن و الکعبة "(الدر المختار)

قال العلامة ابن عابدین (قوله لا یقسم بغیر الله تعالی) عطف علی قوله والقسم بالله تعالی (ای لا ینعقد القسم بغیره الله تعالی : ای غیر اسمائه و صفاته و لو بطریق الکنایة کما مر ، بل یحرم کما فی القهستانی ، بل یخاف منه الکفر(رد المحتار علی الدر المختار ، کتاب الأیمان ۳/۷۱۲)(و فتاوی عالمگیریه : ۲/۵۳)

سوال:......

زید د عمر سره په قرآن وعده وکړه بیا یې هغه وعده ماته کړه اوس یې څه حکم دی؟

جواب:......

که یې چیري د وعدې سره قسم هم اخیستی وي نو دا د شرعې خلاف دی کفاره واجب ده که یې قسم نه وي اخیستی هم د وعدې خلاف ورزي کول ګناه ده . بغیر له عذره . که یې چیري دوعدې په وخت کي د وعدې د ماتولو اراده وه دا هم سخته ګناه ده:

”وحكمها وجوب الكفارة إن حنث، و منها ما يجب فيها البّر كفعل الفرائض و ترك المعاصى و منها ما يجب فيه الحنث كفعل المعاصى و ترك الواجبات ، و منها ما يفضل فيه الحنث كهجران المسلم ونحوه و ما عدا ذلك يفضل فيه البر حفظاً لليمين ـ قال فى المجمع: لقوله تعالى: واحفظوا أيمانكم ، اى عن الحنث “(مجمع الانهر : ٢/٢٦٤) و كذا فى فتح البارى باب لا يؤاخذكم الله باللغو : ١١/٦٣٩)

وعن ابى هريرةؓ قال : قال رسول الله ﷺ آية المنافق ثلاث ، إذا حدث كذب و إذا وعده اخلف و إذا اؤتمن خان۔ (صحيح بخارى ، باب علامة المنافق : ١/١٠)

سوال :......

د زيد د عمر د مايني سره پر يوه خبره جګړه سوه د عمر مايني قسم واخيستى چي زه به په زيد جادو او كوډي كوم، بيا زيد و څو خلكو ته وويل چي دا دي په ما جادو نه كوي او تاسو د دې ښځه وعده واخلئ خلكو وعده ځيني واخيسته خو بيا هم دى مطمئن نه سو بيا خلكو په دې پر قرآن لاس كښېښودئ او و يې ويل چي زه په ده جادو نه كوم او نه مي كړى دى ، اوس زيد وايي چي دې قسم مات كړى دى اوس څه حكم دئ؟

جواب :......

بې ثبوته پر چا بهتان لګول حرام دى . د قسم د ماتېدو بعد كفاره لازمه ده . هغه داده چي لس مسكينانو ته به د دوو وختو ډوډۍ وركوي يا دي هغو ته يوه يوه جوړه كالي وركړي او كه دومره وس يې نه وي بيا دي درې ورځي پر له پسې روژې ونيسي . (لقوله تعالى: فكفارته

إطعام عشرة مساكين) صرف په قرآن لاس نیول قسم نه دی:

و اما ركن اليمين بالله فذكر اسم الله او صفته و اما ركن اليمين بغيره فذكر شرط صالح و جزأ صالح . (فتاوی عالمگیریه :۲/ ۵۱، کتاب الأيمان . و كذا في امداد الاحكام : ۴۰/۳ . و كذا في فتاوى دار العلوم دیوبند، کتاب الأيمان ۱۲/ ۴۱)

سـوال:......

مـا قرآن شريف په لاس كي واخيستى قسم مي وكړ چي كه زما ورور د شريعت موافق ژوند كوي نو زه دی خپل ورور ګنم او كه د شريعت خلاف سي بيا يې دښمن ګنم . اوس كه چيري د خپلي مور په خوله يا د خپلي مرضى مطابق زما يوه خبره نه ومني بلكه د پلار په ژوند كي زما پر حصه باندي په ناجائزه طريقه سره قابض سي نو زما دپاره څه حكم دئ؟

جواب:......

كه چيري هغه د شريعت خلاف وكړي هم يې دښمن مه ګڼه بلكه قسم مات كړه او كفاره وركړه د ورور سره د دښمني معامله مه كوه . (فتاوى محموديه / ج: ۱۴/ ص: ۴۲، باب الأيمان)

په قسم د نه باور كونكي حكم:

سـوال:......

زيد وايي چي په قرآن يا په كعبه سره چي قسم وسي نو د هغه خبره به ضرور منل كيږي بكر وايي چي قسم صرف په الله سره جائز دی نو بيا پر هغه باور څنګه وسي چي هغه دروغجن نه دی؟

جواب:......بكر صحيح وايي چي قسم صرف په الله سره جائز دی ليكن

بعضي فقهاء لکه صاحب فتح القدير او بحر الرائق په قرآن سره هم د قسم قائل دي او بايد د قسم بغير هم د يو مسلمان خبره رښتيا ومنل سي:

”عن عبد الله بن عمر رضى الله عنهما ان رسول الله ﷺ ادرك عمر بن الخطابؓ وهو يسير فى ركب يحلف بأبيه فقال الا ان الله ينهاكم ان تحلفوا بآبائكم من كان حالف فليحلف بالله او ليصمت“(صحيح البخارى : ٩٨٣/٢ ۔ و فتح القدير ٦٩/٥ ۔ و بحر الرائق ٤٨١/٤)

قرآن په غيږ کي نيول او وعده کول:

سـوال:......

زما قـرآن پـه غيږ کي وي او د يو چا سره وعده وکړم بعد کي دا حساس راته وسي چي داسي نه وي چي دا کار بيا زه نه وکړم دا مناسب ده که يا؟

جواب:......

پـه دې سره قسم نـه واقـع کيـږي، بايد دغـه خالي وعده پوره سي ، د وعدې کـولو په وخت کي د کار د نه کولو نيت د نفاق علامـه ده . (فتاوى عالمگيريه : ٥١/٢ . و كذا فى امداد الاحكام : ٤٠/٣)

و مسجد ته د نه تک قسم:

سـوال:......

خـلکو په مسجد کي جنجال کوى ما هغه د دغه جنجال څخه منع کړو خو بيا هم هغوى جګړه کوله نو ما قسم وکړ چي زه به مسجد ته نه راځم اوس زما د پاره څه حکم دئ ، د مسـجد پـه تک سره قسم ماتيږي کفاره سته که نه؟

جواب:......

مسجد ته ولاړ سه، بیا د قسم کفاره ورکړه، کفاره دا ده چې لس مسکینان دوه وخته ماړه کړه یا کالي ورکړه یا روژې ونیسه:

"عن ابی هریرةؓ قال : قال رسول الله ﷺ و الله لأن یستلج احدکم فی یمینه آثم له عند الله من أن یؤدی الکفارة التی فرض الله علیه"(اعلاء السنن، کتاب الأیمان : ۱۱/۳۷٤) و فی الدر المختار :۷۲۸/۳ ـ و فی بحر الرائق : ٤/٤٨٨)(سورة المائدة: ۸۹)

سوال:......

زید قسم وکړ چې زه به د عمر شي نه خورم بیا هغه ورته هبه کړی یو شی، یا یې په پور پیسې ځیني واخیستې او په هغه یې یو شی وخوړ، اوس زید حانث سو که نه؟

جواب:......

په قسم کي اعتبار و عرف ته دی. کله چې په عرف کي ویل کیږي چې زه د هغه شی نه خورم نو مقصد دا دی که یې هغه راته هبه کړي او خپل ملک ختم کړي بیا یې هم نه خورم بغیر د هغه د اجازت یې هم نه خورم لیکن که چیري د هغه څخه قرض واخلي بیا یې پر یو شي ورکړي او هغه وخوري نو عرفاً داسي نه ویل کیږي چې د هغه شی مې وخوړ، نو په دغو دوو صورتو کي نه دی حانث، د هبې په صورت کي حانث دی. (فتاوی عالمکیریه:۸۳/۲ . و تبیین الحقائق :۴۴۰/۳ . والدر المختار :۷۴۳/۳)

سوال:......

یو چا وویل چې که مې فلانکی کار وکړی نو به د امت څخه خارج یم

دا قسم دی که یا؟

جـواب : ......دا قسـم نــه دی . پــه عـرف کـې ددې مـطـلـب دا دی چې زه د مسلمانانو او اسلام څخه بېزاره يم او دغه رقم الفاظ تر شرط پورې په معلق کېدلو سره قسمً کېږي . (فتـاوى عـالمكيريـه : ۲/۵۴، و الدر المختار : ۳/۷۱۳، ۷۱۴، و كذا فى تا تارخانية : ۴/۴۲۰)

سـوال : ......

يـو چـا قسم وکړ چې که تاسو زمونږ کره نه راځئ نو مونږ هم نه درځو . د چـا پـه هـکـلـه چې يې قسم اخيستـى وو هغه وفات سو، د قسم اخيستونکي دپاره څه حکم دئ؟

جواب : ......

اوس که ورسي نوقسم نه ماتيږي . اوس دا د هغه نه دی . (التتارخانية : ۴/۵۷۴ . و فى الدر المختار :۳/۶۱ . و فى البحر الرائق : ۴/۵۱۲)

سـوال : ......

کـه مـې فـلانـکـى شـى وخـوړ نـو مې د نبي عليـه السلام غوښې مې وخوړې نعوذبالله دا قسم دی که یا، بکر هم وويل چې که مې د فلانکي سره خبري وکړې نـو ګـکه د نبي عـلـيــه الـسـلام دغوښو خوراک . دا رقم قسمونه کول بيا پر درېدل څنګه دي؟

جواب : ......

دا رقـم قـسـم ډېـره بـدبـخـتـي ده بيـا د قسم خلاف وکړي يعني خبري او خوراک وکړي .

دغـه الـفـاظ که څه هم حقيقةً قسم نه دی ليکن د فقهي قاعده ده حلال

پر ځان حرام کول او حرام پر ځان حلالول قسم دی . (فتاوی محمودیه / ج: ۱۴ / ص: ۴۹)

سوال:......

ښځي وويل ما د دې کار (جماع) څخه قسم اخيستی دی .زيد هم د غصې په حالت کي وويل چي نو بيا ما هم پر ځان دا کار حرام کړيدی، نيت يې د طلاق نه وو اوس طلاق واقع کيږي که يا؟

جواب:......طلاق نه واقع کيږي که يې جماع وکړه قسم واقع کيږي پر ښځي هم کفارسته ځکه هغې هم قسم اخيستی وو .

سوال:......

يو هلک بد اخلاقي وکړه استاذ يې قسم ورته وکړی چي زه به تا ته سبق نه وايم . اوس د دغه هلک تعليم جاري دی او دغه هلک د استاذ څخه معافي غواړي او پر دغه استاذ هم سبق ويل غواړي نو پر استاذ دا لازمه ده که يا چي ضرور به هغه ته تعليم ورکوي .

جواب:......

که چيري د متعلم د تعليم انتظام نه وي نو بيا به استاذ قسم ماتوي او کفاره به ورکوي اوس خو دلته چونکه د تعليم انتظام سته نو قسم ماتول نه دي ضروري . (فتاوی محموديه ۱۴/۵)

سوال:......

يو هلک بد اخلاقي وکړه استاذ يې قسم ورته وکړی چي زه به تا ته سبق نه وايم .

جواب:......

د قسم كفاره به وركوي . (مجمع الأنهر :۲/ ۲٦۱)

سـوال :......

زيد وويل زمـا خوراک ستـاسو كـره كـول داسي دى لكـه د خنزير خوراک، د دې څه حكم دى دغه خوراک حرام دى كه نه؟

جواب :......

نه دى حرام:

"التعليق بما تسقط حرمته بحال ما كالميتة والخمر والخنزير لا يكون يميناً"(بحر : ۳/ ۲۰۷ ـ رد المحتار :۳/ ۷۲۱ـ تتارخانية :٤/ ٤۲۳)

سـوال :......

دوو خلكو يو ځاى كـار سره كـاوه او دواړو وعده وكړه چي موږ به همېشه يو ځاى كار كوو بيا يې په مابين كي څه خبره راغله او سره جلا سول، اوس كفاره ستـه كه يا؟

جواب :......كه يې قسم نه وي اخيستى بيا كفاره نستـه بغير له عذره چي يې وعده ماته كړه د هغې ګناه ستـه:

"الخلف في الوعد حرام و في القنية: وعده أن ياتيه فلم يأته ـ لا يأثم: قلت : يحمل الأول على ما إذا وعد و في نيته الخلف فيحرم لأنه من صفات المنافقين والثاني على ما إذا نوى الوفاء و عرض مانع"(الاشباه و النظائر ، كتاب الحظر و الاباحة ۳/ ۲۳٦)

و كذا في الحديث النبوي : آية المنافق ثلاث إذا وعده اخلف و إذا حدث كذث و إذا اؤتمن خان ـ إذا وعد الرجل و ينوى أي يفى به فلم يف فلا جناح عليه ـ(سنن الترمذى :۲/ ۹۱ـ مشكوة المصابيح ، كتاب الايمان ،

الفصل الاول :۱۷)

☆☆☆

فصل فی کفارة الیمین:

سـوال :......

یو څوک نسوار کوي بیایې قسم وکړي چې نسوار به نه کوم خو بیا یې وکړل، اوس باید څه وکړي کفاره باید څنګه ورکړي که چیري کفاره پر لازمه ده؟

جواب :......

پر ده کفاره لازمه ده هغه داسي چې لسو مسکینانو ته به دوه وخته دوډۍ ورکوي مړه وي به یې . یا به لسوغریبانو ته کالي ورکوي . که چیري د دغه دوارو وس او طاقت نلري نو بیا به دري روژې پرله پسې نیسي که یې چیري یې یوه په مابین کي وخوړه بیا به یې له سره پرله پسې نیسي:

"قال الله تعالی : لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللّٰهُ بِاللَّغْوِ فِيۡ أَيۡمَانِكُمۡ وَلٰكِن يُؤَاخِذُكُم بِمَا عَقَّدتُّمُ الۡأَيۡمَانَ فَكَفَّارَتُهُ إِطۡعَامُ عَشَرَةِ مَسَاكِيۡنَ مِنۡ أَوۡسَطِ مَا تُطۡعِمُونَ أَهۡلِيۡكُمۡ أَوۡ كِسۡوَتُهُمۡ أَوۡ تَحۡرِيۡرُ رَقَبَةٍ فَمَن لَّمۡ يَجِدۡ فَصِيَامُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ ذٰلِكَ كَفَّارَةُ أَيۡمَانِكُمۡ إِذَا حَلَفۡتُمۡ " (سورة المائدة: ۸۹)

په یمین غموس کي کفاره نشته:

سـوال :......

زید د عمر شی واخیستی پخپل بکس کي یې واچوی او و لاړی بیا بکر و عمر ته وویل چې هغه شی زید واخیستی زید قسم واخیستی

چي ما نه دی اخیستی . اوس کفاره پر سته که نه؟

جواب :......

ګناه سته کفاره نسته . کفاره په یمینِ منعقده کي سته . دا یمین غموس دی:

"رجل قال و الله ان الأمر کذا ، و هو کاذب ، فهو غموس لا کفارة فیها"(٤١٦/٤)

په هیره سره کفاره لازمیږي :

سوال :......

ما قسم وکړ چي زه به چای نهٔ کوم په هېره سره مي وکړې بیا مي را په یاد سو چي ما قسم اخیستی وو، اوس څه حکم دی زما دپاره ؟

جواب :......

په هېره سره قسم ماتیږي:

"و لا فرق فی وجوب الکفارة بین العامد و الناسی و المکره فی الحلف والحنث"(سکب الأنهر : ٥٤٩/١۔ مجمع الأنهر :٢٦٤/٢۔ المکره والطائع والناسی فی الحلف والحنث سواء۔ تتارخانیه ، کتاب الایمان : ٤٣٦/٤)

د اصلاح وعده ماتول :

سوال :......

زموږ په قوم کي څو غلط رسمونه دي نو موږ وعده سره وکړه چي دا رسمونه به بیا نه کوو، خو زموږ څخه بیا دا رسوم صادر سول، اوس کفاره یا قسم دی دا که یا؟

جواب: ......

دوعدې خلاف کول ګناه ده، که یې چیرې قسم اخیستی وي بیا دې کفاره ورکړي او کفاره دې لس مسکینانو ته دوه وخته ډوډۍ یا دې کالي ورکړي یا کــه یې وس نـلري بیا دې درې روژې ونیســي . (فتاوی محمودیه/ ج: ۱۴/ ص: ۵۸، و فقه الاسلامی ۴/۲۵۷۴)

باب الـنـذور

د نذر بيان ، د نذر انعقاد :

سـوال :......

يـو چـانيـت وكئ چي زه به خيرات كوم لږ غوبني به مسجد ته وركوم لږ كلي والو ته لږ به كور والا ته وركوم، نو نذر سته كه نه؟

جواب :......

د نـذر دپـاره صيـغـه التـزامـي ضـروري ده پـه دغـه الفاظو سره نذر نـه لازميږي:

"فـركن النذر هو الصيغة الدالة عليه و هو قوله لله عز شانه على كذا ، او عـلى كذا او هذا هدى او هذا صدقة او مالى صدقة" (بدائع الصنائع ، كتاب النذر ٦/٣٣٣ـ)

و فـى احـكـام الـقرآن للابن عربى: حقيقة النذر التزام الفعل بالقول مما يكون طاعة لله عزوجل ، و من الاعمال قربة ، و لا يلزم نذر المباح (٢/١٨) و فى التتارخانية :(٤/٤٢)

د نذر تحقيق كول :

سـوال :......

مـسـجـد تـه مـتـاياني راوړل سوې خلكو بې له تحُقيقه چي چا راوړي دي د چـا دي د دې بـغـيـر يـې وخـوړې دا ښنكه دي او يو چا داسي وويل چي كـه ماته خداى زوى راكړ زه به په مسجد كي متاياني تقسيم كړم نو دغه ښنكه دي؟

جواب:......

کـه چيـري شـکـمـن وي بيا دي نه خوري او بغير د تحقيقه دي شک نه کوي چي دا به حرام وي:

"دع ما يريبك إلـى ما لا يريبك"(الحديث) او د زوی پـر پيـدا کېدلو باندي کـه يې چيـري متـايي په تقسيم کي للٰهيت نيت وي بيا به دا نذر ورکـوي او د نـذر مستـحقين غريبان دي . (فـيض القدير :٦/٣٢٤٥ . رقم الحديث :۴۲۱۱، و مسند الأمام احمد بن حنبل (رقم الحديث :۱۷۲۵)

د مولود نذر باطل دی:

سـوال:......

يـو چـا وويـل کـه زمـا فـلانـکـی کار وسو نو زه به په مسجد کي ميلاد وايم، بيا چي دا کار وسي نو دغه نذر پوره کول جائز دی که نه؟

جواب:......

دا نذر باطل دی:

"أقبح منه النذر بقرأة المولد"(شامی :۲/٢٥٦)

سـوال:......

په پسه يا غوا کي نذر کول ضروري دی که نه؟

جواب:......

کـه چيـري ده نـذر اضـحيه وي يعني داسي نذر وکړي چي "لله علی ان اضـحی شاة" نو په دې کي ټول شرائط د اضحيې موجود کېدل ضروري دي داسي اضحيه چي صحيح او درسته وي دا پر ده واجب سوه . (فتاوی محموديه / ج: ۱۴/ ص: ٦٥،٦٦)

سـوال:

زید دا نـذر وکړی چې کـه چیري د عـمر نکاح په شرعي توکه سره د بـکـر د لـور سـره وسوه نو به زه دغه غوا (. . .) حلالوم بیا د بکر لور د دغـه واده څـخـه انـکـار وکړ او زید دغه نجلۍ وتښتوله او په غیر شرعي توکه سره یې نکاح ورسره وکړه اوس دوې پوښتني دي:

(۱) آیا دغه غوا په دغه ولیمه کي حلالول جائز ده؟

(۲) او آیا بـغیـر د شرعـي عـذره دغــه (مشـروط بنـیت ولیمـه) ذبح کوای سي؟

جواب:......

باید نذر پر ځای کړي دغه نذر دي غریبانو ته ورکړي خو په ولیمه کي دا نـه ده ضـروري چي خامخا به مساکین وي . (فتاوی محمودیه / ج: ۱۴ / ص: ٦٧)

سـوال:......

یـو چا نـذر وکـړی که فلانکی کار وسو زه به درې روژې نیسـم، د کار کېدلو دمخه یې نذر پوره کړی، د دې بعد هغه کار هم وسو ، نو اوس هغه نذر بس ده که بیا یې پوره کړي؟

جواب:......

هـغـه روژې نه دي کافي، ځکه ده روژې تر کار پوري معلق کړي وې او چـي کـلـه کـار نـه وو سـوی نـو نـذر واجب سوی نه وو نو هغه نفلي سوې اوس به نوري روژې نیسي . (بدائع الصنائع :۵/ ۹۳)

”لایصـح التـکـفیر قبل الـحنث فی الیمین سواء کان بالمال او بالصوم

الخ"(بحر : ٤/٩٣)

سـوال :......

د نـاروغـه دپـاره چـي نـذر وسـي نو بيا بايد څنګه صدقه وکړي آيا عمر وغيره شرط دى که نه؟

جواب :......

يـعـنـي تـخـصـيص يې نه وي کړى،که يى په دې کي نذرنه وي کړى نو چي څنګه يې خوښه وي هغسي دي صدقه کړي که يې چيري تخصيص وکړى بيـا بـه هـغـه مـخـصـوص حيـوان حـلالوي مثلاً په غوايي کي بيا اومه(۷) حصه نه ده معتبره . (رد المحتار :۲/۷۴)

سـوال :......

زيـد ښـځـه حـامـلـه وه . ده دا نـذر وکـړى چي کـه چيري زمـا اولاد پـه خيريت سره وسو نو زه به غوا حلالوم اوس به نذر وي که يا ؟

جواب :......

نذر ستـه :

"وليوفوا نذورهم"(فتاوى محموديه : ١٤/٧٠)

د کوچني پر ولادت د قرآن نذر :

سـوال :......

زيـد وويـل کـه چيري زما په خيريت سره اولاد وسو نو به زه قرآن ختم کـوم ، نـو اوس دغـه نـذر بـه پـوره کـوي کـه يـا او آيا دغـه نذر يعني قرآن شريف په بل چا په اجرت سره ويلاى سي که نه؟

جواب :......

دا نـذر بـه پوره کوي څومره قران چي نذر کونکی ويلی سي خپله دي ووايـي . بـايـد پـه اجـرت يـې نه ووايي پـه بل چا په اجرت قرآن ختم کول معصيت دی . (رد المحتار :۱/۴۴٦ . رد المحتار: ٦/ ٥٦)

ديوې مياشتي د روژې نذر :

سـوال :......

زيـد وويـل کـه مـي دا کـار وسـو نـو زه بـه يـوه ميـاشـت روژې نيـسم، تـسلسل لازمي دی که يا؟

جواب :......

وو، دا روژې بـه مـسـلسـل نيسـې پـه مـابـيـن کـي بـه يـوه روژه هم نـه خوري . (فتاوی محموديه/ ج: ۱۴/ ص: ۷۳ ، باب النذور)

سـوال :......

زيد نذر وکړ چي که فلانکی کار وسو نو به زه پنځه سوه روپۍ چنده مسـجـد تـه ورکـوم اوس بـه پيسـې يو ځـای ورکوي کـه بـه پـه سل، سل روپۍ ورکولای سي که يا ؟ په کوم مسجد کي به ورکوي؟

جواب :......

د ده اختيـار دی کـه پـنـځـه سوه يـو ځـای ورکوي که سل سل ورکوي د مسـجـد تـعـيـن نـه دی لازم، هر مسجد چي يې زړه وغواړي ور دي کړي . (الدر المختار : ۳/ ۷۴۰)

سـوال :......

مـاوويـل کـه زمـا لـور پـاس سـوه نو زه به درې روژې نيـسم او يـوولـسو مسکينانو ته به خوراک ورکوم، لور مي پاس سوه اوس څه وکړم؟

جواب :......

یو ولسو مسکینانو ته ډوډۍ ورکړۀ یا نغدي ورکړه هر یوه ته د صدقة الفطر په اندازه ورکړۀ او روژې چي دي پر ځان نذر کړي وي هغه دي هم ونیسه:

"رجل قال : ان نجوت من هذا الغم ، فلله عليّ أن أتصدق بهذه الدراهم خبزاً ثم اراد ان يتصدق بالقيمة لا بالخبز جاز۔"(فتاوى قاضيخان على هامش الفتوى العالمگيريه ۱/۲۶۹)

و من نذر نذراً مطلقاً او معلقاً بشرط و كان من جنسه واجب اى فرض۔ و هو عبادة مقصودة و وجد الشرط المعلق به ، لزم الناذر لحديث "من نذر و سمى فعليه الوفاء بما سمى" كصوم و صلة و صدقة ۔(الدر المختار)

قال ابن عابدين (قوله و وجد الشرط) معطوف على قوله : و كان من جنسه عبادة ۔ و هذا ان كان معلقاً بشرط و الا لزم فى الحال ، والمراد الشرط الذى يريد كونه كما يأتى تصحيحه (قوله لزم الناذر) اى لزمه الوفاء به و المراد انه يلزمه الوفاء باصل القربة التى التزمها لا بكل صف التزمه۔(رد المحتار على الدر المختار ، كتاب الايمان : ۳/۷۳۵) و كذا فى التتارخانيه : ۲/۴۰۹)

د ګناه د نه کولو وعده بیا د هغه پر خلاف کولو باندي د روژې نیت کول:

سوال :......

زید ګناه کبیره کوي هغه ډېر کوشش کوي چي دا ګناه پرېږدي لیکن دا ګناه نه ځیني پاتیږي اوس ده قسم وکئ چي که چیري ده دا ګناه وکړه نو دی به یوه هفته روژې نیسي ، ده بیا ګناه وکړه څو واره دا ګناه ځیني

صادره سوه نو اوس پر ده پر لـه پسې لازمي دي چي روژې به نیسي یا بالفصل به یې نیسي او څه وخت او څو روژې به نیسي؟

جواب:......

کـه چیري ده خالي پـه زړه کـي سوچ وهلی وي او پر ځان یې د نذر او یمین رقم نه وي لازم کړی نو پر ده روژې نسته او د ګناه پرېښولو دپاره دي مسلسل توبه کاږي مایوسه کیږي دي نه، پخه اراده دي کوي چي بیا به زه ګناه نه کوم؛

”عن ابی هریرةؓ قال: قال رسول الله ﷺ ان الله تجاوز عن أمتی ما حدثت به انفسها ما لم تعلم او تکلم۔“(صحیح بخاری: ۲/۷۹٤۔ والصحیح المسلم: ۱/۷۸۔ وسنن ابی داؤد: ۱/۱/۳۰۱)

قال الله تعالی: يَا أَيُّهَا الَّذِيْنَ آمَنُوا تُوبُوا إِلَى اللَّهِ تَوْبَةً نَّصُوحاً عَسَى رَبُّكُمْ أَن يُكَفِّرَ عَنكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ (سورة التحریم:۸)

قال الله تعالی: قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِيْنَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوا مِن رَّحْمَةِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيْعاً إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيْمُ ۔(سورة الزمر:۵۳)

سـوال:......کـه چیري یـو سړي وویل چي زه داسې شی د مکې و فقراؤ ته ورکـوم چي پر ما نذر دی بیا یې د یو بل ښار و فقیرانو ته ورکړ، آیا دا نذر ادا دی؟

جواب:......”قال فی العلائیة والنذر لا یختص بزمان ومکان و درهمٍ و فقیر فلو نذر یوم الجمعة بمکة بهذا الدرهم علی فلان فخالف جاز“

یـعني پـه نذر کي تعین د زمان او تعین د مکان تعین د فقیر پر ناذر لازم نـه دی کـه چیري دا نـاذر ویـو بـل ځا تـه او پـه بله زمانه کي او پـه بل

مکان کي و یو چا ته نذر ورکړي دا نذر یې ادا دی . که چیرې ناذر متعین کړی چي دغـه شـی پـر ما نذر دی هم پر ده هغه شی لازم نه دی هغه شی یا د هغه شي قیمت چي ادا کړي نذر یې ادا دی . (رد المحتار / ص: ۱۲۰/ ج: ۲)

سـوال:......

کـه چیـري یو سړي سېرلی یا بزه ساتله بیا یې وویل چي که چیري زما دا فـلانـی کـار وسو زه بـه دا سېرلـی ذبـح کوم ، غوښې به یې پر فقیرانو تـقـسیـمـوم بیـا هـغـه کـار وسو . هغه سېرلی یا بزه نه کړه ذبح خو د هغه قیـمـت یې تـقـسیـم کـړی . آیـا ادا کیـږي او کـه نـه، او کـه بـه سېرلی ذبح کـوي . یـو عـالـم وایي چي سېرلی یا بزه به ذبح کوي ، آیا د دې عالم دعوه صحیح ده او که نه؟

جواب:......

”فی شرح التنـویر : نـذر ان یتصدق بعشرة دراهم من الخبز فتصدق بغیره جاز ان ساوی العشرة کتصدقه بثمنه“

یـعـنـي پـه نذر کي ذبح مقصود نه ده بلکه خیراتول د غوښو مقصود دي دا چي پـه اضحیه کـي مطلق ذبح مقصود ده او پـه نذر کي تصدق مـقـصـود دی کـه چیـري دې سړي سېرلـی یـا بـزه ذبح کړه بیا یې غوښې خیرات کړې یا یې قیمت خیرات کړ یا یې یو بل شی خیرات کړ دا نذر یې ادا کیږي یعني نذر یې صحیح دی . (رد المحتار / ص: ۷۲/ ج: ۳)

سـوال:......

کـه چیـري زید قسم واخیسـت چي زه به خامخا و سینما ته ورځم خو زید و سینما ته نه ورغلی، آیا د دې قسـم کفاره پر زید واجب ده او که نه او

د قسم ماتوالی پر زید واجب دی او که نه؟

جواب:......

"قال فی التنویر ومن حلف علی معصیة کعدم الکلام مع ابویه او قتل فلان الیوم وجب الحنث و التکفیر"

یعني د گناه پر قسم کفاره واجب ده او پر زید ماتوالی د قسم هم واجب دی. (رد المحتار / ص: ٦٤/ ج: ٣)

سوال:......

که چیري یو سړي وویل چي زه به دا طعام و دې مسکین سید ته ورکوم، دا پر ما نذر دی آیا دا نذر یې صحیح کیږي او کنه او ورکړه د نذر و سید ته جائز ده او که نه؟

جواب:......

"قال فی ال لائیة و جازت التطوعات من الصدقات و غلة الاوقات لهم و فی الشامی ما قوله و جازت التطوعات الخ قید بها لیخرج بقیة الواجبات کالنذر والعشر والکفارات و جزاء الصید الاخمس الزکوة فانه یجوز صرفه الیه"

یعني نذر یې نه صحیح کیږي او نه د ده نذر ورکول و سید ته صحیح کیږي. (رد المحتار / ص: ٧٣/ ج: ٢)

سوال:......

که چیري زید وویل چي که چیري زما لاس جوړ سو پر ماخلوېښت ورځي تبلیغ نذر دی، آیا دا نذر صحیح دی او که نه او پوره کول د خلوېښتو ورځو پر ده واجب دي او که نه؟

جواب :......

"قال فی التنـويـر و مـن نـذر نذراً مطلقاً او معلقاً بشرط و كان من جنسه واجب و هو عبادة مقصود ة و وجد الشرط لزم الناذر"

يـعني دا نذر نه صحيح كيږي ولي نذر پهځه شي كي صحيح كيږي چي عبادت مـقـصـوده وي تبليغ عبادت مقصوده نه دی او نه پر ده باندي پوره كول د څلو ښتو ورځو ستـه .

سـوال :......

كـه چيـري يو سړي په قرآن يا يو بل كتاب باندي نذر وكړی بي له نامه د الله ددې كتـاب خـرڅـول او رانيـول و مطالعه، درس و غيـره جائز دی كه نه؟

جواب :......

"قال الله تعالى : ما أهل به لغير الله"

يـعـنـي د دې كتاب خرڅول او رانيول او مطالعه جائز نه دی . (البحر الرائق / ج: ٢ / ص: ٢٩٨)

سـوال :......

كـه چيـري يـو سـړي وويـل چي كـه چيري زما ورور خپله لور و فلان شـنـاختـه تـه وركړه پـر مـا و هـغـه ځای ته تگ حرام دی، ورور يې خپله لور وركړه بيا دی و هغه ځای ته ورتلی، د دې حكم په شريعت كي څنگه دی؟

جواب :......

"قال فی التنـويـر و مـن حـرم شيئًا ثم فعله كفر و فی الشرح لما تقرر ان تحريم الحلال يمين"

يـعني دا الفاظ د قسـم دي پر دې سرې كفاره واجب ده . (رد المحتار / ص: ٦٥ / ج: ٣)

"قال فى البحر عن الخلاصة والتجريد و تتعدد الكفارات لتعدد اليمين و المجلس و المجالس سوا"

يـعـنـي په دې كې دوه مذهبه دي اول مذهب دا دى چې په تعدد د يمين تـعـدد د كـفـارو دى بـل مذهب دا دى چې په يوه كفاره د ټولو قسمو خلاصيږي . او مذهب صحيح دى .

باب المساجد و الوقف

په مسجد کي لاؤډ سپيکر او د هغه استعمال:

سـوال:......

حـديث شـريف د سهار لـه خـوا پـه لاؤډ سپيکر کي بيانول ددې لپاره چـي د ديـن خبري مـعـلـومـي سي، او د لمانځـه او روژې شوق پـيـدا سي، خـصـوصـاً د ښځو لـپاره چي هغو ته دا مسائل (د لمانځه يا روژې وغيره) معلوم سي دا څنګه دی؟

جواب:......

پـه دې کـي دا فـائـده هـم سـتـه . او ډېر خلک پـه خـپـلـو مشاغلو کي اختـه وي؛ دې خـواتـه متوجه کيږي هم نه . د حديث پاک او ديني مسائلو څخه دا بې تـوجهـي کول چي د آواز راتلو سره پخپلو مشاغلو کي اختـه وي او تـوجـه نـه وکړي ډېره ناقدري ده . او که چيري د اورېدلو لپاره جمع سوي وي . او د آواز نـه رسـېدلـو لـپاره لاؤډ سپيکر استعمال کړي نو هغه جلا بله خبره ده . (فتاوی محموديه/ ص: ۳۱/ ج: ۱۵)

سـوال:......

د غفلت پـه وخت کي د مسجد لاؤډ سپيکر کي حديث بيانول . . . .؟

جواب:......

چي کـلـه پـه مـسـجـد کـي يـو سـړی موجود نه وي او پـخـپـلـو کـورو کي

نارینه او ښځې پخپلو کارو کې مشغول وي يو څوک توجه نه کوي نو په داسي حالت کي حديث شريف بيانول بې ځايه دي . ددې څخه دي ځان وساتي چي کله لمونځ کونکي پخپلو خپلو ضرورتو او کارو کي مصروف وي نو هغه وخت د مسجد موقوفه شيان بې ځايه استعمالولو پر بنياد نه دی جائز نو په دغه صورت کي د لاؤډ سپيکر ضرورت نسته نو احاديث پکښي بيانول نا مناسب دي:

"ولو وقف على دهن السراج للمجسد ، لا يجوز وضعه جميع الليل بل بقدر حاجة المصلين و يجوز إلى الثلث الليل او نصفه اليه الصلوة فيه كذا في السراج الوهاج "(الفتاوى العالمگيرية ـ كتاب الوقف ، الفصل الاول / ص: ٤٥٩ / ج: ٢ ، رشيده ـ وكذا في خلاصة الفتاوى ،كتاب الوقف / ص: ٤٢٢ ـ رشيديه ـ وكذا في البحر الرائق ، كتاب الوقف / ص: ٤٢٩ / ج: ٥ ـ رشيديه)

سوال:......

د تبليغ او د ورک سوي کوچني لپاره په مسجد کي اعلان څنګه دی؟

جواب:......

د کلي په کورو کي چي کوم تبليغ کيږي د دې اعلان روا دی، د ورک سوي کوچني اعلان د مسجد څخه دباندي کېداى سي . حضرت مولانا محمد يوسف لدهيانوي رحمه الله وايي چي د انساني جان د اهميت او د ضرورت پر بناء باندي يې په مسجد کي جائز بولي او د مولانا صاحب څخه د يو بل سوال په جواب کي هم دغه د جواز توري سته . (آپ کے مسائل اور ان کا حل/ص: ـ۱۴۴ج ـ۲ ـ . و كذا في فتاوى حقانيه / ص: ٩٥ / ج: ٥)

سـوال :.....

پـه مسـجد کي لاوډ سپيکر ايښول پـه هغـه کي وعظ ونصيحت پـه دې نيت کـول چـي کـوم خـلک مسـجد تـه نـه راځـي د هغـو تر غوږو هم د دين خبري ورسيږي دا جائز دی که نه؟

جواب :......

کـوم خـلک چـي مسـجد تـه نـه راځـي د هغـو تر غوږو هم د دين خبري د رسـولـو پـه غـرض بانـدي لاوډ سپيکر هم د نورو موقوفه شيانو پـه رقم پـه قدر د حاجت استعمالول جائز دي:

”ولـو وقف عـلـى دهـن الـسـراج للمسجد ، لا يجوز وضعه جميع الليل بل بقدر حاجة المصلين ، و يجوز إلى ثلث الليل او نصفه إذا حاجة اليه للصلوة فيـه، كـذا فـى السراج الـوهـاج “(الفتاوى العالمگيرية ، كتاب الوقف / ص: ٤٥٩ / ج: ٢ رشيـديـه ـ و كذا فى خلاصة الفتاوى ، كتاب الوقف / ص: ٤٢٢ / ج: ٤ رشيـديـه ـ و كذا فى البحر الرائق ، كتاب الوقف / ص: ٤٢٠ / ج: ٥ رشيديه)

پـه روژه مبارکه کي د شپې د مسجد پـه مائيک (سپيکر) بانـدي نظم و غيره ويل:

سـوال :......

پـه کـلـي کـي د څـو کـالـه څـخـه د ورژې مـبـارکـې د شپې د مسجد پـه سپيکر ګـانـي شـروع کـوي کـلـه تقرير کـوي کـلـه نظم وايي د وخت اعلان کـوي دا وخـت پـه کـورو کـي ډېر خلک تهجد کـوي او قرآن شريف وايي د هغـو پر لمنځو او قران شريف کي ډېر خلل راځي شرعي حکم څه دی؟

جواب :......

حامداً و مصلياً .

پـه اعلان کولو سره په لمانځه او تلاوت کي تشویش راځي خو اعلان کولو والا هم خپل اعلان تر تلاوت او تهجد کم نه بولي بلکه زیات یې لا تر بولي او وایي چي ستاسي تهجد د یواځي یواځي تهجد دی او زموږ د اعلان پـه وجهي ټول کلي والا بیداره کیږي . ډېر خو تهجد کوي او د پیشلمي اطلاع ټولو ته رسیږي چي د هغه په وجهي د ټولو روژې د سنت مطابق او آسانه کیږي . اعلان کولو والا حضرات د بل خبره نه مني دوی باید سر خلاص کړي جنګ باید هیڅ کله و نسي:

"قال الله تعالى : ادع إلى سبيل ربك بالحكمة و الموعظة الحسنة و جادلهم بالتى هى احسن " (سورة النحل : ۱۲۵)

تبليغي نصاب د مسجد په مائيک (سپیکر) کي ويل:

سوال :......

پـه مسجد کي سپیکر د آذان او د یو عالم د تقریر لپاره ولګېدی اوس کـه څیري په سپیکر کي قرآن کریم ، نعت یا نظم یا تبلیغي نصاب یا یو تعلیمي کتاب وویل سي نو جائز دی که نه؟ او سره دې چي څه خلک لمونځ هم کوي؟

جواب :......

حامداًو مصلياً . تبليغي نصاب هغو خلکو ته ور اورول مقصود دي چي هلته موجود وي بې له سپیکره آواز دوی ته رسیږي نو بیا ولي په سپیکر دوی تـه ور اورول کیږي . د دې وجهي د دې مقصد لپاره باید

سپیکر استعمال نه کړي او خاص کر بیا چي کله لمونځ کونکي د دې څخه په تکلیف کیږي . په زوره زوره نعت هم په سپیکر کي د ویلو او لکولو ضرورت نسته:

”و اجمع العلماء سلفاً و خلفاً علی استحباب ذکر اللّٰه تعالی جماعةً فی المساجد و غیرها من غیر نکیر الا أن یشوش جهرهم بالذکر علی نائم او مصل او قارئ کما هو مقرر فی کتب الفقة “(شرح الاشباه و النظائر للحموی ـ رقم القاعدة : ۲۹ـ القول فی احکام المسجد ٦١/٤ ـ و کذا فی مرقاة المفاتیح : ٤٤٠٢ رشیدیه)

د مسجد په سپیکر کي نعت او غزل ویل:

سوال:......

دلته په مقامي مسجد کي د آذان لپاره سپیکر ولګیدی خو د ماخستن وروسته روزانه درې څلور ساعته خلګ نعت ، قصیده، غزل وایي او دا نیک کار بولي ، د دې وجهي لمونځ کونکو ته ډېر تکلیف وي . دوی باید دا کار وکړي که نه، د دوی دا فعل جائز دی او که نه؟

جواب:......

دا طریقه صحیح نه ده . دا باید بنده سي . په دې کي د مسجد حق تلفي ده او د لمونځ کونکو هم:

”ثم السراج والبساط کذلك إلی آخر المصالح ، هذا إذا لم یکن معیناً فان کان الوقف معیناً علی شيئ یصرف الیه “(رد المحتار / ص: ۳٦۷ / ج: ٤

سعيد ـ و كذا بحر الرائق / ص: ٤١٨ / ج: ٥ رشيديه)

و لا تجوز اعادة ادواته لمسجد آخر ، و لا يشغل المسجد بالمتاع ـ(الاشباه والنظائر ، القول فى احكام المسجد / ص: ٦٣ / ج: ٤ ـ شرح الاشباه والنظائر للحموى / ص: ٦١ / ج: ٤ ـ مرقات المفاتيح / ص: ٢٤٠ / ج: ٢ ـ فتاوى محمودیه / ص: ٣٥ / ج: ١٥)

سوال :......

د يو سپيكر آواز ټوله كلي اوري نو آيا په نورو مسجدو كي د سپيكر ضرورت سته او كنه ؟

جواب :......

حامداً و مصلياً . چي د يوه كلي مسجد په سپيكر سره ټوله كلي ته د آذان آواز رسيږي او د لمنځو ختونه قريب قريب دي نو په دا نورو مسجدو كي سپيكر لګول بې ضرورته دي ، ددې لپاره د مسجد پيسې بايد مصرف نه سي . (فتاوى محموديه / ص: ٣٦ / ج: ١٥)

سوال :......

د مسجد په سپيكر باندي د اعلان لپاره روپۍ اخيستل هغه اعلان كول جائز دي او كه نه؟

جواب :......

حامداً و مصلياً . په مسجد كي په سپيكر باندي اعلان كولو اجرت (روپۍ) اخيستل نه دي جائز:

"و لا يجوز اخذ الاجرة منه و لا أن يجعل شيئاً منه مشغلا و لا سكنى "(بزازيه ـ الدر المختار ـ و لو احتاج المسجد إلى نفقة تؤجر قطعة منه بقدر

ما ینفق علیه ، بانه غیر صحیح)۔ (رد المحتار / ص: ۳۵۸ / ج: ٤ سعید) ۔ و کذا فی بحر الرائق / ص: ۳۳۹ / ج: ٥ رشیدیه۔

د مسجد په مائیک سپیکر کي په مسجد کي د روپۍ ورکولو والا اعلان:

سوال :......

په مسجد کي د چندې ورکولو والا نوم که چیري په سپیکر کي واخیستل سي ددې لپاره چي نورو ته هم شوق ور پیدا سي او مسجد ته هم د روپۍ سخت ضرورت وي نو جائز دی او که نه؟

جواب :......

حامداً و مصلیاً: أهل مسجد د دې په استعمال باندي د معاوضې اخیستل صحیح دي که ورکولو والا په خوښي سره معاوضه ورکوي نو نفسِ استعمال د سپیکر په معاوضه کي خوند نسته:

"رجل استاجر موقوفة من اوقاف المسجد فکسر فیها الحطب بالقدوم ، والجیران لا یرضون بذلك ، والمتولی یرضی به قالوا: ان کان من ذلك ضرر بین الحجرة مثل ضرر القصار والحداد و المتولی یجد من یستاجرها بتلك الاجرة ، کان علی المتولی أن یمنعه من ذلك ، فإن لم یمتنع أخرجه من الحجرة یؤاجرها من غیره"(فتاوی قاضی خان علی هامش العالمگیریة / ص: ۳۱۳ / ج: ۲ رشیدیه)

خو که چیري د اعلان کولو والا مقصد داو چي زما نوم ټولو ته معلوم سي چي د دومره روپۍ وکړي دي نو دا مقصد غلط دی، د شهرت او نامه په نیت سره روپۍ ورکول د الله جل شانه په نزد مقبولي نه دي:

”عن ابی سعید بن ابی فضالة رضی الله عنه عن رسول الله ﷺ قال: إذا جمع الله الناس یوم القیامة لیوم لا ریب فیه ، نادی مناد فیه من کان اشرك فی عمل عمله الله احدا، فلیطالب ثوابه من غند غیر الله ، فإن الله اغنی الشرکاء عن الشرك“رواه احمد (مشکوة المصابیح / ص: ٤٥٤ قدیمی)

”عن سلمة قال: سمعت جندبا رضی الله عنه یقول : قال النبی ﷺ و لم اسمع احداً یقول : قال النبی ﷺ من سمّع سمّع الله به ، من یراء برأی الله به “۔ (صحیح البخاری / ص: ٩٦٢ / ج: ٢ قدیمی)

سوال:......

د مسجد په سپیکر باندي داعلان کولو لپاره فیس ورکول او د مسجد کمېټۍ داعلان کولو لپاره فیس اخلي، ددې څه حکم دئ؟

جواب:......

حامدا و مصلیا: پروانلري صحیح دی . (فتاوی محمودیه / ص: ۳۹ / ج: ۱۵)

د مسجد په سپیکر کي د شوق او ترغیب لپاره د چندې ورکولووالاوو د نومانو اخیستلو اعلان:

سوال:......

یو سړي د مسجد لپاره سپیکر وقف کړی، او د ده نیت دا دی چي په دې باندي د مسجد ضروریات پوره سي . اوس په مسجد کي یو لوی کار شروع کیږي مثلًا لکه فرش راوړل یا زاړه دېوالونه صحیح کول نو بنکاره خبره ده چي د دې لپاره د ډېرو روپیو ضرورت دی نو د همکارانو

پـه مشـوره سـره دوی دا عـلان کـوي چـې د چـا خومـره وس وي هغـه دي راوړي پـه دې کـې کـو چنیـان ، ښـځې او لوی خلک ټوله یې ورکوي او د چنـده ورکـونکـو نوماز پـه سپیکر کي اخیستل کیږي فقط د دې لپاره چې نـورو تـه رغبـت پیدا سي او الله جل شانه پـه لار کي د ورکړې توفیق وي مثلاً دا رقـم چې زید پنځه روپۍ ورکړي یا عمر لس روپۍ ورکړي یا فـاطمې د خپل پلار بکر لـه طرفه شل روپۍ ورکړي یا یوچا د خپل پلار مـرحوم لـه طرفه لس روپۍ ورکړي پـه دې طریقه سره نومان اخیستل او اعلان کول صحیح دی او کنه؟

جواب :......

حـامدا و مـصـلیـا: پـه دا رقـم اعلان کولو کې ترغیب هم دی او مفسده هـم دی . تـرغیـب خـو ښـکـاره دی . مـفسـده دوه رقـمـه دی . یو دا رقـم چې ددې نـامـه بـنـام اعـلان بـه خـلـک تـعـریف کـوي ، د دې تعریف لـه وجهي بـه خـلـک چـنـده ورکـوي ددې لـیـاره چې زمـا نـوم هـم واخلي . د نورانیت او اخلاص خلاف دی چې پـه هغه سره ثواب ضائع کیږي:

”عن ابي سعيد بن ابى فضالة رضى الله عنه عن رسول الله ﷺ قال : إذا جمع الله الناس يوم القيامة ليومٍ لا ريب فيه نادىٰ منادمن كان اشرك في عمل عمله لله احداً ، فليطالب ثوابه من عند غير الله فان الله اغنى الشركاء عن الشرك“(رواه احمد. مشكوة المصابيح ، باب الرياء و السمعة / ص: ٢٥٤ قديمى)

او بـل دا رقـم مفسده دی چې چا چنده کمه ورکړه هغه بیا شرمیږي او خـلـک بـه پـه سپک نـظـر ورتـه ګوري ، پېغور بـه ورکـوي دا ناجائز دی د دې

وجهي د اعلان دا صورت قابلِ اعتراض دی:

"عن ابی وائل عن ابی مسعود قال : أمرنا بالصدقة ، قال : كنا نحامل ، قال : فتصدق ابو عقيل بنصف صاع ، قال : و جاء انسان بشيئ اكثر منه ، قال المنافقون : إن الله لغنى عن صدقة هذا ، و ما فعل هذا الآخر إلا رياء ، فنزلت : الذين يلمزون المطوعين من المؤمنين فى الصدقات و الذين لا يجدون الا جهدهم ، وهم يلفظ بشر بالمطوعين "(الصحيح المسلم ، كتاب الزكوة ، باب الحمل بأجرة يتصدق بها و النهى الشديد عن تنقيص الصدقة بقليل / ص: ۳۲۷ / ج: ۱)

سوال :......

د مسجد په حدود کي دننه یا دباندي دآذان په غرض یو سپیکر دی اوس په دې سپیکر کي د کوچني دورکي اعلان یا دا اعلان چي فلان سړی مړ دی په فلان ځای کي بې د جنازې لمونځ دی او بعض خلک یې ددې معاوضه هم اخلي دا جائز دی او کنه؟

جواب :......

حامدا و مصليا: کوم سپیکر چي دآذان لپاره دی په هغه کي دي نور اعلانات نه کوي نه په معاوضه باندي او نه بې له معاوضې .

"ثم السراج والبساط كذلك إلى آخر المصالح ، هذا إذا لم يكن معيناً ، فإن كان الوقف على شيئ يصرف اليه "(رد المحتار ، كتاب الوقف / ص: ۳٦۷ / ج: ٤ سعيد) (بحر الرائق / ص: ٤١٥ / ج: ٥ رشيديه) و لا يجوز أخذ الاجرة منه و لا أي يجعل شيئاً منه مستغلاً و لا سكنى۔ بزازيه (الدر المختار)

صرف مال المسجد فی غیره:

د مسجد پیسې بل ځای کې استعمالول:

سـوال :......

د مسـجد زائدي پیسـې پـه تـعلیم دین او تبلیغ اسلام او په تدریس د علوم شرعیهٔ کې مصرفول څنګه دي؟

جواب :......

حـامدا و مـصلیـا: کـه چیـري زائـدي روپۍ زیاتي وي، مصرف کم او روپۍ هر وخت مـوجـودي وي او د روپیـو پـه جـمع کېدلو کي د خیانت قـوي انـدېښـنـه وي نو په د اروپۍ دي د مسجد لپاره جائیداد ، دوکانونه، مـځـکـه وغیـره رانیسـي . کـه چیري په دې کي مشکل وي او پیسـې د جـائیـداد وروسـتـه هـم پـاتیـږي نـو بیا دي پـه مسـجد کي یوه دیني مدرسه جـوړه کړي، د دې لپاره چې د مسجد په آبادي کي ترقي وي ځکه آبادي ته

ترقي ورکول نوی مصلحت دی:

"الفاضل من وقف المسجد هل يصرف إلى الفقراء؟ قيل لا يصرف، و إنه صحيح، ولكن يشترى به مستغلاً للمسجد كذا في المحيط" (عالمگیری / ص: ١٠٣٦ / ج: ٢ ـ فتاوى محموديه / ص: ٤٢ / ج: ١٥)

ســوال:......

که چیري دا هم مشکل وي؟

جواب:......

حامدا ومصليا: که چیري دا هم مشکل وي نو بیا په دا په نیږدې مسجد کي مصرف کېدای سي:

"الرباط والبئر إذا لم ينتفع بهما فيصرف وقف المسجد و الرباط والبئر و الحوض إلى اقرب المسجد او رباط او بئر او حوض" (تنوير الابصار مع الدر مختار / ص: ٣٥٩ / ج: ٤)

ســوال:......

د مسجد په آمدني مدرسه جوړول جائز ده او که نه؟

جواب:......

حامدا و مصليا: د مسجد په آمدن باندي مدرسه جوړول نه ده جائز :

"و إن اختلف احدهما بان بنى رجلان مسجدين اورجل مسجداً او رجل مسجداً و مدرسة ، ووقف عليهما أوقافاً لا يجوز له ذلك"(الدر مختار) أى الصرف المذكور ... و من اختلاف الجهة ما إذا كان الوقف منزلين احدهما للسكنى و الآخر للاستغلال ، فلا يصرف احدهما للآخر و هى واقعة الفتوى اهـ ـ (رد المحتار / ص: ٣٦٠ ، ٣٦١ / ج: ٤ ـ بحر الرائق / ص: ٣٦٢ / ج: ٥)

سوال :......

د مسجد په آمدن باندي د کوچنيانو لپاره په مسجد کي يو مدرس نيول ځنګه دي؟

جواب :......

حامدا و مصليا: که چيري د مسجد په آمدن باندي مصارف د مسجد پوره کيږي بيا پروا نلري صحيح دی .

"الذی يبدأ من ارتفاع الوقف عمارته ، شرط الواقف ام لا ثم إلى ما هو اقرب إلى العمارة اعم للمصلحة كالإمام للمسجد و المدرس للمدرسة"(عالمگيری / ص: ٥٦٧ / ج: ٢)

سوال :......

د مسجد روپی په مدرسه کي مصروفول څنګه دي؟

جواب:......

حامدا و مصليا: د مسجد آمدن په مسجد کي مصرفول لازم دي، د مدرسه وغیره د تعمیر یا په نورو ضروریاتو کي مصرفول جائز نه دي چا چي هغه پیسې په مدرسه کي مصرف کړي دي هغه ذمه وار دی، مسجد هم د خدای دی او مدرسه هم د خدای ده خو د یوه آمدن په بل کي مصرفول جائز نه دی لکه د یوه مسجد آمدني په بل مسجد کي مصروفول جائز نه ده د یوې مدرسې آمدني په بله مدرسه کي مصرفول جائز نه ده کني ټول نظام به سره خراب سي:

"قال العلامة الحصكفي رحمه الله: اتحد الواقف والجهة وقل مرسوم بعض الموقوف عليه جاز للحاكم أن يصرف من فاضل الوقف الآخر عليه: لأنها حيئنذٍ كشيئ واحد وإن اختلف احدهما بإن بنى رجلان مسجدين او رجل مسجداً و مدرسة، ووقف عليهما اوقافاً، لا يجوز له ذلك" (در مختار / ص: ٣٦٠ / ج: ٤ـ ردالمحتار / ص: ٣٦١ / ج: ٤)

خو که چیري مدرسه اصل وي او د مدرسې لپاره مسجد جوړ سوی وي نو د مسجد اخراجات د مدرسې څخه پوره کېدی سي. (فتاوی محموديه / ص: ٣٦ / ج: ١٥)

د مسجد د کار لپاره د یو څو خلکو کمېټي ده د دغو خلکو د مسجد د فنډ څخه قرض اخیستل او په مدرسه کي مصرفول:

سوال:......

دا لوړ ذکر سوه چي د مسجد لپاره د کار کمېټي کي یو داسي جامع مسجد دی چي هغه د مدرسې انتظام کوي مسجد په مدرسه باندي متصل دی او ددې مسجد آمدني داسي ده لکه وقف او څه د مسجد د دکانو د کرایه څخه نو آیا دا د کمېټۍ لپاره مجاز ده چي که چیري د مدرسې په فنډ کي پیسې نه وي نو دوی د مسجد څخه قرض و کړي د مدرسینو په تنخوا وغیره کي یې صرف کړي نو اوس چي کومي روپۍ د مسجد څخه د قرض په نامه اخیستل سوي دي آیا د دې ادا کول سته او کنه؟

جواب:......

حامدا و مصلياً: د مسجد د روپيو څخه قرض اخيستل په مدرسې کې مصـرفـول ددې اجـازت نستــه، د مسـجد روپۍ امـانـت دي پـه دې کې د تصرف حق نسته کومې روپۍ چې يې دا رقم اخيستي دي هغه دي ژر تر ژره بيرته ورکړي .

"والـوديـعة لا تـودع و لا تعار و لا تواجر و لا ترهن ، و إن فعل شيئاً منها ضمن"(فتاوى عالمگيرى / ص: ۳۳۸ / ج: ٤)

سـوال :......

چې ضـرورت وي د مسـجد او مدرسې روپۍ په قرض باندې يو په بل کې مصرفول څنګه دي دا کيږي او که نه؟

جواب :......

حـامـدا و مـصـلـيـا: کـه چيـرې د قرض پر وصولي اعتماد وو ، د ضياع احتمال نه وو نو د منتظمه کمېټې په مشوره سره صحيح دي:

"لـلـمتـولى إقراض مال المسجد بأمر القاضى اهـ"(شامى / ص: ٤٠٣ / ج: ٤ ـ لم اجد ..... لا يملك استدانة إلا بأمر القاضى ـ (رد المحتار ص٤٤٠ / ج: ٤) مع ان يقيم ليس له إقراض مال المسجد (بحر الرائق / ص: ٤٠١ / ج: ٥)

و أما إقراض ما فضل من الوقف ، قال فى وصايا النوازل : رجوت أن

يكون ذلك واسعا إذا كان ذلك احرز للغلة من إمساكه فإن فضل من غلته ،فصرف الفضل إلى حوائجه على أن يرده إذا احتاج إلى العمارة ، قال: لا يفعل ذلك و ينزه غاية التنزه ، فإن فعل مع ذلك ، ثم انفق فيه ، رجوتُ ان ذلك يبرأه عما وجب عليه ـ(خلاصة الفتاوى / ص: ٤٢٣ / ج: ٤)

سوال:......

ديوه مسجد روپۍ په بل مسجد كي لګول څنګه دي يو مسجد امير دى او بل مسجد غريب دى په امير مسجد كي د ډېره وخته څخه كار هم نه دى سوى او ددې برعكس هغه بل غريب مسجد كي ختي، كار ته ضرورت دى يا پرش، غالۍ يا پلستر ته ضرورت دى نو آيا د هغه امير مسجد روپۍ په غريب مسجد كي استعمالول جواز لري او كه نه؟

جواب:......

حامدا و مصليا: كه چيري هغه روپۍ د چندې وې نو د چندې وركولو والا په رأيه او اجازت سره په غريب مسجد كي مصرفول شرعاً درست او صحيح دي .

"وعن الثاني : ينقل إلى مسجد آخر باذن القاضي..... حشيش المسجد وحصره مع الاستغناء عنهما ، وكذا الرباط و البئر إذا لم ينتفع بهما ، فيصرف وقف المسجد والرباط والبئر والحوض إلى اقرب مسجد او رباط او بئر او

حوض"(الدر المختار / ص: ٣٥٩ / ج: ٤)

سـوال :......

عبد الودود وايي زموږ مسجد کوچنی دی خلک ډېر دی . په څنګ کي يې د عبدالسلام مځکه ده يا سرای دی اوس موږ د عبدالسلام څخه دا مځکه يا سرای په زور رانيولای سو او که نه؟

جواب :......

حامدا و مصليا: که چيري مسجد تنګ وو پر خلکو باندي او څنګ ته يې مځکه وي په قيمت باندي دي په زور واخلي:

"ولو ضاق المسجد على الناس و بجنبه ارض الرجل توخذ ارضه بالقيمة كرهاً" كذا فى فتاوى قاضيخان و عالمگيريه (ص٤٥٦ / ج: ٢)

سـوال :......

عبد الرحمن وايي د مسجد په څنګ کي داوبو لښتی دی او د مسجد ديوال خراب سو اوس تاوان د لښتي پر خاوند دی او که پر کليوالو باندي؟

جواب :......

حامدا و مصليا:

"مسجد انكسر حائطه من ماء بجنب المسجد فى الشارع و هو ماء الشفة او انكسرت خفته هل يصرف من غلة المسجد اى عمارة النهر و مرمرته . قال

الفقبه ابو جعفر رحمه اللّٰه ان كان ما يصرف إلى عمارة النهر و مرمته لا يزيد على عمارا.ة القائم فيه جاز و لاهل المسجد أن منعوا أهل النهر الانتفاع بالنهر و مرمته حتى يعطيهم قيمة العمارة فيصرف ذلك إلى عمارة المسجد و إن شاء أهل المسجد تقدموا إلى أهل النهر باصلاح النهر فان لم يصلحوا حتى انهدم حائطه المسجد او انكسر ضمنوا قيمة ما انهدم ـ"(كذافى فتاوى قاضيخان و عالمگیریه / ص: ٤٦٣ / ج: ٢)



مسائل المساجد

سوال:......

مسجد و څه شي ته وايي؟

جواب:......

د مسجد لغوي معنى ده سجده ګاه او د اسلام په اصطلاح مسجد د هغه ځاى نوم دى چې د مسلمانانو د لمانځه لپاره وقف سي. (ستاسو مسائل او د هغه حل / ص: ۱۱۲/ ج: ۳، مرقات شرح مشكوة)

سوال:......

مسجد جوړول فرض دي كه واجب؟

جواب:......

په هر ښار او قصبه او كلن كي د مسجد دپاره بقدر ضرورت مځكه

وقف کول پر هغو مسلمانانو باندي واجب علی الکفایه ده نور تعمیر جوړول فرض نه دی بلکه مستحب دی . (امداد الاحکام / ص: ۲۴۹ . شامي / ص: ۱۰۳ ج۲)

سوال :......

د بدعتي سړي پیسې په مسجد کي استعمالېدای سي او که نه؟

جواب :......

که چیري یو بدعتي سړی د مسجد دپاره چنده ورکړي نو د ده هغو پیسو په مسجد کي استعمال جائز دی . (فتاوی محمودیه / ج: ۱۸ / ص: ۲۱۹)

سوال :......

د سود پیسې په مسجد کي لګول څنګه دي؟

جواب :......

د سود پیسې په مسجد کي لګول ناجائز دي . (فتاوی محمودیه / ص: ۷۷ / ج: ۱۵)

مسئله :......

مال حرام په مسجد کي لګول ناجائز دی که چیري په حرام مال باندي د مسجد دپاره مځکه واخیسته او پر هغه یې مسجد جوړ کړ په دې کي لمونځ کول مکروه دی . (فتاوی محمودیه / ص: ۳۸ / ج: ۱۵)

سوال:......

که چیري ضرورت وو دمسجد پیسې په مدرسه کي یا د مدرسې پیسې په مسجد کي لګول جائز دي او که نه؟

جواب:......

که چیري د قرض د اصولېدو پوره یقین وو د ضائع کېدو احتمال نه وو نو بیا د مسجد د مشرانو په مشوره سره استعمال جائز دی . (فتاوی محمودیه / ص: ۴۹۱ / ج: ۱)

سوال:......

په مسجد کي دننه فقر غوښتل څنګه دی؟

جواب:......

په مسجد کې فقر (سوال کول) منع دي د داسې خلکو دپاره دې دې مسجد څخه د ربهل پکار دي . او په مسجد کې د دغه سوال کوونو ولاته خیرات زکوة ورکول په کار نه دي لیکن که چیرې د یو ضرورتمند دپاره یو څوک د ده سره د امداد اپیل وکړي دا جائز دي . د غسې د یو مسکین ته خو په مسجد کې امداد ورکول جائز دي مګر نه دې څخه په مسجد کې د فقر غوښتلو عـادت جوړیږي د دې وجهې څخه د بـنـدي ته مسجد ورکول نه دي . (ستاسو مسائل او د هغو حل / ص: ۱۴۲/ ج: ۳)

سوال:

د مسجد پیسې و چا ته د تجارت دپاره ورکول څنګه دي؟

جواب:

د مسجد پیسې د متولي سره امانت دي دی د حق نه دي چې و چا ته د مسجد پیسې د تجارت په غرض ورکړي . هرګز دې و چا ته نه ورکوي (فتاوی رحیمیه / ص: ۳۰۴/ ج: ۱۲)

مسئله:

که چیرته یو مسجد د شرابو په پیسو بنائې جوړ سوی وي په هغې کې لمونځ کول مکروه دي کوم لمونځونه چې په کې سوي دي هغه د کراهت سره د

سوي، آئنده احتياط په كار دی (فتاوی محموديه / ج: ٥/ ص: ١٥٢)

مسئله:......

د مسجد دپاره چي كومه چنده وسي هغه په مدرسه كي مصرف كول جائز نه ده او د مدرسې چنده په مسجد كي استعمالول جائز نه ده او كوم ځای چي د لمانځه دپاره وقف سن هلته مدرسه جوړول يا د تعليمي كار دپاره دغه متعين كول جائز نه دی . په دغه ځای كي و كوچنيانو ته سبقان ويل هم نه دي صحيح داسې هلكان چي د مسجد په احترام نه پوهيږي او دغسي زكوة ،صدقة الفطر، قيمت د قرباني د پيسو و مدرسه يا مسجد تعمير كي وركول جائز ن ه دي ځكه دا صرف د غريبانو حق دی . (فتاوی محموديه / ص: ١٦٩/ ج: ١٨)

سوال:......

د مسجد د چندې په پيسو دباندي د مسجد دفتر جوړول چي په هغه كي د مسجد كميټۍ (يا جركه) والا كښيني څنګه دی؟

جواب:......

د مسجد په پيسو سره خارج مسجد دفتر جوړول چي هغه كي د مسجد انتظاميه كښيني جائز ده كه د أهل چنده والا اجازت وي . (آپ کے مسائل/ص: ۱۴۰/ج: ۳)

سوال:......

زموږ په خوا کې يو مسجد جوړيږي په دې کې غير مسلم چنده ورکول غواړي مسئله دا ده چې دغير مسلم پیسې په مسجد کې لګول صحيح دي او که نه؟

جواب:......

که چيري يې دا احتمال نه وو چې صبا غير مسلم پر مسلمانانو باندې احسان کوي او نه يې دا حتمال وو چې أهل اسلام د دوی احسامند سي د دوی په مذهبي شعائرو کې شرکت وکړي په دې شرط باندې قبلول يې جائز دی.

(امداد الفتاوی / ص: ٦٨٨ / ج: ٢) (و فتاوی محموديه / ص: ۴۷۰ / ج: ١)

مسئله:......

دمسجد د تعمير دپاره چې په لاره کې کومه پېټۍ خلک لګوي او پر لاره چې کوم خلک تېرېږي په دې کې پيسې اچوي نو دغه پيسې د مسجد په تعمير کې لګول صحيح دي خواه اچولو والا مسلم وي او که غير مسلم وي د ټولو پيسه په دې صورت کې صحيح ده.

سوال:......

ديو مسجد إمام صاحب چې کله د ماختن لمونځ وسي دی دستي

مسـجد تـه قلف (تالا) ور ولكوي وروسته چې كوم خلک راسي و هغه ته يـې نه ور خلاصوي؟ آيا دا په يو حديث كې راغلي دي چې د مسجد دروازه د لمانځه بعد بنده كړئ بيا يې چا ته مه ور خلاصوئ؟

جواب :......

په در المختار كې دي چې د مسجد دروازه بندول مكروه ده:

"وكره غلق باب المسجد الا لخوف على متاعه به يفتى (در مختار) قال فى البحر وانما كره لأنه يشبه المنع من الصلوة قال الله تعالى : ومن اظلم ممن منع مساجد الله أن يذكر فيها اسمه الخ ـ والتدبير فى الغلق لاهل المحلة (رد المحتار قبيل باب الوتر والنوافل مطلب فى احكام المساجد / ص: ٦١٤ / ج: ١ / ص: ٦٥٦ ط سعيديه)"

سـوال :......

دوه مسجدان دي ليكن يو نزدې دى يو ليري، اوس په كوم مسجد كې لمونځ كول ثواب زيات لري ؟

جواب :......

پـه نزدې مسجد كې لمونځ په كار د دى د وجهې څخه چې د دې مسجد پر ده حق دى او ثـواب هم په دې كې زيات دى:

"أفضل المساجد مكة ثم المدينة ثم القدس ثم القبا ثم الاقدم ثم

الاعظم ثم الاقرب"(فتاوی دار العلوم دیوبند / ج: ٤ / ص: ١٣٨ بحواله الدر المختار على هامش رد المحتار / ج: ١ / ص: ٦١٧)

سوال:......

د مسجد د دوکانو تیران (گاډر) د مسجد پر دېوال باندي بښودل جائز دي او که نه؟

جواب:......

د مسجد پر دېواله باندي د دوکانو تیران (گاډر) اچول جائز نه دي که څه هم هغه دوکانونه د مسجد دپاره وقف وي د مسجد پر پښت باندي دي بل دېوال را پورته کړي پر هغه باندي دي تیران کښېږدي . (إمداد الاحکام / ج: ٣ / ص: ١٦٧ بحواله بحر الرائق / ج: ٣ / ص: ٥٧٣)

سوال:......

یو مسجد ډېر کوچنی دی ددې د کوچنیوالي په وجه باندي خلکو دا مسجد پرېښود بل مسجد يې جوړ کړ . اوس پخوانی مسجد ځاني د مدرسې په تصرف کي را وستل څنګه دی جائز دی او که نه، یا نور څه لازم دي؟

جواب:......

جائز نه دي يو څه کسان دي اوس هم هغه آباد کړي . (امداد الاحکام / ج: ۳ / ص: ۱۷۰)

سوال:......

د يو مسجد پيسې په بل مسجد کي استعمالول جائز دی او که نه؟

جواب:......

که چيري هغه پيسې د چندې وې نو د چندې والا و رايې او په اجازت سره په بل مسجد کي استعمال شرعاً درست دی . (مسائل رفعت قاسمی / ج: ٦ / ص: ۴۲، فتاوی محموديه / ج: ۱۸ / ص: ۱۵۷)

سوال:......

که چاچيري پيسې (لقطه) پيدا کړې د مالک تلاش يې هم وکړی مالک پيدا نه سو اوس دغه پيسې په مسجد کي لګول څنګه دي؟

جواب:......

غريب ته دي ورکړي په مسجد کي استعمال يې جائز نه دی .

(مسائل رفعت قاسمی / ص: ۴۳ ج٦)

سوال:......

د مسجد په تعمير كي د زكوة د پيسو استعمال څنګه دی؟

جواب :......

د مسجد په تعمير كي يا إمام و مؤذن و مسجد د خادمان په تنخواه كي د زكوة د پيسو استعمال جائز نه دی د دې وجهي څخه د مسجد په تعمير كي د زكوة د پيسو استعمال هر ګز صحيح نه دی ، كه حيله وكړي هم اخيستل يې پكار نه دي . (مسائل رفعت قاسمی / ج: ٦/ ص: ٤٣ . فتاوى محموديه / ج: ٦/ ص: ٩٤)

سوال :......

د لاوارث سړي مال په مسجد كي لګول جائز دی او كنه؟

جواب :...... اوارث سړی كه چيري مړ سي او دی څه مال پرېږدي او دده يو وارث هم نه وي پر هغه باندي د ده مال تقسيم كړي او نه دغه مړي د خپل مال په باره كي وصيت كړي، د ده نه ليري وارث وي او نه نيژدې نو په داسي صورت كي د ده تركه په مسجد يا مدرسه كي لګول صحيح ده . (فتاوی محموديه / ص: ٢٧١ / ج: ١٢ بحواله در مختار / ص: ٤٨٨/ ج: ٥ ، و شامی / ص: ٨٩/ ج: ٢)

مسئله :......

د حرام او مشتبه مال په پيسو سره مسجد جوړول شرعاً جائز نه

دی . (فتاوی رحیمیه / ص: ۹۹/ ج: ٦)

سـوال :......

بـعـض خـلک پـه مسجد کي د نکا ح تړل سنت ګڼي آیا په ربښتیا هم په مسجد کي نکا ح تړل سنت دی او که نه؟

جواب :......

د نـکـا ح تـړل او ویل پخپله سنت عملي او د عبادت یوه حصه او شعبه ده نـو ځـکـه پـه مـسـجـد کـي د نـکـا ح پـه ایجاب او قبول کي شرعاً څه حرج نشـتـه بیـا هـم کـه چیـري د مسجد د احترام خیال ن ه ساتل کېدی بیا د دې څخه اجتناب کول ضروري دي .

''مسامة الكعبة ، و قيل كان ذلك لمعاينة بان كشف الحال و ازالت الحوائل فراى رسول الله ﷺ الكعبة فوضع قبلة مسجده عليها'' قال الملا على قارى(قوله واجعله فى المساجد)وهو اما لانه ادعىٰ الى الاعلان او لحصول بركة المكان وينبغى ان يراعى ايضاً فضيلة الزمان ليكون نورا على نور وسرورا على سرور قال ابن الهمام يستحب مباشرة عقد النكاح فى المسجد لقوله عبادة وكونه فى يوم الجمعة وهو اما تفاعلا للاجتماع او توقع زيادة الثواب او لانه يحصل به كمال الاعلان مرقات المفاتيح ج٦ ص ٢١٧

له دې څخه دوه أمره واضح سو ، اول دا چي د محراب ضرورت د تعين د قبله دپاره دی چي لمونځ کونکی محراب ووينې د خپلې قبلې رخ متعين کړي .

دوم أمر چي کله د مسجد نبويؐ تعمير وسو له هغه وخت د محراب نشان يې هم ولګاوئ خواه هغه نشاندهي حضرت جبرائيلؑ کړې وي يا د نبيؐ په ذريعه د کشفه د دې تجويز فرمايلی وي البته دغه جوف دار محراب چي نن صبا په مسجدو کي دي ددې ابتداء خليفه راشد حضرت عمر بن عبد العزيزؒ هغه وخت وکړه چي دی د وليد بن عبد الملک په زمانه کي د مدينې طيبې حاکم وو . (وفاء الوفاء / ص: ٥٢٥ و مابعد)

دا د صحابهؓ او تابعين زمانه وه له هغه څخه تر نن ورځي پوري په مسجد کي محراب جوړول د مسلمانانو شعار دی . فتاوی قاضيخان کي دي:

"وجهة الكعبة تعرف بالدليل والدليل فی الامصار والقری المحاريب التی نصبتها الصحابة و التابعون رضی الله عنهم اجمعين ، فعلينا اتباعهم فی استقبال المحاريب المنصوبة"(البحر الرائق / ج: ١ / ص: ٢٨٥ مطبوعه دار المعرفة بيروت)

سوال: ......

د مسجد د منارو ابتداء چا په كومه زمانه كي شوي ده؟

جواب :......

منارې د مسجد يو خاص علامت دی چي تر ټولو نمايان دی د منارو ابتدا هم د صحابهؓ و تابعين د زمانه څخه سوې ده . په مسجد نبويؐ كي تر ټولو لمړۍ خليفه راشد حضرت عمر بن عبد العزيزؒ منارې جوړي كړې (وفاء الوفاء / ص: ٥٢٥) حضرت مسلمه بن مخلد انصاري رضی الله عنه جليل القدر صحابي دی د حضرت معاويهؓ په زمانه كي د مصر حاكم وو ده د مصر په مسجدو كي د منارو جوړولو حكم وكړی . (الاصابة فی تميز الصحابة / ج: ٣ / ص: ٤١٨)

د منارو دوې فائدې دي اول دا چي پر بالا ځای دي آذان وسي إمام ابی داؤد پر دې مستقل باب جوړ كړی دی . الأذان فوق المنارة . حافظ جمال الدين الزيلعی په نصب الرايه كي د حضرت ابو برزه اسلميؓ قول نقل كړی دی : من السنة الأذان فی المنارة و الاقامة فی المسجد (ج١ / ص: ٢٩٣)

دوهمه فائده يې دا ده چي ناواقف سړی مناره وويني نو ده ته ده ته مسجد معلوم سي . چي دلته مسجد شته .

سوال :......

د مسـجد نسبت وخپـل نامه ته کوم (یعني پر مسجد باندي خپـل نوم ښوول) څنګه دي؟

جواب :......

د مسجد نسبت دیو سړي و طرفتـه د باني په نسبت جائز دی، په دې کي یو حرج نستـه لیـکن کـه چیـري بانـي مرحوم خپله د خپـل نامه نسبت خوښ کړی نه وي نو د وارثانو لپاره هم نه دي په کار . (آپ کے مسائل/ص: ۱۴۴/ج: ۳)

سـوال :......

کـه چیـري پـه لـمـانـځـه کي د إمام صاحب راستـه طرف تـه څلو ښت یا پنځوس کسان پـه صف کي ولاړ وي او چپـه طرفتـه پنځه یا لس کسـا ن پـه صف کي دریدلای سي داسي لمونځ کیدای سي او کـه نه؟

جواب :......

مکروه دی :

”و ینبغی للإمام أن یقف بازاء الوسط فإن وقف فی میمنة الوسط او میسرته فقد أساء لمخالفة السنة“(فتاوی عالمگیریة / ج: ۱ / ص: ۱۸۹ ، الباب الخامس فی الإمامة الفصل الخامس فی بیان مقام الإمام و المأموم)

سـوال :......

ومسـجد تـه نزدې قبرونه وي پـه میـنځ کي صرف دیو ګز دیوالـه ماسوا

بله فاصله نه وي په داسي مسجد کي لمونځ صحیح دی او که نه؟

جواب :......

لمونځ صحیح دی، لیکن په قبرستان کي لمونځ ممنوع دی:

”عن ابن عمرؓ قال : نهی رسول الله ﷺ أن یصلی فی سبع مواطن فی المزبلة و المجوزة و المقبرة و قارعه الطریق و فی الحمام و فی مواطن الابل و فوق ظهر بیت الله“(رواه الترمذی و ابن ماجه ، مشکوة / ص: ۷۱ کتاب الصلوة)

که چیري داسي مسجد وي چي و هغه ته قبرونه نژدې وي په دې کي لمونځ صحیح دی:

”قال محمدؒ : أکره ان تکون قبله المسجد إلی المخرج و الحمام والقبر...... و هذا کله إذا لم یکن بین المصلی و بین هذه المواضع حائط او ستره أما إذا کان لا یکره و یصیر الحائط فاصلا“(عالمگیری / ج: ۵ / ص: ۳۱۹)

سوال :......

په مسجد کي خوب کول یا د مسجد برق استعمالول څنګه دي؟

جواب :......

د مسجد برق وغیره د لمانځه په وختو کي استعمالول جائز دی

لیـکـن مـاسـوا د دې أهـل چـنـده والا یـې منع کولای سي او پـه مـسـجـد کي خوب کول د معتکف او د مسافر دپاره جائز دی د نورو لپاره مکروه دی:

"ولـو وقف عـلـی دهن السراج للمجسد لا یجوز دهنه جمعی اللیل بل بقدر حـاجة الـمـصـلـین الـخ (عـالمگیری / ج: ۲ / ص: ٤٥٩) و النوم فیه (الـمـسـجد) لغیر المعتکف مکروه و قیل لا بأس للغریب أن ینام فیه ، و الاولیٰ ان یـنـوی الاعتـکـاف لیـخـرج من الخلاف(حلبی کبیر / ص: ٦١٢ فصل فی احکام المسجد)"

سـوال:......

د مـسـجـد دکـان د ویـډیـو فـلـمونو کاروبار و الا تـه پـه کرایهٔ یا ور باندي ورکول څنګه دي؟

جواب:......

د مـسـجـد دکـان د ویـډیـو فـلمونو کاروبار والا سړي تـه ورکـول جائز نـه دی او دغـسـي د دې کـرایـه هم نـه ده جائز:

"لا تـصح الاجارۃ لعبس التیس و هو حرام و لا لأجل المعاصی مثل الغناء و النوح و الملاهی"(الدر المختار / ج: ٦ / ص: ٥٥ باب الاجارۃ الفاسدۃ)

سـوال:......

د مسجد پر دېوال باندي نقش و نګار څنګه دی؟

جواب :.....

د قبلې پر دېوال باندي صحيح نه دی علاوه د دې څخه نقش و نګار صحيح دی، لیکن د وقف مال څخه صحيح نه دی. مګر زیات تکلفات کول مکروه دي.

(فتاوی محمودیه / ص: ۱۷۲ / ج: ٦ بحواله کبیری / ص: ٥٧١ و مجمع الأنهر / ص: ۱۲۷)

مسئله :......

مسجد که چیري ونړول شي د مسجد د ځای هغسي احترام ضروري دی لکه اول چي وو. د چپلکو او ګوتو سره تلل، که پاک وي خو تلل صحیح دي لیکن د ادب پر ځای باندي یې کښل د ادب مقتضی ده.

(فتاوی رحیمیه / ص: ۱۱۱ / ج: ٦، آپ کے مسائل/ص: ۳۸/ج: ۳)

سوال :......

مسجدِ کبیر کوم مسجد ته وایي؟

جواب :......

چي څلوېښت ذراع اوږد وي څلوېښت ذراع پراخ وي په یو بل قول کي شپېته ذراع دی. چي کوم مسجد ۴۰ ذراع (شرعي) اوږد او دغونه پراخ وي و دې ته مسجد کبیر وایي او چي له دې څخه کم وي و هغه ته

مسـجد صـغیـر وايـي . (فتـاوی مـحـموديـه / ص: ۱۸۲ / ج: ۱۵، و امداد الاحکام / ص: ۴۴۴ / ج: ۱)

سـوال :.......

د يو مسجد نوم مسجد غرباء ښوول څنګه دي؟

جواب :.......

مسـجد غـربـاء نـوم ښـوول کـي شـرعي يو قباحت نسته، ښوولای يې سي .

(فتاوی محموديه / ص: ۵۱۴ / ج: ۱)

سـوال :.......

د يـو لـوی مسـجد باوجود ځيني خلګ له إمام سره د اختلاف په بهانه بل مسـجد جوړوي نو آيا داسي کول په شريعت کي جواز لري او که نه؟

جواب :.......

د ذاتـي اغـراضو د تکميـل لپاره او يا غير شرعي امورو په وجه سره په قـوم کي بې اتفاقي او اختلاف پيدا کول پخپله هم ګناه ده او بيا ددې ګناه لـه ارتـکـاب څخه وروسته په مسلمانانو کي بې اتفاقي او اختلاف پيدا کـول دا دوهم جرم دی پـه داسي صـورت کـي د بـل جـومـات د جـوړولو ضرورت نستـه .

بيـا هـم د نـو مـورړو واقعاتو سره سر هکه يو سړی باقاعده مځکه وقف کړي او مسجد پر جوړ کړي نو هغه به هم شرعي مسجد بلل کيږي او دده د ذاتـي اغـراضـو مـعـامـلـه بـه د ده او د الله تعالی په مينځ کي وي، البته د ضـرورت پـه وخـت کـي لـه خپـل مـنـځـي اختلافاتو څخه د ځان ژغورلو لپاره د بل مسجد جوړول يو ځي جائز نه بلکه يو ښه کار دی:

"قال ابن نجيمؒ: و إذا قسم المحلة المسجد وضربوا فيه الحائط و لكل منهم إمام عـلى حدة و مؤذنهم واحد لاباس به"(بحر الرائق / ج: ٢ / ص: ٣٥)(فتاوى حقانية / ج: ٤ / ص: ٢٢٥ بحواله بحر الرائق / ج: ٢ / ص: ٣٥)

سـوال:......

د مسجد پر دېوال باندي اشتهار لګول يا سياسي نارې ليکل څنګه دي؟

جواب:......

د مسـجـد دېـوالـونه د دې شيانو لپاره استعمالول د مسجد د حرمت او تعظيم خلاف دي:

"عن عائشة رضي الله عنها قال: أمر رسول الله ﷺ ببناء المسجد فی الـدور و أن يـنظّف و يطيّب" رواه ابو داؤد و الترمذی و ابن ماجه (آپ کے مسائل / ج: ٣ ٢٦٤ بحواله مشكوة / ص: ٦٩، باب المساجد)



احكام المقابر

سوال :......

عبيـد الله د يوې ځمکي اجازه د ميونسپلټي څخه حاصله کړه او په سرکاري دفتـر کـي يې دا درج کـړه چې زه په دغه ځمکه قبرګاه جوړوم او پيسې يې حکـومت تـه ورکـړې نـو مسـلمانو خپل مړي په کي دفن کړي يو څه عمر وروستـه عبيـدالله دا د مقبرې ځمکه پر دوو کسانو خرڅه کړه يو مسلمان ؤ او بـل کـافـر ؤ او دا د مـقبرې ځمکه د مړو څخه ډکه وه نو دغو دوو مشتريانو پـر دغـه ځـمـکـه عـمـارتـونـه شـروع کـړل او قبـرونه يې ونړول هډوکي يې وکښـل پـه بل ځای کي يې ښخ کړل . آيا د دې ځمکي خرڅول جائز دي که نه او د دغـه مړو هډوکي کښـل او په بل ځای کي پټول جائز دي که نه او د دې په خلاف احتجاج کول جائز دي که نه؟ بينوا و توجروا .

جواب :......

دوه حيثيتـه لـري . يـو يې دا دی چې عبيد الله دغه ځمکه واخيستله او مړي په کي دفن شول نو د دفن په وجه د هر مرده ځمکه د عبيد الله د ملک څخه ووتله او

د مړي وارثـان يـې مـالـکـان شـول . لهذا د عبيد الله لپاره د دې ځمکي خرڅول ناجائز دي او که چا مکان پر جوړ اوه هغه به دا وارثان ورنړوي .

او دوهـم حيثيـت يې دا دی چي عبيد الله هر کله دا ځمکه پر هندو او مسلمان خـرڅـه کـړلـه نـو هغـو خپـل عـمـارتـونـه پر شروع کړل او د مړو هډوکي يې وايستـل نـو د دې پـه خـلاف پر ټولو مسلمانانو لازمه ده چي احتجاج وکړي او عبيـد الله پـر دې مـجبـور کـړي چي رانيونکو ته خپلي پيسـې ورکړي او مقبره پريږدي . (امداد الاحکام / ص: ۲۷۱)

سوال :......

د قبـر درختـه (ونـه) کـاټـول او د قبـر پـر سـر د مېوه داري وني مېوه خوړل په شـريـعـت کـي څنګه ده او د قبر د ختمېدلو او د کښت کولو لپاره په شريعت کي څه حکم دئ؟

جواب :...... د درختـي (ونـي) د کـاټـولـو او تفصيـل داسي دی چي بدون د شديد ضـرورت څـخه يې کاټول ښه کار نه دی خو بيا هم که چيري وچه درخته وه بيا پـروا نـلري . ځـکه چي لنده درخته د الله جل جلالـه تسبيح وايي او د مېوه داري درختـي مېـوه خـوړل جـواز لـري او قبـر کـه چيـري په مرور د زمانې دومره زوړ شوی وي چي مړی خاوري ګرځېدلی وي بيا په کي زراعت روا دی .

"قال في الشرنبلاليه و کره قلع الحشيش الرطب و کذا الشجرة من المقبرة لانه

ما دام رطبا یسبح اللّٰه تعالی الخ ۔ قال الطحاویؒ تحت قوله ما دام رطبا و من هذا قالوا لایستحب قطع الحشیش الرطب مطلقا ای و لو من غیر جنانه (و هی مقبرة) مین غیر حاجة افاده فی الشرح من قاضی خان (ص ٣٦٤) و فی الشامیة قلت و قد تقدم انه إذا بلی المیت وصار ترابا یجوز زرعه والبناء علیه الخ(ص٩٤٥ / ج: ١)"

سوال :......

د مقبرې پر ځمکه وروسته تر ډېر عمر چې مړی خاوري شوی وي د یوې مدرسې بناء جواز لري که نه او په دې مدرسه کې درس جواز لري کنه او د دغې مدرسې بناء اجازه لري که نه؟

جواب :......

که چیري د مقبرې ځمکه د استغناء په حالت کې وه نو قیام د مدرسې به په اذن د واقف سره وي که چیري واقف ژوندی وي یا د متولي د وقف په اذن سره یا د عامو مسلمانانو په اذن سره به وي که واقف متعین نه وو نو بیا جواز لري:

"عن الفقه ابی جعفر عن هشام عن محمد یجوز ان یجعل شیئا من الطریق مسجدا و یجعل شیئا عن المسجد طریقا للعامة ذکر الامام خواهر زاده فی کتاب الشرب کذا فی الخلاصة و فی العالمگیریة کما احفظ و لم اجد ان یجوز ان یجعل المقبرة مسجدا و لا یجوز ان یجعل المسجد مقبرة الخ"

نو مقبره چې مدرسه وګرځي دا پر مسجد قیاس ده چې مقبره مسجد

کرځېدلای شي همدا رنګه مدرسه ګرځېدلای شي . (امداد الاحکام / ص: ۲۷۴ / ج: ۳)

سوال :......

یوه زړه مقبره چې خلوېښت یا پنځوس کاله یې تېر شوي وي نو بیا یو څوک د مقبرې د مړو هډوکي راکاږي او مقبره خالي کړي نو بیا پر هغه ځای حوض جوړ کړي . آیا د دې حوض استعمال جواز لري که نه او دلته تک راتګ جواز لري که نه یا کښېنستل جواز لري که نه؟

جواب :...... د مسلمان مړي هډوکي د خپل ځای څخه نقل کول ناجائز دي او د دې ګناه پر منتقل باندې ده او د نورو خلکو لپاره تګ راتګ او د حوض استعمالول بالکل جواز لري . (امداد الاحکام / ص: ۲۷۵ / ج: ۳)

سوال :......

یوه مقبره ده چې ډېر مړي په کې دفن شوي وو او د نورو ځای په کې نه وو نو د اهل محلې والا راغلل دا اتفاق یې وکړی چې موږ به پر مردګانو باندې لږ لږ خاوري واچوو او نور مړي به باندې پټ کړو نو دا په شریعت کې جواز لري که نه؟

جواب :......

دا هلته ثابتیږي چې مقبره د مړیو له وجهې څخه تنګه شي نو باید چې د

دوهمي مقبرې طلب وکړي . ځکه که چيري د دغي اولي مقبرې خلق زاړه نه وي نو د دوهم مړي لپاره دفن کول ورسره جواز نلري بلکه دوهم ځای ته به يې وړي . ليکن د ضرورت او مجبوري په وخت جواز لري څو چي نن ضرورت او مجبوري هم ظاهره شوه نو طلب د دوهمي مقبرې تر اولي اسانه کار دی .

"قال فی مراقی الفلاح و لا بأس بدفن اکثر من واحد فی قبر واحد للضرورة قاله قاضی خان و یحجر بین کل اثنین بالتراب"(امداد الاحکام / ص: ۲۷٦ / ج: ۳)

سوال :......

يوه غټه مقبره وه په دې کي به خلکو مړي ښخول نو چي دا مقبره ډکه شوه بيا حکومت مړي ځني بند کړل بيا ډېر عمر تېر شو تقريباً څلوېښت ، پنځوس کاله تېر شول غالب ګمان داوو چي مړي به اوس خاورې وي بيا خلکو اتفاق وکړی چي په دغه مقبره کي عيدګاه جوړه کړو آيا دا جواز لري که نه؟

جواب :...... خلاصه د جواب دا ده چي دا مقبره په خپل حال پاته کيږي د عيدګاه لپاره به نه شي پايمال . ليکن د نوو مړيو لپاره جواز لري .

"قال فی الهندية سئل الاوزاجندی عن المقبرة فی القری إذا اندرست و لم يبق فيها اثر الموتی لا العظم و لا غيره هل يجوز زرعها و استغلالها قال لا و لها حکم المقبرة الخ ـ / ص: ۲٤۳ / ج: ۳"

سوال :......

یـو سړی د مقبرو زیارت کوي آیا ده ته د چمپلانو سره زیارت روا دی که نه، په دې کي د دوو فریقو اختلاف عظیم دی یوه فریقه وایي باید چوتې وکاږي بیـا دې زیـارت وکـړي او بـله فریقه وایي چي د چوتو سره زیارت کول مبا ح دی باید چي تاسو یوه د فریقینو د حقیقت دلیـل پېش کړئ .

جواب :......

په مقبره کي د چوتو سره تک د زیارت لپاره جواز لري:

"کـما قال فی الطحاوی علی المراقی الفلاح و لا یکره مشی فی المقابر بالنعلین عندنا ـ / ص: ۳٦۲"

سوال :......

د قبـر پـر سر باندي درختـي لکول جواز لري که نه او د دغه درختو پیسـې پر قبر مصرفول جواز لري که نه؟

جواب :......د زیـارت پـه وضـاحت اصـل جـواب دا دی چـي د قبر پر سر بـاندي درختـي لـکول او پیسـې یې وربـانـدي مـصـروفـول دواړه جواز لـري . (امداد الاحکام / ص: ۲۸۰، ۱۲۸۱)

سوال :......

یـو سـړي د مـقبرې لپاره لس ایکړه ځمکه وقف کړه او په وقف نامه کي یې دا تـصـریح کړې وه چي دا دوه سوه فټه مربع د ځمکي مسجد او د مدرسې لپاره

ده نـو اوس چې دا خـالیـګـاه د طالبانو او خادمانو لپاره خوراک څښاک څنګه دئ؟

جواب :......پـه مقبره کې د خوراک څښاک د مرمت یو دلیل هم نشته غایت ما فـی الباب کې دا علماء وایي چې بلا ضرورت مناسب نه دی . (امداد الاحکام / ص:۲۸٦ / ج:۳)



مسائل الوقف

(د وقف احکام او مسئلې)

سـوال:......

يـوه سړ خپـلـه مـمـلـوکه ځمکه د مسـجد يا هديرې لپاره باقاعده وقف کـړلـه، اوس واقف (وقف کـوونـکـی) دغـه موقوفه (وقف شوې) ځمکه خرڅوي نو آيا د شريعت له طرفه موقوفه ځمکې خرڅول جائز دي او که نه؟

جواب:......

دوقف لـه تـام کېـدو نه وروسته واقف ته په موقوفه ځمکه کي د هيچ دول رد و بدل اختيار نشته او نه يې خرڅول ورته شرعاً جائز دي .

"لـمـا قـال الـعـلامة بـرهان الدين المرغينانيؒ: و إذا صح الوقف لم يجز بيعه و لا تمليكه "(الهداية / ج: ۲ / ص: ۲٤۰ كتاب الوقف)

قال العلامة التمرتاشيؒ: فإذا تم ولزم (اى الوقف) لا يملك و لا يعار ولا يـرهق اى لا يملك التمليك لغيره بالبيع۔(فتاوى حقانية / ج: ٤ / ص: ۱۹۷ بحواله تنوير الابصار على صدر رد المحتار / ج: ٤ / ص: ۳۵۲)

سـوال:......

چې کوم ځای د مدرسې په نيت اخيستل سوی وي هغه د مسجد دپاره وقف کول څنګه دي؟

جواب:......

د مدرسې په نیت باندي د اخیستلو بعد هغه ځای د اخیستونکي په ملک کي دی محض په نیت سره د مدرسې دپاره وقف نه سو، او اوس که چیري د اخیستونکي په نزد د مسجد دپاره وقف کول زیات فائده مند وي نو د مسجد دپاره وقف کول د ده حق دی. (فتاوی محمودیه / ص: ۳۳۵ / ج: ۵)

سوال:......

د مدرسې پر بالا چت باندي مسجد جوړول د دې دپاره چي د محلې خلک اعتراض کوي چي طالبان شور کوي، آیا اوس دا شرعاً مسجد بلل کیږي او که نه؟

جواب:......

دا شرعي مسجد نه دی او چي په لاندي چت کي یې مدرسه وي دالته لمونځ کول د مسجد ثواب نلري مګر لمونځ ادا کیږي. (فتاوی محمودیه / ص: ۲۸۹ / ج: ۱۵)

سوال:......

پر حکومتي مځکه باندي بغیر اجازت مسجد جوړول ځنګه دي، او که جوړ وي نړول یې ځنګه دي؟

جواب:......

هر کله چي هغه مځکه د حکومت په ملک کي وي او د هغه حدودو کي وي نو د مسجد د جوړولو لپاره دي دهغه څخه باقاعده اجازت واخیستل سي. بلا اجازت پر داسي مځکه باندي د مسجد په جوړولو

كي خطره و اندېښنه سته شرعاً هم او قانوناً هم . (فتاوى محموديه / ص: ١٩٧ / ج: ١٠)

سوال :.......

د غير مسلم په لاس باندي د مسجد بنياد ښوول څنګه دى؟

جواب :.......

غير مسلم كه چيري معأمروي يا انجينروي او په سمت سره ښه واقف وي او د اسلام د تقريب يا د اعزاز نيت ئې نو بنياد په ښوول درست دي . ليكن د مسجدو سره چي كوم خدمات متعلق وي هغه خدمات د مسلمان څخه اخيستل بهتر دي . (فتاوى رحيميه / ص: ٢٣٢ / ج: ١٠ بحواله امداد الفتاوى / ص: ٢٩٠ / ج: ، فتاوى محموديه / ص: ١٣٢ / ج: ٢٨)

سوال :.......

د مسجد د مځكي څخه بچاو سوې مځكه د مدرسې د درسگاه يا د مدرسينو يا د طالبانو د اوسېدو لپاره جوړول څنګه دي؟

جواب :.......

كوم ځاى چي د مسجد دى كهچيري په دې كي د طالبانو د اوسېدلو لپاره ځاى جوړ سي نو دي ددې ځاى مناسبه كرايه تجوز كړي او د مدرسې له طرفه دي و مسجد ته ادا كړي . (فتاوى رحيميه / ص: ٩٥ / ج: ٦ و فتاوى محموديه / ص: ٢٣٨ / ج: ١٧)

سوال :.......

په مسجد كي د إمام لپاره كمره جوړول څنګه ده؟

جواب :.......

د إمام وغیره دپاره په مسجد کي کمره جوړول د مسجد په ضروریاتو کي داخله ده لکه غسل خانه وغیره د مسجد په ضروریاتو کي داخل دي . (فتاوی محمودیه / ص: ٢٠٨ / ج: ٦)

سوال:......

د مسجد د مېوې خوړلو حکم څه دی؟

جواب:......!

ظاهره خبره ده چي هغه درخته د مسجد ده د مېوې قیمت دي مسجد ته ورکړل سي . لیکن که چیري درختي لګونکي د عام لمونځ کونکو دپاره لګولې وي بیا د ټولو لپاره جائز ده . (فتاوی محمودیه / ص: ٢٤٣ / ج: ١٨)

مسئله:......

کوم قرآن مجید یا سپارې د مسجد دپاره وقف کي کښېښودل سي هغه هر سړی یې په مسجد کي استعمالولای سي که هغه د مدرسې طالبانوي یا نور لمونځ کونکي لیکن خپل کور ته یا په بل مسجد کي یا مدرسې ته وړل جائز نه دي . (فتاوی محمودیه / ص: ١٣٨ / ج: ١٨)

سوال:......

تبلیغي جماعت د مسجد شیان استعمالولای سي او که نه؟

جواب:......

د دغو جماعتو (یعني تبلیغي جماعتو) قیام په مسجدونو کي د لمانځه دپاره دی د لمانځه یا د دیني امورو د مقصد خلاف نه دی د دې وجهي څخه که چیري دوی دمسجد شیان استعمال کړي، استعمال یې

ورته صحيح دى . (فتاوى محموديه / ص: ٢٦٨ / ج: ١٢)

مسئله :......د مسجد يا د قبرستان دپاره د وقف سوي مځكي حكم بحيثيت احترام په حكم كي نه ده ترڅو پوري چي قبر يا مسجد نه وي جوړ سوى هر جائز كار پر هغه مځكه باندي جائز دى او هر ناجائز كار هلته ناجائز دى . (فتاوى محموديه / ص: ٢٠٦ / ج: ١٥)

مسئله:......داسړى دي و مسجد ته نه راځي چي د هغه د زخم څخه بوى راځي . په حديث شريف كي دي چي كوم سړى له دې بد بوداري درختي څخه خوراك وكړي هغه بوى دي و مسجد ته نزدې نه راوړي په دې سره ملائكه ته تكليف رسي چي په كوم سره انسان ته تكليف (ايزاء) رسيږي . (فتاوى محموديه / ص: ٧٣ / ج: ٦ بحواله شامي / ص: ٦٩١ . آپ كے مسائل/ص: ١٥/ج: ٣)

سوال :......

د مسجد په پيسو بيت الخلاء جوړول څنګه ده؟

جواب :......

لكه څنګه چي غسل خانه، وضو خانه، د مسجد په پيسو سره جوړېداى سي دغسي د مؤذن او د إمام لپاره د بيت الخلاء ضروري وي د هغې جوړول هم درست دي . او دغسي د اودس او استنجاء او د غسل د اوبو انتظام د مسجد په پيسو سره جائز دى . (فتاوى محموديه / ص: ٢٢٧ / ج: ١٥)

سوال :......

د مسجد پر فرش باندي اودس كول څنګه دى؟

جواب :......

د مسجد فرش د لمانځه دپاره مقرر دی د او داسه لپاره نه دی مقرر . د او داسه مستعملي او به د مسجد پر فرش باندي اچول منع دي . (كتاب الفقه / ص: ۴۶۱ / ج: ۱)

مسئله:

كه چيري تر غسل خانې پوري لاره ماسوا په مسجد كي د تېرېدو بله لاره نه وي نو ناپاكه سړی (بې غسله سړی) دي تيمم و وهي او تېر دي‌سي او متولی د مسجد دي كوشش وكړي د غسل خانې لاره دي وبل طرف ته جوړه كړي . (فتاوی محموديه / ص: ۱۹۸ / ج: ۱۵)

مسئله:......

په جوړ سوي مسجد كي د سامان د ښولو لپاره كمره جوړول يا د اوسېدلو لپاره كمره جوړول جائز نه ده . (فتاوی عبد الحی / ج: ۱ / ص: ۲۹۵)

سوال:

يو سړي د خپل باغ د وقف كولو په وخت كي د مځكي او د حاصلاتو تعين و نه كړ د ده له مرګ بعد چي كله د باغ درختي (وني) د كټي وړ پاتي نه سوې نو وارثانو يې د مځكي دعوه وكړه دوی وايي چي زموږ مورث د باغ وني او حاصلات وقف كړي وې او مځكه يې نه وه وقف كړې چونكه اوس نه د باغ وني پاتي دي او نه يې حاصلات . د دې لپاره دامځكه موږ پخپل منځ كي ويشو نو پدې معامله كي هغوی تر كومه ځايه پر حق دي؟

جواب:......

د شریعت له طرف د باغ د مځکي په شان د هغه د ونو او مېوو وقف کول هم جائز دي، ددې لپاره په نوموړي صورت کي د واقف الفاظ او عرف ته په کتو سره فیصله کول مناسب دي که چیري په علاقه کي یواځي ونې او مېوې وقف کېدلې نو بیا به د ونو او مېوو اعتبار وي او که نه وي نو بیا مځکه وقف ګڼل کیږي. (فتاوی حقانیه/ ج: ۴/ ص: ۱۹۸ بحواله هدایه/ ج: ۲/ ص: ٦٣٩، کتاب الوقف خلاصة الفتوی/ ج: ۴/ ص: ۴۱۵)

سوال: ......

یو سړي د مدرسې لپاره چي مځکه وقف کړې ده او وقف تام هم سوی دی نو آیا د نوموړي موقوفه مځکي د حاصلاتو عشر ورکول ضروري دي او که نه؟

جواب: ......

کومه مځکه چي د مدرسې او داسي نورو لپاره وقف سي او وروسته پرې څه شی وکرل سي نو د حاصلاتو عشر ورکول یې ضروري دی.

(فتاوی حقانیه/ ج: ۴/ ص: ۱۹۹ بحواله فتاوی الهندیه/ ج: ۲/ ص: ۴۲۴)

سوال: ......

د دیني مدارسو لپاره کوم حلال حیوانان او یا کومه غوښه چي خلک یې راوړي نو آیا له طلباوو نه پرته استاذان یا د مدرسې نوره عمله هم دا غوښه خوړلی سي او که نه؟

جواب: ......

که چیري واقف حلال حیوانان یا غوښه یواځي د مدرسې د طالبانو لپاره وقف کړي وي نو له طالبانو نه پرته یې څوک نه سي خوړلی ځکه

چي بیا د واقف د شرط مخالفت لاز میږي کوم چي ناجائز دي او د واقف شرط د شارع د نص غوندي وي بیا هم د مدرسې په نامه د مدرسې د ذمه وارو حضراتو په اختیار کي د ورکولو په صورت کي د مدرسې لپاره د ورکړل شویو نورو عطیاتو غوندي ګرزي او بیا یې له طالبانو پرته د مدرسې استاذان او نور ملازمین هم استعمالولی شي . (تنقیح الحامدیة / ج: ۱/ ص: ۱۲٦)



بسم الله الرحمن الرحیم

کتاب الحدود والتعزیرات

(۱) د حد پیژندنه :......

الحد فی اللغة هو المنع منه الحداد للبواب و فی الشریعة العقوبة المقدر حقاً لله تعالی حتی لا یسمی القصاص حدّ لما انه حق العبد و لا التعزیر لعدم التقدیر ۔

ترجمه؛ په لغت کي د حد معنی ممانعت دی ځکه نو دروازه وان ته حداد ویل کیږي، او په شریعت کي هغي تاکلې سزا ته ویل کیږي چي د الله تعالی حق وي . دغه وجه ده چي قصاص ته حد نه ویل کیږي ځکه چي هغه د بنده حق دی او تعزیر ته حد نه ویل کیږي ځکه هغه تاکلې سزا نه ده .

(۲) د حدودو انواع:......

و شرط کون من یقام علیه صحیح العقل و سلیم البدن و کونه من أهل الاعتبار و الاقتدار حتی لا یقام علی المجنون و السکران و المریض و ضعیف الخلقة الا بعد الصحة و الا فاقه (محیط سرخی)

ترجمه؛ حد پر عاقل، روغ، هوښیار او غښتلی سړي باندي جاري کیږي، پر لیوني، نشئ مریض او کمزوري سړي باندي نه جاري کیږي خو تر صحت وروسته بیا ور باندي جاري کیږي .

(۳) مسئله :

سوال:......

يـوه مـجـرم تـه د كـوړو (دُرو) اويـا قـصـاص د سزا وركـول استـحقـاق يواځي حاكم ته دى؟

جواب:......

دَحـدودو جاري كـول د حـكـامـو او د هـغـوى لـه خوا ځخه د ټاكل شوي قـاضـيـانـو او داسـي نـورو حق دى بل چا ته د حدودو د جاري كولو اختيار نشته:

"و فـى الهـندية: و ركنه (الحد) اقامة الإمام او نائبه فى الاقامة" (فتاوى حـقـانية / ج: ٤ / ص: ٢٧٨ بـحـوالـه الفتاوى الهندية / ج: ٣ / ص: ١٤٣، كتاب الحدود)

(۴) مسئله:.

سـوال:......

پـه اسـلامـي قـانـو ن كـي پـه حـدود او تـعـزيـراتو كي چي كومي كوړې استـعـمـاليږي د هغـو د جوړښت پـه باره كي دا وضاحت وكړئ چي هغه به څنكه وي اوله كوم شي به جوړيږي اوږدوالى او پلنوالى به يې څومره وي؟

جواب:......

پـه حـدودو او تـعـزيـراتـو كـي د استـعمالېدو نكي دُرې پـه جوړښت كي ضـروري خبـره دا ده چـي دُره كـه لـه هـر شـي څـخـه جوړه سي بـايد چي متـوسـطـه وي بيـا هم كه چيري د لركي وي نو پـه كار دى چي نـرمـه لـښـتـه وي . پـه حدودو او تعزيراتو كي كلك لركى يعني ډنډې استـعـمال جائز دى:

"قـال الـعـلامة ابـن نـجـيـم الـمصريّ: (بسوط لا ثمرة له متوسطا) اى لا عـقـده لـه لأن عـليارضى الله عنه لما اراد ان يقيم الحد كسر ثمرته و المتوسط

بین المبرح و هو الجارح و غیر المؤلم لافضاء الاول إلی الهلاك و خلو الثانی عن المقصود و هو لا ترجار و کذا فی الهدایة و حاصله انه المؤلم غیر الجارح ۔

قال العلامة الزیلعیؒ: بسوط لا ثمرة متوسطا ان یضرب بسوط لا عقده له ضربا متوسطاً .... و عن علیؓ انه کسر ثمرته و لو لم یکسر الثمرة بعد کل ضربة بضربتین .... والضرب هو المؤید غیر الجارح لأن الجارح یفضی إلی التلف او یبقی فی جسده اثر یشینه و لهدا یکسر عقدته و غیر المؤید لا یفید والواجب التأدیب دون الهلاك"(فتاوی حقانیة / ج: ٤ / ص: ٢٧٨ بحواله تبین الحقائق / ج: ٣ / ص: ١٧٠ ، کتاب الحدود)

(۵) **مسئله:**

سوال :......

له حدود څخه تېرېدای شي؟

جواب :......

"و فی الفتح القدیر اجتمع الفقهاء الامصار علی ان الحدود تندر بالشبهات" (ترجمه) او په فتح القدیر کي راغلي دي پر دې أمر باندي د فقهاؤ اتفاق دی چي په شبه سره تر حد جاري کولو تېرېدای شي . (فتاوی الحدود و التعزیرات / ص: ٢ بحواله الاشباه و النظائر)

(۶) **مسئله:**

سوال :......

له نابالغه انجلۍ سره که یو عاقل بالغ هلک په زور او جبر سره زنا وکړي او جرم یې ثابت هم سي نو آیا په نوموړي نابالغي نجلۍ باندي به

حد جاري کیږي او که نه؟

جواب:......

کـه چیري کوم بالغ او عاقل هلک د داسي نابالغي انجلۍ سره زنا وکړي چي دهغې لـه مثـل سره زنـا کېدلی سي او د قاضي په نزد يې ثبوت هم وسي نـو پـه بـالـغ هـلک بـاندي به حد جاري کیږي او پر نجلۍ باندي به د هغې د نـه بلـوغ له وجهي حد نه جاري کیږي. (فتاوی حقانیه/ ج: ۴/ ص: ۲۷۹ بحواله تبین الحقائق/ ج: ۲/ ص: ۱۴۹، الباب الرابع فی الوطی الذی لا یوجب الحد و الذی لا یوجبه)

(۷) مسئله:

سـوال:......

یـو سړی د روژې پـه حـالـت کـي زنـا وکړي د دې تعزیر به څه وي؟ دده ګناه به څنګه معافیږي؟ او په دا کار کي شپږ کسان ورسره شریکان وو په هغو کي دوه کسان ددې خبري ګواهي ورکوي چي ده دا کار وکړ؟

جواب:......

د زنـا ثبـوت د زاني د اقرار څخه کیږي هغه هم هغه وخت چي د قاضي و مـختــه څلـور واره اقـرار وکـي يـا څلور داسي شاهدان وي چي د هغو شهـادت قبلـول شرعاً لازم وي یعني ثقه او عادل وي د داسي ثبوت بعد که چیـري سـړی شـادي شده وي نو دی سنګسارېږي او که غیر شادي شده وو سـل کوړې به وهل کیږي. مګر دا سزا په دار الاسلام کي مسلمان بادشاه ورکولی سي بل څوک يې نسي ورکولی. دا سزا د نیا ده د آخرت د ګناه د معـافـي لپـاره د تـوبې او استغفار ضرورت دی. (فتاوی محمودیه/ ج:

۲۲ / ص: ۵۵۰ بحواله بحر الرائق، کتاب الحدود / ص: ۵، ۷ ۰ م رشیدیه)

(۸) **مسئله:**

ســوال:......

کـه چیـري یو سړي خپله ښځه د بل چا سره پر زنا ولیده او دی په غصه سي خپله زوجه مړه کړي نو پر دې قاتل باندي د شریعت مطهره څه حکم دی، او پـه شـرع کـي د فـیـصـلې حق و حاکم وخت ته دی، او دا خو ښکاره خبره ده چي زموږ په ملک کي د شرع مطابق فیصلې نه کیږي؟

جواب:......

پـه دې مسـئـله کي تفصیل دی چي هغه یې په فتاوی عالمگیري په / ج: ۲ / ص: ۲۳٦ کي ذکر کړی دی:

"سئل الهندوانی عن رجل جامع أمرأته رجل، هل له القتل؟ قال: ان کـان یعلـم أنه ینزجر عن الزنا بالصیاح و الضرب بما دون السلاح لا یحل، و ان علم أنـه لا ینزجر الا بالقتل، حل له القتل، و ان طاوعته المرأة حل له قتلها ایضا، کذا فی النهایة"(فتاوی محمودیه / ج: ١٤ / ص: ٨٤ بحواله فتاوی عالمگیری)

(۹) **مسئله:**

ســوال:......

په دبره کي د بدفعلي سزا شریعت مطره څونه مقرره کړې ده؟

جواب:......

دایـو ډېر خبیـث کـار دی د زنـا څخــه هـم بـدتره دی د شریعتِ څخـه هم مـاسـوا دا کـار عـقلاً او طبعًا هم خبیث دی، په دې کي مختلفي سزاګاني

منقوله دي . سزا د محمد ﷺ . د نبي ﷺ څخه اقتلوا الفاعل و المفعول به، په بل حديث کي دي: فارجموا الاعلى و الاسفل احصنا او لم يحصنا .

اول حديث حضرت ابن عباسؓ، ابو هريرهؓ او حضرت جابرؓ څخه مرفوعاً او د حضرت عثمانؓ څخه موقوفاً مروي دى، دا حديث مطلق دى يعني په دې کي د احصان مذکوره نه دى .

او دويم حديث حضرت ابو هريرهؓ څخه مرفوعاً مروي دى او ددې څخه ما سوا حضرت ابو ايوب انصاريؓ څخه مرفوعا او د حضرت عثمانؓ او عليؓ څخه موقوفاً د داسي مجرم لپاره حدِ زنا مروي دى ليکن دا حکم غير مدرک بالقياس دى د دې وجهي څخه د حضرت عثمانؓ او عليؓ عدمِ رفع هم په حکم کي د رفع دى .

سزا د حضرت عبد الله بن عباس رضى الله عنه:

هغه وايي چي داسي سړى دي پر بالا غونډۍ باندي و څېړوي او د غره د سره دي رايله کړي او خلک دي ډبري ورو غورځوي تر دې وپوري چي مړ شي .

فيصله د حضرت ابو بکر صديق رضى الله عنه:

د حضرت ابوبکر صديقؓ په خدمت کي خالد بن وليدؓ د داسي خبيث سړي حال يې وليکى او د سزا پوښتنه يې ځيني وکړه په جواب کي ابو بکر صديقؓ د ټولو صحابهؓ په مشوره باندي و داسي سړي ته په اور کي د سوځولو سزا وليکله . حضرت خالد بن وليدؓ هم ددې حکم مطابق هغه سړى په اور کي وسوځي .

فیصله د حضرت عبد الله بن زبیر رضی الله عنه:

ده مبارک هم په خپل دور خلافت کي داسي خبیث عمل والا ته داور سزا ورکړه .

فیصله د حضرت عثمان رضی الله عنه:

ده مبارک د حضرت علي قول او د هغه په تائید کي د حضرت ابو ایوب انصاري حدیث واورېدی تر حد زنا لاندي و غیر محصن ته یې سل کوړې ورکړې . (دا ټول تفصیل په هدایه، درایه، نصب الرایه او په محلي کي دی)

☆...... د فقهاء رحمهم الله فرمایلي شوي سزاګاني:

(۱):۔ رجم، که څه هم شادي شده نه وي .

(۲):۔ شادي شده دي رجم سي او غیر شادي شده ته دي سل کوړې ورکړي .

(۳):۔ په اور کي دي سوځوي

(٤):۔ دېوال دي پر را ونړوي او مړ دي کړي .

(٥):۔ له بالا خانې څخه دي رایله کړي او ډبري دي پسي را وغورځوي تر دې پوري چي مړ شي .

(٦):۔ په سخت ځای کي دي بند کړي چي توبه وباسي یا دالته په قید کي مړ شي .

(٧):۔ قتل دي کړي .

(٨):۔ په سخت بدبودار ځای کي دي قید کړي . (احسن الفتاوی / ج: ٥/ ص: ٥١٢)

(۱۰) مسئله:

سوال:......

پر یو سړي باندي جرم ثابت شي او له دې بعد و ده ته یو مرض لاحق شي او س که چیري پر ده باندي حد جاري کړه شي د دې سره د مرګ بېره ؟ اوس په دې صورت کي سزا موقوف کېدای شي او کنه؟

جواب:......

په دې صورت کي دي دا مجرم قید کړي تر هغې پوري چي دا مرض يې ختم شي . له مرض بعد دي پر ده حد جاري کړل شي . (احسن الفتوی / ج: ۵/ ص: ۵۲۳ بحواله رد المحتار / ج: ۳/ ص: ۲۱۲)

(۱۱) مسئله:

سوال:......

د زید په کور کي د فوج په لباس کي دوه کسان ننوتل زید د فوج د بیري د وجهي ښځه منده کړه او دغو دوو کسانو د زید د ښځي سره زنا وکړه آیا اوس په دې صورت کي پر دې ښځه باندي حد جاري کیږي او کنه؟

جواب:......

د شریعت مطهره د طرفه ښځه پر دې ښځه باند حد نه جاري کیږي . د دې وجهي ښځه چي دامُکرَه وه او پر مُکرَه باندي حد نه جاري کیږي . (فتاوی محمودیه / ج: ۱۴/ ص: ۹ بحواله هدایه اخیري ۲ / ۳۳۵ و فتح القدیر / ص: ۳۰٦)

(۱۲) مسئله:

سوال:......

که چیري یو سړی خپلي ښځي ته طلاق ورکړي او له عدت تېرولو بعد بلا نکاح په کور کي یې ګرځي او ښځه یې بولي و دې سړي ته به کومه سزا ورکول کیږي؟

جواب:......

که چیري حکومت اسلامي وي او د دوی دواړو جماع کول ثابت سي نو دا زنا ده د وجهي څخه د دې چي حد زنا پر دوی باندي جاري سي، که چیري جماع کول ثابت نه سي نو بیا پر دوی باندي تعزیر دی.

که چیري اسلامي حکومت نه وي نو د عامو مسلمانانو لپاره د دوی څخه قطع تعلق پکار دی له دې وجهي څخه چي دوی تنګ سي او توبه وباسي. (فتاوی محمودیه/ ص: ۹۸/ ج: ۱۴)

(۱۳) **مسئله:**

سوال:......

په حدودو کي ګواهي ورکول ښه دي او که عیب د مسلمان پټول ښه دي؟

جواب:......

"الشهادة فی الحدود و یخیّر فیها الشاهد بین السر والاظهار لأنه بین حستین اقامة الحد و التّوقی عن الهتك ولاستر أفضل"

ترجمه: په حدودو کي شاهدانو لره اختیار حاصل دی چي دوی عیب پټوي او یا جرم ښکاره کوي ځکه د عیب پټول او د شهادت ادا کول دواړه ښه کارونه دي، خو پرده پوشي ښه ده. (فتاوی الحدود التعزیرات/ ص: ۱۱ بحواله الهدایه)

كيـږي چـي د حـد مـوجـب نشـي ګرځېدی . (فتاوی الحدود والتعزيرات / ص: ۳ بحواله النهايه)

(۱۶) **مسئله:**

سـوال:......

تعزير په توبه سره ساقطيږي او كنه ؟

جواب:......

"التعزير لا يسقط بالتوبة كالحد"

تـرجـمـه: تـعـزيـر پـه تـوبـه سره نشي كېداى څرنګه چي حد په توبه نه سـاقـطـيـږي . (فتـاوى الـحـدود والتـعـزيـرات / ص: ۲ بـحـوالـه الاشباه والنظائر)

(۱۷) **مسئله:**

سـوال:......

د حد او د تعزير په مابين كي څه فرق دئ؟

جواب:......

حدود او تعزير له څو جهتو يو بل سره فرق لري:

الفرق الاول: دا چي حد يوه ټاكلي سزا او تعزير غير معينه سزا ده چي د إمام رأيه باندي موقوفه ده .

الـفـرق الثـانى: دا چي حد په شبه ساقطيږي خو تعزير په شبه له مينځه نه ځي .

الـفـرق الثـالث: دا چي حد پر كوچنيانو باندي واجب نه دى خو تعزير پر كوچنيانو باندي هم جائز دى .

(۱۴) **مسئله:**

سوال:......

د قاضي لپاره د فیصله کولو شرطونه کوم دي؟

جواب:......

د قاضي فیصله باید د قرآن مجید موافق وي او دی باید د قرآن په ناسخ او منسوخ خبر وي او د ناسخ په باب ده ته دا هم معلومه وي چي کوم محکوم دی او کوم متشابه دی او د کوم په تاویل کي اختلاف دی.

او چي ده ته د قرآن مجید فیصله میسره نه سي نو باید د حدیث موافق فیصله وکړي او ده ته د حدیث په ناسخ او منسوخ کي هم د ځان خبرول په کار دي او چي دی مختلف احادیث ویني نو د هغو احادیثو موافق دي فیصله وکړي چي ترجیح ولري او دده د اجتهاد میلان هغې خواته وي، او دی باید پر مشهور او متواتر او اخبار احاد او د روایت په مراتبو باندي اعلم ولري. (فتاوی الحدود والتعزیرات / ص: ۲۱ بحواله محیط)

(۱۵) **مسئله:**

سوال:......

حد د تعزیر څه شی دئ؟

جواب:......

"التعزیر هو تأدیب دون الحد و یجب"

تعزیر و هغې سزا ته وایي چي تر حد کښته وي. فی جنایة لیست موجبة للحد (النهایة)

یعني د حد درجې ته و نه رسیږي او تعزیر په هغه جرم کي ورکول

الفرق الرابع: دا چي حد يوه داسي ټاكلې سزا ده چي د مسلمانانو او كافرانو لپاره عامه ده او هغه غير معينه سزا چي پر مسلمانانو واجبه سي هغې ته تعزير ويل كيږي، خو د كافرانو لپاره ددغي غير معينه سزا نوم عقوبت (عذاب) دی نه تعزير، ځكه تعزير له ګناهونو څخه د پاكېدلو لپاره دئ. په داسي حال كي چي كافران د پاكي اهليت نلري. (فتاوی الحدود والتعزيرات / ص: ۴ بحواله خزانة الراوية)

(۱۸) **مسئله**:

سوال:......

قصاص د چا حق دی يعني د بنده حق دی كه د الله تعالی ؟

جواب:......

"ان القصاص بما اجتمع فيه حقان حق الله تعالى من حيث اخلاء العالم عن الفساد و حق العبد من حيث يشفي الصدور"

ترجمه: په قصاص كي دوه حقه يو ځای شوي دي (۱) د الله تعالی حق دی چي په هغه سره دنيا له فساد څخه خالي كيږي (۲) د بنده حق دی چي په هغه سره د مقتول د وارثانو تسلي حاصليږي (فتاوی الحدود والتعزيرات / ص: ۵ بحواله فتح القدير)

(۱۹) **مسئله**:

سوال:......

د حد او د قصاص په مابين كي څه فرق دی؟

جواب:......

په فوائد كي ليكلي دي چي غير له اوو (۷) مسئلو څخه په حد او

قصاص کي هيڅ فرق نسته:

الـفرق الاول: دا چـي قـاضي په حدود کي د خپل علم په موجب فيصله نشي کولای، خو په قصاص کي صرف د قاضي علم کافي دی .

الـفـرق الـثـانـي: دا چـي د حـدود و پـه دعویٰ کي وراثت نه جاري کيږي، مګر د قصاص د دعوې حق وارثانو ته رسيږي .

الـفرق الثـالـث: ا چي په حدودو کي که څه هم د زنا د تهمت لګولو حد وي عفو کول صحت نلري، خو په قصاص کي د مقتول ورثه عفو کولای شي .

الـفرق الرابع: دا چي د وخت تېرېدل دقتل د شهادت مانع نه ګرزي، خو په حدودو کي د وخت تر تېرېدلو وروسته شهادت نه منل کيږي .

الـفـرق الـخامس: دا چي د قصاص د ګونګي په اشاره او کنايه ثابتيږي مګر د حدودو اقرار چي ګونګی په اشاره سره وکړي هغه د منلو وړ نه دی .

الـفـرق السـادس: دا چي په حدودو کي سپارښت جواز نه لري ليکن په قصاص کي سپارښت جائز دی .

الـفرق السابع: دا چي قصاص د مقتول د وارثانو پر دعوی موقوف دی، مـګر حدود پر دعوی موقوف نه دي خو د قذف (د زنا تهمت لګولو) حد البتـه پر دعویٰ موقوف دی . (فتاوی الحدود التعزيرات / ص: ٦ بحواله الاشباه والنظائر)

(۲۰) مسئله:

سـوال:......

په کومو دعوو کي وکالت جائز دی او په کومو کي نه دی جائز؟

جواب:......

په ټولو دعوو کي وکالت جائز دی لیکن په حدودو او قصاص کي د ثبوت او د حکم د نفاذ لپاره وکالت جائز نه دی، او په تعزیر کي د ثبوت او د حکم د نفاذ دواړو لپاره وکالت په اتفاق سره جائز دی، مؤکول خواه حاضر وي خواه غائب وي. (فتاوی الحدود والتعزیرات / ص: ۱۵ بحواله منح الغفار و البدائع)

(۲۱) **مسئله**:

سوال:......

که چیري یو ښځه مثلاً هنده دا بیان وکړي چي بکر زما سره زنا وکړه، آیا د هندې دغه بیان قابل اعتبار دی او کنه؟

جواب

:......د هندې دغه بیان قابل اعتبار نه دی:

"و يثبت بشهادة أربعة بالزنا ... و باقراره أربعًا فی مجالسه الاربعة معطوف على "بالبينة " إلى يثبت الزنا باقراره"(فتاوى محموديه / ج: ١٤ / ص: ٩٨ بحواله البحر الرائق ، كتاب الحدود :٥/٧ ـ ٥ / رشيديه)

(۲۲) **مسئله**:

سوال:......

که چیري یو سړي د خپلي ښځي سره د دبر له خوا وطي وکړه د دې سړي دلپاره کومه سزا په کار ده؟

جواب:......

په صـورت مسـئـولـه کـي ښځه او د ښځي د قریبانو لپاره ضروري ده چي هـغـوی يـې مېړه د داسي قبيح او بد عـمـل څخه منع کړي او که نه وي نـو حـاکـم دي تعزیراً سزا ورکړي او که چیري له دې عـمـل سره عادي سوی وي نو د وخت حاکم یې قـتـل کولی هم سي:

"قـال الـعـلامة الحصكفيؒ : او (بوطا دبر) و قالا ان فعل في الاجانب حدو ان فـی عبده و امته او زوجته فلا حد اجماعاً بل یعزر قال فی الدرر الاحراق بـالـنـار" (الـدر الـمـختار علی الهامش رد المحتار / ج: ٣ ١٥٥ ، باب التعزير ، مطلب فیمن وطی)

قـال الـعـلامة برهـان الـديـن الـمرغينانیؒ: و من اتی أمرأة فی الموضع الـمكروه او عمل عمل قوم لوط فلا حد علیه عند ابی حنیفةؒ و یعزر و قال فی الجامع الصغير و یودع فی السجن و قالا كالزنا فيحد۔ (الهداية / ج: ٢ / ص: ٥١٦ بـاب الوطی الذی یوجب الحد والذی لا یوجبه۔ و مثله فی الهداية ٢ / ص: ١٥٠ الباب الـرابع فی الوطی الذی یوجبه الحد والذی لا یوجبه۔ فتاوی حقانيه / ج: ٤ / ص: ٢٨٤)



کتاب الاشربه

﴿د اشربه ﴿نشه آورو﴾ شیانو احکام او مسائل﴾

د نسوارو په شکل کښی د تمباکو د استعمال حکم

سوال﴾

د نسوارو استعمال جائز دی او که نه دی جائز؟ بینوا توجروا.

جواب﴾

نسوار چونکه له تمباکو څخه جوړیږی له دې وجهی استعمال ئی هم د تمباکو غوندی في نفسه مباح او جائز دی ځکه چه په دې کښی نه نشه شته او نه مستی.

قال العلامة ابن عابد فانه لم يثبت اسكاره و لا تفتيره و لا اضراره بل ثبتنه منافع فهو داخل تحت قاعدة الاصل فی الاشياء الابحة و ان فرض اضراره للبعض لا يلزم منه تحريم على كل واحد ﴿رد المحتار ج۵ص۲۹٦ كتاب الاشربة﴾

البته د نسوارو د بد بویي په وجه په جومات کښی لمونځ کوونکو ته تکلیف وي او همدا رنګه له اسراف او تبذیر سربیره له طبی نقطه نظره هم د صحت مضر دی نو ځکه نه کول ئی بهتر دی.

قال العلامة ابن عابدين اذا شرب الماء وغيره من المباحات بلهو و طرب على هية الفسقة حرام ﴿رد المحتار ج۵ص۲۹۲ كتاب الا شر

بة ﴾
قال العلامة محمد الکامل الطرا بلسی و قد حقق المتا خرو ن من اهل مذ هبنا الحنیفة انه لیس بحرام و انما فی تعا طیه الکر اهة و قد قدمنا ان احسن ما قیل فیه قول الامیر رحمه الله فاختلف فیه الدخان والورع ترکه ﴿الفتاوی الکا ملیة ص۲۸٦﴾ کتاب الحظر و الا با حة مطلب فی حکم شرب الدخان فی مجلس قراة القرآن ﴾

په دې ارتباط زموږ ښه مکمله رساله په دې کتاب کې سته تاسو يې په غور مطالعه کړئ

د ګنیو جوس یا او به څخه ایستل شوی شراب حرام دی

سوال ﴾

کوم شراب چې له ګنیو له رس څخه ایستل شوی وی شرعائی څه حکم دی؟

جواب ﴾

له انګورو او خرماوو څخه جوړ کړل شوی شراب بالاتفاق حرام دی له دغو شیانو څخه پرته له کومو شیانو څخه چې شراب جوړيږی هغه هم د امام محمد رحمه الله په نزد د مفتی به قول مطابق حرام دی ځکه چې دا هم نشه کوونکی شراب دی او د حدیث له ظاهر څخه هم د هغه مسکر شراب حرمت معلوميږی .

لما اخرجه الامام مسلم كل مسكر حرام ﴿الصحيح المسلم ج۲ص۱۹۷ باب بيان كل مسكر حرام﴾
قال العلامة الحصكفي والكل حرام عند محمد و به يفتي ﴿الدر المختار على هامش رد المحتار ج۵ ص۲۹۲ كتاب الا شربة﴾
قال العلامة الزيلعي رحمه الله كل شراب اسكر فهو حرام رواه البخرى ﴿تبيين الحقائق ج٦ص۴۷ كتاب الاشربة﴾ و مثله في الهداية ج۴ص۴۹۸ كتاب الاشربة .

په اضطر حالت كښې
د افيونو استعمال جائز دى

سوال﴾
يوه سړى د افيونو د خوړلو عادي دى تر دې پورى چې ټول ژوند ئې د افيونو په خوړلو تير كړى ذى او اوس زوړ شوى دى نو ايا داسې سړى د افيونو د خوړلو او يا هغه ته د ور خوړلو او يا په دې لاره كښې له هغه سره تعاون كول جائز دى او كه نه؟ بينوا توجروا .
جواب﴾
كه چيرته نوموړى سړى په افيونو باندى داسې عادى وى چې د افيونو له پرېښودلو سره ده ته مرګ واقع كيږى يعنى مري نو د خوړل ئې په بل چا ور خول ئې دواړه نا جائز دى خو په دې شرط چې

داسې سړی تـدریـجا افیونو د پرېښودلو کوشش وکړی او پخپل ځان باندی ئی لازم کېږی او که نه نو سخت ګنهګار به وی .
قــال الـعـلامة ابن عــابـدیـن سـئـل لا ضـطراره الی ابقـاء روحـه کـالـمیة لـلـمظمرة و یجب علیه التدریج فی تنقیصة شیا فشینا ﴿رد المحتار ج۵ص۴۰۸ کتاب ال شربة﴾
قـال الـعـلامة الجصاص الرازی فاتفی ذلک وجود الاجابة بوجود الـضـرور ـة فـی کل حال وجدت الضرورة فیها لا حکام القرآنج۱ص۱۲۶ باب ذکر الضرورة المبیحة لا کل المیة﴾

لـه الـکحل سره د ګډ شوی عـطر او خوشبو یی د استعمالو لو حکم

سوال﴾
لـه یـو رپـي مـمـالـکو څـخـه پـه اخیستـل شوو عطروونو کښی الکحل شامل دي نو آیا په بدن او کالیو باندی د نوموړو عطرونو وهل او پاشل جائز دي او که نه؟
جواب﴾
پـه کـومـو عـطـرونـو کښـی چی الکحل ګډ وی کـه چیرتـه دغـه الـکـحـل د انـګـورو او خـرمـاوو وي نـو پـه اتفاق سره د داسی عطرونو لـګـول نـا جـا ئز دي ځکه چي په خوشبو یی کښی د الکحل د استعمال کـوم ضـرورت نشتـه او پـرتـه لـه شرعـی عـذر څخه د شرابو استعمال

حرام دی اګر که کم هم وي .
قال العلامة الحصكفى و حرم الانتفاع بها ولو لسقى دواب او الطين او قطر للتلمي او فى دواء او دهن او طعام او غير ذلك ﴿الدر المختار على هامش رد المحتار ج٥ص٢٨٩ كتاب الاشربة ﴾
او که چیرته دانوګورو او خرماوو له الکحل څخه د نورو شیانو الکحل ورسره ګډ شوی نو د امام محمد رحمه الله په نزد دا هم حرام دی لیکن متاخرینو محققینو د عموم بلوی له وجهې د امام ابو حنیفه د قول د توسع په خاطر قابل عمل ګرځولی استعمال حرام نه دی .
قال العلامة محمد تقى العثمانى ان معظم الكحول التى تستعمل اليوم فى الادوية و العطور و غيرها لا تتخذ من العنب او التمر انما تتخذ من الحبوب او القشور او البترول و غيره كما ذكرنا فى باب بيع الخمر من كتاب البيوع و حينئذ هناک فسحة فى الاخذ وبقول ابى حنيفةؒ عنه عند عموم البلوى ﴿تكملة فتح الملهم ج٣ص٦٠٨ كتاب الا شربة حكم الكحول المسكرة ﴾
بیا یې هم چې استعمال نه کړې نو ډېر به ښه وي .

هر ډول منشیات په اسلام کښې ممنوع دی

سوال﴾
یو سړی د افیونو بنګو او د چرسو د استعمالولو عادی دې شیانو له استعمال څخه په نوموړی باندې څه بد اثر هم نه پریوځی که چیرته نوموړی دا شیان باقاعده استعمالوی او پریږدی ئی نه نو آیا شرعا ده لپاره څه ګنجائش پکښی شته او که نه؟

جواب﴾
ددې شیانو د حرمت په باره کښې فقهاوو دا تصریح کړی ده:
قال العلامة ابن عابدین و یحرم اکل البنج والحشیشه والافیون لانه مفسد للعقل و یصد عن ذکر الله و عن الصلوة ﴿رد المحتار ج۵ص۲۹۴کتاب الاشربة﴾
لهذا ددغو شیانو استعمالول حرام دي دداسې مضرو شیانو استعمال نه عادي او نه غیر عادی ته جائز دی بلکه په عادی باندی واجب دي چې د هغو په استعمالولو کښې ورو ورو کموالی راولي تر څو چې یو وخت ئې بالکل پریږدی..
قال العلامة ابن عابدین و یجب علیه التدریج فی تنقیصه شیاً فشیئا ﴿رد المحتار ج۵ص۴۰۸ کتاب الا شربة﴾
النیرة ج۲ص۲۷۰ کتاب الا شربة﴾ و مثله فی فتاوی الکاملیة ص ۲۷۰ کتاب الاشربة .

د نیکونه بوټي له ولیو څخه د جوړ شوی شربت تحقیق

سوال﴾
په فیجی ائیرلینډ کښې د نیکونه په نامه یو بوټی دی چې ولی ئې خلک وچوی او په اوبو کښې ورګډوی او چښې ئې چې له چښلو نه وروسته ئې لاندینی اثرات پرې مرتب کیږی.
﴿۱﴾ له چښلو نه وروسته سړی خاموش شي.
﴿۲﴾ د ډیرو چښلو له وجهې ځوان سړی زوړ معلومیږی.

﴿۳﴾ له زیاتو چنبلو سستی او کمزوری پیدا کوي .
﴿۴﴾ لاسونه کلک او بدن وچ شي .
﴿۵﴾ په بدن کښې سستی او کمزوری پیدا کوي .
﴿٦﴾ په اکثرو ملکونو کښې دا بوټی نشه کوونکی ګڼل او پابندی پرې لګیدلې وي نو دداسې بوټی شرعی حکم بیان کړی بینوا توجروا .

جواب﴾

په سوال کښې د ذکر شوی مضرو اثر اتو په وجه سره د نیکو نه د بوټی د ولې د شربت استعمال جائز نه دی ځکه چې په بدن باندی ډیر بد اثر کوی او حال دا چې نشه هم لري شریعت مقدسه د صحت او د بدن لپاره د مضرو شیانو له استعمال څخه منع فرمایلی ده .

لکه په زهرو کښې خو پاک هم دی لیکن استعمال ئی حرام دی

قال العلامة ابن عابدین کالسم القاتل فانه حرام مع انه طاهر ﴿رد المحتار ج۵ ص۲۹ کتاب الاشربة ﴾

او په دې بوټی کښې نشه هم شته لهذا استعمال ئی حرام دی اګر که ذکر ئی د فقهی په کتابونو کښې نشته لیکن نظائر ئی موجود دی

قال العلامة ابن عابدین و هکذا یقال فی غیره من الاشیاء المجادة المضرة فی العقل او غیره یحرم تناول القدر المضر دون القلیل که چیرته ئی نشه کمه وي او که زیاته نو استعمال ئی حرام دی و قال محمد ما اسکر کثیره فقلیله حرام ﴿رد المحتار ۵ ۲۹۳ کتاب الاشربة ﴾

قال العلامة الزيلعي و عن ابن عمر انه عليه الصلوة والسلام قال ما اسكر كثيره فقليه حرام ﴿تبين الحقائق ج٦ص٤٧ كتاب الاشربة و مثله في البحر الرائق ج٨ص٢١٩ كتاب الاشربة﴾

د دوایی په توګه د شرابو د استعمال حکم

سوال﴾

يو مريض د کوم چې مرګ ته نژدې دی او هر ډول علاج ئی پرې وکړی لیکن ښه نه شو د ده لپاره ډاکټر د آخری علاج په توګه شراب خوښ کړی دی نو آیا د داسې مریض لپاره د ضرورت په اندازه شراب چښل جائز دی او که نه؟

جواب﴾ ففي النهايه عن الذخيرة يجوز ان علم فيه شفاء و لم يعل دواء آخر (رد محتار جلد اول ص ۱۴۰) مطلب في التداوى بالمحرم.

که چیرته یوه مسلمان ته ډاکټر په تجربو باندي دا یقین و شی چې په دی له شرابو پرته نوره دوایی ئی په مقابل کښی موجوده نه وی ځکه چه په اضطراری حالت کښی موجوده نه وي ځکه چې په اضطراری حالت کښی د حرام شی استعمال هم د ضرورت په اندازه جائز دی.

لما في الهندية وثلو ان مريضا اشار اليه الطبيب بشرب الخمر روى عن جماعة ائمة بلخ انه ينظر ان كان يعلم يقينا انه يصح حل له التناول ﴿الفتاوى الهندية ج٥ ص٣٥٥ الباب الثامن عشر في التداوى و المعالجات﴾

قال العلامة الكاساني انه يحرم شرب قليلها و كثيرها الا عند

الضرورة ﴿بدائع الصنائع ج۵ص۱۱۲ کتاب الاشربة ﴾ و مثله فی رد المحتار ج۴ص۲۱۵ کتاب الاشربة ﴾

د دوایی په توګه د شرابو د خارجی استعمال حکم

سوال﴾

دیوه سړی قوت سامعه ﴿د اوریدلو قوت ﴾ خراب ده او ډاکټرانو د علاج په توګه د شرابو څو څاڅکی په خارجی توګه د استعمالولو تجویز ورکړی دی نو آیا د علاج دا طریقه جائزه ده او که نه ؟

جواب﴾

د متقدمینو فقهاوو په نزد د شرابو خارجی او داخلی استعمال او له هغه څخه نفع اخیستل حرام دی

قال العلامة المرغینانی رحمه الله و یکره الاحتقان بالخمر و اقطارها فی الاحلیل لانه الانتفاع بالمحرم ﴿الهدایة ج۴ص۵۰۰ کتاب الاشربة

متاخرینو کله چي د تداوي په توګه د داخلی استعمال اجازه ورکړی ده نو د خارجی استعمال په مرخص کیدو نه پاتی کیږی .

لما فی الهندیة یجوز للعلیل شرب الدم و البول و اکل المیة للتداوی اذا خبره طبیب مسلم ان شفائه فیه و لم یجد من المباح ما یقوم ﴿الفتاوی الهندیة ج۵ص۳۵۵ الباب الثامن عشر فی التداوی و المعالجات ﴾

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله اما اذا علم و لیس له دواء غیره یجوز ﴿رد المحتار ج۵ص۲۱۵ باب المتفرقات مطلب فی التداوی﴾ و

مثله فی البحر الرائقج۸ص۲۱۹ کتاب الاشربة

د هغو ادویاتو چي الکحل
پکښې ګډ وی د استعمال حکم

سوال﴾

دانګریزی په کومو ادویاتو کښې چي الکحل ګډ شوی وي د هغو استعمال د ډاکټر د تجویز کړل شوی نسخې مطابق جائز دی او که نه بینوا توجروا .

جواب﴾

دانګریزی ادویاتو د استعمال په باره کښې د متاخرینو فقهاء کرامو قول دا دی چی که چیرته د غو ادویاتو کښې د شرابو او د نورو حرامو شیانو ګډوالی وي او یقینی هم وي او یا د ظن غالب په توګه معلوم شوی وی نو د هغو استعمال شرعا جائز دی چي کله په هغه کښې د شفاء امکان وی او که چیرته په هغو کښې یواځی دالکحلو احتمال او شک وي نو بیا دداسی ادویاتو په استعمالولو کښې نور ګنجائش هم شته .

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله ففی النهاية عن الذخيرةيجوز ان علم فيه شفاء و لم يعلم دواء آخر ﴿رد المحتار ج۱ص۱۴۰ مطلب فی التداوی فی المحرم﴾

لما فی الهندية يجوز للعيل شرب الدم والبول و اکل الميتة للتداوی و اذا اخبره طبيب مسلم ان شفائة فيه و لم يعد من المباح ما يقوم مقامه ﴿الفتاوی الهندية ج۵ص۳۵۵ الثامن عشر فی التداوی و المعا

لجات﴾ و مثله فی البحر الرائق ج۸ ۲۱۹ کتاب الاشربة

د دوایی په توګه د افیونو داستعمالولو حکم

سوال﴾

ددوایی په توګه د افیونو خوړل جائز دی او که نه بینوا توجروا.

جواب﴾

لکه څرنګه چې د نورو حرامو شیانو د ضرورت په وخت کښی د دوایی په توګه استعمالول جائز دی همدا رنګه د افیونو استعمال هم د دوایی په توګه استعمالول جائز دی. خو په دې شرط چې د سکر اندازې ته ونه رسیږی. لما قال العلامة ابن عابدین رحمه الله.

ددوایی په توګه د افیونو داستعمالولو حکم

سوال﴾

ددوایی په توګه د افیونو خوړل جائز دی او که نه بینوا توجروا.

جواب﴾

لکه څرنګه چې د نورو حرامو شیانو د ضرورت په وخت کښی د دوایی په توګه استعمالول جائز دی همدا رنګه د افیونو استعمال هم د دوایی په توګه استعمالول جائز دي خو په شرط چې د سکر اندازې ته

و نه رسیږی .

لما قال العلامة ابن عابدین رحمه الله من غاب عقله بالبنج و الا فیون یقع طلاقه اذا استعمله للهو و ادخال الافات قصدا لکونه معصیة و ان کان للتداوی فلا لعدمها کذا فی فتح القدیر و هو صریح فی حرمة البنج و الافیون لا للدواء ﴿رد المحتار ج۵ص۲۹۵ کتاب الاشربة﴾

لما فی الهندیة یجوز للعلیل شرب الدم و البول و اکل المیتة للتداوی اذا خبره طبیب مسلم ان شفاءه فیه و لم یجز من المباح ما یقوم مقامه ﴿الفتاوی الهندیة ج۵ص۲۵۵ الباب الثامن عشر فی التداوی و المعالجات﴾ و مثله فی البحر الرائق ج۸ ص۲۱۹ کتاب الاشربة﴾

د سیون اپ، کوکا کولا د چښلو حکم

سوال﴾

د سیون اپ او کوکا کولا د مشروباتو په باره کښې مو اوریدلی دي چې په هغو کښې الکحل ګډ وی په دې لحاظ سره ددغو مشروباتو چښل جائز دي او که نه؟ .

جواب﴾

د سیون اپ او کوکا کولا په باره کښې د تحقیق له مخې دا خبره ثابته شوی ده چې په شک سره د یوه شی حرمت نه ثابتیږی البته که چیرته ئی څوک محض له همدې وجهې احتیاطاً نو موړی مشروبات و نه چښې نو صحیح ده لیکن چښل ئی حرام نه دي .

لما قال العلامة سليم رستم باز و هذا بناء علی ان الشک يورث الاحتياط دون الحرمة لان اليقين لا يزول بالشک ﴿شرح مجلة الاحكام المادة۴ ص۲۰﴾

قال العلامة الشيخ الرزقا و معناها ما كان ثابتا متيقنًا لا يرتفع بمجرد طرز الشک عليه لان امره اليقينی لا يعقل ان يزيله ما هو اكف منه بل ما كان مثله او اقوای ﴿شرح القواعد الفقيهية ص۳۷ القاعدة الثالثة اليقين لا يزول الا بالشک﴾

د فتاوی رشیدیه په عبارت باندی دیوه سوال ځواب

سوال﴾

په دې مسئلې کښې د دین علماء څه فرمائی چې فقیه الزمان حضرت مولانا رشید احمد گنگوهی رحمه الله په فتاوی رشیدیه کښی د چلم ﴿حقه﴾ څکول مباح گرځولی دی نو آیا دهغه د دې قول ثبوت په فقه حنیفی کښی شته او که نه او که چیرته وي نو د حدیث شریف ددې الفاظو چې کل دخان حرامٌ اړه ستاسو څه رایه ده د فقه حنیفی په رڼا کی ددې مسئلې وضاحت وکړی

جواب﴾

له مسلمانانو ذوی العقولو څخه دي دا خبره پټه نه وي چې د چلم د څکولو مذهبونو د علماوو په دې باره کښی مختلفی رائی دي ځینو د حرمت حکم ورکړی دی او ځینی د تحریمی کراهت خواته مائل دي او ځینی بیا د تنزیهی کراهیت قائل دي او ځینو بیا د مطلق

اباحت حکم ورکړی دی .

دې مسئلې پوره وضاحت سره د ما لها و ما علیها حضرت مولانا عبد الحی لکهنوی پخپلی رسالې ترویح بتشریح حکم شرب الدخان کښی لیکې دی د نورو معلوماتو لپاره د هغی رسالې مطالعه انتهایی ګټوره ده او د مکملی تندی د ماتیدلو هیله ورسره تړلی ده بیا هم ستاسو د سوال په رابطه دلته د څو ضروری خبرو وضاحت وړاندی کوو .

علامه شامی رحمه الله په دې بارې کښی لیکی اضطربت آراء العلماء فیه فبعضهم قال بکراهة و یمنع من بیع الدخان و شربه و شاربه فی الصوم لا شک یفطر و للعلامة الشیخ علی الا جهوری رسالة نقل فیها انه بحله من یتعمد علیه المذاهب الاربعة قلت و الف فی حله سیدنا العارف عبد الغنی النابلسی الحنفی رساله سمیها الصلح بین الاخوان فی اباحه شرب الدخان و اقامة الطامة الکبری علی القائل بالحرمة او بالکراهة فانهما حکمان شرعیان لا بد لهما للبعض لا یلزم منه تحریمه علی کل احد انتهی

دا ټول عباراتونو په شامی ج۵ کتاب الا شربة کښی موجوده دي .

او عبد الغنی نا بلسی په ﴿حدیقه الندیه﴾ شرح طریقه محمدیه کښی لیکی چي من البدع العدایة استعمال التن والقهوة انتهی .

او شیخ عبد الخالق زجاجی حنفي پخپلو ځینو فتاواو کښی لیکلی دي:

قد تکلم العلماء المتاخرون فی ذلک لانه لم یکن فی القرون

السابقه فمن مقرط فی ذمه حتی جزم بالحرمة ومن بمفرط فی مدحه .... من توسط فقال انه مکروه تحریماً و هذا عندي احسن الاقوال واعد لها اذ لا قاطع بتحریمه و لیس کل موذ و متن حراما والارکان اکل الثوم والبصل والفحل والکراث حراماً هذا کله فی شرب دکانه و اما اکله و شمه فهو مکروه تنزیها عندی لا نها دون شرب دخانه انتهی ملخصا ﴿دا عبارتونه د مجموعه الفتاوی ج۲ص۹۲ څخه نقل شوی دی﴾

اوس ددې معلومول په کار دی چي د علماوو ددې اختلاف منشا څه شی دی نو زموږ په نزد ددې اختلاف منشا هغه ده کوم چي حضرت مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله وړاندی کړې ده دی مبارک فرمایی چه دا حقه ﴿چلم﴾ چي درې سوه کاله مخکښي پیدا شوی دی کوم چي کفارو ایجاد کړی دی او بیا ده کتابونو څخه معلومیږی اوس د څکونکی ئی له دې څخه مختلف مقصدونه دي مختلف مزاجونه دي او مختلف طور او طریقې دي او مختلف مقصدونه دی مختلف مزاجونه څوک د شوک له مخی څخه چا ته څه نا څه فائده مند وي او چا ته مضر څوک ئی چه و څکئ نو خوله صفا کوی څوک ئی په احتیاط سره څکئ او څوک ئی ان تر دې پوری چي ځینی ئی په روږه کښی هم څکوی او وایی چي روږه پرې نه ماتیږی څوک ئی ډیر ډیر څکوی او څوک ئی کله کله څکوی ځینی خلک یې که چیر ته یو ساعت و نه څکوی نو بې ارامه کیږی او ځینی ئی تر څو پوری چي نه څکوی نو بالکل ئی خیال هم نه وي او بیا په تمباکو کښی بوی زیات

وی او په حینو ئی ډیر تیز او مضر وی او ځینی ئی بیا کم تیز دي په ځینو کښی نه وی ځینی دداسی شیانو سره ګډوی چي له وجهی ئی خباثت نشه یا فتور وي او په ځینو کښی نه ګډ نه وی او همدا رنګه په حقه او نیچی کښی هم فرق وي د ځینو پیچوان دي او د هغه اثر کم راځی او په ځینو کښی زیات راځی ځینی زر زر تازه کیږی او ځینی زر زر نه تازه کیږی ځیمی هر سړی په خوله پوری نیولی وی لکه د حجری حقه یا چلم او ځینی خاص وي غرض دا چي نو ټول څکوو نکي برابر دي او نه ټول چلمونه او تمباکو سره برابر وي ټول مختلف وي پس پس د هر یوه حکم هم بیل دی که چیرته ئی یو څوک د سخت ضرورت په وخت کښی د کوم مرض د علاج لپاره په احتیاط سره د دوا په توګه کله واری څکوی نو دومره جرم نه دی او کوم چي ی له مرض څخه وروسته په صحت کښی د شوق له مخی څکوی لکه نن صبا چي چلم ئی هم راباندی و نه څکاوه ژبه بد ورپسی وایی او یا ئی په زړه کښی بد بولی لیکن په ظاهر کښی ئی د شرم له محسوسولو پرته او لږ غوندی هم نه محبوب او نه منقبض کیږی او په آخر کښی ورته مضر هم وی او له خولی نه ئی بد بویی هم ځی او په حواسو کښی ئی کدورت او سترپیا هم راځی او له اهل نار سره تشبه هم دی ځکه چي د خولی او پزی نه لوګی باسی او پخپله او او لوګی د الله تعالی عذاب دی کوم چي د ورسره ځان متبلس کوي په داسي توګه ورسره عادي کیدل په سبب د یو ځای کیدو و ددغو ټولو شیانو یقینا چي ډیر بد او سخت مکروه دی بیا هم د مخکښیو د ذکر شویو

تـوپيـرونـه پـه وجـه بـه ئـې پـه كراهت كېږي هم تفاوت وي او ځيني ځكونكي چې بې احتياطه وي او د وراسته چلم ناپاكي نو بيا يې د دې ډول په حرمت كېږي هيڅ شك نشته .

حـاصـل دا چې ځيـنې چلم ډير مكروه او ځيني كم مكروه ځيني حرام او ځيـنې د سخت ضرورت په وخت د دوايي په توګه يو دوه ځله مباح ددې تقرير په بناء چې د علماوو او فقهاوو دې په اباحت كراهت او حـرمـت كېـږي كـوم فرق دی تطبيق ئې هم ممكن دي چې كله كومه مـوقـعـه سرې ګوري بايد هغسې حـكـم وكړي بهـر حـال د چـلـم د ځـكـونـكي په اكثره حالاتو كېږي نه چې ټولو حالاتو كېږي له ګناه نه خالي نه وي .انتهى .

د حضـرت تهـانـوى لـه دې تـقـريـر ځـخـه د فقهـاوو او علمـاوو د اختـلاف په منشاء او د هغو اقوالو تبطيق باندې رڼا ولويده او واضحه شـوه چې د دلائلو په اعتبار سره چې كله دعلماوو او چې د حرمت قول لا يعبا بـه دی ځكه چې قطعي حرمت د تحريم پـه دلـيـل بـاندې موقوف وی كـومـو عـلماوو چې د حراموالي حكم وركړی دی هغو كوم قطعي دلـيـل بـاندې مـوقـوف وي بلكه د هغو ټول ظني دليلونه هم مخدوش دي لـكـه څرنـګـه چې مـولانـا عبد الـحى صاحب رحمه الله په تراويح الـجنـان نـه دی البتـه د كـرايهت قول به د اعتبار وړ وی او بالفرض كه چيـرتـه ث چـلـمـو حـرمت ثابت شي نو بيا ئی هم په مختلف فيـه و الي كېږي ئی شك نشتـه لـكـه څرنـګـه چې د مخكښينو عبارتونو ځخه معلوميږي چې د علماوو يوې ئی حراموالي ځخه انكار كړی دی او

هغوی ئی د کراهیت او یا ئی د اباحت فتوی ور کړی ده او په کراهیت کښی هم ځینو د تحریمی قول کړی دی او ځینو د تنزیهی د علامه ابو سعود په نزد باندي کراهت تنزیهی دی او کراهیت تنزیهی له اباحت سره جمع کیدلای شی علامه شامی لین چي قال ابو السعود دتکون الکراهة تنزیهة والمکروح تنزیهما یجماع الاباحة .

که چیرته حضرت ګنګوهی صاحب چا ته چي حضرت مولانا انور شاه کشمیری د فقهه النفس موزون خطاب ور کړی دی ئی د اباحت قول کړی دی او فتوی ئی ور کړی وی او نو کومه ګناه به ئی کړی وی کیدلی شی فقیه النفس حضرت ګنګوهی صاحب د هغو علماوو او فقهاوو اقوالو او روایتونو ته ترجیع ور کړی وي کوم چي ئی د اباحت قائل دی او پخپله حضرت ګنګوهی صاحب ډیر لوی مقام عالم دی او په ټولو اسلامی علومو کښی هغه ته د امامت منصب او لقب حاصل وو لیکن چي کوم خصوصی مناسبت د ده فقهی او حدیثو سته وو له هغه نه دا معلومیږی چي دا علوم دده کښی حیران او سرګردان وو حضرت ګنګوهی صاحب به هغه ډیر زر زر حل کوی کیدلای شی چي حضرت ګنګوهی صاحب رحمه الله به تحقیق کړی وی او د تحقیق په نتیجې کښی چلم د اباحت په درجه کښی ورته ثابت شوی وی .

له دې برسیره که چیره هغه د اباحت خبره کړی وی او فتوی او فتوی ئی ور کړی وی نو ددې مطلب دا نه دي چي بالکل په یوه وخت کښی هم د کراهت درجې ته نه رسیږی اوکهٔچیرته ئی څوک یو مخ د

اباحت قائل هم شي نو بيا هم كفر نه دى ځكه چي به اباحت كراهيت او حرمت كښې ئى اختلاف خو خا مخا شته .

او په شرح العقائد النسفي او همدا رنګه په فتاوى بزازيه كښې ددې مسئلې تصريح شوى ده چي هغه حرام مختلف فيه دي د هغه ګنګوهئ ته هيڅكله كافر وېل جائز نه دي كل د خان حرام دا د حديث الفاظ نه دى بلكه اصل حديث داسي راغلى دى چي كل نهى رسول الله ﷺ عن كل مسكر و مفتر ﴿رواه احمد عن ام سلمة﴾

او كله چي د كل د خان حرام بالكل د حديث الفاظ نه وي نو په هغه اندازه د بحث كولو ضرورت هم نشته مسئله فى نفسه د ضرورت په اندازه واضحه شوه .

فقط والله اعلم

باب حد القذف

(۲۳) مسئله:

سـوال:......

یو مسـلـمـان تـه حـرام زاده ویـل شـرعـاً څنګه دي، او پر ویونکي کوم حکم جاري کیږي؟

جواب:......

ګناه ده:

"عـن عبد الله بن مسعودؓ قال: قال رسول الله ﷺ سباب المسلم فسوق، و قتاله کفر" متفق علیه (مشکوة المصابیح / ص: ٤١١ قدیمی)

که چیري ټول شرائط متحقق وي نو پرویونکي باندي حد قذف جاري کېدای شي:

ولـو قـال: یا ولد بالزنا، او قال یا ابن الزنا، و أمّه محصّنة، حُدّ لأنه قذفها بالزنا۔ کذافی التمرتاشی۔ (فتاوی هندیه، کتاب الحدود، الباب السابع فی حد القذف و التعزیر، الفتاوی العالمگیریه / ج: ۲ / ص: ۱٦۲ رشیدیه۔ فتاوی محمودیه / ج: ١٤ / ص: ١٠١)

(۲۴) مسئله:

سـوال:......

بلا ثبوت و چاته زانی ویل اویا سارق ویل څنګه دي؟

جواب:......

بغیر شرعي ثبوت و چا ته زاني ویل سخت جرم دی چي د هغه سزا حد قذف (۸۰ کورړې) دی . (۲) پر چا باندي د دروا غو الزام لګول هم کبیره ګناه ده لیکن د حد قذف لګول شرائط دا وخت دلته موجود نه دي د دې وجهي څخه نه سي کېدای . چي پر چا باندې تهمت لګولی وي د هغه چا څخه معافي او توبه کښل ضروري دي:

"قال الله تعالی : و من یعمل سوءاً او یظلم نفسه ثم یستغفر الله یجد الله غفورا رحیما"(سورة النساء : ۱۱۰) (فتاوی محمودیه / ج: ۱۴ / ص: ۱۰۳)

(۲۵) **مسئله**:

سوال:......

پر چا باندي د زنا تهمت لګول د دې متعلق شرعي حکم څه دی؟

جواب:......

محض د شبه پر بناء باندي د زنا تهمت لګول حرام دی او د هغه چا دپاره هم پکار دی چي د تهمت له ځای څخه ځان وساتي او په داسي سړي پسي لمونځ صحیح دی . (فتاوی محمودیه / ج: ۱۴/ ص: ۱۵۵)

(۲۶) **مسئله**:

سوال:......

زید نوی واده وکړ د هندې باکرې سره ، زید چي کله په اوله شپه کي د هندې سره د همبستري په واسطه ورځي نو د هغې بکارت زائل وو ، اوس د شریعت مطهره په روی سره پر دې (یعني هندې) باندي څه ګمان کول په کار دی یعني څونه قدر د فرج کشادګي محل د بد ګماني کېدای سي؟

جواب:......

په دې وجه سره ودغي هندې باکرې ته قطعي طور بدکاره نه سي ویل کېدای:

"قال الله تعالی: یا ایها الذین امنوا اجتنبو کثیرا من الظن ان بعض الظن اثم" (سورة الحجرات) د زوال بکارت بعد دفرج د خلا مقدار معلوم نه دی چي د هغه په وجه باندي دا متهمه کړي. (فتاوی محمودیه / ج: ۱۴ / ص: ۱۵٦)

(۲۷) مسئله:

سـوال:......

یو سړی وایي چي زه ولد الحرام یم، دا گناه پر ده باندي ده که یې پر مور باندي؟

جواب:......

آیا دې ویونکي دا تحقیق کړی دی چي دی ولد الحرام دی او که نه؟ که یې چیري تحقیق سوی وي او مور یې د زنا اقرار کړی وي او و ده ته یې هم ویلي وي نو یې مور گناه کاره ده که یې چیري تحقیق نه وي کړی نو ویونکی خپله گناهگار دی چي پر خپلي مور د زنا الزام لگوي:

"قال الله تعالی: و من یکسب خطیئة او اثما ثم یرم به برئیاً فقد احتمل بهتانًا و اثماً مبیناً" (سورة النساء) (فتاوی محمودیه / ج: ١٤ / ص: ١٠٨)

(۲۸) مسئله:



مسائل حدود السرقة

(۲۹) **مسئله:**

سـوال:......

د سرقې (يعني غلا) لغوي معنى او شرعي تعريف څه دى؟

جواب:......

السـرقة فـى الـلـغة اخـذ الشيئ مـن غيـره عـلـى سبيـل الـخـفية و الاستـسـرار (هدايه) .

په لغت کي د غلا معنى دا ده چي د بل شخص مال په پټه يووړل سي .

شرعي تـعـريف: و فى الشرع اخذ العاقل البالغ نصابا محرزاً او ما فى قيمة نصاب ملكا للغير لا شبهة له على وجه الخفية .

او په شريعت کي د غلا معنى دا ده چي د عاقل ، بالغ شخص ، محفوظ يـعـني ساتلى نصاب ياهغه شى چي د نصاب قيمت لري دبل چا له ملک څخه چي پـه هـغـه کـي ده لـره هيڅ شبه نه وي په خفيه (پټ) ډول واخلي . (فتاوى الحدود والتعزيرات / ص: ۳۲ بحواله هدايه)

(۳۰) **مسئله:**

سـوال:......

د غلا نصاب څو نه دى يعني پر څو نه باندي لاس پرې کيږي؟

جواب:......

"اقـل الـنـصـاب فـى الـسـرقة عشـرة دراهـم مـضـروبة بـوزن سبعة

جياد"(العتابيه) فإذا سرق تبرا وزنه عشرة دراهم او متاعاً قيمته عشرة دراهم غير مضروبة فانه لا يقطع فيه على الصحيح.

هر كله چي يو عاقل بالغ شخص لس درهمه يا هغه شي چي قيمت يې لس . . . . (يعني سكه شوي) درهمه وي له محفوظ نصاب څخه چي شبه په كي نه وي غلا كړه قطع (يعني د لاس پريكول) واجب دي . (بحر الرائق)

د غلا نصاب لس سكه سوي درهمه دي چي كابل وزن يې اوه مثقاله دى .

و إذا وجب تقويم المسروق بعشرة دراهم يقوم باعزا لنقود(محيط) څوك چي د سپينو يا سرو زرو زيور چي وزن يې د غير سكه شوي لس درهمو برابر وي يا داسي شى غلا كړي چي قيمت يې د غير سكه شوي لس درهمو مطابق وي د لاس پرې كول يې واجب دي .د غلا شوي مال قيمت بايد په بهترين قسم درهم ولګول شي .

(۳۱) مسئله:

سوال:......

د غلا شوي مال قيمت په څه ډول بايد وټاكل شي؟

جواب:......

"و يثبت القيمة بقول رجلين عدلين لهما معرفة بالقيم"

او قيمت د دوو عادلأنو نارينه خلكو په ټاكلو چي د قيمت په تعين كي مهارت ولري په ثبوت رسيږي . (فتاوى الحدود والتعزيرات / ص: ۳۴ بحواله تبين)

(۳۲) مسئله:

سوال:......

د مال د حفاظت تعریف او د هغه احکام څه دي؟

جواب:......

حفاظت (ساتنه) دوه قسمه ده یو ځای مثلاً د کور یا خیمې ساتنه په دغو ځایونو کې چې حافظ یعني ساتونکی وي یا نه وي په هر حال کې حفاظت ثابت دی ځکه دغه ټول ځایونه د حفاظت لپاره جوړ شوي دي خو تر څو چې غله له دغو ځایونو څخه مال ایستلی نه وي لاس یې نه پرې کول کیږي .

دوهم: حفاظت د چوکیدار (ساتونکي) په ذریعه دی چې له هغه څخه صرف د مال په اخیستلو لاس پرې کول واجب کیږي مثلاً دا چې مال په صحرا یا مسجد کې وي او یو محفاظ له مال سره یا دومره هغه ته نژدې وي چې مال ولیدلای شي خو چې مال د ده له نظر یعني لیدلو څخه لیري وي نو هغه محافظ نه دی، او محافظ چې ویښ وي یا بیده وي او چې مال له ده سره یا تر ده لاندې وي داټول برابر یعني یو شان دي او په ځایي (مکاني) حفاظت کې د محافظ حفاظت اعتبار نلري او دغه صحیح ده . چې مال په صحرا کې وي او محافظ هغه ته نژدې په دومره فاصله باندې بیده وي چې هغه لیدلای شي او د هغه ساتنه کولای شي نو چې څوک هغه غلا کړي لاس یې پرې کیږي، او په مکاني یعني ځایي حفاظت کې داشرط دی . (فتاوی الحدود والتعزیرات / ص: ۳۵۱ بحواله سراج الوهاج بحواله محیط السرخسی)

(۳۳) **مسئله:**

سوال:......
دَ غلا دعوی باید په څه ډول باندي وشي؟
جواب:......
''یستحب للمدعی ان یدعی بلفظ الاخذ دون السرقة''(السراجیة)
مناسب داسي ده چي د مدعي په دې ډول دعوه وکړي چي فلاني سړي زما مال اخیستی دی، دا دي نه وایي چي زما مال یې غلا کړی دی. (فتاوی الحدود والتعزیر / ص: ۴۵ / ج: ۱ بحواله سراجیه)

(۳۴) **مسئله:**

سوال:......
د غلا په دعوی کي وراثت جاری کیږي او که نه یعني وارثان دعوه کولای سي؟
جواب:......
چي تر غلا وروسته د مال خاوند مړ سي د هغه د ټولو وارثانو په غوښتنه د غله لاس پرې کیږي او چي کوم وارث حاضر نه وي لاس نه پرې کیږي. (فتاوی الحدود والتعزیرات / ص: ۴۵ بحواله محیط سرخسی)

(۳۵) **مسئله:**

سوال:......
که چیري یو غل ویو کور ته د غلا په نیت ور ولوېدی د کور خاوند غل وژلای سي او که نه؟
جواب:......
(اول صورت) په جنایات د الجامع الصغیر کي دي. که غل له وسلې

سره د چاکور ته ولوېدی او د غلا سره د باندي را ووتی او د کور خاوند هغه تعقیب کړ، په دغه حال کي که د ده په نظر غل غیر له وژلو څخه مال نه ورکوي دی کولای سي چي هغه په قتل ورسوي .

دوهم صورت: که د کور خاوند ږغ وربادي وکړي او غل وتښتي د مال خاوند دا حق نلري چي هغه تعقیب او ووهي، خو چي د ده مال واخلي او وتښتي نو د کور خاوند دا حق لري چي هغه تعقیب او د وسلې په ذريعه ووهي تر څو چي د ده مال ور غورځوي .

دريم صورت: او چي د کور خاوند ږغ ورباندي و نه کړي تر څو غل مال پرېږدي، ولاړ سي او غل په قتل ورسوي قصاص ورباندي واجب دی .

(۳۶) **مسئله**:

سوال:......

که چیري یو سړی په غلا باندي ډېر مشهور وو خلک يې په لاره کي ونیسي په دغه وخت کي ده غلا هم نه وي کړې خلک يې وژلای سيّ او که نه؟

جواب:......

"لصّ معروف بالسرقة وجده رجل يذهب فى حوائجه غير مشغول بالسرقة لا يجوز له ان يقتله و لكن ياخذ و ياتى به الإمام فيحبسه "(الظهيريه ـ فتاوى الحدود و التعزيرات / ص: ٤٦ ـ ٤٧)

(۳۷) **مسئله**:

سوال:......

کوم شیان چي ژر خرابیږي د هغو په غلا کولو سره لاس پرې کیږي او کنه؟

جواب:......

هغــه شیـان چي ژر خـرابیـږي لـکــه شـیدې، غـوښي او لندې مېوې د هغوی په غلا کولو لاس نه پرې کیږي:

"لا تـقـطـع فـيـمـا يتسـارع إلـى الـفسـاد كـالـلبـن والـلـحـم والـفـواكـه الرطبة"(فتاوى الحدود والتعزيرات / ص: ٤٧ بحواله الهداية)

(۳۸) **مسئله:**

ســـوال:......

د وچي مېوې په غلا سره لاس پرې کیږي او که نه؟

جواب:......"اما الفاكهة اليابسة التـي تبقى فى ايدى الناس كالجوز واللوز فـانـه يقطـع فيها إذا كـانت محرزة"(فتاوى الحدود و التعزيرات / ص: ٤٧ بحواله سراج الوهاج)

(۳۹) **مسئله:**

ســـوال:......

د شرابو پـه غـلا کـولو سره لاس‌پرې کیږي او کـه نه؟

جواب:......

"والخمر لا يجب فيه القطع"

د شرابو په غلا کي لاس نه پرې کیږي . (فتـاوى الحدود و التعزيرات / ص: ۴۹)

(۴۰) **مسئله:**

ســـوال:......

د سرکې او د شهد په غلا کې لاس پرې کيږي او کنه؟

جواب:......

"وفي الخل والعسل يقطع اتفاقا" (فتاوی الحدود والتعزيرات / ص: ۵۰ بحواله شرح مجمع البحرين)

(۴۱) مسئله:

سـوال:......

د غـنـم، اوربشـي، ستو، غوړي، خورما، کالي، فرش په غلا سره لاس پرې کيږي؟

جواب:......

د غـنمو، اوربشو، ستو، غوړو، او خورما په غلا کې لاس پرې کيږي او دغه ډول د اسباب، لباس، فرش او سپني، پيتل، سيسي (يعني فلزي) د لـوښـي (ظـرف) پـه غـلا کې هم لاس پـرې کيـږي. (فتـاوى الـحـدود والتعزيرات بحواله السراج الوهاج)

(۴۲) مسئله:

سـوال:......

د پنبه، وړۍ او کاليو په غلا کې قطع يد سته او که نه؟

جواب:......

"وكذا إذا سرق قطنا او كتانا او صوفا قطع" (السراج الوهاج)

دغـسي زعفران، انبوس، عنبر وغيره په غلا کې هم لاس پرې کيږي:

"ويقطع في الزعفران و الانبوس والعنبر والوسمة والكتم" (العتابيه ـ فتاوى الحدود والتعزيرات / ص: ۵۰)

(۴۳) **مسئله:**

سـوال:......

د نـكـرخـې، تـر كـاري ، تـازه ګـلان، وانبـه ، اوبه په غلا كولو كې لاس پرې كيږي او كه نه؟

جواب:......

"ولا قطع في الحناء ولا في البقول والريحان الرطب ولا قطع في التبن والماء "(العتابيه ـ فتاوى الحدود والتعزيرات / ص: ۵۰)

(۴۴) **مسئله:**

سـوال:......

د باجې يعني د لهو لعب د شيانو په غلا كولو كې لاس پرې كيږي او كنه؟

جواب:......

"لا قطع في الطنبور والدف والمرفا وكل شيئ للملاهي"(السراج الواهاج)

(۴۵) **مسئله:**

سـوال:......

كـه چيـرې يـو سـړې د سـرو زرو او سپينو زور ډول او د سـرو زرو او سپينو زرو بُت غـلا كړ قطع يد ستـه او كه نه؟

جواب:......

كـه چا د سرو زرو او سپيـنـو زور ډول يا د سرو او سپينو زور بت غلا كړ لاس يې نـه پـرې كيـږي او كـه د سـرو زرو درهم غـلا كړي چې پر هغه بـانـدې تـصوير وي نو لاس يې پرې كيږي ځكه چې درهم دعبادت شى نه

دی . (فتاوی الحدود والتعزیرات / ص: ٥٢ بحواله الجوهر النیرة)

(۴۶) **مسئله:**

سوال:......

د ساده کاغذ یا د جلد او ورقي په غلا سره قطع سته او کنه؟

جواب:......

"ولو سرق الجلد والاوراق قبل الکتابة یقطع"(محیط سرخسی)

(۴۷) **مسئله:**

سوال:......

که څوک قرآن مجید او نور کتابونه غلا کړي قطع ید سته او که نه؟

جواب:......

"لا قطع فی سرقة المصحف وان کان علیه حلیة یساوی الف درهم وکذا لا قطع فی کتب الفقه والنحو واللغة والشعر"(فتاوی الحدود والتعزیرات ص٥٣)

(۴۸) **مسئله:**

سوال:......

که څوک آزاد هلک چي زېور یې اغوستی وي غلا کړي لاس یې پرې کیږي او کنه؟

جواب:......

څوک چي آزاد هلک غلا کړي که څه هم زېورات په پوري وي لاس یې نه پرې کیږي ځکه چي آزاد سړی مال نه دی او د هغه د بدن زېورات د هغه تابع دي لیکن إمام یوسف فرمایي که د هغه زېوراتو قیمت د نصاب

په اندازه وي لاس يې پرې کيږي . (هدايه)

(۴۹) مسئله:

سوال:......

دبل غله څخه د غلا سوي مال غلا کولو کي د دا دوهم غله لاس پرې کيږي او کنه؟

جواب:......

"و كذا لوسرق منه سارق آخر لم يكن له و لا لرب المال ان يقطع السارق الثانى"(فتاوى الحدود والتعزيرات / ص: ۵۵ بحواله محيط سرخسى)

(۵۰) مسئله:

سوال:......

په غلا کي د کوچني هلک يا نجلۍ د غلا اقرار صحت لري او که نه؟

جواب:......

"و لا يصح اقرار الصبى والصبية بالسرقة"(محيط)

(۵۱) مسئله:

سوال:......

د غله دلاس پرې کولو طريقه څرنګه ده؟

جواب:......

د غلا حد داسي دی چي د غله راسته لاس له بند څخه قطع سي او بيا يې بند په تېلو داغ کړل سي، د لاس پرې کول په کلام الله ثابت دی، او د راسته لاس پرې کول د حضرت بن مسعود رضی الله عنه په قرأت ثابت

دی، او د بنـد داغـول د رسول الله ﷺ د حکم موافق دي . ځکه چي داغ نه سـي نو د غله دمرک بیره ستـه او حد له جرم څخه دمنع کولو لپاره وي نه دوژلو لپاره . (فتـاوی الحدود والتعزیرات / ص: ۷۹، ۸۰ بحواله هدایه)



اقطاع الطریق

(۵۲) **مسئله:**

سـوال:......

کـه چیـري غـلـه د مسلمانانو او د مسـتأمنانو د ګډي قافلې لاره ووهي حد وربانديِ جاري کیږي که نه؟

جواب:......

کـه د یـوې لـویـې قافـلې چي مسلمانان او مسـتأمنان دواړه پـه کي وي لاره ووهي پـر دغـو غـلـو بـاندي حد جاري کیږي که چیري قتـل او غـارت صـرف پـر أهـل حـرب واقـع دی پـه دې صـورت کـي حـد واجـب نـه دی . (فتـاوی الحدود والتعزیرات / ص: ۹۳ . نهایه)

(۵۳) **مسئله:**

سـوال:......

که چیري غله تر لاري نیولو له مخه ونیول سي دهغو د سزا څه حکم دی؟

جواب:......

او دا هـم جـواز لـري چي إمـام دوی تـه تـعـزیراً سزا ورکړي او بندي يې کـړي تـر څـو دلاري وهـلـو څـخـه تـوبـه ګـار شـي . (فتـاوی الـحـدود والتعزیرات / ص: ۹۴ بحواله الکافی)

(۵۴) مسئله:

سـوال:......

دغله (لار نیونکي) لاس او پښه پر څومره مال اخیستلو باندي کاټیږي؟

جواب:......

کـه لاري نیـونـکـو د مسـلـمـانـو یـا د ذمیـانـو مال لوټ کړ او مال په دې اندازه وو چي که پر لاري نیونکیو باندي ووېشل سي نو د هر یوه برخه یا د هـغـه دبرخي قیمت د نصاب (لس درهم) په اندازه یا تر هغه زیات وي په دې صـورت کـي د دوی یـو لاس او یـوه پښه پرې کـولای سي یعني راسته لاس او چپه پښه. (فتاوی الحدود والتعزیرات / ص: ۹۴ بحواله محیط)



باب الحد شرب الخمر

(۵۵) **مسئله**:

سوال:......

په کومو حالاتو کي د شراب خوړلو شهادت او د هغه اقرار معتبر دی؟

جواب:......

یو سړي شراب وچښل او په داسي حالت کي چي د ده له خولې څخه د شرابو بوی راتللو یا د نشې په حالت کي دی ونیول سو او قاضي ته حاضر سو او شاهدانو دده د شراب خوړلو شاهدي ادا کړه نو پر ده باندي حد واجب دی او په داسي حالت کي چي د ده له خولې څخه د شرابو بوی راځي چي اقرار وکړي پر ده باندي حد واجب سو لږ شراب یې خوړلي وي یا ډېر، لیکن چي د شرابو بوی تر زائلېدلو وروسته شاهدانو شاهدي ورکړه نو د إمام ابو حنیفةؒ او إمام یوسفؒ په وړاندي حد ورباندي واجب نه دی او چي په داسي حالت کي چي د شرابو بوی د ده له خولې څخه راځي او د نشې په حالت کي دی شاهدانو دی ونیوه او قاضي ته د ده تر رسولو چي په بل ښار کي وو د شرابو بوی زائل سو نو حد ورباندي واجب سو. (فتاوی الحدود والتعزیرات / ص: ۱۴٦، ۱۴۷ بحواله السراج الوهاج)

(۵۶) **مسئله**:

سوال:......

د انګوري شرابو څیښلو سره چي نشه نه سي حد سته او که نه؟

جواب:......

"و يحد شاربها و ان لم يسكر "(شرح الوقاية)

(۵۷) **مسئله:**

سوال:......
د شرابو په باب کي د څو شاهدانو او د څو واره اقرار کول ضروري دي؟

جواب:......
"يثبت الشرب بشهادة شاهدين و بالاقرار مرة واحدة و لا تقبل فيه شهادة النساء مع الرجال (هدايه) و عن ابى يوسف انه يشترط الاقرار مرتين(الهداية)"

(۵۸) **مسئله:**

سوال:......
د شرابو دڅښنلو له اقرار وروسته که يې انکار وکړ حد ستة او که نه؟

جواب:......
"من اقر بشرب الخمر والسکر ثم رجع لم يحد"(الهدايه)

(۵۹) **مسئله:**

سوال:......
د شرابو خوړلو حد پر چا باندي واجبيږي او پر چا باندي نه واجبيږي؟

جواب:......
او د حد جاري کولو لپاره بايد مدعي عليه عاقل، بالغ مسلمان او خبري کونکی وي څکه پر هلک، لېوني او کافر د شراب خوړلو حد نه واجبيږي او پر گونگي باندي هم د شراب څښنلو شاهدي نه واجبيږي که څه هم شاهدان د ده پر شراب څښنلو شاهدي ورکړي ی په خپله مدعی

علیه په اشاره اقرار وکړي لیکن پر ړانده د شراب خوړلو حد واجبیږي . (البحر الرائق)

(۶۰) مسئله :

سوال :......

پر ذمي باندي د شراب څیښلو حد جاري کیږي او که نه؟

جواب :......

"ولا حد علی الذمی فی شیئ من الاشربة "(ظهیریه)

(۶۱) مسئله :

سوال :......

پر آزاد سړي باندي د شراب څیښلو حد نصاب څو نه دی؟

جواب :......

" وحد الخمر و السکر فی الحر ثمانون سوطاً لاجماع الصحابة رضی الله عنهم۔ وحد السکر والخمر ولو شرب قطرةً ثمانون سوطاً "(کنز الدقائق)

(۶۲) مسئله :

سوال :......

د شرابو د حد جاري کولو طریقه څنګه ده؟

جواب :......

"و یفرّق علی بدنه کما فی الزنا و یجتنب فی الوجه و الرأس کما فی الزنا و یجرد فی المشهور"(السراج الوهاج)

(۶۳) مسئله :

ســوال:......

د شرابو د نشې معیار به څونه وي؟

جواب:.......

د نشــې پــه حقیـقت کې د عـالـمانـو اختـلاف دی د إمام ابو حنیفهؒ په وړاندي د نشــې مـعنـی دا ده چي آسمان او ځمکه او نر او ښځه سره و نه پېژني او د صاحبینو په وړاندي نشه دا ده چي خبري یې بې ربطه وي او چټیات و رباندي غالب وي. (فتاوی الحدود / ص: ۱۵۲)



مسائل التعزیرات

(۶۴) مسئله:

ســوال:.......

د تعزیر قاعده کلیه څه ده؟

جواب:......

"وضابطة التعزیر کل معصیة لیس فیها حد مقرر ففیها التعزیر"(فتاوی الحدود والتعزیرات / ص: ۱۶۹ بحواله الاشباه والنظائر)

(۶۵) مسئله:

ســوال:......

د ګناه د ارتکاب په حال کي هر مسلمان و مجرم ته تعزیر ورکولای سي که یې نه سي ورکولای؟

جواب:......

"قالوا الکل مسلم اقامة التعزیر حال مباشرة المعصیة فاما بعد المباشرة

فليس ذلك بغير الحاكم''(فتاوى الحدود / ص: ۱۷۰ البحر الرائق)

(۶۶) **مسئله:**

سـوال:......

و كـوچنيـانـو (هـلكانو) ته پر سبق باندي ځومره سړى سزا ور كولاى سي؟

جواب:......

بـقدر ضرورت يوه يا دوې درې چپلاخي د تحمل موافق پر غاړه او ملا بـاندي د وهلـو ګـنجائش، په لرګي يا په كوړه يا په چپلكو (چپل بوټ وغيـره) د وهلو اجازت نستـه تر حق زيات وهلو باندي پـه ور ځ د قيامت بـه هـلـكـان قصاص اخلي . (فتاوى محموديه/ ج: ۱۴/ ص: ۱۲۸ بحواله رد المحتار / ج: ۱/ ص: ۳۵۱)

(۶۷) **مسئله:**

سـوال:......

قـصـداً شرک او بدعت كولو والا دپاره په شريعت مطهره كي څه حكم دى؟

جواب:......

شـر ک تـر ټـولـو غـټـه ګـنـاه ده كـه چيـرې اسلامي حكومـت وي يو مسـلمان شرک يا كفر وكړي چي د هغه په وجه دى مرتد سي او بدعت كه چيـري شـرک او كفر ته نه وي رسېدلى ددې و مرتكب ته به تعزير وكول كيـږي . ليـكن اوس خو اسلامي حكومت نستـه نو له مشرک څخه قطع تـعـلق پـه كار دى مثلا رشته داري ، سلام كلام . لقوله تعالى: فأعرض

عـمـن تـولـىٰ عن ذكرنا (لاية : سورة النجم :٢٩) او لـه بدعتي څخه دي هم قطع تعلق وسي ځکه چي تنګ شي او توبه اوباسي .

"قال الخطابی : رخص للمسلم ان يغضب على اخيه ثلاث ليال لقلته و لا يجوز فوق ذلك ، الا إذا كان الهجران فی حق من حقوق الله فيجوز فوق ذلك ـ فان هجره أهل الاهواء والبدع واجبة على مر الاوقات ما لم يظهر منه التوبة والرجوع إلى الحق"(فتاوی محموديه / ج: ١٤ / ص: ١٣٠ ـ ١٣١ بحواله مرقاة المفاتيح / ج: ٨ / ص: ٧٥٨)

(٦٨) مسئله :

سـوال :......

هغه کومه ګناه ده چي د برابر بدله ځيني اخيستلای سي؟

جواب :......

مثلاً يو چا ستا څخه يوه روپۍ واخيستله نو ته هم د ده څخه په يو رکم يوه روپۍ وصولولای سې . که څه هم په دې کي تعريضاً د کذب نوبت رالئ :

"استدل الشافعیؒ بحديث الباب على مذهبه فی ان الدائن ان ظفر بشيئ من مال المديون المماطل جاز له استيفاء دينه من ذلك المال سواء كان المكال من جنس حقه او غيره ... غير ان المتأخرين من الحنيفةؒ افتوا فی هذه المسئلة بمذهب الشافعی "(فتاوی محموديه / ج: ١٤ / ص: ١٣٣ بحواله تكمله فتح الملهم ٢/ ٥٧٨)

(٦٩) مسئله :

سـوال :......

که چیري یو سړي په خلکو کي فساد پیدا کوی نو شرعاً د هغه سره به څه سلوک کیږي؟

جواب:......

د وخت حاکم ته په کار دي چي په هري ممکني طریقې سر داسي خلک له فساد څخه منع کړي او تعزیراً سزا ورکړي او عوامو ته هم په کار دي چي هغوی له داسي خلکو سره تعلقات او موالات پرې کړي تر څو چي هغه له خپل دغه بدعمل څخه منع سي. (فتاوی حقانیه / ج: ۴ / ص: ۲۸۲، ۲۸۳، بحواله در المختار / ج: ۳ / ص: ۱۸۰)

(۷۰) **مسئله:**

سوال:......

په هغه تعزیر کي چي د بنده حق دی صرف مدعي معافي ورکولای سي او که نه؟

جواب:......

هر تعزیر چي د بنده حق دی په هغه کي د مدعي عفو جائز ده مګر د إمام عفو جواز نلري، البته هغه تعزیر چي د خدای جل جلاله حق وي إمام یې عفو کولای سي. (فتاوی الحدود / ص: ۱۷۱ بحواله الحمادیة)

(۷۱) **مسئله:**

سوال:......

شخصے با زن منکوحه زنا کرد بعد ازان می گوید که فلان با من زنا کرده است لیکن آن شخص انکار می کند درین صورت او را سیاستهً هیچ سزا دادن شرعاً چه حکم دارد؟

جواب:......

محض د شخص په وینا سره پر سړي باندي سیاسةً تعزیر نه سي کېدای لیکن که چیري د قاضي په رایه کي د نورو قرائنو د وجهي څخه دی د متهم په درجه کي سي نو تعزیراً یو څه سزا ورکولای سي . (امداد الاحکام / ج: ۴ / ص: ۱۲۸)

(۷۲) **مسئله:**

سوال:......

زموږ په مذهب کي تعزیر بالمال جائز دی او که نه دی جائز؟

جواب:......

جرمانه مالي په مذهب حنفي کي جائز نه ده:

"قال فی الدر فی باب التعزیر لا باخذ مال من المذهب اه۔ و قال الشامی و شرح معانی الآثار (للطحاوی) التعزیر بالمال کان فی ابتداء الاسلام ثم نسخ اھـ "(ص ۲۷۸ / ج: ۳) (فتاوی امداد الاحکام / ج: ٤ ۱۲۹)

(۷۳) **مسئله:**

سوال:......

د تعزیر د شاهدانو نصاب څو نه دی؟

جواب:......

"و یثبت التعزیر بشهادة رجلین او رجل و أمرأتین لأنه من جنس حقوق العباد"(فتاوی الحدود / ص: ۱۷۱ بحواله التبین)

(۷۴) **مسئله:**

سوال:......

په تعزیراتو کې د دُرو اکثر او اقل تعداد څونه دی؟

جواب:......

"واکثره تسعة و ثلثون سوطاً و اقله ثلث جلدات"(الهداية) و قال ابو يوسفؒ يبلغ التعزير خسمة و سبعين سوطاً(القدوری) لیکن تعزیر د حد درجې ته رسول منع دي. (فتاوی الحدود / ص: ۱۷۲)

(۷۵) **مسئله:**

سوال:......

مدعي علیه که چیري د مختلف مراتبو والا شي مثلا علماء ته اشراف خلګو ته ،اهل بازار ته، زمیندار ته نو قاضي به و داسي خلګو ته تعزیراً څنګه سزا ورکوي؟

جواب:......

" وعن محمدؒ رجل يشتم الناس و هو محترم ذا مروّة يوعظ و لا يحبس و ان كان دون ذلك يؤدّب و إن كان شتاماً يضرب و يحبس"(فتاوى الحدود / ص: ۷۲ ـ بحواله الحمادية)

(۷۶) **مسئله:**

سوال:......

یو سړي خپلي ښځي ته درې طلاقونه ورکړي دي له طلاق څخه وروسته علماؤ نوموړي ته ویل چي د شرعي حلالې پرته دا ښځه ستا لپاره جائز نه ده لیکن له دې سره هغه خپله مطلقه ښځه له ځان سره ساتلې ده نو د داسي ښکاره فاسق او فاجر شرعاً حکم څه دئ؟ آیا هغه او د هغه پلار له مسجد څخه منع کولی سو او که نه؟

جواب:......

له خپلي مطلقه غليظي ښځي سره له شرعي حلالي څخه پرته د ازدواجي تعلقاتو قائم ساتل صريحه زنا ده داسي سړی د سزا مستحق دی ليکن پخپله دی يا يې پلار له مسجد څخه او يا د جمعې له لمانځه څخه منع کول صحيح نه دي، بيا هم د هغه خپلوانو او نورو مسلمانانو ته په کار دی چې له هغه سره ترک موالات وکړي يعني دوستي او ناسته ولاړه ورسره پرې کړي. (فتاوی حقانيه / ج: ۴ / ص: ۲۸۲، ۲۸۵، بحواله معين الاحکام / ص: ۲۳۱)

(۷۷) مسئله:

سوال:......

که يو حيوان د بل چا ځمکي ته ولاړ سي او د هغه فصل ته نقصان ورسوي نو شرعاً د حيوان و مالک ته څه سزا ورکول کېدی سي او که نه؟

جواب:......

که چيري له دې حيوان سره مالک پخپله موجود وي او د هغه په موجودګي کي يې حيوان د بل چا فصل ته نقصان ورسوي نو شرعاً يوازي د نقصان مطابق د روپو وصوول ترې جائز دیٔ او له نقصان څخه د زياتو پيسو اخيستل ترې جائز نه دي او که چيري له حيوان سره څوک نه وي او فصل ته نقصان ورسوي نو په دې صورت کي د جرمان اخيستل صحيح نه دي. (امداد الفتاوی / ج: ۲ / ص: ۵۴۳، کتاب الحدود)

(۷۸) مسئله:

سـوال:......

کـه يو سړی د حيـوان سـره بدفعلي وکړي او پر هغ باندي ګواهان هم وي نو د ده دپاره په شريعت مطهره کي کومه سزا ده؟

جواب:......

لـه کوم حيوان سره بدفعلي اګر که حرام او غير فطري عمل دی ليکن پـه مـقـدس شـريـعت کي د داسي سړي لپاره کومه ټاکل شوې سزا نسته، ليـکـن ددې بـدفـعـلـي مرتکب سړي ته تعزيراً سزا ورکول کېدی سي کوم چي د وخت د حاکم او له قاضي سره اړه لري، دوي چي څومره مناسبه وګڼي هغومره سزا مجرم ته ورکولی سي. (رد المحتار / ج: ۱/ ص: ۱۲۲)

(۷۹) مسئله:

سـوال:......

چي څوک لـه حد او تعزير څخه مړ سي يا ښځه د مېړه له تعزير څخه مړه سي ديت ورباندي لازم دی او که نه؟

جواب:...... څوک چي د حد او تعزير څخه مړ سي وينه يې هدر ګرځي خو مـاينـه چي د مېړه له تعزير څخه مړه سي پر مېړه باندي تاوان يعني ديت واجبيږي. (النهر الفائق)

سـوال:......

کـه چيري يو سړی د حيوان سره يعني د ګاميښي يا غوا سره بد فعلي وکړي د دې حکم څنګه دی؟

جواب:......

"قال في القنية ولعيزر و تذبح الحيوان و تحرق على وجه الاستحباب و

لا یحرم اکل لحمها الخ"

یعني د دې بد فعلي سزا و رأيي ته د حاکم سپارل کیږي هغه چي هر څونده سزا ورکول او ددې حیوان ذبح کول او په خاورو کي پټول او سوځول مستحب دي .او د دې حیوان د ذبح کېدو او پټېدو او سوځېدو ضمان پر هغه سړي دی چي بد فعلي يې ورسره کړې ده .

سوال:......

که چیري یو مولوي صاحب و یو حافظ ته چي صالح وو و دې ته يې وویل چي تر تا ابو جهل ښه دی ددې مولوي صاحب په شریعت کي څه سزا ده او إمامت يې صحیح دی او کنه او نکاح يې قائمه ده او که باطله ده؟

جواب:......

"قال رسول الله ﷺ سباب المسلم فسوق و قتاله کفر(بخاری) و عن ابی ذر رضی الله عنه سمع النبی ﷺ یقول لا یرمی رجلٌ رجلاً بالفسوق و لا یرمیه بالکفر الا ارتدت علیه ان لم یکن صاحبه کذلك"

یعني په دې کي درې احتماله دي: که چیري دې مولوي صاحب و حافظ ته وویل چي ابو جهل تر تا ښه دی د مولوي صاحب غرض دا وو چ په یو صفت کي ابو جهل تر تا ښه دی دا هیڅ گناه نلري او یا دده غرض دا وو چي حافظه ته بد و وایي په دې الفاظو سره یا يې فاسق بولي دا مولوي فاسق دی إمامت يې مکروه تحریمي دی او حاکم به یو سزا مناسبه ورکوي او یا د ده غرض دا وو چي دا حافظ يې کافر حقیقي بلی نو دا مولوي صاحب کافر دی نکاح يې باطله ده .(رد المحتار باب التعزیر / ص: ۲۵۳ / ج: ۲)

سـوال:......

کـه چيري يو سړي و بل سړي ته ناحق بـنه کـنـنـځـل و کړه آيا و دې سړي ته سزا ورکول کيږي که بدله ورکول کيږي که بدله ورکول کيږي؟

جواب:......

"فـي الـعلائية وعـذر الشـاتم بياكافر إلى قوله لا يعزر بيا حمار او خنزير يا كلب يا بقر"

يـعـنـي کـه چيـري يـې دا ورتـه وويـل يا فاسق يا کافر د ټولو علماؤ په اتـفـاق پـر ده سـزا واجـب ده او کـه چيـري يې ورتـه وويـل چي يـا خـره يـا سـرکـوزي يا غوييه، په دې صورت کي که چيري دا سړی صاحب د عزت وو خـو سزا ورکـول کيـږي او کـه صـاحـب د عزت نـه وو سزا نـه ورکـول کيـږي. (رد المحتار / ص: ۱۹۱/ ج: ۳)

سـوال:......

وبالغ هلک ته پلار د ادب دپاره سزا ورکولی سي او که نه؟

جواب:......

"قـال العلامة الحصكفي و الغلام إذا عقل و استغنى برأيه ليس للاب ضمه إلـى نفسـه الا إذا لـم يـكـن مأموناً على نفسه فله ضمه لدفع فتنة و تأديبه إذا وقع منه شيئ"

يعني پلار و خپل زوی ته چي بالغ وي د ادب دپاره سزا ورکولی سي او کـه چيـري يـې پلار نـه ژرلودی بل قريب يې هم سزا ورکولی سي. (رد المحتار / ص: ٦٩٧/ ج: ۲)

سـوال:......

استــاذ و شــاگـرد تـه چې بالغ وي يا نابالغ وي د ادب دپاره سزا ورکولی سي او که نه؟

جواب :......

"قال العلائی فی القنية له اکراه طفله علی تعلم القران و ادب و علم لفرضية علی الوالدين و له ضرب اليتيم فيما يضرب و لده الخ و قال و لو أمر غيره بضرب عبده حل للمأمور ضربه الخ و كذا قال المعلم يضربه بحكم الملك بتمليك ابيه لمصلحة الولد الخ"

يعني استــاذ و شــاگـرد تـه كه بالغ وي او كه نه وي د ادب دپاره سزا وركولی سي او پير و خپل مريد ته د ادب دپاره سزا وركولی سي . (رد المحتار / ص: ۱۹۵/ ج: ۲)

ســوال :......

کـه چيـري واده والا سړي او د واده والا ښځي زنـا وکړه په مجلس كي اقـرار وکـئ بيا يې وويل چې موږ پاک کئ، په شريعت كي ددې حكم څه دی؟

جواب :......

که چيري واده والا سړي د واده والا ښځي سره زنا وكړه په شريعت كي ددې حـكـم رجـم يـعـني په ډبرو ويشتـل دي . كه چيري اسلامي حكومت وو كـه اسـلامي حكومت نه وو بيا دي توبه و الله (ج) ته وکاږي . (احسن الفتاوی / ص: ۵۰۹/ ج: ۵)

ســوال :......

که چيري يو سړي د يو هلک سره لواطت وكئ ددې سزا په شريعت كي

څه شی ده؟

جواب :......

"قال فی الدر المختار ۔ بنحو الاحراق بالنار و هدم الدار و التنکیس من محل مرتفع باتباع الاحجار و فی الحاوی یجلد و الجلد اصح و فی الفتح یعزر و یسجن حتی یموت او ینوب ولو اعتاد اللواطة قتله الإمام سیاسة و فی البحر حرمتها اشد من الزنا لحرمتها عقلاً و شرعاً و طبعاً "

یعني که څیري یو سړي د یو هلک سره بد فعلي و کړه ددې په سزا کي د علماؤ اختلاف کړیئبعض وایي چي د یو لوړ ځای دي را شوه کړي بیا دي په ډبرو وولي . بعض وایي چي په دورو دي ووهي، بعض وایي چي بندي دي کړي که څیري دا فعل عادت وو مړ دي کړي په دا ټولو کي صحیح په دورو وهل دي . او په دې لواطت کي واده والا و ناواده والا فرق نلري . (رد المحتار / ص: ۱٦۰/ ج: ۳)

سوال :......

د پلزن څه حکم دی آیا پلزني رواه ده که نه لکه اکثره معاملات اوس د پلزن پر خوله دي؟

جواب :......

په مشکوة / ص: ۴۱۵/ ج: ۲ کي دي چي څوک پلزن ته ورسي او د هغه خبر و مني او ووایي چي پلزن ربنتیا وایي الله یې څلو ښنت ورځي لمونځ نه قبلوي:

"وعن حفصة قالت قال رسول الله ﷺ ومن آتی عرافا فسئله عن شیئ لم یقبل له صلوة أربعین لیلة ۔ رواه مسلم"

او پلزن هم ساحر بلل کیږي لکه په مرقات علی المشکوة / ص: ۴۱۵ / ج: ۲ حاشیه کي لیکي : او که څوک ووایي چه ما ته پیری خبر راکوي ته دا مریضي لري دا سړی کافر دی ولي دی غیب بې له الله بل چا ته ثابتوي . (شامي)

سوال: ......

جادوګر چي پخپله جادو کوي یا یې بل چاته ورکوي په شریعت کي ددې څه حکم دی آیا نکاح یې باطله ده او که نه او إمامت یې جائز دی او که نه؟

جواب: ......

"قال فی العلائیة و الکافر بسبب اعتقاد السحر لا توبة له ولو أمرأة فی الاصح لسعیها فی الارض بالفساد ذکره الزیلعی فی حظر الخانیة الفتوی علی انه إذا اخذ الساحر او الزندیق المعروف الداعی قبل توبته ثم تاب لم تقبل توبته و یقتل و لو اخذ بعدها قبلت الخ"

یعني که چیري دې جادوګر جادو کاوه په دې جادو کي الفاظ د کفر وو پر دې د ده عقیده وه او دا جادو یې حلال باله دا جادوګر کافر دی نکاح یې باطله ده . او إمامت یې مکروه تحریمي دی .

او که یې پر دې الفاظو عقیده نه وه او جادو یې حلال نه باله نو دا جادوګر فاسق دی قتل یې واجب دی او د جادوګر سزا د مرتد تر سزا سخته ده ولي د مرتد توبه قبلیږي او د جادوګر توبه نه قبلیږي او هغه سړی چي خپله جادو کوي یا یې و بل چاته کوي دا فرق نلري . (رد المحتار / ص: ۴۲ / ج: ۱)

سـوال: ......

کـه چیـري نـابـالـغ هـلک غـلا و کړه پر ده او س حد جاري کيږي او که تر بلو غ وروستـه جاري کيږي؟

جواب: ......

"قـال ابـويـوسفؒ ولا يـقـام الـحـد علي غلام لم يبلغ الحلم فان شك فيه فلايقام حد حتى يبلغ خمس عشرة سنة و قد قالوا اكثر من ذلك وكذلك الجارية لا يقام عليها شيئ من الحدود حتى تحيض او تبلغ خمس عشر سنة "

سـوال: ......

زيد وايي دري نفره په يوه خونه کي وو، سهار يو مړ دی نو ديت پر چا دی؟

جواب: ......

"و لـو ان رجـلـين كـان فـي بيت و ليـس معها ثـالث فوجدا احدهما مـذبـوحاً قال ابـو يـوسف يـضمن الاخر الدية و قال محمد لا يضمن الاخر الدية و قال محمد لا يضمن "(مجموع الضمانات / ص: ٣١٥)

و ان وجـد فـي دار انسـان فـعلـيـه القسامة والدية على عاقلته ، لأن الدار فـي يده و تصرفه و لا يدخل السكان في القسامة مع المالك عند ابي حنيفة و مـحـمـد رحـمهم الله و قال ابو يوسف ـ ـ ـ عليهم جميعا لأن وصيت التدبير تكون بالسكنى كما تكون بالملك و لنا ان الملاك هم المختصون بـ ـ ـ ـ ـ ـ الـمـنفعة عادة ذوالسكان و الأن تمليك الملاك الزم و قرارهم ادوم و كانت ولاية التـدبير اليهـم فتحقق التقصير منهم و في الاصل ، و إذا وجد القيل في الدار تـجـب الـقسامة على صاحب الدار والدية على عاقلة الدار يعني أهل الخطة ـ البحر الرائق / ج: ٩ / ص: ١٩٤)

د دیت مسئله :

سوال :......

محترم مفتي صاحب : السلام علیکم ورحمة الله و برکاته، زه سفر محمد ولد محمد کریم داپوښتنه کوم چي زما لور (بي بي) نامه ما په صحیح او شرعي نکاح سره ګلاب ولد ښایسته خان ته ورکړې وه بیا دغه ګلاب دغه بي بي نامه بې له کوم شرعي خبره او بې له یو موجب او مبیح شرعي په قتل عمد سر د توپک په مرسته ځلور مرمۍ ويشتلو سره شهیده کړه او دغه ګلاب خپلو ورونو د توپکیانو پوستي ته واچوئ بیا ما سفر محمد د ګلاب ورونو ته وویل چي راسئ که شریعت کوئ که صلحه کوئ زه حاضر یم خو د ګلاب ورونو را ته وویل چي نه صلحه درسره کوو او نه شریعت درسره کوو نو اوس ګلاب په پوسته کي مړ سو او د ګلاب یو اته کلنی زوی او ورونه پاتي دي، آیا د شریعت له نګاه څه زه د دیت حق پر لرم او که یا؟

جواب :......

بعون الملک الوهاب محترم مستفتي صاحب ستاسو د سوال په جواب کي باید وویل سي چي قصاص خو د اوله سره باطل دی ځکه د مقتولې مذکورې بي بي په ورثه کي د قاتل زوی موجود دی او خبره دیت ته اوښتې ده . لما في رد المحتار طبع کراچي / ج: ٦ / ص: ٥٣٦ :

"لما فی الخانیة لوکان فی ورثة المقتول ولد القاتل اوولد ولده و ان سفل بطل القصاص و تجب الدیة آه"

نو دا چي دیت د مقتول د ورثې ترمنځ داسي تقسیمیږي لکه میراث نو محترم سفرمحمد ته د مقتولې (بي بي) پلار يې او يو يې زوی پاته دی نو تا ته د مقتولې بي بي په دیت کي شپږمه حصه رسیږي او د ښځي دیت د نارینه د دیت نصف دی چي زموږ په مذهب کي پنځه زره درهمه دي .

"لما فی ردِ المحتار طبع کراچی / ج: ٦ / ص: ٥٧٤ قوله و دیة المرأة الخ ففی قتل المرأة خطأ خمسة آلاف۔

و لما فی فتح القدیر طبع المکتبة الرشیدیه / ج: ٩ / ص: ٢٠٤ ، والدیة تجب .... و العمد أیضا إذا تمکن فیه الشبة ۔ و لما فی الکفایة فی اسفل فتح القدیر المذکور / ج: ٩ / ص: ٢١١ فان زاد علی الثلث فحینئذ حالها فیه علی النصف من حال الرجل ۔

و لما فی در المختار علی الرد المحتار / ج: ٦ / ص: ٧٧٠ و للاب والجد .. (السدس) و ذلك مع ولد و ولد ابن ۔ "

د قصاص مسئله ده:

نوټ: ...... کلاب پخپل مال کي حق لري د ورونو په مال کي حق نلري:

"لما فی الهدایة فی صدر فتح القدیر / ج: ٩ / ص: ٢٣٠ : و کل عمد سقط القصاص فیه بشبهة فالدیة فی مال القاتل ۔ و لما فی مجمع الأنهر طبع المکتبة الحبیبیة / ج: ٤ / ص: ٣٥٦ : و کل عمد سقط فیه القود لشبهة کقتل الاب ابنه فالدیة فی مال القاتل۔ و لما روی عن ابن عباس رضی اللّٰه تعالی

عنهما موقوفاً و مرفوعاً لا يعقل القاتلة عمداً۔"
نوټ: ...... ديت د کلاب په مرګ نه ساقطيږي ځکه چي کتابونه ليکي چي څوک مړ سي په مال پوري اول حق تکفين او تجهيز تعلق نسي او د وهم هغه پورونه تعلق پوري نيسي چي د بندګانو د طرفه طلبوونکي لري نو ديت خو د بندګانو د طرفه مطالب لري:
"لما فی در المختار علی در المحتار / ج: ٦ / ص: ٧٦٠: ثم تقدم ديونه التی لها مطالب من جهة العباد ۔ ولما فی در المنتقی فی اسفل مجمع الأنهر طبع مكتبه حبيبة / ج: ٤ / ص: ٤٩٥: ثم تقضی ديونه ای التی لها مطالب من جهة العباد من جميع ما بقی بعد التجهيز ۔ ولما فی تبيين الحقائق طبع مكتبة امداية ملتان / ج: ٦ / ص: ٢٣٠ والمراد بالدين دين له مطالب من جهة العباد لا دين الزكاة و الكفارات و نحوها۔"
سوال: ......
که يو سړي په موټر بل سړی وواهی په موټر کي سواريان هم وو ضمان خالص پر موټروان دی او که پر ټولو دی؟
جواب: ......
"فالاصل ان سائق السيارة ضامن لكل ضرر ينشأ من عجلاتها او من مقدمها او من خلفها او من أحد جانبيها لأن السيارة الة محضة فی يد السائق فتسب مباشرة الاضرار اليه"
خلاصه د کلام دا سوه چي ضمان مکمل پر موټروان باندي دی .
سوال: ......
د موټر او د دابې څه فرق دی؟

جواب :......

"الفرق بينهما كبير من حيث ان الدابة متحركة بنفسها بخلاف السيارة انها لا تتحرك الا بفعل من السائق ومن هذه الجهة أرى ان ما ذكره الفقهاء من الفرق بين مااصابته الدابة بفمها اويدها و بين ما نفحته برجلها او بذنبها لا يتأتى فى السيارة فانهم ضمنوا الراكب فى الحالة الاولى و لم يضمنوه فى الحالة الثانية"

خلاصه د كلام دا سوه چي قياس د موټر او دابې نه دى جائز . (بحوث جز الاول ص ٣١١)

فصل فی التعزیر بأخذ المال

په مال سره د تعزیر ورکولو بیان

۞... پر گناه باندي مالي جرمانه:

سوال:......

که چیري د یو مسلمان څخه کبیره یا صغیره گناه صادره سي نو د شرعي توبې پر ځای باندي تاوان یا جرمانه اخیستل جائز دي او که نه؟ جرمانه په شریعت مقدسه کي سته او که نه؟

خو د صحیح احادیث نبویه و قدسیه او د کتب او فتاوی څخه معلومه سوه چي په دین اسلام کي جرمانه نسته، بلکه د گناه جزا خالص توبه او د قصاص په بدله کي قصاص سته. که چیري پر چا باندي د توبې پر ځای باندي جرمانه کښېښول سي مثلا په یو فاسق او فاجر باندي د زنا یا د لمانځه پر پرېښولو باندي جرمانه عائد سي بې له توبې نو دا به (جرمانه) چیري مصرف کیږي؟

جواب:......

حامداً و مصلیاً، تعزیرات پر خپل ماتحت باندي د گناوو د وجهي څخه د حسب حال په مطابق کېدای سي.

(در مختار ص٦٢، ٦٧، ٧٧، ٨ / ج: ۴)

(بحر الرائق / ص: ٦٨، ٧١، ٨٢، ٨٣ / ج: ۵)

(و کذا فی النهر الفائق کتاب الحدود، باب حد القذف، فصل فی

التعزير ص١٦٦،١٧٠، ١٧٣١٧٢/ ج: ٣)
مالي جرمانه نه ده صحيح په ابتداء كي مالي جرمانه وه بيا منسوخه سوه .
"فــي الـمـجتبــىٰ: كــان فــي ابتـداء الاسلام ، ثم نسخ الخ ، در مختـار
والحاصل أن المذهب عدم التعزير بأخذ المال ، الخ (شامى)"
(رد الـمـحتـاز علـى الـدر المحتار / ص: ٦٢،٦١ / ج: ٤ـ النهر الفائق /
ص: ١٦٥ / ج: ٣)(البحر الرائق / ص: ٦٨ / ج: ٥)

سـوال :......

دا حديث چي "لا يحل مال أمرئ مسلم إلا بطيب نفس منه" د دې حديث
په شان كي د إمام طحاوي الفاظ څه دي؟

جواب :......

حامداً و مصلياً . إمام طحاوي رحمه دا حديث ناسخ بللى دى:
"لم اظفر على مأخذ "(فتاوى محموديه / ص: ١٣٥ / ج: ١٤)

مالي جرمانه اخيستل او هغه
په مسجد كي صرف كول:

سـوال :......

پـه يـوه بـرادري كـي څـه قوانين مقرر دي او دوى د دې پر خلاف ورزي
بـاندي سياسةً د جرمانې په توكه څه روپۍ اخلي اوس ددې رقم مذكوره د
مسجد په مصارفو كي مصرف جاز دي او كه نه؟

جواب :......

حـامـداً و مـصـليـاً . مـذهـب معـتـمد عليه دا دى چي داسي جرمانه نه ده

جائز او كه چيري څه رقم يې دجرمانې په توګه سره وصول كړى وي نو د غه واپسي ضروري ده په مسجد و غيره كي يې مصرف صحيح نه دى:

"قال في الفتح : وعن ابى يوسف رحمه الله تعالى يجوز التعزير للسلطان بأخذ المال وعندهما و باقى الائمة لا يجوز ، ومثله فى المعراج و ظاهره أن ذلك رواية عن ابى يوسف رحمه الله ، قال فى الشرنبلالية : و لا يفتى بهذا لما فيه من تسليط الظَّلَمة أخذ المال للناس فيما يأكلون اهـ - و مثله فى شرح الوهبانية عن ابن وهبان - و افتىٰ فى البزازية أن معنى التعزير بأخذ المال على القول به : امساك شيئ من ماله عنده مدةً لينزجر ، ثم يعيده الحاكم اليه لا أن يأخذه الحاكم بنفسه او لبيت المال كما يتوهمه الظلمة إذا لا يجوز لاحد من المسلمين اخذ المال اخذ بغير سبب شرعى - و يف المجتبى : لم يذكر كيفية الاخذ ، و أرى أن يأخذها فيمسكها ، فإن أيس من توبته يصرفها إلى ما يرى و فى شرح الآثار : التعزير بالمال كما فى ابتداء الإسلام ، ثم نسخ اهـ - والحاصل أن المذهب عدم التعزير بأخذ المال اهـ "(رد المحتار / ص: ۲۷٥ / ج: ۲ - رد المحتار / ص: ٦۲ ، ٦۱ / ج: ٤ - حاشية الطحطاوى / ص: ٤۱۱ / ج: ۲ - النهر الفائق / ص: ١٦٥ / ج: ۳)

مالي جرمانه:

سـوال:......

آيا تعزير بأخذ المال جائز دى ؟

او "ويعزر كل مرتكب منكر الخ " څخه كوم تعزير مراد دى ، مالي كه بدني؟

آیا قاضي ته د علاقې د تعزیر پر طریقه باندي د څه مال اخیستلو اختیار سته او که نه؟

زموږ خوا ته معمول دا دی که چیري دیو چا څخه یو حرکت خلاف وسي نو مولوي صاحب، پیر یا سید دوی ته تعزیر ورکوي . مثلا د سلو روپو ډوډۍ، یا خو ډوډۍ مقرره کړي د هغه د حساب څخه نقدي روپۍ یا خو پخپله مصرف کوي یايې په یو مکتب یا مدرسه کي داخلوي او ددې ماسوا بله یوه طریقه ددې لپاره چاره نه وي که چیري تعزیر مالي نه وي نو ډېر کم عبرت وي آیا داغه مسئوله طریقه جائز ده او که نه؟

جواب :......

حامداً و مصلیاً . د تعلیق په متعلق په در مختار کي دي چي ”لا یأخذ مال من المذهب هجر“ یعني تعزیر ضرب، حبس، فرکِ إذان وغیره څخه دی تعزیر بأخذ المال نه دی جائز نور مخته د در مختار توري دا دي:

”وفیه عن البزازیة : وقیل : یجوز ، ومعناه أن یمسکه مدةً لینزجر ، ثم یعید له ، فإن أیس عن توبته صرفه إلی ما یری ـ وفی الجتبی : أنه فی ابتداء الإسلام ، ثم نسخ“(الدر مختار ، کتاب الحدود ، باب التعزیر / ص: ٦١ / ج: ٤ ـ البحر الرئاق / ص: ٦٨ / ج: ٥ ـ النهر الفائق / ص: ١٦٥ / ج: ٣)

او عبارت د مجتبیٰ دا وایي چي تعزیر بأخذ المال په ابتداء کي د اسلام جائز وو بیا منسو خ سو:

قال الطحطاوی تحت قول :(ثم نسخ) : لئلایکون ذریعة إلی أخذ الظّلمة أموال الناس بغیر حق ـ(ص ٤١١ / ج: ٤)

سوال:......

تعزير بأخذ المال د إمام ابو يوسف رحمه الله په نزد ؟

جواب:......

حامداً و مصلياً . خالص د إمام ابو يوسف رحمه الله عليه په نزد د شرعي قاضي او والي لپاره تعزير بأخذ المال جائز دی . هغه هم چي وروسته تر توبه به هغه مال واپس ورکړي . د بل چا لپاره جائز نه دی په فتاوی عالمګیري کي دي: (ص۷۷۸ / ج: ۲)

"عن أبي يوسف رحمه الله تعالى: يجوز التعزير للسلطان بأخذ المال وعندهما و باقي الأئمة لا يجوز، كذا في فتح القدير - و معنى التعزير بأخذ المال على القول به: امساك شيئ من ماله عنده مدة لينزجر، ثم يعيده إمام اليه لا أن يأخذه الحاكم لنفسه أو لبيت المال كما يتوهمه الظلمة. اذ لا يجوز لأحد من المسلمين أخذ مال أحد بغير سبب شرعي"

(كذا في البحر الرائق / ص: ٦٨ / ج: ٥ - الفتاوى العالمگيريه / ص: ١٦٧ / ج: ٢ - النهر الفائق / ص: ١٦٥ / ج: ٣ - رد المحتار / ص: ٦١ / ج: ٤)

که چیري د دغو اطرافو قاضي، سید، پیر، مولوي صاحب د شرعي قاضي او والي تسلط او حکم لري نو ددوی لپاره خالص د إمام ابو یوسف رحمه الله په نزد تعزیر باخذ المال جائز دی په شرعي طریقه باندي، په دې شرط چي مرتکب دیو فعل شنع مال دده د توبه کولو وروسته به بیرته ورکول کیږي، یا که چیري هغه توبه و نه کړي نو بیا دي هغه مال پخپل کار کي نه مصرف کوي بلکه خالص دي د خیر په کار کي مصرف کړي. (الرد المختار / ص: ٦١ / ج: ٤ . البحر الرائق / ص: ٦٨ / ج: ٥)

(١) كنې بيا تعزير بأخذ المال نه دى جائز د قاضي شرعي باندي د نظر کولو هيڅ توقع نسته چي د هغه ځاى سيد او پير د شرعي قاضي حکم لري نو د دې وجهي تعزير بأخذ المال ددوى لپاره نه دى جائز او په تعزير کي مال اخيستل د هيڅ چا په نزد د هيڅ چا لپاره نه دى جائز که چيري تنبيه ضرورت وي نو بايد د مقاطعه او ترک موالات څخه دي يې وکړي .

"فإن هجرة أهل الاهواء و البدع واجبة على مر الاوقات، لم يظهر منه التوبة و الرجوع إلى الحق"(مرقات المفاتيح ـ رقم الحديث ٥٠٢٧ ـ / ص: ٧٥٩ / ج: ٨ ـ فتح البارى / ص: ٤٩٧ / ج: ١٠ ـ صحيح البخارى / ص: ٦٧٢ / ج: ٩)

او د يعزر كل مرتكب منكر حكم هم معلوم سو چي د دې څخه كوم تعزير مراد دى . فقط والله تعالى اعلم .

مالي جرمانه په ديني كار كي مصرفول:

سوال:......

د زيد د ماينې او د بکر په مابين کي ناجائز تعلق پيدا سو . کلي والا پر بکر باندي څه روپۍ د جرمانې په توګه سره عائدي کړې، بکر هغه روپۍ ورکړې، آيا دغه روپۍ د دين په کار کي مصرف کېداى سي . مثلاً د مسجد په تعمير يا د کوچنيانو د معلم په تنخواه کي ورکول کېداى سي او که نه؟

جواب:......

حامداً و مصلياً: مالي جرمانه صحيح نه ده ، کومه چي يې اخيستې ده هغه دي بيرته ورکړي په بل کار کي دي نه خرڅوي .

"قد تقدم تخريجه تحت المسئلة السابقة"

(رد المحتار / ص: ۲۷٥ / ج: ۲ ـ النهر الفائق / ص: ١٦٥ / ج: ۲)

مالي جرمانه او د هغې مصرف:

سوال:......

په کلي کې پر زاني، مجرم، ظالم، موذي باندي جرمانه لګيږي د اصلاح لپاره دا جرمانه لګول او تاوان اخيستل شرعاً جائز دي که نه؟

که چيري جائز دي نو دا رقمونه چيري او په کومو کارو کې بايد صرف سي او که دا بايد هغوی ته واپس کړل سي؟ نو په دا صورت کې بيا ددې غلط کارو څه وقعت به نه وي او هم به دوی بېرېږي نو تاسي دا روانبياسْت بايد ددغو خلګو سره څه وسي چي بيا پر دا رقم کارو باندي اماده نه سي.

جواب:......حامداً و مصلياً: مالي جرمانه د إمام صاحب په نزد نه ده جائز، منسوخ ده، که چيري اخيستې يې وي نو ددې واپسي لازم ده. (حاشية الطحطاوى على الدر مختار / ص: ٤١١ / ج: ۲)

د جرائمو د انسداد لپاره ارشاد، تذکر، د باطن د تزکيه ضرورت دی. د دې لپار چي د زړه خوف و خشيت پيدا سي، د جنت و دوزخ استحضار، قيامت و حشر، حساب و کتاب، د خدای قهر عظمت او ددې د انعاماتو مراقبه لازم ده. د دې لپاره چي د اعمال صالحه او د اخلاقِ فاضله رغبت وي کنه د خالص سختي څخه اصلاح نه کيږي که وي نو عارضي وي:

"قال الإمام البخارى رحمه الله تعالى: "باب ما يجوز من الهجران لمن عصى" و قال الحافظ ابن حجر رحمه الله تعالى: أراد بهذا الترجمة

بیان الهجران الجائز ، لأن عموم النهی مخصوص بمن لم یکن لهجره سبب مشروع فتبین هنا السبب المسوغ للہجر و هو لمن صدرت منه معصیة ، فیسوغ لمن اطلع علیها منه هجره علیها لیکف عنها"(فتح الباری / ص: ٤٩٧ / ج: ١٠ ـ شرح صحیح البخاری لابن بطال / ص: ٢٧٢ / ج: ٩ ـ مرقات المفاتیح / ص: ٧٥٨ / ج: ٨)



باب حد الزنا

د حد زنا بيان

سوال:......

بكر د خپلي مېرور سره زنا وكړه اوس به څه تعزير وركول كيږي

جواب:......

د شرعي حدودو د قائمولو حق يوائي د امير المؤمنين دى . په دا صورت كي بايد دواړه سره جلا سي او په دوى دي توبه وكښل سي . كه چيري بيا هم نه منع كېدل بيا دي تعلقات ورسره قطع سي . پلار كه چيري دزوى د ماينې سره زنا وكړي نو هغه پر زوى حراميږي . اوس كه چيري شرعي ګواهان موجود وي يا و زوى ته ددغه واقعې يقين وي پر زوى يې جلا كېدل واجب دي:

"تحرم المزنى بها على آباء الزانى و اجداده و ان علوا ، و على أبنائه ، و ان سفلوا ، كذا فى فتح القدير"(فتاوى عالمگيرى : ٢٨٤١ ـ فيشترط الإمام الاستيفاء الحدود (رد المحتار كتاب الجنايات : ٥٤٩/٦)

سوال:......

چي امير المؤمنين نه وي نو د يو محلې يا علاقې خلك و زاني او زانيې ته سزا وركوي سي كه نه يعني بائيكاټ يا جرمانه وغيره؟

جواب:......

په مال سره جرمانه كول ناجائز دي او كه هغه توبه نه وكړي نو د

بـائيكاټ سزا وركول درست دي كه چيري يې بالمال جرمانه كړي هغه مال دي بيرته وركړي . (كذا فى البحر ۴۱/۵ و عالمگيريه: ۱٦٧/٢)

سـوال:......

يـو چا خپـل د كلـي يـو سړى د خپلي مېرمني سره پر زنا وليدى نو له درده يې خپلـه مېرمن او زاني قتـل كړل نو اوس د قاتل څه حكم دى او په شـرع كي خو د وخت حاكم دقتـل سزا وركوي او ظاهره خبره ده چي زموږ په وطن كي خو دشرع مطابق فيصله نه كيږي؟

جواب:......

دا تفصيل په عالمگيريه كي داسي دى پر صفحه (٢٣٦ / ج: ٢)

"سئل الهندوانى من رجل جامع أمرأته رجل ، هل له القتل ؟ قال : إن كان يعلم انه ينزجر عن الزنا بالصياح والضرب بما دون السلاح ، لا يحل و ان علـم انـه لا ينـزجر الا بالقتل ، حل له القتل و ان طاوعته المرأة حل له قتلها ايضا كذا فى النهاية"

سـوال:......

د مريـمـي د لـور د صابرې نكاح د عبد الله سره وسوله . د صابرې څخه د عبـد الله دوه كوچنيان يو هلك او يوه انجلۍ وسوله صابره د ۳۵ او عبد الله د ۴۲ كـالو دى . د زيد د اولي ماينې د مريمي د وفات بعد زيد عائشې سره واده وكړى د هغه څخه انجلۍ پيدا سوه چي نوم يې خالده ده د خالدې نكاح د عمر سره په ۱۹۵٦ كي وسوه، خالده وروسته تر بلوغت د عمر چي نابالغ دى كره راغله . عمر او خالدې شپه تېر نه سره وكړى .

دويـمـه ورځ د موقعې څخه يې فائده واخيستله عمر د خالدې و كټ

چارپایي ته ورغلی د شرم د وجهي يې همبستري وکړه، خالدې د کوچنيوالي څخه تر اوسه پوري هيڅ ګناه نه وه کړې . د دې وروسته خالده د پلار کره ولاړه . د خالدې پلار وفات سو . د اپريل په مياشت ۱۹۵۸م کي خالده بيرته خپلي خوسرګنۍ ته راغله . عمر نو اوس بالغ سوی وو د خپلي ميرمني خالدې سره همبستر هم سو . خالده بيا د پلار کره ولاړه . بيا د نومبر په مياشته ۱۹۵۸م کي خالده خپلي خوسرګنۍ ته ولاړه او په فروري ۱۹۵۹م کي بيرته کور ته ولاړه بيا خالده په اپريل کي خوسرګنۍ ته ولاړه تر دې وخته لا د خالدې څخه هيڅ ګناه نه وه سوې . بيا په ۱۹۵۹م د اکتوبر په مياشته کي د خپل خاوند عمر کره ولاړه په دغه سفر کي خالدې د عبد الله شکايت د عمر مور ته وکړی چي بيا به زه هيڅ کله د پلار کره نه ولاړه سم او نه هم تر اوسه پوري تللې ده . خالده د خپلي مور عائشي سره بيده وه او د قضائې حاجت لپاره ولاړه نو عبدالله چي اخوښی يې دی هغه په چارپايي کټ باندي بيده وو . عبد الله ورغلی او په زور يې د خالدې سره مجامعت وکړی . اوس په دې صورت کي د شريعت څه حکم دی د دې دوو څه سزا ده .

۲ . د عبد الله او خالدې خپله خپله نکاح سته که ماته سوه .

۳ . زنا د حقوق الله څخه ده او که د حقوق العباد څخه .

جواب :......

د زنا دپاره نه دلته شرعي شرائط سته او نه دومره بيان کافي دی، او که واقعه داسي وي نو دا عبد الله ډېر ذليل کار کړی دی . پر ده توبه ضروري ده . د خالدې او د هغه د خاوند څخه دي معافي وغواړي او د همېشه دپاره

دي پـرده و كـړل سي . دې وروستــه دي يـواځې نـه سـره يو ځاى كيـږي د خالدې غـلطي هم ده دې ولي ستر نه كاوى او بايد دې خپلي مور ته په دغه ورځ چي دې ته نيژدې بيده وه ور نارې كړي واى .

۲ . نكاح يې نه ماتيږي .

۳ . چي د كومي ښځي عزت خراب كړل سي نو د هغې د وجهي د مېړه عـزت يـې هـم خـرابيـږي نـو دى بـايـد د دواړو څـخــه مـعــافــي وغـواړي . (عـالـمكيـري ۱۴۲/۲ . فتـح الـقدير ۲۳۶/۵، ۲۳۵ . تفسيـر ابن كثير ۵۵/۳)

سـوال:......

زيـد پر بكر د زنا تهمت ولګاوى . بيا د كفارې دپاره فيصله په يو څو پيسـو او يـا پـر بـزې وسـوه . اوس التماس دا دى چي د زنا ثابتوالي دپاره دوه شاهدان كافي نه دي او كه دا شرعي كفاره ګڼل كيږي ؟ كه چيري دوه ګـوهـان كـافـي نـه دي نـو د ګـواهانو څخه حكم دى او كوم مال چي متهم بالزنا څخه اخيستل سوى دى هغه حلال دى كه يا؟

جواب:......

دا د شـريـعـت خلاف فيـصله ده . دوه ګواهان ناكافي دي . څلور عيني ګـواهـان ضـروري دي . كـه چيري څلور ګواهان نه وي نو به حاكم په دار الاسـلام كـي پـر دوى حـد قـذف جاري كړي كه چيري زنا ثابتـه سي بيا بـه حد زنا جاري كېداى:

"و يثبت (الزنا) بشهادة الأربعة رجلٌ ف يمجلس واحد بلفظ زنا لا مجرد لـفظ الـوط والـجماع فيسألهم إمام عنه ، ما هو ، كيف هو ، و اين هو ، و متى

زنا ، فان بینوه و قالوا ، رأیناه وطئها فی فرجها کالمیل فی المکحلة ، و عدلوا سرا و علانیة حکم به اهـ"(در مختار ۳ / ۲۱۹)

جرمانه بالمال ناجائز ده هغه که پیسې وي او که بزه یا پسه وغیره څکه زموږ په ملک کي دا شرائط متحقق نه دي نو له دې وجهي حد زنا یا حد قذف جاري کول نامکن دی نو د ګواهانو دپاره ضروري ده چي د چا درمخه یې د زنا ګواهي ورکړې وي باید د هغو درمخه توبه وباسي او معافي دي وغواړي او جرمانه دي هم بیرته ورکړي او که کوم یو توبه نه غواړي هغه ته دي مناسبه سزا یعني تعلق دي ورسره قطع کړل سي . او باید متهم داسي عمل ونه کړي چي بیا خلک تهمت پر ووایي . او که یې کار کړی وي بیا دي توبه وباسي . (رد المحتار :۶/ ۵۴۹)و کذافی عالمګیریه :۲/ ۱۴۳ . و کذا فی فتح القدیر :۵/ ۲۳۵، ۲۳۶ . و فی البحر الرائق : ۵/ ۲۹ . هدایه :۲/ ۵۱۷ . شرح الملا علی قاری فقه الاکبر / ص: ۱۵۹، ۱۶۰ .

سوال :......

په حدیث شریف کي راغلي دي چي زنا کاره او زنا کار چي په اوو (۷) سمندرونو کي ولوبېږي لا یې هم غسل نه قبلیږي او د غسل داوبو د څاڅکو څخه یې نر او ښځه شیطان پیدا کیږي هغه زناوي سره کوي . دغه ګناهونه هم په ده پسي لیکل کیږي نو بیا چي دی توبه وکاږي توبه یې قبلیږي که نه . بې واده سل دورې او واده والا چي په دنیا کي سنګسار سي نو بیا یې په اخرت کي هم سزا سته که نسته؟

جواب :......

پـه توبه سره الله جل جلاله ډېر خوشحاله کيږي او عبادت يې قبلوي او ګناهونه ورمعافوي او د آخرت د عذاب څخه نجات ورکوي او د زاني د غسل د څاڅکو څخه د شياطينو پيدا کېدل دا د هيڅ حديث څخه نه دي ثابت . البته د رجم او د دورو سزا لا ثابته ده .

"قال الله تعالى : (و من يعمل سوء ا او يظلم نفسه ثم يستغفر الله يجد الله غفورا رحيما)"(سورة النور :٢) (سنن ابی داؤد ٢٥٨/٢ ـ در مختار ١٣،١٠/٤ ـ عالمگيريه ٢/ ١٤٥ ـ رد المحتار ٦/ ٥٤٩)

سـوال :......

د زنا سزا بايد څه وي دواړه بايد سره جلا سي يا که يو اځي هلک جلا سي ؟

جواب :......

د زنا ډېره سخته سزا ده که چيري واده والا وي بيا بايد تر هغه وخته پـه ډبرو ووهل سي چي دوی ختم سي او کـه بې واده وي بيا بايد سل درې ووهل سي خو دا قانون هلته جاري کيږي چي باچا مسلمان وي . د هغه پـه حکـم سره بـه بيـا د ګواهانو د ګواهي بعد دغه سزا وي ورکړل کېدای سي . خو دلته دا احکام نه جاري کيږي مالي سزا نه د جائز . بايد نو دي خپلـه تـوبـه وباسي روژې ونيسي او ددې وروسته د دغه کار څخه توبه وکاږي . (الدر مختار :٤/ ٧،٩ . فتح القدير :٥/ ٢١٣، ٢٢٢ . بحر الرائق :٥/ ٧، ١٢)

د لوط عليه السلام
د قوم شيطانت
او د هغو د بد فعليو بيان:

ســوال :......

د دې قـوم شيـطـانـت تـر حـد زيات وو او د وخته د نبي مخالفت به يې كوى او مسخرې به يې پر كولې په كتاب الكبائر كي د عبد الله بن عباس څخه روايت دى:

”عـن ابـن عباس رضـى الله عـنهما انه قال عشر خصال من اعمال قوم لـوط تـصفيف الشعر و حل الازوار و رمى البندق و الخذف بالحصى واللعب بالحمام الطيارة والصغير بالاصابع و فقة الاكعب و السبال الازار و حل ازوار لاجنبة و امعان الحضر، و اتيان الذكور و ستذيد عليها هذه الامة مساحقة النساء للنساء“(كبائر / ص: ٦٢)

تـرجـمـه : ......د حـضـرت ابـن عبـاس نــه روايت دى چي قـوم لوطؑ بــه دا لــس خـويـونـه كـول اول وېښتـان بـه يې يو طرف ته ځړول دوهم لنګوټه به يې ايلـه كـوله دريم په توپكو باندي به يې ويشتـل كـول څلورم ګيټې به يې كولې

پـنـځـم پــه كـوتـرو بـانـدي بــه يې بــازۍ كـولې شپږم پـه ګوتو باندي به شپېلۍ وهلې اوم د ګـوتـو د بندونه تكان به يې كـول اتـم پايڅې كښته كـول نهـم تنۍ خلاصـول د قـمـيـص لسم هـمـېشـتـوب كـول پر چيښلو د

شرابو او هلکانو سره بد کار کول .

او پــه دې امـت کـې بـه دا زیـات سـې چې زنانه به د زناني سره زنا کوي یعني یو پر بل به ځانونه سره موښلوي او بې غسلـه کیږي به .

او پــه تـفسیـر قـرطبي کـې یې زیـاتـه کړې ده چې ژاولي ژول او پـه نـکـریـځو لاسونه سره کول او ګوتي به یې سرې کولې او پټکي به یې له شملې تړل یعني شمله به یې پر سر تاووله او یو بل ته ګوتي ور کول او پـه مـجلسـو کـي یـو بـل تـه ښـکـنـځل کول او شترنج یعني تاش کول او رنګداره جامې اغوستل او چړګان جنګول او له ښځو سره مشابهت کول او تیکس لګول پر هر تیرېدونکي دلاري . (قرطبي / ج: ۲ / ص: ۳۴۲)

هـر کـلـه چې قـوم د لـوط ؑ د انسانیت څخه تجاوز کړی وو او د پېغمبر خبره یې نـه مـنـلـه نـو د الله (ج) غـضـب ورتـه متوجـه سو بیا د عذاب فـرشتـې د ښایستـه هـلکانو په شکل کې ورته راغلې . د لوط ؑ قوم چې دوی ولیدی نو خپـل خباثـت یې ښـکاره کړی . لوط علیـه السلام بې انتهـا خفـه سـو هـر کـلـه چې راغـلـې فـرشتې زموږ پېغمبر ته نو هغه د فـرشتـو پـه راتـګ غـمـجـن سـو او ویـل یې چې دا ورځ ډېره سختـه ده نو راغـلـی قـوم د ده چې مـنـډې راوهې چې موږ د دې هلکانو سره بد فعلي کوو ، لوط ؑ ورته ویل چې اې زما قومه دا د کلي جنکۍ زما لوڼې غوندي دي دا پـه نـکـاح واخلئ دا ستاسو دپاره خیر دی او د خدای څه و بېرېږئ د خپـلـو مېلـمنـو په باره کې مې مه شرموئ په تاسو کې یو نصحیت والا نسته .

د دې آیت تـفسیـر مـولانـا اشـرف عـلـيؒ نقل کوي وایي چې د فرشتو په

راتلو باندي څکه خفه سو چي دا فرشتې د دوى په خيال کي د عامو خلکو په شان راتلې او بې عزتي به يې وسي ددوى علم نه وو چي دا ملائکه دي او ملائکو ته انسان په غلط حرکت نه سي رسېدلى . لوط ورته ډېر نصحيت وکړ خو قوم په جواب کي دا ورته وايي چي تا ته علم سته چي موږ ستا لوڼو ته هيڅ ضرورت نلرو او تا ته علم سته چي موږ غواړو هغه کيږي دا د دوى بې حيايي وه او له دې کار څخه انسان بې حيا کيږي . لوط ورته وايي چي که زما قوت واى نو ما به ستاسو دفاع کړې واى يا به مي پناه وړې واى يو مضبوط قوم ته، ملائکو دا تماشه ليدله لکن د لوط د غم خبري نه وې وروسته ملائکو خپل راز ښکاره کړ او ويې ويل چي موږ ستا درب ملائکه يو تا ته به تکليف نه ورسيږي بوزه ته خپل أهل د شپې مگر ستا بي بي نه هغې ته به عذاب رسيږي کوم چي دې قوم ته رسيږي او وخت د هلاکت يې سبا دى، لوط وويل چي سبا نزدې نه دى چي الله (ج) يې تباه کوي حضرت لوط چي دا خبر واورېدو نو خپل اباد کلى يې پرېښودو او د شپې ځيني ولاړى نو چي سبا سو عذاب الهي شروع سو داسي عذاب راغى چي په تاريخ کي يې نوم ياديږي او د کتهو باران راغى بيا ځمکه ورباندي واوښته په دې طريقه هلاک سول .

حضرت لوط د ابراهيم په زمانه کي وو او د ابراهيم وراره وو او د هارون زوى وو فلسطين ته متصل داردن مشرقي علاقه کي سدوم او عموده او نور څه اباداني وې او دا ډېره زياته اباده حصه وه . حضرت لوط دغي علاقې ته لېږل سوى وو ددوى مرکزي ښار سدوم وو او د دغي

علاقې محل وقوع د بحر لوط یا بحر میت په کناره باندې وو کومه علاقه چې تر عذاب لاندې راغلې وه هغه دا علاقه وه .

د قوم لوطؑ معلم اول څوک وو اول دا قوم لوطؑ په سدوم کې وو کوم چې د مدین په شرقي لاره کې واقع وو او مدین د دنیا مشهوره منډۍ وه د ایشیا، یورپ، افریقې تاجران به ورته راتلل او مشرقي لاره یې په سدوم کې وه نو دا تاجران به دلته د شپې راتلل دوی باندې خفه کېدل .

د نورو بدو اعمالو سره سره بخیلان هم وو بیا شیطان ورته د هوښیار سړي په شکل راغی او ورته یې وویل چې د دې قافلې والا سره ښایسته هلکان دي هغو سره بد فعلي وکړئ دا عمل دوی شروع کړلو تاجران بند سو لکن دوی پخپل مابین کې دا بد عملي شروع کړه .

دویم قول د علامه شوکانيؒ دی د ابن عساکر دا قول یې را نقل کړی دی :"و اخرج ابن عساکر عن ابن عباسؓ قال انما کان بداء عمل قوم لوط ان ابلیس جاء هم فی هیئة اجمل صبی رأه الناس فدعاهم إلی نفسه فنکحوه ثم جسروا علی ذلك"(فتح القدیر للشوکانيؒ)

ترجمه: ...... ابن عباسؓ فرمایي چې دوی د بد فعلي ابتداء په دې شان کړې وه چې شیطان ورته په شکل د ښایسته هلك راغی او دوی ته یې دعوت ورکړی د غلط کار و طرفته نو دوی بد فعلي ورسره وکړه دوی ور باندې ملوث سول .

د دې واقعې څخه دا معلومیږي چې دا عمل د ښایسته هلکانو څه شروع کیږي چې کله انسان په دې عمل شروع وکړي نو د ذهن څخه

بیا د عمران، ازهم لکه قران رجال ذکر کوي چي دا مرض بیا لویو خلګو ته هم انتقال کوي .

علامه ابن کثیرؒ لیکلي دي: ربما وقع منهم الفعلة العظیمة فی المحافل و لا یستنکروا . (الهدایة والنهایة)

ترجمه: ډېر ځله به يې دا عمل وکړی لکن د وی ته به غیرت و درېدی چي دوی د دې کار څه منعه کړي .

☆.د لوط علیه السلام

دقوم زنانه:

لکه څرنګه چي نر به د نر څخه ضرورت دفع کاوه نو د دې قوم زنانه وو به د زنانو سره یو له بل سره موښلېدل شروع کړه او خپل خواهش به يې سره پوره کاوه .او دې ظالمانو به د مخ له طرفه هیڅ کار نه ورسره درلودی او د شا د طرفه به يې کار ځیني اخیستی نو د زنانو د خواهش د نه پوره کېدو د وجهي یو زنانه به پر بلي زناني پوري ځان موښی او خپل حاجت به يې پوره کوی دا د الله / ج: عذاب وو او فقهاء کرامو د داسي انسان د نکاح فسخه فرمایلې او فرمايي:

"فالعبس الذی لا یستطیع اتیان زوجته فی قبلها ولو انتصبت آلته قبل ان یقرب منها و إذا امکنه ای یأتی غیرها او یأتی الثیب دون البکر او امکنه ان یأتی زوجته فی دبرها لا فی قبلها فمن وجدتفیه حالت من هذه الاحوال کان عنینا بالنسبة لزوجته و کان بها حق طلب الفسخ"(الفقه علی مذاهب الأربعة / ج: ٤)

ترجمه: عنین هغه دی چي طاقت نلري چي ښځي ته د مخ له خوا راشي اګر چه آله يې پوره وي تر نزدیکت له مخه او کله چي طاقت وي خو راتک بلي حصې ته کوي یا طاقت د ثیبې لري نه د باکرې نو په چا کي چي دا کار موجود سي هغه عنین دی ښځي لره د فسخ نکاح اختیار سته .

☆. دا عمل په فرانس او جرمن کي:

دا مرض فرانس ته په دیارلسمه صدۍ کي راغلی او عام سو دومره زیات سو چي حکومت د دې خلاف قانون جوړ کړی چي د داسي کار کونکي سزا به قتل وي لکن حکومت ناکام سو دا قانون په ۱۳۲۱ کي جوړ سو او بیا تاریخ لیکي چي دا کار تر ۱۷ صدۍ پوري هم راغی او بیا په دې عمل باندي جرمن والا هم مبتلا سو په جرمن او جاپان کي یوه ډله وه خاص د دې کار خپرولو لپاره وه، د دوی مشر ډاکټر ماګنوس پرشفلیډ وو او د تعجب خبره ده چي د دنیا د مجلس اصلاح حنفي صدر هم وو دا د خپل جماعت سره یو ځای سو او شپږ کاله يې د دې کار مطالبه کوله د حکومت څخه چي سړی دي د سړي څخه جنسي تعلق پوره کوي، آخر حکومت هم راضي سو چي په دې شرط چي طرفین به راضي وي او د نابالغ په صورت کي به وي ایجاب او قبول به کوي . انا لله و انا الیه راجعون .

مغربي ممالک ډاکټر هنلي د خپلو سره یو ځای رپورټ تیار کړیو

وار هغې دا ليکلي وو د پوره تفصيل څه بعد وايي چې د أمريکا زياته حصه دې عمل را ګيره کړې ده او د ښځو سره هيڅ قسم تعلق نسته او بيا ليکي چې دا مرض په هائی سکولونو کې په زيات مقدار باندي موجود دی .تقريبا ۷۷ فيصده دا عمل موجود دی

مشرقي ممالک: په مشرقي ملکونو کي د ټولو نه زيات ايران بدنام دی د شاعرانو شاعري پر دې دلالت کوي او بيا دا عمل افغانستان ته بيا پاکستان او هندوستان ته راغلی او دې درو ملکونو ته دا عمل څکه راغلی چې د ايران له شاعري به دا خلک متاثره کېدل يو ځل د افغانستان څخه قافله راتله او عصمت فروش هلکان ورسره وو په ۱۹۴۵ په کراچي کي د دې اډې وې او په دې مرض باندي مبتلا وو د الله احسان دی . . . . . علی الاعلان داکار څوک نه سي کولای . عام داکار او عمل د هائی سکول نه تر يونيورستيانو پوري عام دی .دا خبره انتهائی افسوسناکه ده چي زموږ تعليمي اداري هم په دې کار کي د نورو خلکو وروسته نه دي . په مسلمانانو کي دا لعنتي کار د ايران د شيعه ګانو د طرفه راغلی دی . په شيعه وو کي يو تنظيم دی هغوی فطري عمل ته جائز وايي حتی د خپلي بي بي سره هم لواطت جائز بولي . اول به يې له زنانه سره دا عمل کولو بيا هلکانو ته منتقل سو ددې تفصيل په کتاب نظام عفت او عصمت کي ذکر سوی دی او همدا وجه ده چي علماء أهل سنت والجماعت دوی ته د دې خلاف کارو په وجه کافران وايي .

☆ .د حافظ ابن حجر عسقلاني قول:

علامه ابن حجر عسقلانيؒ فرمايي چي د مالدارانو د زامنو په ناسته

کي احتیاط په کار وي ځکه دې کي انسان فتنه کي داخلیږي ځکه دوی د سر نه تر پښو پوري د فتنې څخه ډک وي . (مفتاح الخطابة / ص: ۱۱۰)

☆. د بې ږیري هلکانو سره د شیطان اجتماع:

حافظ ابن حجر عسقلانيؒ د سفیان ثوريؒ دا واقعه نقل کړې ده چې یو ځل هغه غسل خانې ته د صفایي لپاره ورغی نو اتفاقاً د یوه بې ږیري ښایسته هلک سره میلاو سو نو سمدستي یې وفرمایل:

"فانی اری مع المرأة شیطان ومع کل صبی بضعتی عشر شیطان "(مفتاح الحطابة / ص: ۲۱۷)

ترجمه: ده یوې زناني سره یو شیطان وینم او د بې ږیري هلک سره لس شیطانان وینم .

او إمام ابو حنیفهؒ خپل شاګرد ته وصیت کوي او دا هم ورته وایي چې د بې ږیرو هلکانو سره خبري مه کوه:

"ولا تکلم المراهقین فانه فتنة ولا بأس ان تکلم الاطفال و تمسح رؤسهم "(الاشباه والنظائر / ص: ٦٥)

☆. د إمام مالکؒ احتیاط:

د إمام مالکؒ دا اصول وو چې درس ته یې بې ږیري هلک نه پرېښودی . هشام یو بې ږیري هلک وو د ده دا خواهش وو چې زه د ده درس واورم نو هلته درسګاه ته ورغی کښېنستی کوم وخت چې إمام مالکؒ ته خبر ورسېدی نو هغه هلک یې شپاړس لښتي وواهه ځکه ده د

درس د او صولو خلاف کار وکئ .

☆. د بشر حافي واقعه:

دا وقـعـه علامه ابن تيميةؒ ليکلي ده فرمايي چي يو ځل د بشر حافي خوا تـه يـوه مـخـنـثـه راغـلـه د څه مسئلي پوښتنه يې کوله او هغه جواب ورکړ پـه دغـه وخـت کـي بې ږيري هـلک راغی او د مسئلي پوښتنه يې کـولـه بشـر حـافـي سترګي کښته کړې بيا هلک پوښتنه ځيني وکړه بيا بشـر حـافـي سـتـرګي بندي کړې د إمام بشر حافي څه يو چاپوښتنه وکړه چي مـخـنـثي ته دي جواب ورکړ او د هلک څه بالکل پته خوله پاته سوې . ده ورته وفرمايل چي د هلک د شيطان څه وبېرېدم .

☆.امرد ته په کتلو سره سزا:

ابـن تـيـمـيـةؒ د ابـن جوزي په حواله يو ضعيف حديث را نقل کړی دی فرمايي : من نظر الى غلام الأمرد بريبة جسه الله الخ .

تـرجـمـه : چا چي بې ږيري هلک ته وکتل نو الله (ج) به يې په خپل اور کي بندي کړي . ځلوېښت ورځي .

☆. د خلوت حرمت

او په هغه دليل:

د احتـيـاط پـه وجه علماء فرمايي :

"وحـرم کثير مـن الـعـلـمـاء الخلوة بالأمرد فی نحو بيت او دکان قياسا علـى الـمـرأة لأن النبیﷺ قال ما خلا رجل بأمرأة الا کان ثالثها الشيطان

"(الزواجر / ص: ٤ / ج: ٢)

ترجمه: حرام ګڼلي دی زیاتو علماء ښایسته هلک سره یوازی والی په کور او په دکان کي، قیاس یې کړیدی پر ښځه باندي فرمایي چې نه یوازي کیږي ښځه د نر سره مګر دریم شیطان ورسره وي .

دانسان دپاره سوچ پکار دی ځکه چې شیطان انسان پسي متصل لګیا وي او د ګمراه کولو کوشش کوي نو انسان ته پکاره ده چې د شیطان په لاره نه سي روان . ځکه شیطان د انسان د رسوا کولو دپاره لګیا وي ور ځ او شپه کوشش کوي چې انسان په بد عمل اخته کړي نو انسان دي خپل محنت کوي هلته به ورسره الله (ج) امداد کوي .

☆.دلغړزني هلک څخه مچه اخيستل حرام ده:

لکه څرنګه چې شیخ الاسلام لیکلي دي:

"الصبى الأمرد المسليح بمنزلة المرأة الاجنبية فى كثير من الامور فلا يجوز تقبيله على وجه اللذة بل لا يقبله الا من يؤمن عليه كالاب و الاخوة"(فتاوى ابن تيمية / ج: ٢ / ص: ٢١١)

ترجمه: ماشوم ښایسته په منزله د پردۍ زناني دی په ډېرو کارونو کي نو جائز نه ده د هغه مچول د لذت د وجهي بلکه ماشوم هغه څوک مچوي چې د هغه دفتني خطره نه وي لکه پلار یا ورور یا مور .

لکه چې شیخ الاسلام ابن تیمیةؒ لیکلي دي:

"التلذذ بمس الامرد بمصافحة و نحو ذلك حرام باجماع المسلمين

كما يحرم التلذذ بمس ذات محارم والمرأة الاجنبية بل الذى عليه اكثر العلماء ان ذلك اعظم اثم عن التلذذ بأمرأة الاجنبية"(فتاوى ابن تيميه / ج: ۱۸ / ص: ٤٩)

ترجمه: خوند حاصلول په مصافحه د داسي هلك چي ښې ږيري وي او ښايسته وي نو دا په اجماع د مسلمانانو حرام دى لكه څنګه چي پردى زناني ته لاس وروړل يا خوند حاصلول حرام دى بلكه اكثر علماء پر دې باندي دي چي د زناني څه لذت حاصلول په ګناه كي كم دى چي څوک د هلك لذت حاصلوي يعني د انجلۍ ګناه كمه ده تر هلك . و الله اعلم .

إمام غزاليؒ په احياء العلوم كي ليكلي دي:

"فان الشر فى الصبيان اكثر فلو مال قلبه إلى المرأة امكن الوصول إلى استباحتها بالنكاح و إذا مال إلى الأمرد فلا محال يوقعه فى الحرام اذ لا سبيل إلى استباحته الا استمتاع به بحال من الاحوال "(اتحاف السادة المتقين / ج: ۷ / ص: ٤٣٤)

ترجمه :شر د هلكانو زيات دى تر شر د زنانو ځكه چي كه د چا زړه ميلان وكړي و ښځي ته كېداى سي چي د دا ښځي څخه دي خوند واخلي په حلاله نكاح سره او كه د چا زړه ميلانو كړي و هلك ته نو لار د خوند حاصلولو نسته مګر په حرام كي به واقع سي .

لواطت كول د الله په حكمت كي تبدلي راوستل دي لكه شاه ولى اللهؒ فرمايي :

"وفى جريان الرسم باتيان الغلام و وطئ النساء فى ادبارهن تغير لخلق الله من الجانبين و تانث الرجل اقبح الخصال "(حجة البالغة / ج: ۲ / ص:

۱۳۳)
تـرجـمـه :د هـلـكـانـو او د ښـځـو سره د شا لـه خوا وطي كول دارواج د فـطـرت نـه خـلا ف دي او قـبـيـح كـار دي چـي لـه هـلـكـانـو څـه شـهـوت پوره كـوي د الله (ج) د دين نـه سر ګرځول دي داپه كارونو كي بې انتـهـا بد ترين كار دی او د الله پاک د نظام د ورانولو كوشش كول دي . و الله اعلم .

"و اشد ذلك كله و طئ الغلمان فانه تغير لخلق الله من الجانبين "

تـرجـمـه: لـواطـت د الله (ج) پـه مـخـلـوق كي تبديلي راوستـل دي الله (ج) دي مو وساتي .

مـحـتـرمـه مـسـلـمـانـانـو! د داسي بد عـمـلي څـه ځانونه را وګرځوئ او خپـل بچيان را وګرځوئ . ځكه بني ﷺ فرمايي:

"لو ان الذين يعمل ذلك العمل يعنى عمل قوم لوط اغتسل بكل قطرة فى السماء و كل قطرة فى الارض لم يزل نجسا"

يـعـنـي دغسـي انسان چي لواطت وكړي غسـل يې نه صـحـيـح كيـږي كه څه هم د ټولي دنيا اوبه پر ځان توی كړي .

او ابن جوزي د فضيل بن عياض قول نقل كوي فرمايي:

"لـو ان لـوطيـا اغتسـل بـكل قـطـرة نزلت من السماء لقى الله غير طاهر"(تفسير النور / ص: ٥٦)

يـعـنـي لـوطـي چـي د اسمان اوبه ټولي پر ځان توی كړي او غسـل پـه وكـړي غسـل يې نـه صـحـيـح كيـږي د الله سـره بـه يې ملاقات پـه حالت د نجاست كي وي الله (ج) اول موږ بيا ټول مسلمان د داسي كار څخه وساتې . آمين ثم آمين

نبي ﷺ فرمايي:

"لا ينظر الله عزوجل إلى رجل او أمرأة فى دبرها"

يعني الله (ج) په نظر د رحمت نه ګوري هغه زناني او سړي ته چې را تک کوي يو بل ته د شا له خوا.

او نبي عليه السلام فرمايي:

"إذا كثر اللواطية رفع الله عزوجل يديه عن الخلق فلا يبالى فى اى واد هلكوا" (رواه الطبرانى / ص: ٤٥٠)

يعني کله چې لواطت ډېر سي نو الله (ج) خپل حفاظت د خلکو څخه پورته کوي هيڅ پرواېې بيا نه کوي چې په کنده کې هلاک سي هلته به هلاک سي.

☆. د نبي عليه السلام په نظر کي:

نبي عليه السلام په دې باره کي ډېري مزيداري او منع کونکي خبري کړيدي چې زما امت د دې خبيث کار څخه ځان وساتي. نبي عليه السلام فرمايي:

"ان اخوف ما اخاف على امتى عمل قوم لوط" (جمع الفوائد / ج: ٢ / ص: ٢٨٩)

يعني هغه شی چې زه ډېر بېرېږم زما پر امت هغه لواطت دی امت ته پکار ده چې د داسي کار څخه ځان وساتي.

"و روى عن النبى ﷺ انه قال سيكون فى اخر امتى قوم يكتفى رجالهم بالرجال و نسائهم بالنساء فإذا كان ذلك فارتقبوا عذاب قوم لوط ان

یرسل الله علیهم حجارة من سجیل ثم تلا رسول الله ﷺ وما هی من الظالمین ببعید "(قرطبی / ج: ۹ / ج: ۸۳)

یعني زر ده چي زما پر امت به په اخیره زمانه کي داسي حالت راسي چي نر به د نر څخه کفایت کوي او ښځه به د ښځي څخه کفایت یعني لواطت او زنا به سره کوي نو په دغه وخت کي به پر دوی عذاب د لوط علیه السلام د قوم راسي د الله له جانبه یعني کاني به پر را اوري .

"وفی روایة عنه علیه السلام لا تذهب اللیالی و الایام حتی تستحل هذه الامة ادبار النساء فتصیب طوالق من هذه الامة حجارة من ربك"(قرطبی / ج: ۹ / ص: ۸٤)

یعني داسي به هم وسي چي زمانه ختمیږي مچه بازي به جائز وي لکه څرنکه چي خلق د خپلو ښځو شاګاني حلالي ګڼي څکه بعضي جاهلان زنانه ته د شا

له طرفه را تک حلال ګڼي .

او نبی کریم ﷺ فرمایي:

"من اتیٰ النساء فی اعجازهن فقد کفر"(رواه الطبرانی و رواته ثقات مفتاح الخطابة / ص: ۲۱۷)

یعني هر چا چي زناني ته را تک د شا له خوا کاوه دا سړی کافر دی نعوذ بالله من هذه الافعال .

"قال النبی ﷺ من اتی حائضا او أمرأة فی دبرها او کاهنا فقد کفر ما انزل الله علی محمد"(رواه الترمذی و مشکوة / ص: ۱٥٦)

یعني چا چي را تک وکئ زناني ته په حالت د حیض یا د شا له خوا یا

یې راتګ وکړ کاهن ته دا سړی کافر دی په هغه چې پر محمد نازل دي .

"و اتفق علماء الذین یعتد بهم علی تحریم وطی المرأة في دبرها حائضا کان او طاهراً لاحادیث کثیرة مشهورة"(نووی / ص: ٤٦٣)

ترجمه: اتفاق کړیدی هغه علماؤ چې هغه محکم علماء دي پر تحریم دوطئ د ښځې د شا له خوا حائضه وي او که پاکه وي دا ښځه .

د نبيؑ د زمانې نه مخکې یوه واقعه حافظ ابن تیمیهؒ په کتاب الزواجر کې د عیسیؑ د زمانې یو روایت نقل کوي چې یو ځل عیسیؑ په سفر باندې روان وو چې یو سړی یې ولیدی چې په اور کې سوځېدو . عیسیؑ اوبه راوغوښتې چې اور مړ کړي، په دې کې ناڅاپه د اور نه ښایسته هلک جوړ سو او هغه سړی چې په اور کې سوځېدی د هغه څخه اور جوړ سو او دغه هلک په کې سوځېدی کله چې عیسیؑ دا ولیدو نو حیران سو بیا یې دعا وکړه چې یا الله دوی ته خپل شکلونه ورکړه چې زه په حقیقت پوه سم . ناڅاپه دغه اور او سړي څخه یو هلک او یو سړی جوړ سو، بیا یې عیسی علیه السلام ته بیان وکړ هغه سړي ورته وویل چې زما ددې هلک سره مینه وه یو ځل په ما باندې خپلې مینې زور وکړ او ما ددې هلک سره زنا وکړه اوس زه مړ یم او تر اوسه پوري زه په دې غلط کار کې کرفتار یم الله دي اول موږ بیا ټول امت ته هدایت وکړي .

ابو هریرةؓ د ابن عباس څخه نقل کوي نبيؑ فرمایي

"من نكح أمرأة في دبرها او غلاما او رجلا حشر یوم القیامة انتن من الجیفة یتأذی به الناس حتی یدخله الله نار جهنم و یحبط الله عمله و لا یتقبل منه صرفا و لا عدلاً و یجعل في تابون من نار و یسم علیه بمسامیر من حدید

فتشك تلك المسامير فى وجهه و جسده "(تفسير النور لابن التيميه / ص: ٦٥)

تـرجـمـه: چاچي زناني ته د شا له طرفه راتک وکړی يا يې هلک ته يا سړي ته راتک وکړی نو د قيامت په ورځ به بدبويه څاه ته داخل سي چي خلکو تـه بـه تـري هم تـکليف رسيږي بيا بـه يې الله (ج) جهنم تـه ور وغـورځـوي .او ټـول اعـمـال بـه يې بـربـاد سي او د چا د طرف نـه بـه يې سفـارش ، نـه . . . قبـليـږي او بيـا بـه يې اور پـه تابوت کي بند کړي او ميخونه به پرې ووهي او ابو هريرةؓ فرمايي چي دا هلتـه چي په دنيا کي د دې بد اعمالو څخه توبه و نه کاږي .

"ولو اكره على الزنا اولواطة لا يسعه و ان قتل إلى قوله يعم الفاعل والمفعول "(رد المحتار / ج: ۳ / ص: ۱۱۷)

تـرجمه: که څه هم انسان مجبور سي پر زنا او يا پر لواطت دا عمل به نـه کوي که څه هم مړ کيږي .او په (امداد المفتين / ص: ۱۹۳) کي ليکي دي چي د هلکانو بدفعلي په يو وخت کي هم جائز نه ده .

☆. د بيماری خطره:

فـاعل چي کله دا عمل کوي نو بعض وخت کي د انسان د ذکر د نالۍ نـه منـي و نـه وزي او دننـه پـاتـي سي نو دغه آخر د لويو بيماريانو سبب جوړ سي .

☆.د ملعوني طبقي سزا په اسلام کي:

د دې فعل په باره کي د نبي عليه السلام ارشاد دی

"من وجدتموه تعمل عمل قوم لوط فاقتلوا الفاعل والمفعول به"(رواه الترمذی)

ترجمه: چا چي داسي کسان ومو ندل چي دلوط علیه السلام د قوم عمل يې کولو نو تاسو فاعل او مفعول دواړه قتل کړئ .

حافظ ابن قیمؒ لیکلي دي چي د بخاري په شرط باندي دا حدیث صحیح الاسناد دی او دې مسئله کي د إمام محمدؒ دپاره دا لوی دلیل دی عبدالله بن زبیرؓ، صدیق اکبرؓ، علیؓ، خالد بن ولیدؓ، عبدالله بن معمرؓ، زهريؒ، ربیع بن عبدالرحمنؒ، إمام مالکؒ، إمام اسحاقؒ، إمام احمد بن حنبلؒ . د دې نه علاوه نور تابعین وغیره دا مسلک دی چي د زناکارانو داسي سزا ده لکه څنګه چي د عامي زنا کومه سزا ده .

او إمام ابو حنیفةؒ فرمايي چي دا به په بد بویه ځاه کي بند کړي تر دې چي مړ سي او یا يې په اور باندي وسوځوي او یا يې د غر نه را ورغړوي .مختلفو إمامانو مختلفي رأيي پېش کړي او د حاکمِ وقت دپاره جائز ده چي هر عمل ورسره کولی شي .

باب المعا ملات مع الکفار

﴿له کفارو سره د معا ملاتو احکام او مسئلې﴾

کفارو ته د سلام اچولو حکم

سوال﴾

زه د کفار یوې کمپنی ملازم یم هلته زما یو څو عیسا یان او هندوان ملګری دي آیا زه په هغو باندی سلام اچولی شم او که نه بینوا توجروا.

جواب﴾

په هر کافر باندی د سلام ابتداء ممنوع دي ځکه چي چا ته هم ته اول سلام اچوی نو د هغه د عزت لحاظ کیږی په داسی حال کښی چي د مسلمان لپاره دا مناسب نه دي چي د کوم کافر عزت او عظمت په ده باندی غالب وي بیا هم د ضرورت په وخت کښی په هغو باندی په مناسبو الفاظو سره سلام اچول مرخص دي.

لما قال العلامة علاؤ الدین الحصکفی و یحرم تعظیمه و تکره مصا فحة و لا یبدا بالسلام الا لحاجة ﴿الدر المختار علی ها مش رد المحتار ج۳ ص۲۸۳ کتاب الجهاد﴾

قال العلامة ابن البزاز الکر دري رحمه الله و فی السیر لا باس برد سلام اهل الذمة والنهی عن البداة الا اذا کان محتا جا الیه فلا باس بها ایضا و لکن یکره مصا فحهم ﴿الفتاوی البزازیة علی ها مش الهندیة ج٦ ص۳۵۵ کتاب الکراهة فصل نوع فی السلام﴾ و مثله فی

البحر الرائق ج۵ ص۱۱۳ كتاب الجهاد فصل فى الجزية فروع فى الجزية .

كفارو ته د سلام ځواب ورکول

سوال﴾

کفارو ته د سلام د ځواب ورکولو شرعي طريقه څنګه ده آيا هغو ته د سلام ځواب ورکول کيږي او که نه بينوا توجروا .

جواب﴾

کافر ته د سلام په ځواب کښې يواځې د و عليک ويل کافي دي بيا هم که چيرته ديوه کافر د سلام په ځواب کښې له الله تعالى څخه هغه ته د هدايت غوښتنه وکړي او داسي ځواب ورکړي چي والسلام على من اتبع الهدى نو ښه به وي .

لمافى الهندية و اذا كان له حاجة فلا باس برد سلام على اهل الذمة و لكن لا يزاد على قوله و عليكم قال الفقية ابو الليث ان مررت بقوم و فيهم كفار فانت بالخيار انه شئت قلت السلام عليكم و تريد به المسلمين و ان شئت قلت السلام على من اتبع الهدى كذا الذخيرة ﴿الفتاوى الهندية ج۵ ص۳۲۵ كتاب الكراهية الباب السائع السلام الخ﴾

کفار و ته عبادت ځايونو لار ښونه کول

سوال﴾

که چیرته یو کافر له کوم مسلمان څخه خپل عبادت د ځای په باره کښی د معلوما تو حاصلول وغواړی نو آیا د مسلمان لپاره جائز دي چې نوموړی کافر لارښونه وکړی بینوا توجروا.

جواب﴾

چونکه په داسی امورو کښی د کافر په رهبری سره د هغوی د اصلاح په ځای د بې دینی او کفر د تقویت او مضبوتیا امکان وي نو ځکه د کفارو سره په داسی معاملاتو کښی معاونت د تعاون علی المعصیت سره برابر ده.

قال الله تبارک و تعالی و لا تعاونوا علی الاثم والعدوان ﴿سورة المائدة آیت۲﴾

و قال العلامة قاضی عیسی خان ذمی سأل مسلما عن طریق البیعة لا ینبغی للمسلم ان یدله علی ذلک لانه اعانة اذا سلم الیهودی و النصرانی او المجوسی علی مسلم قال محمد الله یقول المسلم و علیک ینوی بذلک السلام لحدیث مرفوع الی رسول الله ﷺ انه قال اذا سلموا علیکم فردوا علیه ﴿فتاوی قاضی خان علی هامش الهندیة ج۳ص۲۸۳ کتاب الکراهیة﴾ و مثله فی الدر المختار علی هامش رد المحتار ج۳ص۲۸۲ کتاب الجهاد.

د کفارو قدر او عزت کول

سوال﴾

که چیرته یو کافر د کوم مسلمان میلمه شي نو د مسلمان لپاره په محفل کښی د ملمه عزت په خاطر دریدل او ولاړیدل جائزدی

او كه نه بينوا توجروا .

جواب﴾

له كفارو سره په مداراتو يعنى د معاشرتى تعلقاتو لرلو كنبى څه حرج . نشته كه چيرته دا ناسته ولا ړه په معاشره كنبى له كوم مذهبى او عقيدوى امتياز پرته د ميلمه حق بلل كيده نو په داسى حالت كنبى داسى تعلقات قائمول جائز دى همدا رنګه د كافر له شر او فساد څخه د بچ كيدو په خاطر هم لهغوى سره معاشرتى تعلقات قائمول جائز نه بلكه د داسى تعلقاتو څخه كه چيرته دا توقع وي چى هغه كافر اسلام قبلوي نو هغه دى د خپل منصبى فرائضو تقاضا وبولى بيا هم كه چيرته د عزت او توقير په وجه د كفارو د مذهب عقيدې او يا د هغوى د غير اسلامى د شعار عزت او توقير مقصود وي نو بيا د مسلمان لپاره ددول تعلقات جائز نه دى .

قال العلامة ابن عابدين و جب على المسلم عدم تعظيم لكن قال فى الذخيرة اذا ادخل يهودى الحمام ان عبدُ المسلم طمعا فى فلوسه فلا باس به و ان تعظيما له فان كان ليميل الى الا سلا فكذلك و ان له خوفا من شرع فلا بل اذا تحقق الضرورة فقد يجب و قد يستحب على حسب حال ما يتو قعه ﴿رد المحتار ج۳ص۲۸۳ كتاب الجهاد و فى الهندية اذا دخل ذمى على مسلم فقام له ان قام طمعا فى ميله الى الاسلام فلا باس به كتاب الجهاد و فى الهندية اذا دخل ذمى على مسلم فقام طعما لغناه كره ذلك ﴿الفتاوى الهندية ج۵ص۳۵۸ كتاب الكراهة الباب الرابع عشر فى اهل الذمة و الا حكام الخ﴾ و

مثله فی البحر الرائق ج٥ص١١۴ کتاب الجهاد

د کفارو په لوښو کښي
د خوړلو او چښلو حکم

سوال﴾

دیوه مسلمان لپاره د کفارو او مشرکینو په لوښو کښی خوړل او چښل جائز دی او که نه

جواب﴾

د کفارو لوښي دی له استعمال څخه مخکښی ښه پریمنځی او له مینځلو مخکښی د دوی په لوښو او کودو کښی خوړل چښل مکروه دي بیا هم که چیرته له مینځلو پرته خوراک او چښاک پکښی وکړی نو له کراهیت سره جائز دی او داسی سړی په حرام خوړونکو کښی نه حسابیږی خو په دې شرط چې د نجس والي علم ورته نه وی او که چیرته د نجس والی علم ورته وي نو له پریمنځلو څخه مخکښی د دوی په لوښو کښی خوراک او چښاک کول نا جائز دی .

لقوله علیه الصلوة والسلام تاکل فی ائنتهم فان و جد تم فلا تاکلوا فیها فان لم تجد فاغسلو ها ثم کلوا فیها ﴿صحیح بخاریج۲ص۸۲۵ کتاب الد بائح باب ماجاء فی الصید﴾

قال الشیخ الاسلام حافظ الدین البزاز و الاکل و الشرب فی او انی المشرکین یکره ﴿والا کل مع الکفار لو ابتلی به المسلم لا باس لومرة او مرتین اما الدوام علیه یکره ﴿الفتاوی البزازیة علی ها مش

الهندیة ج٦ص۳٥۹ کتاب الکراهیة الثالث فیما یتعلق بالمناعی ﴾

له کفارو سره یو ځای د خوراک او څښاک د کولو حکم

سوال ﴾

له کافر سره په یوه کاسه کښي خوراکِ او څښاک کول جائز دی او که نه ؟ .

جواب ﴾

په کفارو کښي چي تر څو پوری ظاهری نجاست نه وي نو له هغوی سره په یوه لوښي کښي خوراک او څښاک جائز دی بیا هم د اعتقادی اختلاف په وجه د کراهیت باعث دی .

و فی الهندیة و لم یذکر محمد الاکل مع المجوس و مع غیره من اهل الشرک انه هل یحل ام لا و حکی عن الحاکم الامام عبد الرحمن انه ان ابتلی به مسلم مرة او مرتین لا باس به و اما الدوام علیه فیکره کذا فی المحیط ﴿الفتاوی الهندیة ج٥ص۳۴۷ کتاب الکراهیة الباب الرابع عشر فی اهل الذمة و الاحکام التی ترد الیهم﴾

قال شیخ الاسلام حافظ الدین البزاز و الاکل مع الکفار لو ابتلی به مسلم لا باس لو مرة او مرتین اما الدوام علیه یکره ﴿الفتاوی البزازیة علی هامش الهندیة ج٦ص۲٥۹ کتاب الکراهیة الثالث فیما یتعلق بالمناهی﴾

د کافر مزدوری

سوال﴾

کفري ممالکو ته د پاکستان خلک د روزګار لپاره ځی او هلته د غير مسلمو سره مزدوری کوی نو آیا د کافرو سره مزدوری یا ملازمت کول جائز دی او که نه؟ .

جواب﴾

د کافر مزدوری په داسی توګه کول چي له وجهی ئی د اسلام مسلمانانو توهین نه کیده نو جائز دی او که چیرته پکښی د اسلام او یا د مسلمانانو یو ډول توهین کیده نو بیا د کفار داسی مزدوري او ملازمت جائز نه دی .

لما في الحديث لان خباب بن الارت عمل لعاص بن وائل باجرة و لم ينكر عليه النبیؐ ﴿صحيح بخاری ج۱ص۱۲۵ کتاب الاجازة .

د هندوانو د متروکه جائدادو نو حکم

سوال﴾

له کفارو څخه مثلا د هندوانو او داسی نورو د متروکه مال د مصرف صحیح ځای کوم دی بر سیره پر دې چی کوم کفار له یوه ځایه څخه ځی او جائدادونه پاتی کیږی نو د شریعت له مخی داسی جائدادونو مصرف صحیح ځای کوم دی؟ بینوا توجروا .

جواب ﴾
د غیر مسلمو جائداد او اموال په کار دی چې بیت المال کښې جمع شي او همدا رنګه کوم مال چې له کفارو څخه بغیر له جنګ نه تر لاسه شي او یا کوم مال چې مسلمان عاشر اخلی د هغو د مصرف صحیح ځای د مسلمانانو مصالح دي مثلاً د سرحد اتو په حفاظت کښې ئې مصرفول په دریا بونو او نهرونو باندی د پلونو په جوړولو کښې مصروفول د علماوو طلباوو او قاضیانو وظیفې پرې پوره کول د اسلامی فوج تنخواګانې ترې ورکول د هغوی د اهل او عیال په فلاح او بهبود باندی ئې مصرفول او داسې نور.
قال العلامة محمد بن عبد الله التمر تاشي و مصرف الجزية والخراج و مال التغلبی و هدیتهم للامام و انما یقلبها اذا وقع عندهم ان قتالنا للدین لا الدنیا جوهرة و ما اخذ منهم بلا حرب و منه ترکة ذمی و ما اخذه عاشر منهم ظهریة مصالحتنا ﴿تنویر الابصار علی هامش رد المحتار ج۳ ص۳۰٦ باب العشر والخراج والجزیة.
و قال الامام عبد الله بن احمد محافظ الدین النسفی و ما اخذ منهم بلا قتال یصرف فی مصالحنا کسد الثغور و بناء القناطیر و الجسور ﴿کنز الدقائق علی هامش البحر الرائق ج۵ ص۱۱۷ کتاب الجهاد و مثله فی الهدایة ج۲ ص۵۹۹ کتاب الجهاد

د اهل کتابو نه علاوه د نورو کفارو د ذبیحې حکم

سوال ﴾

په یوه داسې ملک کښې چې ځناورو په شرعي توګه نه ذبح کيده نو د مسلمانانو لپاره د هغه ځای د کفارو د لاس د ذبيحې د خوړلو څه حکم دی.

جواب﴾

د اهل کتابونه پرته د نورو کفارو ذبیحه مطلقا حرامه ده که ذبحه کوونکی هندووي او که سک یا مجوسی او که پارسی په هیڅ حال کښې هم د دوی ذبیحه حلاله نه ده.

قال العلامة ابو بکر الحداد اليمنى ولا توکل ذبحة المجوسی والمرتد و الوثنی لان المرتد لا ملت له والوثنی مثله و اما المجوس فلقوله عليه السلام سنوا بهم سنة اهل الکتاب غير ناکحى نسائهم و لا اکل ذبائحهم الحديث الجوهرة النيرة ج۲ص۲٦۴ کتاب الذ بائح﴾

قال العلامة ابن نجيم لا مجوسی و ثنی و مرتد و محرم و تارک التسمية عمدا يعنى لا تحل ذبحية هو لاء البحر الرائق ج۸ص۱٦۸ کتاب الذبائح و مثله فی الهداية ج۴ص۴۳۴ کتاب الذبائح

په اسلامی حکومت کښې د کفارو د مذهبی حقوقو حکم

سوال﴾

په یوه اسلامی حکومت کښې کافر و ته تر کومه ځایه پوری مذهبی حقوق حاصل دي آیا هغوی په دار الاسلام کښې خپل مذهبی عبادتونه او رسمونه ادا کولی شی او که نه؟ بینوا توجروا.

جواب﴾

په هر یوه اسلامی حکومت کښې کفارو ته د ځان مال مذهبی آزادی تحفظ حاصل دی لیکن که هغوی د مسلمان د ګمراه کولو لپاره د تقریر او تحریر طریقه اختیار کړی نو بیا اسلامی حکومت له دې ډول اعمالو څخه منع کولای شی

لما فی الهندية و ليس للنصرانی يضرب فی منزله بالناقوس فی مصر المسلمين و لان يجمع فيه بهم انما له ان يصلی فيه ولا ان يخرجوا الصليب او غير ذلک من كناسهم ولو رفعوا اصوا تهم بقراة الزبور و الانجيل ان كان فيه اظهار الشرک منعوا عن ذلک و ان لم يقع بذلک اظهار الشرک لايمعنون و يمنعون عن قراة ذلک فی اسواق المسلمين الفتاوی الهندية ج۲ص۲۵۱ كتاب السير الثامن فی الجزبة ﴾

قال العلامة عالم بن العلا الانصاری رحمه الله و ليس للنصرانی انه يضرب فی منزلة بالناقوس فی مصر من امصار المسلمين ﴿الفتاوی التاتار خانيه ج۵ص۴۵۱ كتاب الخراج و مثله فی فتاوی قاضی خان هامش الهندية ج۲ص۵۸۹ كتاب السير فصل فی اهل الذمة .

د غیر مسلم ممالکو څخه د راوړل شوی د خوراک او څښاک د شیانو د استعمال حکم . .

سوال ﴾

له کفري ممالکو څکه غوښه او ذبحه کړل شوی چرګان د غوړیو او شیدو څخه جوړ شوی د خوراک او څښاک شیان پاکستان

او نورو اسلامی ملکونو ته راوړل کیږی په داسی حال کښی چي د غوښو په ډبو باندی لیکلی دی چي په اسلامی طریقې سره ذبحه شوی دی نو آیا د مسلمان لپاره د داسی شیانو استعمالول جائز دی او که نه بینوا توجروا

جواب ﴾

له غوښو څخه پرته چي کوم حلال شیان له کفري ممالکو څخه راځی او حرام شیان لکه شراب او د خنزیر اجزاء پکښی شامل نه وي نو داسی شیانو خوړل او څښل جائز دی البته که چیرته د غوښو په ډبو باندی په اسلامی طریقې سره د ذبحح کیدو لیکلی وي نو بیا ئی په خوړلو کښی هم څه حرج نشته او که چیرته د نورو قرائنو او ذرائعو له مخی د دغو الفاظو غلط والی ثابت شی نو بیا خوړل نا جائز دی

و فی الهندیة من ارسل اجیر اله مجو سیا او خادماً فاشتری لحما فقال اشتریته من یهودی او نصرانی او وسعه اکله رجل اشتری لحما فلما قبضة فاخبره مسلم ثقة انه قد خالطة لحم الخنزیر لم یسعه ان یا کله ﴿ الهندیة ج۵ص۳۰۸ ۳۰۹ء کتاب الکراهیة الباب الاول .

و قال العلامة فخر الدین بن منصور مسلم اشتری لحما و قبضه فاخبره ثقة انه ذبحیة الکافر فانه لا ینبغی للمشتری ان یا کل و لا یطعم غیره لان المخبر اخبره بحرمة العین و بطلان الملک ﴿فتاوی قاضی خان ها مش الهندیة ج۳ص۴۱٦ الباب السادس والعشرون ﴾ و مثله فی رد المحتار ج۵ص۲۴۳ کتاب المختار الا

باحة باب الاستبراء .

په اسلامی ملک کښې د کفارو د نوي عبادت ځایو نو جوړول

سوال﴾

پـه دار الاسـلام کښـې غیـر مسـلم د خپلو ځانو نو لپاره نوي عبادت ځایونه جوړولی سی که نه؟ بینوا توجروا .

جواب﴾

پـه دار الاسلام کښې کافر انو ته د نوي عبادت ځایو نو د جوړولو اجازه نشتـه او خپل مخکسینی عبادت ځایونه جوړ او باقی ساتلی شي او د هغو خراب شوی ځایـه لـه سره هم جوړولی شی لیکن پـه خپل مخکسینی عبادت ګاه کښی نور زیاتوالی نهٔ کولی او همدا رنګه که په کـوم ښار کښـی د کافرانو کوم عبادت ګاه رنګه شي نو د هغې رغونی اجازه هم نشتـه .

کـمـا فـی الهـنـدیة ان ارادا اهـل الـذمة احداث البیع والکنائـس او الـمـجـوس احداث بیث الـنـار ان ارادو ذٰلک امـصار السملمین و فیما کـان مـن فـنـاء الـمـصـر مـنـعـوا عـن ذلک عند الکل ﴿الفتاوی الهندیة ج۲ص۲۴۷ کتاب الباب الثامن فی الجزیة﴾

قـال الـعلامة التمر تا شی و لا یجوز ان یحدث بیعة و لا کنسیة و لا صـو مـعة و لا بیـت نـار ولا مـقبـرـة تـنـویـر الابصار علی هامـش رد الـمـحـتـار ج۴ص۲۰۲ کتاب السیر﴾ و مـثله فی فتاوی قاضی خان علی هامش الهندیة ص۵۹۰ کتاب السیر فصل فی اهل الذمة ما یؤ خذ الخ .

د مسلمانانو مساجدو ته د کفارو داخلیدلو حکم

سوال﴾

څو ورځې مخکښې د برطانيې شهزادګی پاکستان ته راغلې وه او بيا د حکومت سرپرستی کښې د لاهور بادشاهی جومات ته راوستل شوه نو آيا يو کافر د مسلمانانو جومات دا خليدلې شی او که نه؟ بينوا توجروا.

جواب﴾

کله چې کافر د جنابت په حالت کښې نه وي او په بدن ئی نجاست هم نه وي کوم چې د جومات دآدابو ظاهره خلافهٔ وي نو بيا ئی جومات (مسجد) ته دا خليدل جائز دی.

کما فی الهندية لا باس بدخول اهل الذمة المسجد الحرام و سائر المساجد و هو الصحيح كذا فی السر سخی ﴿الفتاوی الهندية ج۵ص۳۴۶ کتاب الكراهية الباب الرابع عشر﴾ قال العلامة ابن عابدين ان الامام سر سخي ذكر فی شر ح السير الكبير ان ابا سفيان جاء الى المدينة و دخل المسجد و لذلک قصة قال فهذا دليل لنا على مالک بمنعه المشر ک من ان يد خل شيئا من المساجد ثم قال ان الشا فعی قال يمنوعه من دخول المسجد الحرام خاصة للآية انما المشر کو ن فاما عند نا لا يمنعو ن كما لا يمنعو ن د خول سائر المساجد و يستوی ذلک الحر بی و الذمی ﴿ر د المحتار ج۳ص۳۰۱ کتاب الجهاد باب العشر و الخراج و الجزية﴾ و مثله فی البزازية علی ها مش

الهندية ج٦ص ٣٧١ كتاب الكراهية .

په جوماتو کښې د کفارو د چندې د استعمال حکم

سوال﴾

که چیرته یو کافر د جومات د تعمیر لپاره چنده ورکړی نو آیا هغه چنده په جومات کښې لګولی شی او که نه بینوا توجروا.

جواب﴾

که چیرته د کافرانو د چندې په ورکولو کښې د اسلام او مسلمانانو د توهین احتمال نه وي او د هغوی په مذهب کښې ئې حیثیت د قربت او ثواب وي او د ثواب به نیت ئې ورکړی هم وي نو بیا ئې قبلول او په جومات ئې لګول جائز دی ځکه چې د حنفی مذهب له مخې د کافر نه وقف په صورت کښې شرط دادی چې هغه زموږ او دوی تر منځه د قربت ذریعه وي پس ظاهره خبره ده چې د مساجدو سره کفار او هنودو چې جماتونو ته څه ورکوي هغوی یې اعتقاداً قربت بولي لیکن په نن دور کې دکفارو امداد له جوماتونو سره مسلمانان په څه نا څه مخمصی کښې د راوستو لپاره دی نو ځکه د دوی له امدادونو او چندو څخه د جوماتونو بچ ساتل ضروری دي.

قال العلامة ابن عابدين ان شرط وقف الذمى ان يكون قربة عندنا و عندهم كالوقف على الفقراء و على مسجد القدس إلى قوله لأن وقف المسلم لا يشترط كونه قربة عند هم بل عند نا كو قفنا على حج و عمرة بخلاف على بيعة فانه غير قربة عندنا بل عندهم ﴿رد المحتار ج٣ص ٣٩٤

کتاب الوقف﴾
قال العلامة ابن نجیم المصری رحمه الله و اما السلام فلیس من شرطه فصح وقف الذمی بشرط کونه قربة عندنا و عندهم کما وقف علی اولاده علی الفقراء ﴿البحر الرائق ج۵ص۱۸۹ کتاب الوقف﴾ و مثله فی الهندیة ج۲ ص۳۵۲ کتاب الوقف.

د هندوانو د عبادت ګاه په ځای باندی د جومات د جوړولو حکم

سوال﴾
زموږ په علاقه کښی د هندوانو په متروکه جائداد کښی یو مندر هم شته د ځینو مسلمانانو دا اراده ده چي په هغه ځای کښی یو جومات جوړ کړی نو آیا د هندوانو په متروکه عبادت ګاه کښی د جومات جوړول جائز دی او که نه؟

جواب﴾
اګر که د مسلمانانو د عبادت ځای د جوړولو لپاره کوم خاص ځای مقرر نه دی او د زمکی د کړی په هر ځای کښی د لمانځه ادا کول ورته جائز دی لیکن د هندوانو عبادت ځایونو لره د جومات په توګه په استعمالولو سره چو نکه د هغو د عبادت ځایونو د عظمت او لوړوالی شهبه ده نو ځکه ئی د جومات په توګه استعمال جائز نه دی بیا هم که چیرته رنګ کړی شی او په ځای ئی جومات جوړ کړی شی نو بیا څه حرج پکښی نشته.

په حدیثو کښی راغلی دی چی. عن طلق بن علی قال خر جنا و

فداً الی رسول اللهﷺ فبا یعناه و صلینا معه و اخبر ناه ان بار ضنا بیعة لنا فاستو هبنا ه من فضل طهوره فدعا بماء فتوضا و تمضمض ثم صبه لنا فی ادواة و امرنا فقال اخرجوا فاذا اتیتم ارضکم فاکسروا بیعتکم و انضحوا مکانها بهذا الماء و اتخذوها مسجد قلنا ان البلد بعید والحر شدید و الماء ینشف فقال مدوه من الماء فانه لا یزیده الا طیبا رواه النسائی ﴿مشکوة المصابیح ج۱ص۶۹ باب المساجد لما ورد فی الحدیث عن طلق بن علی فاخرجنا و فدا الی رسول الله فبا یعنا و صلینا معه و اخبر ناه ان بار ضنا بیعة لنا ه فاستو هبنا ه من فضل طهوره الحدیث ﴿سنن النسائی ج۱ص۷۲ کتاب المساجد﴾ و مثله فی مشکوة المصابیح ﴿حاشیة﴾ ج۱ص۶۹ کتاب الصلوة ابواب المساجد.

د کفارو د دعوت قبلولو حکم

سوال﴾

که چیرته یو کافر د کوم غم یا ښادی په موقع کښی مسلمانانو ته دعوت ورکړی او په هغو باندی د حلال خوراک د خوړلو وعده هم وکړی نو آیا د مسلمانانو لپاره د دوی دعوت قبلول جائز دی او که نه بینوا توجروا.

جواب﴾

که چیرته د دې دعوت په وجه سره اسلام نه متاثر کیده نو بیا ئی په قبلولو او خوراک کښی څه مضائقة نشته او بیا په څانګړی توګه هغه دعوتونه چې د حلالو خوراکونو د ورکولو یقین هم ورکول

شوی وی.

لـمـا فـی الهـنـدية ولا باس بالذهاب الی ضيافة اهل الذمة هكذا ذكـر مـحـمـد و فـی اضـحـية النوازل المجوس او النصرانی اذا دعا رجل الـی طـعـامـه تكـره الا جابة و ان قال اشتريت اللحم من الـسـوق فـان كـان الـداعـی نـصـر انيـا فـلا بـاس بـه الفتـاوی الـهـنـدية ج٥ص٣٤٧ كتـاب الكراهية الباب الرابع عشر﴾

قـال الامـام ابـن الـبـزاز الـكـردری و ان اجـابة الـدعـوة و لـو لا هل الـذمـة سـنـة ﴿الـبـزاية عـلـی هـا مـش الهـنـدية ج٦ ص٣٣٣ الـسـادس فـی التشبية﴾

د مسلمانانو لپاره د كفارو عبادت ځایونو ته د اخليدلو حكم

سوال﴾

آيا د مسـلـمـانانو لپاره د كافرانو عبادت ځايونو تـه تلل جائز دی او كه نه ؟

جواب﴾

د مسلمانانو لپاره د كافرانو عبادت ځايې ته داخليدل مكروه دي ليـكـن دا مكروه والی له دې وجهی نه دی چي مسلمانان دا حق نه لری چي دغو عبادت ځايونو داخل شی بلكه ځكه مكروه دی چي دا عبادت ځايونه د شيطانانو د جمع كيدو ځايونه دی.

كـمـا فـی الهـنـدية يـكـره للسلم الدخول فـی البيعة والكنسية و انـمـا يـكـره من حيث انه مجمع الشيا طين لا من حيث ان لـيس لـه حق

الدخول ﴿الفتاوی الهندیة ج۵ص۳۴۶ کتاب الکراهیة الباب الرابع عشر
قال العلامة ابن عابدین و یکره للمسلم الدخول فی البیعة والکنسیة ﴿رد المحتار ج٦ص۳۸۷ کتاب الحظر والاباحة فصل فی البیع

د قادیانیانو سره د راشه درشه .

﴿تعلقاتو﴾ حکم

سوال﴾
د مسلمانانو لپاره له قادیانیانو سره لین دین او تجارت کول جائز دی او که نه ؟

جواب﴾
اګر که کفارو سره د دنیاوی معاملاتو په کولو کښې څه حرج نشته لیکن قادیانیان خپلو ځانو ته د مسلمان په ښکاره کولو او مسلمانانو ته د دوکې ورکولو کوشش کوي چې له مخې ئې ډیر وختونه د هغوی کفري عقائد پټ پاتې کیږی د دې لپاره دوی د مرتدینو په حکم کښې دی او هر ډول تجارتی لین دین ورسره نا جائز دی .
قال العلامة برهان الدین المرغیانی و یزیل ملک المرتد عن امواله زوالا موقوفاً فان اسلم عادت الی حالها ﴿الهدایة ج۲ص ٦٠١ کتاب الیسر﴾
قال شیخ الاسلام محافظ الدین النسفی و یزیل ملک المرتد عن ماله زوالا موقوفا فان اسلم عاد ملکه ﴿کنز الدقائق علی هامش البحر

الرائق ج۵ص۱۲۰ باب احکام المرتدین ﴾ و مثله فی فتح القدیر ج۵ص۳۱۲ کتابب الجهاد احکام المرتدین .

له مرتد سره د تعلقاتو د ساتلو حکم

سوال﴾

کوم سړی چي اسلام پریږدی او هندو مذهب اختیار کړی یعنی هندو شی نو له هغه سره دوستی او محبت لرل او په ورین تندی له هغوی سره مخامخ کیدل او له هغوی سره خوراک او څښاک کول جائز دی او که نه بینوا توجروا .

جواب﴾

کوم سړی چي اسلام پریږدی او هندو شي هغه مرتد دی او تعلقات او راشه درشه ورسره صحیح نه ده نو ځکه له دوی سره په ورین تندی مخامخ کیدل شي ستړی مشي کول او له هغوی سره خوراک او څښاک او د خپلوی رشته او نکاح و مناکحت قائمول نا جائز او ممنوع دی .

کما قال العلامة محمد بن عبد الله التمرتاشی و من ارتد عرض الحاکم علیه الاسلام استحبابا و تکشف شهبة و یحبس و جوبا ثلاثة ایام فان اسلم فبها و الاقتل لحدیث من بدل دینه فاقتلوه ﴿تنویر الابصار علی هامش رد المحتار ج۳ص۳۱۲ باب العشر و الخراج و الجزیة﴾

و قال شیخ الاسلام محافظ الدین النسفی یعرض الاسلام علی المرتد

و تكشف شبهة و يحبس ثلاثة ايام فان اسلم فبها والاقتل ﴿كنز الدقائق على هامش البحر الرائق ج۵ص۱۲۵ باب احكام المرتدين﴾ و مثله فى الهندية ج۲ ص۲۵۳ كتاب السير الثامن فى الجزية.

د قاديانيانو چنده په جومات كښې د مصر فولو حكم

سوال﴾

كه چيرته يو قادياني د جومات د جوړلو لپاره خښتي او داسي نور وركړي نو آيا د نوموړيو خښتي په جومات كښې لګول جائز دي او كه نه؟ بينوا توجروا.

جواب﴾

قادياني چونكه مرتد او د اسلام له دائرې څخه وتلي دي او د ارتداد په حالت كښې چي څومره تصرفات كړي وي هغه موقوف وي كه چيرته دوهم ځل مسلمان شي نو د ارتداد په حالت كښې ئې چي څومره تصرفات كړي وي هغه ټول صحيح كيږي او كه چيرته د ارتداد په حالت كښې مړ شي يا قتل شي او يا دار الحرب ته لاړ شي نو د ارتداد د حالت ټول تصرفات ئې باطل ګرځي نو ځكه له يوه قاادياني څخه د خښتو او داسي نورو شيانو د جومات لپاره قبلول او په جومات كښې ئې مصرفول جائز نه دي تر څو چي مسلمان شوى نه وي.

قال العلامة برهان الدين المرغيناني و ما باعه او اشتراء او اعتقه او وهبه او رهنه او تصرف فيه من امواله فى حال ردة فهو موقوف فان اسلم صحت عقودة و ان مات او قتل او لحق بدار الحرب

بطلت ﴿الهداية ج۲ص۶۰۲ كتاب الجهاد باب المرتد﴾
قال العلامة ابن نجيم المصرى رحمه الله و توقف مبايعة و عتقه و هبته فان آمن نفذ و ان هلک بطل بيان لتصرف حال ردته بعد بيان حکم املاکه قبل ردة ﴿البحر الرائق ج۵ص۱۲۳ باب احکام المرتدين﴾ و مثله فى فتح القدير ج۵ص۳۲۰ باب احکام المرتدين .

د قادیانی د جنازې
د لمانځه حکم

سوال﴾

زما په خپلوانو کښې یو سړی قادیانی شوی دی د هغه له مړینې وروسته زما لپاره د هغه په جنازه کښې شرکت کول جائز دی او که نه بینوا توجروا .

جواب﴾

چونکه قادیانی مرتد اود اسلام له دائرې څخه وتلی دی نو په دې بناء باندی په هغوی باندی د جنازې لمونځ نه ادا کیږی اګر که هغه مونږدې خپل وي او نه له قادیانیا نو سره د هغوی د مذهب مطابق د مرګ په مراسمو کښې شرکت کول جائز دی او که چیرته داسی خپلوان د خښولو لپاره د هغه هم مذهبه څوک نه وي نو علاوه شرعی طریقې څخه د هغه لپاره زمکه و کیندی او بیائی پکښې واچوی .

کما قال العلامة علاؤ الدين الحصکفی اما الرتد فيلقى فى حفره کا لکلب ﴿الدر المختار على هامش ردد المحتار ج۱ص۶۵۷ باب صلوة الجنازة﴾

قال العلامة ابن نجيم المصرى رحمه الله اما المرتد فلا يغسل ولا يكفن و انما يلقى فى حفيرة كالكلب ولا يدفع من انتقل الى دينهم ﴿البحر الرائق ﴿ج۲ص۱۹۱ كتاب الجنائز فصل السلطان احق بصلوة﴾ و مثله فى الخانيه على هامش الهندية ج۱ص۱۹۵ كتاب الجنائز .

كتاب الجهاد والمغازى

﴿يُرِيْدُونَ لِيُطْفِؤُا نُورَ اللّهِ بِأَفْوَاهِهِمْ والله متم نوره وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ﴾

لکه څرنګه چې تاسو ته معلومه ده دنيا کفارو پر ټوله عالم اسلام هجوم راوړی دی د مسلمانانو مقدسات يې تر پښو لاندې کړي دي، په زرهاوو مظلوم او بې ګناه مسلمانان يې په شهادت رسولي دي، بې حسابه مؤمنان يواځې د اسلام د منلو په جرم لا درکه دي ـ د ظلم محبسونه د مظلومانو د فريادونو ننداري کوي، اسلامي نظام له مينځه تللی دی، پر ځای يې د دنيا په تقريبا ۵۹ نهه پنځوسو اسلامي هيوادونو کي د ديمکراسي پليت نظام چلول کيږي، په ټوله اسلامي نړۍ کي د ورځې پر سر په سلهاوو مسلمان د کفري خواهشاتو او غوښتنو قرباني کيږي، په عراق، شام، فلسطين ،افغانستان کي په ښکاره مسلمانانو ته د عيسويت درس ورکول کيږي چې په نتيجه کي يې ډېری مسلمانان د اسلام څخه اوښتي او د عيسويت دين يې پر ځان منلی دی . او داسي نور چې د دې ټولو په مقابل کي د الله (ج) پر دين مينو مؤمنانو د دغه بدبختيو د له مينځه وړلو په خاطر او د اعلاء کلمة الله لپاره تر خپل ځان، اولاد، بي بي، قوم، وطن ، مال او عزت تېرېږي او پر دين قرباني ورکوي چې دا يې پر ټوله امت مسلمه باندي يو مرهون منت او احسان دی الله (ج) دي د دوی سيوري همېشه زموږ پر سرونو باندي قائم لري . آمين

کفار يې مخامخ ماتي ته مجبوره کړي دي چې اوس د ځان درسوايي څخه د بچاو په خاطر او د دغه مجاهدينو د سپېڅلي مبارزې او جهاد د

بدنامولو لپاره هر څه ته تيار دي، د هرې قرباني ځخه دريغ نه کوي چي دا
دي پــه دې ورستيــو کــې کـفـارو يـو داسـي هڅـه پـيـل کړې ده چي د اسلامي
هيـوادونـو د حـريـم څخـه دفـاع او ديـرغـلـګرور کفارو په مقابل کې روان
مـقـاومـت او جهـاد تـه غيـر شـرعي بنه ورکړې، د هيـوادونو د اشغال ځخه د
مسـلـمـانـانـو تـوجـه بـل طرف ته واړوي، غـواړي چي لمر په دوو ګوتو پټ
کـړي . د دغـه مـوخـي او هـدف لپـاره يې ډېر مسـلـمانان هم استخدام کړل،
اوس غـواړي د دغـه ناروا عـمـل لپـاره د عـلـماؤ د نامه ځخه استفاده وکړي،
جهـاد مـقـدس مـجـرو ح کـړي او د دې کـار لپـاره يې د اندونيز يا هيواد په
جـاکـرتـا ايـالـت کـې پـه دغـه پـلـمـه يـوه غـونډه هم را بللې ده . دغه رنګه د
مـجـاهـديـنـو ځخه د سولي تر عنوان لاندي تسليمي هم غـواړي چي په دغه
نـامـه يـې ډېـرى مـسـلـمـانـان هـم غـولـولـي دي د سـولـي غـوښتنه کوي چي د
سـولـي هـويـت او حـقـيـقـت نـه دى ورتـه معلوم د دغه مقصد لپاره يې بيا د
پـرلـت پـه نـامـه خلک غـولـولي او استخدام کړي دي . دا او دې ته ورته پېښو
پـه کـتـلـو مـو دا د ځـان مسـئـوليـت وګڼـئ چي مسلمان له حقيقت ځخه تر
خپـلـه وسـه خبـر کـړو تـر ځـو د اخرت مسـئـوليـت را تـه راجع نـه سي دغـه
رسـالـه هـم د دغـه هـڅي يوه حصه ده چي بالا ذکر سوي موضوعات په دقت
پـکښي څېړل سوي دي خو د ضرورت پر بنياد مو څه نا څه د جهاد او مجاهد
اړونـد هـم لـيـکـلي دي خو د زياتو مسائلو او فاضائلو د ليکلو ځخه مو ډډه
کـړې . يـو خـو د مسـائـلـو او فـضائلو د جهاد پر موضوع بې حسابه ليکني
سـوي دي چـي هغـه اکتفاء کوي، دوهم چي کـتـاب مو اوږد نه سي . الله (ج)
دي يـې د اسـلامـي نـظـام د قيـام او زمـوږ، زمـوږ د قـريبـانـو، اسـتـاذانـو،
شـاګـردانـو، اولادونـو مـخـلـصـينـو او ټـولـو مسـلـمـانـانـو د نجات ذريعـه
وګرزوي .آمين ثم آمين

د جهاد تعریف

جهاد په کسره د جیم په لغت کي مشقت ته وایي او یا تر خپل وس زیات بار پورته کولو ته جهاد وایي او یا جهاد مصدر دی په معنی د خپل تولـه وس ښندل په مقابله کي د دښمن .

او جهاد په اصطلاح کي د شریعت خپل تول وس ښندل په مقابله کي د کفارو، البته په جنګ وي د مجاهد معاونت وي، په مال سره وي، په ښکه مشوره سره وي، او که د مجاهد د صف په ډېرولو سره وي . په مراتبو کي یې خامخا فرق سته مثلا یو مجاهد په نفس سره جهاد کوي او د کافره سره جنګ کوي، بل مجاهد صرف په ژبه د مجاهد همکاري جنګ د کافر سره نه کوي نو معلومه خبره ده چي د اول مجاهد درجه ډېره لوړه ده تر دوهم مجاهد که څه هم په نفس جهاد کي دواړه سره شریکان دي، دواړو ته مجاهد ویل کېږي . دغه رنګه یو سړی د مجاهدینو سره مالي کومکونه وي: اسلحه، سورلی و غیره ورته برابروي او بل کس صرف د مجاهد د صف ډېریدلو لپاره د مجاهدینو سره ناسته ولاړه کوي . معلومه خبره ده چي د اول سړي خدمت د جهاد په صف کي ډېر دی تر دوهم سړي نو یې مرتبه هم لوړه ده .

د جهاد او مجاهد مصداق

موږ د جهاد لغوی معنی وکړه چي مشقت ته وایي . بعض خلک د دغه معنی څخه غلطه استفاده کوي نو هر هغه د خیر کار چي مشقت او تکلیف پکښې وي لکه: درس او تدریس، دعوت او تبلیغ، تصوف، وغیره دا ټول د جهاد په نامه ورسره ګډوي او د جهاد او مجاهد په حق کي چي کوم ایتونه یا حدیثونه راغلي دي هغه پر دغه ډلو تطبیقوي، آن چي

بعـض خو لا داسي څوک هم سته په نامه د علماؤ چي بالکل جهاد په خپله مصطلح او شرعي معنـي کي نـه مستـعملوي ، بلکه هر هغه کار چي تکليف او مشقت پکښې وي هغه جهاد بولي او د جهاد آيتونه او حديثونه پر تطبيقوي . چي دغه عمل بنفسه په دين محمدي کي يو قسم تحريف دی . موږ دا نه وايو چي درس و تدريس، دعوت او تبليغ، پيري او مريدي، ذکر او اذکار دا د دين څخه نه دي العياذ بالله من ذلک القول : بلکه موږ وايو چي دغه ټول د دين ښاخونه دي که چيري دغه اعمال په دين کې ختم سي بيا به دين هم کامل نسي پاته، البته دين محمدي يو داسي کامل مکمل دين دی چي د هر عبادت لپاره ځانته نوم پکښې سته، او د هر عبادت ځانته احکام يې بيان کړي دي په پوره وضاحت سره چي د دې ضرورت نسته پکښې چي ديوه عبادت نوم بل ته ورکول سي ، ديوه عبادت احکام او فضائل پر بل عبادت تطبيق سي مثلا : لمونځ يو عبادت دی په دين کي او پر هر عاقل، بالغ باندي په شوا روز کي پنځه وخته فرض دی شريعت يې پوره احکام تفصيل واره بيان کړي دي، د کوونکي لپاره يې آيتونه او حديثونه په انعاماتو ګواه دي، د پرېښودونکي لپاره يې بيا عذابونه سته . اوس که څوک د دغه عبادت د فضائلو آيتونه او حديثونه پر زکوه تطبيقوي چي د هغه لپاره ځانته فضائل او مسائل سته نو ستاسو په فکر دا به په دين کي تحريف نه وي يا مثلا لفظ د صلوة چي په لغت کي تحرک ته د صلوينو وايي په اصطلاح کي د شريعت دغه مخصوص عبادت ته ويل کيږي چي په هغه کي قيام، قرأة، رکوع ، سجده، تشهد وغيره وي نو که د دغه عبادت فضائل هر هغه کار ته ورکول سي چي په هغه کي تحرک د صلوينو وي دا به بې انصافي او د دين تحريف نه وي؟

دغه رنګه زکوة په لغت کي پاکي ته ويل کيږي، په اصطلاح کي

هغه مخصوص مالي عبادت دى چي د نما كوونكي مال څخه د كال پر سر د هغه مال يو معلومه حصه و مستحقينو مسكينانو ته وركول كيږي، نو اوس كه يو څوك د زكاة څخه لغوي معنى اخلي او هر هغه د خير كار چي په هغه كي صفايي وي لكه د جمعې د ورځي غسل يا د مړي غسل دغه ته زكاة وايـــي او د زكاة مصطلح غاړي په خلاصي بولي دا نو كه د دين تحريف نه دى نو څه دى؟

حتى چي شريعت محمديه على صاحبها الف صلوات معاملاتو ته هم دو مره وضاحت وركړى دى چي يوه معامله په بله نه خطا كيږي مثلا: د بيع ځانته احكام دي او د رهن (ګروي) ځان ته احكام دي . اوس كه متبايعين بيع وكړي يو كال بعد بيا بايع غواړي چي د رهن پر طريقه د مشتري څخه بيرته مبيع اخلي او هغه د پيسي چي يې يو كال چلولې دي كته يې په كړې ده هغه بيرته مشتري ته وركوي نو مشتري به داسي ورسره وكړي؟ خلك به ټول دغه بايع ته په ملامت نه ووايي؟ او . . . نو كه يو بنده د الله (جل جلاله) سره معامله كوي: درس كوي اجر د جهاد غواړي ذكر كوي اجر د جهاد غواړي نو دا به سراسر بې انصافي وي .نو لهذا موږ يو مدعي ايږدو چي جهاد يواځي او يواځي د الله (جل جلاله) په لار كي جنګ ته ويل كيږي د كفار سره په بله معنى كي كه استعمال سوى وي هغه مجاز دى . پر دغه مدعي تفصيل واره دلائل راوړو بتوفيق الله تعالى و عونه .

اللهم ارنا الحق حقًا و ارزقنا اتباعه وارنا الباطل باطلا وارزقنا اجتنابه .

دلائل

دلیل نمبر (۱)

﴿لا يَسْتَوِیَ الْقَاعِدُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ غَيْرُ أُوْلِیْ الضَّرَرِ وَالْمُجَاهِدُونَ فِیْ سَبِيْلِ اللّهِ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فَضَّلَ اللّهُ الْمُجَاهِدِيْنَ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ﴾

ترجمه: برابر نه دي هغه مسلمانان چي بلا عذره پر کور ناست دي ، او هغه کسان چي د الله (جل جلاله) په لاره کي په نفس او مال باندي جهاد کوي .

په دغه آیت کریمه کي الله (جل جلاله) د دوه قسمه خلکو بیان کړی دی : ۱ . قاعدین یعني ناست مسلمانان ۲ . مجاهدین . مجاهدین د ناستو خلکو په مقابله کي ذکر کول خپله د دې خبري دلیل دی چي د جهاد معنی د کافر په مقابل کي جنګېدل . ځکه په قاعدینو کي هغه ټول خلک شامل دي چي د دین په یو نه یو کار اخته وي خو د الله په لاره کي جنګ نه کوي . که درس والا ملایان دي، که د خانقاه والا صوفیان دي که کور پر کور ګرځېدلو والا تبلغیان دي .

دلیل نمبر (۲)

عن بشير ابن الخصاصية رضی الله تعالی عنه قال اتيت رسول الله ﷺ لا بايعه :فقلت: علام تبايعنی يا رسول الله فمد رسول الله ﷺ يده فقال تشهد ان لا اله الا الله وحده لا شريك له و ان محمدًا عبده و رسوله و تصلی الصلوات الخمس لوقتها و تؤدی الزكاة المفروضة و تصوم رمضان و تحج البيت و تجاهد فی سبيل الله فقلت : يا رسول الله كُلًّا اطبق الا اثنين فلا اطيقهما : الزكاة والله ما لی الا عشر ذو دهن رسل اهلی و حمولتهن و اما الجهاد : فانی رجل جبان و يزعمون من ولّی فقد باء بغضب من الله واخاف

ان احـضر القتال ان اخشع بنفسي فأفر فأبوء بغضب من الله فقبض رسول الله ﷺ يده ثم حـركها ثم قال يا بشير لا صدقه و لا جهاد فبما اذن تدخل الجنة قلـت يـا رسـول الله ابسط يـدك ابـايعك فبسط يده فبـايعت عليهن كلهن۔ (كنز العمال ج۲ ص۱۲)

ترجمه:

حـضرت بشير بن خـصاصيه رضى الله تعالى عنه فرمايي: چي زه د بيـعت كـولـو لپاره د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سوم، ورتـه و مي ويـل: اې د الله پيـغـمبره: تـه ما تـه پر كوم شي بيعت را كوې؟ نبي عليـه السلام خپل لاس را وغځاوی او ويې فرمايل: ته د دې خبري ګواهي ورکړه چي د الله (جل جلالـه) څـخـه سوا خدايان نسته، واحد و لاشريک ذات دی، حـضرت محمد ﷺ د الله بنده او رسول دی پنځه لمونځونه پر خپل وخت کـوه، فـرض زكـاة ادا كوه، د رمضان د مياشتي روژې نيسه، د بيت الله حج وكـړه، د الله (جـل جـلالـه) پـه لاره كـي جهاد كوه . ما ورتـه وويـل: اې د الله رسولـه: ټول كارونه كوم مګر دوه كار نه سم كولای: يو زكاة ځكه زه لس اوښـي او اوښـان لـرم چي د هغـه پـر شيدو زما د اهل ګزاره ده او هغه د دوی باروړونكي دي . دوهم جهاد: ولي چي زه بزدل يم او خلک وايي كوم څوک چي د ميدان جنګ څخـه مخ ګـرزوي هغـه د الله غـضب پورتـه كوي، زه بېرېږم كه چيري د دښمن سره جنګ سي زه وار خطا سم د ميدان جنګ څخه بـه وتښتم نو د الله (جل جلالـه) غـضب بـه راباندي وسي، نو نبي عليـه السلام لاس راڅخـه كـش كړی، و يې ښوراوی، اوويې فرمايل: اې بشيره چي نـه دي زكـاة ستـه، نـه جهـاد بيـا نو په څه باندي جنت ته داخليږې ؟ ما عـرض وكـړی يـا رسـول الله لاس را كـړه چي بيعت ورسره وكړم . نبي عليـه السلام لاس راكړی ما پر دغه ټول شيانو بيعت ورسره وكړی .

دلته صحابي مبارک ته رسول الله ﷺ د جهاد وويل، صحابي مبارک د جنگ معني ځني واخيستل او د ځان کمزوري يې په جنگ کي ورته بيان کړه نو معلومه سوه چي جهاد جنگ دی د کفار په مقابل کي کنه نو صحابي ولي جنگ ځني اخستی؟

صحابي مبارک په دغه معنی اخيستلو کي خطا هم نه دی، ځکه که خطا وای نو رسول الله ﷺ به خامخا ورته ويل چي جهاد جنگ نه دی بلکه هر هغه د دين کار چي تکليف او مشقت پکښې وي هغه جهاد دی .

دليل (۳)

په مدينه منوره کي چي به هر وخت د جهاد ږغ وسو صحابه کرامو به د جنگ تياري شروع کړل، توره، نيزه، زغره ، ډال، سورلی به يې برابره ول يوه صحابي هم داسي نه دي کړي چي د جهاد د ږغ پر وخت دي ده بستره په شاکړې وي او د مدينې منورې په کوڅو کي دي گرزي چي زه خلکو ته تبليغ کوم دا هم جهاد دی، زه درس کوم دا هم جهاد دی، زه ذکر او اذکار کوم دا هم جهاد دی .

دليل (۴)

محدثينو چي کوم بابونه د احاديثو په کتابو کي د جهاد ترعنوان لاندي ايښي دي په هغه بابونو کي يې يواځي د جنگ اړوند مباحثو احاديث راوړي دي . لکه: امارت، قضا ، شهادت او داسي نور . نو معلومه سوه چي د محدثينو په نيز هم جهاد يواځي دغه معلوم جنگ ته ويل کيږي چي د کافر سره جنگ دی .

دليل (۵)

فقهاؤ چي د جهاد کوم تعريف کړی دی د هغه څخه هم معلوميږي چي جهاد يواځي دغه د کافر په مقابله کي جنگ ته ويل کيږي لک: ملا علی

قاريؒ فرمايي:
و شرعاً بذل المجهود في قتال الكفار مباشرة، او معاونة بالمال او بالرأي او بتكثير السواد، او غير ذلک (مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج ۷ص۳۱۹)
ترجمه: خپل درکړل سوی وس ښندل په جنګ کي د کافر سره خپل نفس ښندل، معاونت کول د مجاهد سره په مال په ښکه مشوره، په ډېر ښت سره د لښکر د مجاهدينو او داسي نور.
علامه ابن حجرؒ فرمايي: بذل الجهد في قتال الكفار (فتح الباري شرح صحيح البخاري ج ٦ ص۴)
ترجمه: خپل ټول توان د کافر په قتل کي مصرف کول.
دليل: (٦)
حضرت عمرو بن عبسه رضی الله تعالی عنه فرمايي: د رسول الله ﷺ په حضور کي عرض وکړل سو چي جهاد څه شی دی؟ يا رسول الله.
رسول عليه السلام وفرمايل: ان تقاتل الكفار اذ لقيتم.
جهاد د کافر سره جنګ دی چي کله ورسره ملاقي سي. بيا چا پوښتنه وکړه: فای الجهاد افضل؟ تر ټولو ښه جهاد کوم جهاد دی؟ اې د الله پېغمبره. نبي عليه السلام وفرمايل: من عقر جواده و اهريق دمه (کنزالعمال ج ۱ ص۲۹)
چي په هغه کي د مجاهد د آس پښې پرې سي او د مجاهد خپله وينه پکښې توی سي.
چي رسول الله ﷺ خپله فيصله کړې ده چي جهاد د کافر سره جنګ دی بيا نو څوک د هغه فيصله ماتوي او جهاد په بله معني کي استعمالوي؟
والله اعلم و علمه اتم و احكم

د جهاد اهمیت

(۱) په دغه عمل سره د مسلمانانو او اسلام عزت ساتل کیږي .
(۲) د الله (جل جلاله) په مځکه کي د اوسېدلو ځای ورته پیدا کیږي .
(۳) د الله (جل جلاله) د رالیږلي قانون د تنفیذ موقع په لاس ورځي .

د جهاد فضائل

الله (جل جلاله) فرمايي :

(۱) ﴿فَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجَاهِدِيْنَ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ عَلَى الْقَاعِدِيْنَ دَرَجَةً وَكُلًّا وَعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنَى وَفَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجَاهِدِيْنَ عَلَى الْقَاعِدِيْنَ أَجراً عَظِيْماً۔ دَرَجَاتٍ مِّنْهُ وَمَغْفِرَةً وَرَحْمَةً وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوراً رَّحِيْما﴾

ترجمه:

الله تعالی په مال او سر سره جهاد کوونکو ته په کور کي د ناستو خلکو په نسبت ډېره غټه درجه ورکړې ده، که څه هم له ټولو خلکو سره يې د جنت وعده کړې ده خو الله (جل جلاله) مجاهدينو ته پر ناستو خلکو د لوی اجر په ذريعه فضيلت ورکړی دی د هغوی لپاره د الله (جل جلاله) له طرفه لوی لوی مرتبې دي بخښنه او رحمت دی، الله (جل جلاله) بخښونکی او مهربان دی .

(۲) (و روى البخارى وَمُسْلِمْ عَنْ أبى سَعيدِ الْخُدْرِيّ ، أَنَّ رَجُلاً أَتَى النَّبِيَّ ﷺ فَقَالَ : أَيُّ النَّاسِ أَفضَلُ؟ فَقَالَ : "رَجُلٌ يُجَاهِدُ فِى سَبِيلِ اللّٰهِ بِمَالِهِ وَ نَفْسِهِ" ، قَالَ : ثُمَّ مَنْ ؟ قَالَ : "مُؤْمِنٌ فِى شِعْبٍ مِنَ الشِّعَابِ يَعْبُدُ اللّٰهَ رَبَّهُ ، وَيَدَعُ النَّاسَ مِنْ شَرِّهِ")

بخاري او مسلم له ابو سعيد خدری رضی الله عنه نه روايت کوي چي يو سړی رسول الله ﷺ ته راغی او پوښتنه يې وکړه چي کوم خلک غوره

دي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه مؤمن چي د الله په لاره کي پخپل ځان او مال سره جهاد کوي. هغه وويل بيا څوک؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه سړی چي د غرونو په يوه ناوه (دره) کي ځانته اوسيږي او د خپل رب عبادت کوي او خلکو ته شر نه رسوي.

(۳) امام نووي رحمه الله وايي چي په حديث کي خاصتاً په دره اعتزال مراد نه دی بلکي مطلق گوښه والی مراد دی اگر که پخپل کور کي وي، او په حديث کي يي د درې يادون ځکه وکړه چي دا غالباً له خلکو نه خالي وي.

رسول الله ﷺ په صراحت سره ويلي دي چي جهاد له گوښه نشيني څخه غوره دی او په دې باندي د الله تعالی دا قول دلالت کوي:

(۴) ﴿لَا يَسْتَوِي الْقَاعِدُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ وَالْمُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ﴾

بې له عذره ناست مومنان له هغو مجاهدينو سره برابر نه دي چي د الله په لار کي پخپلو مالونو او ځانونو سره جهاد کوي.

(۵) الله تعالی ته جهاد له ټولو نه محبوب عمل دی:

(روی الترمذی والبيهقی والحاکم عن عبدالله بن سلام رضی الله عنه قال: قعدنا نفر من أصحاب رسول الله ﷺ فقلنا: لو نعلم أی الاعمال أحب إلی الله عملناه. فأنزل الله عزوجل: سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ. يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ. كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللَّهِ أَنْ تَقُولُوا مَا لَا تَفْعَلُونَ. إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِهِ صَفًّا كَأَنَّهُمْ بُنْيَانٌ مَرْصُوصٌ

فقرأها علينا رسول الله ﷺ.

ترمذي، بيهقي او حاکم له عبدالله بن سلام رضی الله عنه نه روايت کوي چي هغه وويل: موږ د رسول الله ﷺ څو صحابه په يو ځای کي

نـاست وو، موږ وويل: كه چيري موږ پوه سو چي كوم يوعمل الله تعالى ته محبوب دى نو هم هغه به وكړو، نو الله تعالى دغه آيت شريف نازل كړ .

تـرجـمـه: د اسمانونو او زمكي ټول څيزونه د يو الله پاكي بيان كړې ده او هـغـه پـه هـر څـه بـرلاسـي او د حـكـمت څښتـن دى . اې مؤمنانو! هغه څه ولي وايې چي نه يې كوې، د الله په نيز ډېره لويه ګناه ده چي هغه څه ووايې چي كوې يې نه . ځكه الله تعالى يوازي هغه خلك خوښوي چي په لاره كي يـې د تـړلـي صف پـه شـكـل جنګ كوي لكه چي دوى كلك كړاى سوى دېوال وي .

له نازلېدو وروسته رسول الله ﷺ دغه آيت موږ ته ووايه:

(٦) وَفِـيْ رِوَايتِه أُخْرٰى لِلْبَيْهقِيِّ عَنْ عَبْدِ اللّٰه بْنِ سَلَامٍ رَّضِيَ اللّٰه عَنْهُ : أَنَّ نَاسًا مِّنْ اَصْحَابِ رَسُوْلِ اللّٰه ، قَالُـوْا : لَوْ أَرْسَلْنَا اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰه ﷺ رَسُوْلًا يَسْأَلُهُ عَنْ اَحَبِّ الْاَعْمَالِ اِلٰى اللّٰه! فَلَمْ يَذْهَبْ اِلَيْهِ أَحَدٌ مِّنَّا ، ووَهِبْنَا أَنْ نَّسْأَلَهُ عَنْ ذٰلِك ـ فَدَعَا رَسُوْلُ اللّٰه ﷺ أُولٰئِكَ النَّفَرَ ، رَجُلًا رَجُلًا ، حَتّٰى يَجْمَعَهُمْ ، وَ نَزَلَتْ فِيْهِمْ هٰذِهِ السُّوْرَةُ (سبح لله ـ ـ ـ) قَالَ اِبْنُ سَلَامٍ فَقَرَأَها عَلَيْنَا رَسُوْلُ اللّٰه ﷺ كُلَّهَا ـ

او بيـهـقـي له عبد الله بن سلام نه يو بل روايت داسي نقل كړى دى چي: د رسـول الله ﷺ لـه اصـحـابو نه څو تنو ويل كه موږ رسول الله ﷺ ته خپـل يـو استـازى لېږلى واى چي له هغه ﷺ نه ئې د هغو اعمالو پوښتنه كړې واى چي د الله ډېر خوښ دي، لـه مـوږ نـه هيـڅوک د هغـه ﷺ خو اتـه ور نـغـلـى، او مـوږ دا غـوښتـل چي پـه دې بـاره كي لـه هغـه ﷺ نـه پـوښتـنـه وكړو .

بيـا رسـول الله ﷺ دغـه كسـان يـو يـو را وغـوښتـل تر دې چي ټول يې سره را جمع كړل او د هغوى په باره كي (سبح لله . . .) نازل سو .

ابن سلام وايي چي رسول الله ﷺ دا ټول بيا موږ ته تلاوت کړی .

(۷) له جهاد سره هيڅ شی نسي برابرېدلی:

(روی مسلم عن أبی هريره رضی الله عنه قال : يا رسول الله! مَا يَعْدِلُ الْجِهَادَ فِی سَبِيلِ اللّٰهِ عَزَّوَجَلَّ؟ قال : " لَا تَسْتَطِيعُونَهُ " ، قال : فَأَعَادُوا عَلَيْهِ مَرَّتَيْنِ ، أَوْ ثَلَاثًا كُلُّ ذٰلِكَ يَقُولُ : " لَا تَسْتَطِيعُونَهُ " ، قَالَ فِی الثَّالِثَةِ : "مَثَلُ الْمُجَاهِدِ فِی سَبِيلِ اللّٰهِ كَمَثَلِ الصَّائِمِ الْقَائِمِ الْقَانِتِ بِآيَاتِ اللّٰهِ ، لَا يَفْتُرُ مِنْ صِيَامٍ وَ لَا صَلَاةٍ حَتّٰى يَرْجِعَ الْمُجَاهِدُ فِی سَبِيلِ اللّٰهِ"

له ابو هريره رضی الله عنه نه روايت دی چي ما رسول الله ﷺ ته وويل : اې د الله رسوله ! له فی سبيل الله جهاد سره څه سی برابرېدلی شي؟ هغه ﷺ وفرمايل : تاسي د هغه توان نلرئ .

دوه درې کرته مو دا پوښتنه تکرار کړه، خو هر يو ځل يې همدا ويل چي طاقت يې نه لرئ ؟ بيا يې وفرمايل : د الله په لاره کي د مجاهد مثال د هغه روژه دار ، او لمونځ گذار په شان دی چي مسلسل ولاړ د الله (جل جلاله) د آيتونو تلاوت کوي تر هغه پوري له روژو ستړی کيږي نه له لمونځو ، چي د الله د لاري مجاهد بيرته راسي .

(۸) (قَالَ : جَاءَ رَجُلٌ إِلَی رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ ، فَقَالَ : دُلَّنِی عَلَی عَمَلٍ يَعْدِلُ الْجِهَادَ ؟ قَالَ : "لَا أَجِدُهُ " قَالَ : " هَلْ تَسْتَطِيعُ إِذَا خَرَجَ الْمُجَاهِدُ أَنْ تَدْخُلَ مَسْجِدَكَ فَتَقُومَ وَلَا تَفْتُرَ ، وَتَصُومَ وَلَا تُفْطِرَ ؟ " قَالَ الرَّجُلُ : وَمَنْ يَسْتَطِيعُ ذٰلِكَ؟

بخاري له ابو هريره رضی الله عنه څخه روايت کړی دی چي يو سړي وويل : اې د الله رسوله ! ما ته داسي يو کار وښايه چي له جهاد سره برابر وي . رسول الله ﷺ وفرمايل : زه داسي کار نه وينم چي له جهاد سره برابر وي . بيا يې وفرمايل : آيا ته د دې وس لرې چي کله مجاهد جهاد ته ولاړ

سي لـه هـمـغـه وخت نـه خپل مسجد ته ننوځي او مسلسل په لمونځ ودريږي او ستړی نسي . او روژې ونيسي مګر ماتې يې نکړي ؟ سړي ورته وويل يا رسول الله ! د دې طاقت او توان څوک لرلی سي .

د اصحابو په شان خلکو ددې طاقت او توان نه درلود چې داسې يو عمل تر سره کړي چې له جهاد سره برابر ثواب ولري . ددې سره سره چې اصحابان د لوی همت او د پاکو نفسونو خاوندان وو ، له ديني شهامت نه ډک وو ، لـه رسول الله ﷺ سره يې د صحبت په وجه اجرونه دو چند وو په هرې نېکۍ کې به يې مسابقه کوله خاصتاً په جهاد کې يې او چتو مرتبو ته ځانونه رسولي وو ، کـه هغوی لـه جهاد سره برابر کوم عمل نه دی موندلی نو زموږ غوندي خلکو زړونه به څنګه په لږ غونديعملونو سره سکون تر لاسه کړي او څنګه به له زيار ايستلو پرته زموږ ستر کې يخې سي سره له دې چې زموږ په عملونو کي ريا زياته او اخلاص په کي کم دی . او په زړونو کي مو ډول ډول سوچونه او دسيسې پرتې دي؟

اې الله ازموږ زړونه لـه دغه غفلت نه بيدار کړه . او د جهاد توفيق را په نصيب کړه . ځکـه د هـر خير غوښتنه يواځي لـه تا څخه کيږي . او د ګناهونو د پرهېزولو او نېکيو د کولو توفيق ورکوونکی يواځي ته يې .

(۹) (وَخَرَّجَ اِبْنُ عَسَاكِرٍ عَنْ اَبِى الْغَادِيَةِ الْمَزَنِيّ قَالَ: سَمِعْتُ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّان رَضِىَ اللّٰه عَنْهُ وَهُوَ يَخْطُبُ عَلَى الْمِنبَرِ وَيَقُوْلُ : يَا اَهلَ الْمَدِيْنَةِ ! أَلا تَأخُذُوْنَ بِحَظلِكُمْ وَ نَصِيبِكُمْ مِّنَ الْجِهَادِ فِى سَبِيلِ اللّٰهِ ؟ أَلَا تَرَوْنَ اِخْوَانَكُمْ مِّنَ اَهْلِ الشَامِ ، وَ اِخْوَانِكُمْ مِّنْ اَهْلِ مِصْرَ وَ اِخْوَانِكُمْ مِّنْ اَهِلِ الْعِرَاقِ ، وَوَاللّٰهِ لَيَوْمُ يَعْمَلُهُ اَحَدُكُمْ وَهُوَ يُجَاهِدُ فِى سَبِيلِ اللّٰهِ خَيْرٌ مِّنْ أَلفِ يَوْمِ يَعْمَلُهُ فِى بَيْتِهِ صَائِمًا لا يُفْطِرُ ، وَ قَائِماً لَا يَفْتُرُ---)

ابن عساکر لـه ابو غاديه مزني څخه روايت کوي هغه وايي چې : له

عثمان بن عفان رضی الله عنه څخه مي واورېدل، هغه په منبر باندي خطبه کي ویل: اې د مدینې خلکو! آیا جهاد فی سبیل الله کي خپل حصه او برخه نه اخلئ آیا تاسي د شام او د عراق او مصر او سپدونکو ورونو ته نه کورئ؟

په الله قسم! له تاسو نه چي څوک د الله په لاره کي یوه ورځ جهاد کوي له هغو زرو ورځو نه بهتر دی چي پخپل کور کي پر له پسي روژې نیسي او نه یې ماتوي او مسلسل په لمانځه ولاړ وي او نه ستړی کیږي .

(۱۰) و باسناد الحاکم عن النبی ﷺ قال الا انبئکم بلیلة افضل من لیلة القدر حارس حرس فی ارض خوف لعله ان لا یرجع الی اهله .

او حاکم په خپل اسناد د رسول الله ﷺ څخه حدیث نقل کړی دی چي نبي علیه السلام صحابه کرامو ته وویل چي زه تاسو ته خبر در نه کړم په هغه شپه باندي چي تر لیلة القدر افضله وي؟ د هغه پیره دار شپه ده چي د بیري په علاقه کي پرپیره ولاړ وي، دا وهم لري چي امکان لري چي کور ته ولاړ نه سم (شهید سم)

(۱۱) و باسناد الحاکم عن رسول الله ﷺ قال لمبارزة علی ابن ابی طالب لعمرو بن عبدود یوم الخندق افضل من اعمال امتی الی یوم القیامة .

او حاکم پخپل اسناد سره د رسول الله ﷺ څخه حدیث نقل کوي چي علیه السلام وفرمایل: ضرور هغه مبارزه چي علی رضی الله عنه د عمرو بن عبدود سره وکړه د خندق په ورځ هغه بهتره ده زما د امت تر اعمالو چي تر قیامته یې کوي .

(۱۲) و باسناد الحاکم عن رسول الله ﷺ قال السیوف مفاتیح الجنة .

او حاکم په خپل سند سره له رسول الله ﷺ څخه روایت کوي چي نبی علیه السلام وفرمایل: توري د جنت کیلي دي .

دغه رنګه لاندي فضائل هم د جهاد دي:

(۱۳) د الله تعالی په لار کي د شهادت لویه مرتبه حاصلول .

(۱۴) دانبیاء علیهم السلام صدیقین او نېکو خلکو سره په جنت کي یو ځای اوسېدل .

(۱۵) د الله تعالی له لوري لوی اجرونه په برخه کېدل ، ځکه مجاهد د الله د رضا لپاره خپل ځان او مال قربانوي .

(۱٦) د الله تعالی رحمت حاصلول .

(۱۷) د مجاهد حرکت له کور نه تر شهادت پوري نېک عمل ګڼل کیږي .

(۱۸) جنت ته د نو تلو لامل کېدل .

(۱۹) پر نفلي عباداتو يې فضیلت .

(۲۰) له عذاب څخه د ساتني سبب کېدل .

(۲۱) د حقیقي ایمان او د الله تعالی د مغفرت یو له لویو اسبابو څخه کېدل .

په جهاد کي د فتحي لاملونه

د جهاد په ډګر کي د نصرت عوامل ډېر زیات دي ، له هغو څخه يې ځیني هم دا دي:

لومړی ایمان او تقویٰ .

ایمان پر دښمن باندي د برلاسی لپاره یو مهم لامل دی .د ایمان په هکله الله تعالی فرمایي:

﴿إِنَّ اللَّهَ يُدَافِعُ عَنِ الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ خَوَّانٍ كَفُورٍ﴾ (سورة الحج : ۳۸)

بېشکه، الله له هغو کسانو څخه دفاع کوي چې ایمان یې راوړی دی، دا یقیني ده چې الله هیڅ یو خائن د نعمت منکر نه خوښوي.

بل ځای فرمایي:

﴿إِنَّا لَنَنصُرُ رُسُلَنَا وَالَّذِينَ آمَنُوا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ يَقُومُ الْأَشْهَادُ﴾ (غافر:۵۱)

باور ولرئ چې موږ د خپلو پیغمبرانو او مؤمنانو مرسته هرومرو ددې دنیا په ژوندکې هم کوو او په هغه ورځ به یې هم وکړو چې کله شاهدان ولاړ وي.

بل ځای فرمایي:

﴿وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ رُسُلاً إِلَى قَوْمِهِمْ فَجَاؤُوهُم بِالْبَيِّنَاتِ فَانتَقَمْنَا مِنَ الَّذِينَ أَجْرَمُوا وَكَانَ حَقّاً عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِينَ﴾ (سورة الروم:۴۷)

او موږ ستا څخه مخکې پیغمبران د هغو قوم ته ولېږل او هغوی له روښانه نښانو سره ورته راغلل، بیا چې چا جرم وکړ، له هغو څخه موږ واخیست اپر موږ داحق وو چې د مؤمنانو سره مرسته وکړو.

بل ځای فرمایي:

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُم فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْناً يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئاً وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَلِكَ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾ (سورة النور:۵۵)

الله ستاسو د هغو کسانو سره چې ایمان راوړي او ښه عملونه وکړي، وعده کړې ده چې هغوی په ځمکه کې هماغه شان خلیفه کان وګرځوي لکه چې له هغو څخه مخکې تېر سوي خلک یې ګرځولي ول. د هغو لپاره به هغه دین پر محکمو بنستونو ودروي چې الله تعالی ورته خوښ کړي

دي . او د هغو د ويري (اوسني) حالت به په امن ورته بدل کړي . هغوی دي زما بندگي کوي او زما سره دي کوم شی نه شريکوي . او څوک چې له دې وروسته کفر غوره کړي، نو همداسي کسان فاسقان دي .

د تقوىٰ په اړه فرمايي:

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ قَاتِلُواْ الَّذِينَ يَلُونَكُم مِّنَ الْكُفَّارِ وَلْيَجِدُواْ فِيكُمْ غِلْظَةً وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ ﴾ (سورة التوبة:۱۲۳)

اې مؤمنانو! دحق له هغو منکرانو سره وجنگېږئ چې تاسي ته نژدې دي، او بايد هغوی په تاسي کي کلکوالی (زيړوالی) پيدا کړي، او وپوهيږئ چې الله د پرهيزگارانو ملگری دی .

بل ځای فرمايي:

﴿ تِلْكَ الدَّارُ الْآخِرَةُ نَجْعَلُهَا لِلَّذِينَ لَا يُرِيدُونَ عُلُوّاً فِي الْأَرْضِ وَلَا فَسَاداً وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ ﴾ (سورة القصص:۸۳)

د اخرت هغه کور خو به د هغو خلکو لپاره ځانگړی کړو، چې په ځمکه کي خپله لويي نه غواړي او نه د فساد کولو اراده لري، او نېک عاقبت يوازي د پرهېزگارانو لپاره دی .

بل ځای فرمايي:

﴿ وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مَخْرَجاً ﴾ (سورة الطلاق:۲)

څوک چې د الله څخه په وېرېدو کار وکړي، الله به د هغه لپاره له ستونزو څخه د وتلو کومه لاره پيدا کړي .

يو بل ځای فرمايي:

﴿ وَإِن تَصْبِرُواْ وَتَتَّقُواْ لاَ يَضُرُّكُمْ كَيْدُهُمْ شَيْئاً إِنَّ اللّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ ﴾ (سورة آل عمران:۱۲۰)

دهغوی هيڅ دسيسه ستاسي پر خلاف اغېزمنه کېدای نسي، په دې

شرط چي تاسي له صبر څخه کار واخلئ او له الله څخه د وېرېدو سره عمل وکړئ . دوی چي هر څه کوي د الله د علم په چاپېریال کي دي .

دوهم تیاري نیول:

(۱) وسله تیارول (۲) اړین مال له ځان سره ساتل (۳) نېک لښکر تیارول، او ددې درې واړو الله تعالی پهخپل دې قول کي حکم کړی دی . ﴿وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ وَمِن رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدْوَّ اللّهِ وَعَدُوَّكُمْ وَآخَرِينَ مِن دُونِهِمْ لاَ تَعْلَمُونَهُمُ اللّهُ يَعْلَمُهُمْ وَمَا تُنفِقُواْ مِن شَيْءٍ فِي سَبِيلِ اللّهِ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنتُمْ لاَ تُظْلَمُونَ﴾ (سورة الانفال :۶۰) او تاسي تر خپل وس پوري طاقت او اسونه، د هغوی د مقابلي لپاره برابر کړئ . تر څو چي په دې وسیله د الله پر دښمنانو، پر خپلو دښمنانو او پر هغو نورو دښمنانو هیبت راولئ، چي تاسي یې نه پېژنئ خو الله یې پېژني، د الله په لاره کي چي تاسي هر څه ولګوئ ، د هغو پوره بشپړ مکافات به ستاسي لوري ته راوګرځول سي . او ساتسي سره به هیڅ کله ظلم و نه سي .

دریم ثابت قدمه او سپدل:

څلورم د الله ذکر کول :

پنځم د الله او د هغه د رسول اطاعت کول:

شپږم له خپل منځي جنګ څخه ځان ساتل:

اوم صبر کول:

د پنځه واړه الله تعالی په دې قول کي فرمایلي دي:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِذَا لَقِيتُمْ فِئَةً فَاثْبُتُواْ وَاذْكُرُواْ اللّهَ كَثِيراً لَّعَلَّكُمْ تُفْلَحُونَ﴾ (سورة الانفال : ۴۵)

اې مؤمنانو ! کله چي له کومي ډلي سره ستاسي مقابله وي، نو کلک ولاړ اوسئ او الله ډېر یادوئ . هیله ده چي تاسي ته به بری در په برخه شي .

بل ځای فرمايي:

﴿وَأَطِيعُواْ اللّهَ وَرَسُولَهُ وَلاَ تَنَازَعُواْ فَتَفْشَلُواْ وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ وَاصْبِرُواْ إِنَّ اللّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ﴾ (سورة الانفال:۴۶)

او د الله او د هغه د پيغمبر امر منونکي اوسئ، او په خپلو منځو کي شخړه مه کوئ، که نه نو په تاسي کي به کمزوري پيداس ي، برم (د مقاومت توان) به مو ولاړ سي . له زغم څخه کار واخلئ، په يقيني توکه الله د صابرانو ملکرى دى .

اتم اخلاص:

اخلاص دا مطلب چي جهاد به يې د قوم، توکم او ښودني لپاره نه وي، الله تعالى فرمايي:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن تَنصُرُوا اللَّهَ يَنصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ﴾ (سورة محمد: ۷)

اې مومنانو كه تاسي د الله (د دين) سره مرسته وكړئ، نو هغه به ستاسي سره مرسته وكړي او ستاسي قدمونه به كلك كړي .

بل ځای فرمايي:

﴿وَلَيَنصُرَنَّ اللَّهُ مَن يَنصُرُهُ إِنَّ اللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ﴾ (سورة الحج: ۴۰)

الله به هرو مرو له هغو کسانو سره مرسته وکړي، چي د هغه مرسته وکړي . الله ډېر زورور او برلاسى دى .

نهم له فاسد او ضعيف عنصرو څخه د لښکر پاکول:

الله تعالى فرمايي:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَتَّخِذُواْ بِطَانَةً مِّن دُونِكُمْ لاَ يَأْلُونَكُمْ خَبَالاً وَدُّواْ مَا عَنِتُّمْ قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَاء مِنْ أَفْوَاهِهِمْ وَمَا تُخْفِي صُدُورُهُمْ أَكْبَرُ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ الآيَاتِ إِن كُنتُمْ تَعْقِلُونَ﴾ (آل عمران: ۱۱۸)

اې مـؤمـنـانـو ! د خپـلـې ټولنې له وګړيو څخه پرته له نورو سره خپل رازونـه مـه وایاست . هغوی ستاسې د ورکولو د هيڅ يو فرصت څخه ګټه اخيستـل لـه لاسـه نه ورکوي . او تاسې ته چې په هر څه زيان اوړي، د هغو خـوښيـږي . د هغـو د زړه دښـمـنـي يې له خولې څخه راووځي، او څه چې هغـوی په خپلو سينو کې پټ ساتلي دي، هغه له دې څخه زيات دي . موږ تـاسـو تـه پـه ډاګـه څـرګنده لارښوونې کړې دي، که تاسې پوهه لرئ (نو له هغو سره به په ارتباط ساتنه کې له پاملرنې څخه کار واخلئ) .

بل ځای فرمايي:

﴿لَـوْ خَـرَجُـواْ فِيْكُم مَّا زَادُوكُمْ إِلاَّ خَبَالاً ولأَوْضَعُواْ خِلاَلَكُمْ يَبْغُونَكُمُ الْفِتْنَةَ وَفِيْكُمْ سَمَّاعُونَ لَهُمْ وَاللّهُ عَلِيْمٌ بِالظَّالِمِيْنَ﴾ (سورة التوبة: ۴۷)

کـه هـغـوی ستـاسـو سـره وتـلـي وای نو په تاسې کې به يې له تخريب څـخـه پـرتـه نـور څـه نـه وای زيات کـړي . هـغـوی به ستاسې په منځ کې د فتنې اچولو لپاره منډې ترړې کړې وای . او ستـاسې د ډلې حالت دا دی چې تـر اوسـه پـوري پـکښـې ډېـر داسـې خـلـک شـتـه چې د هغو خبرې (ستـاسې د ضرر لپاره) اوري . الله دا ظالمان ښه پېژني .

لسم پر الله باندې توکل کول:

مـجـاهـديـن چـې کـله پوره تيارۍ ونـيـسـي، او د نصرت عوامل له ځانه سره ولـري، نـو پـه کـار ده چـې د مـادي وسـائـلـو پر ځای پر الله (جل جلالـه) توکل وکړي .

الله تعالی فرمايي:

﴿إِن يَـنصُرْكُمُ اللّهُ فَلاَ غَالِبَ لَكُمْ وَإِن يَخْذُلْكُمْ فَمَن ذَا الَّذِيْ يَنصُرُكُم مِّن بَعْدِهِ وَعَلَى اللّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ﴾ (سورة آل عمران :۱۶۰)

کـه الله مـو مـرسـتـنـدوی وي، نـو هيـڅ قـوت درباندې برلاسی کېدای نه

سي، او که هغه تاسي پرېږدي، نو بيا د الله وروسته څوک ستاسي مرسته کوونکی کېدای سي ؟ نو څوک چي رښتيني مؤمنان دي، هغوی دي يوازي پر الله توکل وکړي .

يو بل ځای فرمايي: ﴿وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ فَهُوَ حَسْبُهُ إِنَّ اللّٰهَ بَالِغُ أَمْرِهِ قَدْ جَعَلَ اللّٰهُ لِكُلِّ شَيْءٍ قَدْراً﴾ (سورة الطلاق:۳)

څوک چي پر الله توکل وکړي، د هغه لپاره کافي دی . الله د خپل کار پوره کوونکی دی . په يقيني توگه، الله د هر شي لپاره يوه اندازه ټاکلې ده .

يوولسم دعا کول:

دعا هم د نصرت له اسبابو څخه يو مهم سبب دی، د طالوت قوم په حق کي الله تعالی فرمايي:

﴿وَلَمَّا بَرَزُواْ لِجَالُوتَ وَجُنُودِهِ قَالُواْ رَبَّنَا أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْراً وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وَانصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ﴾ (سورة البقرة:۲۵۰)

او کله چي هغوی د جالوت او د هغه د لښکرو مقابلې ته ووتل، نو يې دعا وکړه، ''اې زموږ ربه! موږ ته صبر راکړه، زموږ قدمونه ټينګ کړه او په دې کافره ډله موږ برلاسي کړه .

يو بل ځای فرمايي:

﴿وَكَأَيِّن مِّن نَّبِيٍّ قَاتَلَ مَعَهُ رِبِّيُّونَ كَثِيرٌ فَمَا وَهَنُواْ لِمَا أَصَابَهُمْ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ وَمَا ضَعُفُواْ وَمَا اسْتَكَانُواْ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الصَّابِرِينَ﴾ (سورة آل عمران :۱۴۶)

له دې څخه مخکي ډېر پېغمبران داسي تېر شوي دي چي د هغو په ملګرتيا کي ډېر خدای پالونکي وجنګېدل، د خدای په لار کي چي کوم غمونه پر هغو راغلل، هغوی په زړه ماتي نه سول، هغوی کمزوري ښکاره نه کړه، هغوی (د باطل په وړاندي) سر ټيټي نه سول . الله همداسي زغمونکي (صبر کوونکي) خوښوي .

بل ځای فرمايي:

﴿وَمَا كَانَ قَوْلَهُمْ إِلَّا أَن قَالُواْ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَإِسْرَافَنَا فِىٓ أَمْرِنَا وَثَبِّتْ أَقْدَامَنَا وانصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ﴾ (سورة آل عمران:۱۴۷)

د هغو دعا صرف دا وه "اې زمونږ پروردګاره! زمونږ خطاوي او ګناهوي او زمونږ په کار کي زمونږ تېرى را وبخښه، زمونږ قدمونه محکم کړه او پر کافرانو زمونږ د برلاسي لپاره را سره مرسته وکړه.

دوولسم توبه او استغفار:

توبه هم له مهمو اسبابو څخه ده، همدا لامل دی، چي الله تعالی به خپلو استازو ته په غزا کي له کېدون وړاندي د استغفار سپارښتنه کوله، لکه څرنګه چي دا خبره په مخکيني آيت کي ياده شوه.

الله تعالی فرمايي:

﴿وَمَا أَصَابَكُم مِّن مُّصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُو عَن كَثِيرٍ﴾ (سورة الشورىٰ:۳۰)

پر تاسي چي هر مصيبت راغلی دی، ستاسي د خپلو لاسونو له عملونو څخه راغلی دی، او له ډېرو ګناهونو څخه (الله) همداسي عفو کوي.

ديارلسم مؤمنان جهاد ته هڅول:

دا کار هم له دوو لارو کېدای سي (۱) ښه او مؤثر وعظ او بيان کول (۲) حماسي ترانې ويل.

الله تعالی فرمايي:

﴿يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ حَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى الْقِتَالِ﴾ (سورة الانفال: ۶۵)

اې پېغمبره! مؤمنان (د کفارو په مقابل کي) جنګ ته وهڅوه.

څوارلسم د خپل ځان ساتنه کول او تل بيداره اوسېدل:

﴿يَـا أَيُّهَـا الَّـذِيْـنَ آمَـنُـواْ خُـذُواْ حِـذْرَكُمْ فَـانفِرُواْ ثُبَـاتٍ أَوِ انفِرُواْ جَمِيْعاً﴾ (سورة النساء: ۷۱)

اې مؤمنانو! هر وخت د مقابلې لپاره چمتو اوسئ، بيا چې څنګه وخت پيدا کړئ د بېلا بيلو ټولګيو په توګه (مقابلې ته) ووځئ يا يو موټى ووځئ.

پنځلسم: خپل نظم برقراره ساتل:

الله تعالى فرمايي:

﴿إِنَّ اللَّـهَ يُحِبُّ الَّذِيْـنَ يُقَاتِلُونَ فِيْ سَبِيْلِهِ صَفّاً كَأَنَّهُم بُنيَانٌ مَّرْصُوصٌ﴾ (سورة الصف:۴)

د الله خو هغه خلک خوښ دي چې د هغه په لار کې په داسې شان صف تړلي جنګيږي چې ګواکې هغوى يو محکم کړى شوى دېوال دى.

شپاړلسم خپلو ملګرو ته د ډاډ روحيه او مورال ورکول:

هغه داسې چې د دنيا او اخرت کاميابې زموږ لپاره ده.

الله تعالى فرمايي:

﴿وَلَا تَهِنُوا وَلَا تَحْـزَنُـوا وَأَنتُمُ الْأَعْـلَـوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِيْنَ﴾ (سورة آل عمران: ۱۳۹)

بې زړه کيږئ مه، اندېښمن کيږئ مه، هم دا تاسې برلاسي ياست، که تاسې مؤمنان اوسئ.

همدغه د نصرت او الهي مرستي ځيني لاملونه وو له کومو چې الله تعالى په خپل سپېڅلي کتاب کې يادونه کړې ده. والله المستعان

د مجاهد او جهاد اهداف او مقاصد

مجاهد بايد خپل جهاد د لاندې اغراضو لپاره وکړي تر څو يې جهاد په

دنیا او اخرت کي نتیجه ولري که خدا ناکرده د مجاهد جهاد د دنیاوي ګټو لپاره وي بیا به په دنیا او اخرت کي شرمینده، ذلیل، رسوا وي لکه د روس د وخت بعض نام نهاد، دنیا پرست، شهوت پرست، د جاه او جلال وږي، قدرت طلبه، په نامه د مجاهدینو، خو په حقیقت کي مفاد پرسته چي نن د امریکا تر سیوري لاندي د اشغال په لمن کي پراته دي، پرون یې د اتلس جمهوریته شوروي په مقابل کي جهاد فرض عین، تارک یې ګنهکار، منکر یې کافر باله، خو نن د نهه دېرش ملکه کفارو په مقابل کي چي څوک د جهاد نوم یادوي هغه په قسم قسم نومونو یې یادوي، د جهاد په مخ کي یې خنډ واقع کیږي، ځان کهکافري امریکا تر چتر لاندي اوس هم مؤمن، مجاهد، مسلمان، افغان او . . . . معرفي کوي الله (جل جلاله) دي موږ د داسي شرمندګي څخه وساتي .

غرض (۱)

چي د مځکي د سر څخه فتنه ختمه سي او یواځي د الله (جل جلاله) دین پر مځکه حاکم سي ، نور ټول قوانین د مځکي د سر څخه ختم سي .

الله (جل جلاله) فرمایي:

﴿وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّه ﴾ (سورة الانفال: ۳۹)

ترجمه: تر هغه وخته د دې کفارو سره جنګ وکړئ چي فتنه ختمیږي، او ټول دین یواځي د الله (جل جلاله) لپاره سي .

غرض (۲)

باید د مجاهد هدف دا وي چي خلک د الله (جل جلاله) وحدانیت او د رسول الله ﷺ سنت ته قائل کړي .

غرض (۳)

چي عبادت د ځمکي پر سر يواځي اويواځي د الله (جل جلاله) وسي .

غرض (۴)

چي متابعة يواځي د رسول الله ﷺ وسي .

غرض (۵)

چي اسلامي امارت او خلافت د ځمکي پر سر قائم سي .

غرض (٦)

چي ترويج د خالص اسلامي علومو په دنيا کي راسي .

غرض (۷)

چي خلکو ته د نېکي امر وکړل سي او د بدي څخه منع کړل سي .

غرض (۸)

چي د دين يا وطن په نامه اغراض ذاتيه، قوميه، لساني، منطقويه ختم کړل سي .

غرض (۹)

د عوامو مسلمانانو خالص اسلامي تربيه .

غرض (۱۰)

نيت په ټولو امورو کي يواځي د الله (جل جلاله) لپاره کول .

غرض (۱۱)

چي اعلاء د کلمة الله راسي .

غرض (۱۲)

خلک د شرک څخه راوګرزي .

غرض (۱۳)

چي خلک د ګناه څخه راوګرزي . (تفسير المظهري ج۴/ ص ۱۴۴)

غرض (۱۴)

له كفري اشغال، شر او دښمنۍ څخه د اسلامي هيوادونو ساتنه .

غرض (۱۵)

د هغو تحديدونو مخه نيول كوم چي مسلمانانو يا اسلامي هيوادونو ته متوجه دي .

غرض (۱٦)

د كفارو په نسبت د مسلمانانو سر لوړي .

غرض ۱۷)

له خپل هيواد، ځان، مال او عزت څخه ساتنه كول .

غرض (۱۸)

د سركښو او تجاوز كوونكو اصلاح كول .

غرض (۱۹)

له دسيسو او فتنو څخه د مسلمانانو ساتنه .

غرض (۲۰)

د اسلام پلي كول ځكه د عدل، رحمت او عزت دين دى .

☆ ☆ ☆

د خليفه (امام) معلومول

خليفه، امام، امير المؤمنين دا ټول داسي الفاظ دي چي تقريباً سره مترادف او هم معنى دي . البته دومره فرق يې سته چي خليفه اول وضع سوى او استعمال سوى دى، خو امام وروسته استعمال سوى دى چي تقريباً اوس زموږ په محاوره كي د امام استعمال مشهور دى ، دغه رنګه امير المؤمنين . رسول الله ﷺ او دغه رنګه د وخت هر پېغمبر په خپله زمانه كي د الله (جل جلاله) خليفه وو .

و اذ قال ربک للملآئيکة انی جاعل فی الارض خليفة (الاية)

ترجمه: هغه وخت در ياد کړه چي ستا رب ملائکو ته وويل، زه په مځکه کي خليفه (حضرت ادم عليه السلام) پيدا کوونکی يم.

يا داوٗد انا جعلناک خليفة فی الارض (الاية)

ترجمه: اې داوده موږ تا په مځکه کي خليفه جوړه وو.

قال انی جاعلک للناس اماماً. (ألاية)

ترجمه: الله (جل جلاله) ابراهيم عليه السلام ته وويل. زه تا د خلکو امام جوړه وم.

د نبي عليه السلام څخه وروسته چي کوم خليفه ګان تېر سوي دي يا به راځي هغه ټول د رسول الله ﷺ خليفه ګان دي.

د حضرت ابو بکر صديق رضی الله تعالی عنه په دور خلافت کي چا ده مبارک ته وويل: يا خليفه الله، اې دالله خليفه، حضرت ابو بکر صديق رضی الله تعالی عنه ور غبرګه کړه. زه د الله (جل جلاله) خليفه نه يم، زه د رسول الله ﷺ خليفه يم. د خلافت نظام د مځکي د سر د ټولو نظامو څخه مختلف او د عدل نظام دی.

د ټول امت پر دې خبره اتفاق دی چي خليفه تقرر او د اسلامي حکومت قيام د مسلمانانو اجتماعي ذمه واري ده هيڅ مسلمان ځني خلاص نه دی په ترک باندي يې مسلمانان ټول ګنهګار دي.

☆......دليل (۱)

﴿ياايها الذين آمنوا اطيعوا الله و اطيعوا الرسول و اولی الامر منکم﴾

ترجمه: اې ايمان والا کسانو د الله (جل جلاله) اطاعت وکړي، د رسول عليه السلام اطاعت وکړئ، د هغه کسانو اطاعت وکړئ چي پر تاسو اميران دي.

الله موږته د اميرانو د اطاعت حکم کوي، اطاعت راباندي لازموي نو معلومه ده چي د امير معلوملو او تقرر هم زموږ ذمه واري ده . (احکام سلطانيه لما وردیؒ ص ١٦)

☆......دليل (۲)

حضرت عامر رضی الله تعالی عنه فرمايي د رسول الله ﷺ ارشاد مبارک دی:

من مات ولا طاعة عليه مات ميتة جاهلية و من خلعها بعد عقده اياها لقى الله و لاحجة له (اخرجه احمد ج ۲ ص ۴۴٦)

ترجمه: کوم سړی چي په داسي حال کي مړ سي چي د يو امير په اطاعت کي نه وي، هغه د جاهليت په مرګ مړ سو او چا چي تر بيعت وروسته اطاعت نه وکړي (د قيامت په ورځ) به د الله (جل جلاله) سره په داسي حال کي ملاقي سي چي هيڅ حجت به نلري .

☆......دليل (۳)

د رسول الله ﷺ تر وفات وروسته تر تجهيز او تکفين له مخه يې حضرت ابو بکر صديق رضی الله تعالی عنه ته بيعت ورکړی او هغه يې د مسلمانانو امير وټاکی وروسته يې د رسول الله ﷺ تجهيز او تکفين وکړی، نو د صحابه کرامو د دې عمل څخه واضح چي د خليفه تقرر او د اسلامي حکومت قيام د مسلمانانو اجتماعي اهمه فريضه ده کنه نو يې ولي د رسول الله ﷺ تر تکفين مخته کوي .

☆......دليل (۴)

ډېر داسي احکام سته چي د هغه تعلق د اسلامي حکومت او امام سره دی لکه حدود برپايه کول، د اسلام د سرحداتو حفاظت، د مسلمانانو لښکر جهاد ته استول، د زکوة راټولول، د باغيانو، غلو، قطاع طريقو

ختمول، د جمعې او اختر لمونځ قائمول، د خلکو په مابين كي جنجالونه ختمول، فيصلې كول، پر حقوق العباد باندي قائم شهادتونه اورېدل او قبلول، دلاوارثه هلكانو او نجونو د نكاح بندوبست كول، د غنيمت مال تقسيمول . (شرح العقائد ص ۱۰٦)

نو مشهوره قاعده ده: ما لا يتم الواجب الا به فهو واجب .

هر هغه عمل چي واجب بلا دغه عمله نه تاميرږي هغه هم واجب دی (راقم الحروف) شرح العقائد ص ۱۰٦، حجة الله البالغة ج ۲ / ص ۳۸۲)
(احكام سلطانية لماوردی ص ۱۵)

محترمو كتونكو: تاسو ته ښه معلومه ده چي د څه وخت څخه چي د عمر بن عبد العزيز خلافت له مينځه تللي دي بيا تر دغه نژدې ماضي پوري خلافت او امارت داسي الفاظ ول چي مسلمانانو به يواځي له كتابونو څخه اورېدل په خارج كي يې مصداق نه تر ستركو كېدې لكه په فقه كي د عتاق بحث صرف د وخت تېرېدل وو، نو نه په خارج كي خلافت وو او نه د خلافت احكام چيري جاري كېدل كه څه هم په دغه ما بين كي نور حكومتونه هم د خلافت په نامه تېر سوي وي، خو هغه د اسلامي اصولو سره بابر نه وو . مسلمانان حكمرانان خو عمل يې غير اسلامي وو . د دين خواخوږي خلك چي د دين لپاره د ظالم په مقابل كي بر سر پيكار وو هغه د هر څه كوشش باوجود ناوسه و . بعض مسلمانانو د بې غوري څخه د خاموشي زاويې نيولي وي، د ځان بقايې تر هر څه مهمه بلل غفلت په مسلمه امت كي اوج ته رسېدل وو چي د هغه په نتيجه كي د اسلامي علوم مهم مراكز لكه سمر قند، بخارا، تاشقند، استمبول وغيره د مسلمانانو د لاسه ووتل او بالاخره مسلمانان د لويو هستيو څخه بې برخي سول . خلاصه دا چي اسلامي حكومت او خلاف تصرف

اصطلاحات پاته ول چي په دغه زمانه کي الله (جل جلاله) د افغانستان په غیرتي مځکه باندي د ملا محمد عمر په نامه یو ځوک پیدا کړ چي دغه ورک مصداق د امارت او خلافت‌الله (جل جلاله) د ده په واسطه د دنیا مخ ته را وستول او د اسلام رښتیني نظام د افغانستان پر پنځه نوي فیصده (۹۵٪) مځکه نافذ سو او په هر څه کي د اسلام مقدس قوانین برپایه کېدل او دنیا ته د اسلام امن پسندي، خواخوږي، وروروليي او . . . ښکاره سول . چي دا ټول د دنیا کفارو ته د زغم نه وو، نو يې قسم قسم بهانې لټولې د دغه نظام د ختمېدلو په خاطر يې ډېر کسان نوي وروزل او ډېر يې زاړه را پورته کړل چي پر دغه نظام يې نيوکي کولې . چا به ویل چي د ملا او سیاست يې سره څه، چا به ویل چي دغه ملایان په افغانستان کي پاکستان را پورته کړل او روزي يې، چا به نور څه ویل . خلاصه دا چي هر چا تر خپله وسه پوري د کفر ملا تړ ته متې بډ وهلي . چي بالاخره هغه نظام په ښکاره د افغانستان د مځکي څخه پورته سو او په بدیل کي يې د دیمکراسي نظام پر دغه مځکه مسلط سو . کېدای سي چي په داسي انقلابو نو کي د الله (جل جلاله) حکمت د ښه ا بد جلا کېدل وي . لیمیز الله الخبیث من الطیب . چي دا دی نن يې تاسو وینئ چي بیا په افغانستان کي مجاهدین د الله (جل جلاله) په مرسته مخ په وړاندي روان دي، هغه نظام د کوم لپاره چي کفارو او د هغوی مزدورانو قرباني ورکولې هغه نظام مخ پر ختمېدو دی . انشاء الله

خو بیا هم بعض خلک تر اوسه ملا او سیاست دین او سیاست سره بېل بولي چي دا مفکوره په میراث کي د خلق او پرچم څخه ورته پاته ده . په اسلام خبر نه دي او بعض نافوهان بیا د دیمکراسي ډول ټکوي خو دیمکراسي او تر هغه چتر لاندي د ژوند له ضرراتو یا ناخبر دي، یا ځان په

لوی لاس د هلاکت کندي ته غورځوي . نو بناءً موږ غواړو چي په راتلونکي بحث کي د اسلام او سیاست تړاو څرګند کړو ، دغه رنګه د دیمکراسي نظام ، اصول ، ضرر باندي څه رڼا واچوو . بعون الله تعالی

اسلام او سیاست

بعض د دین څخه ناخبره خلګ دا خبره ډېره کوي چي اسلام د سیاست سره تعلق نلري دغه کسان یا په دین باندي نه پوهیږي د دین تصور غلط کوي فکر یې دا دی چي دین یواځي تر ممبر او محراب پوري محدود دی دین داره خلګ باید یواځي ممبر او محراب ونیسي په نورو چارو کي لاس وهنه ونه کړي دا تصور یې بالکل ناقص او غلط دی او یا دغه کسان د سیاست غلط مفهوم اخلی . دوکه ، درواغ ، چل ، فریب ، د خلګو حقوق غصب کول سیاست بولي . چي دا فکر هم د اسلام له نظره غلط دی . بلکه سیاست د الله (جل جلاله) پر مځکه د الله (جل جلاله) نظام حاکمول دي . مسلمان چي کله کلمه ووایي لا اله الا الله معنی د الله څخه ماسوا بل خدای نشته ، بل خالق نشته ، بل مالک نشته ، بل متصرف نشته ، بل حاکم نشته . حکم به یواځي الله (جل جلاله) لره وي . پر مځکه یواځي د الله حکم چلیږي ، د الله نظام چلول په کار دي نو ۱۰ د الله سره وعده وسول چي ستا نظام ستا پر مځکه د تنفیذ لائق دی لهذا ستا نظام به راولو بس مسلمان په سیاست کي داخل سو نو لهذا موږ وایو چي اسلام او سیاست سره بېل نه دي صرف الفاظ یې سره جلا دي . د اسلامي نظام حاکمول بېله سیاسته ممکن نه دي . رسول الله ﷺ چي کله مدیني منورې ته راغلی د حکومت اسلامي بنیاد یې کښېښودی او د دغه نظام پ راس کي رسول الله ﷺ وو . کله چي رسول الله ﷺ وفات سو صحابه کرامو د اسلامي

سیاست په خاطر تر تولو اول نظام جوړ کړی وروسته یې علیه السلام دفن کړ . یو صحابي په صحابه وو کي د رسول الله ﷺ داسي نه وو چي د سیاست سره دي تعلق نه وو ، ځکه هغه پوهېدل چي یواځي سیاست دی چي د الله (جل جلاله) حکم پکښي د الله پر مځکه تطبیق کېدلای سي . زموږ د ټولني دېرش فیصده امور داسي دي چي هغه تر انفرادي ژوندکي پوري تعلق لري . پاته اویا فیصده امور چي تر معاشرې پوري تعلق لري هغه یواځي په اسلامي نظام کي تطبیق کېدلای سي او اسلامي نظام په سیاست سره مینځ ته راځي . نو لذا لکه مخته چي موو ویل د اسلامي نظام قائمول د مسلمانانو اجتماعي فریضه ده او د دې نظام لپاره سیاست ته ضرورت دی .

اسلام او دیمکراسي

د دیمکراسي تعریف :

دیمکراسي لفظ د دوو پخوانۍ یوناني کلمو څخه مرکب دی چي یوه کلمه د (دیموس) ده ، دوهمه کراسي ده چي ترکیبي معنی یې ده د اولس واک یا د اولس حاکمیت او پوره تعریف یې داسي دی : د بندګانو د لاس جوړ نظام د بندګانو په واسطه پر بندګانو حاکمول دې ته دیمکراسي وایي .

دیمکراسي چي اوس په جمهوریت هم تعبیر ځني کول کیږي په اروپا کي هغه وخت مینځ ته راغله چي تر دې له مخه د تیوکراسي نظام وو ، دا یو دیني کلیسائی نظام وو ، پاپ به خلکو ته ځان د الله (جل جلاله) نمائنده معرفي کوی او ویل به یې چي دلته عقل او حواس کار نلري ، زه دلته د الله نمائنده یم چي زه څه وایم تاسو به هغه کوئ کله چي د فرانسې

انقلاب راغلی خلک پورته سول چي باید موږ داسي نظام ولرو چي په هغه کي خود سري وي، پابندي نه وي نو دغه نظام ورته جوړ کړل سو .

د دیمکراسي اصول

دیمکراسي څلور اصله لري چي هر یو یې ځان ته د اسلام سره په ټکر کي دي .

☆......اصل (۱)

قانون باید زمیني وي، اسماني نه وي .

د دیمکراسي رهبران که په امریکا کي دي که په اروپا کي، په یوه خوله داخبره کوي چي قانون پرمځکه باید د مځکي قانون وچلول سي اسماني قانون په مځکه کي د چلېدلو حق نلري . العیاذ بالله . دغه اصل د دیمکراسي د اسلام سره بالکلیه ټکر دی . الله (جل جلاله) فرمايي: ان الحکم الا لله (الایة)

حکم یواځي او یواځي د الله (جل جلاله) دی . بل ځای الله (جل جلاله) فرمايي : و من لم یحکم بما انزل الله فأولیک هم الکافرون . څوک چي د الله (جل جلاله) په نازل سوي قانون فیصله نه کوي هغه کافران دي . خو دیمکراسي دغه قانون نه مني، هغه وايي چي قانون به زمیني وي .

☆......اصل (۲)

د اخلاقو معیار په دیمکراسي کي مطلق وجود نلري .

اسلام د هر شي لپاره یو معیار لري، مسلمان د اخلاقو پابند دی، چي تر هغه بهر نه وزي، خو دیمکراسي د اخلاقو لپاره هیڅ معیار نه لري ، هر څومره بد اخلاقي او بد عملي په کي ازاده ده مثلاً د نارینه لپاره ږیره د زناني لپاره کوځې . د ټول انسانیت لپاره لباس او داسي نور . خو په

ديمکراسي کي دا نسته که چا ته لږ لپړ ګرزېدل ښه خوند ورکړي، دا د ده لپاره پېغور نه بلل کيږي، چي د دغه ازادي په نامه دوی هر څه فحاشي او عرياني د ځان لپاره جائز بولي، دنيا يې په بې حيايي اخته کړې ده .

☆......اصل (۳)

انتخابات :

په اسلام کي شورا سته چي د دې اهل ده چي د مسلمانانو خليفه وټاکي خو هغه شورا خپل شرائط لري چي د شورا هر رکن به عالم وي، متدين به وي، او داسي نور خو په انتخاباتو کي د ديمکراسي دا څه نسته د يو متدين عالم او زنا کاري ښځي د رايې يوه مرتبه ده .

☆......اصل (۴)

آزادي:

آزادي په اسلام کي هم سته خو حدود لري . البته د ديمکراسي آزادي حدود نلري، مثلا په ديمکراسي کي څوک د بل پر ناموس که تېری وکړي او دواړه سره راضي هم وي هيڅ بده خبره نه ده ولي آزادي ده، دغه رنګه که يو څوک د بل توهين کوي آزادي ده پروا نلري، اما اسلام د دغه شيانو اجازه هيڅ چا ته هم نه ورکوي .

اسلامي ممالکو ته د ديمکراسي راتګ او پايلي يې .

له هغه وخته چي د اسلامي ممالکو سربرهانو د پرديو لار ونيول علماء د واک، سياست، نظام څخه وغورځول سول په يوه او بل نامه جېلونه په ډک سول، يا د پرديو په خوښه په شهادت ورسول سول نو پر عامه اذهانو جهل غلبه وکړه د دين پوهاوی کم سو، د بې ديني سيلاب موجونه ووهل په مسلمانانو کي د دين او دين داري قدر کم سو د جهل پردې پر زړونو اوارې سوې کم په دين پوه خلک چي پاته ول هغوی د بېرې

څخه د خاموشي کونجان ونیول، د حق داعیه مخ پر ختمېدو سوه، د خواهشاتو لمبه د هر سړي په زړه کي توده سوه . په دغه زمانه کي د دنیا مستکبر و قوتونو په یوه نامه او په بل نامه دغه پلیت نظام په اسلامي هیوادونو کي د پلي کېدلو کوشش شروع کړی د هري طریقې څخه یې کار واخیستی او خپل هدف ته یې ځانونه ورسول چي بالاخره په اسلامي هیوادونو کي هغه مثالي امن چي د اسلام د مقدس قانون د حاکمیت په وجه پکښي موجود وو هغه یې نیست او نابود کړی بد امني پیدا سوه د دین تقدس پایمال سو په دنیا کي ګډوډي را مینځ ته سوه هغه مستکبر قوتونه د دنیا پر سرباداران سول د خپلي خوښي هره طرحه په اسلامي ممالکو کي عملي کوي په دنیا کي چي کومي بد بختۍ رواني دي ددې ټولو بنیاد دیمکراسي ده . ځکه اسلام هر چا ته په خپل دین کي استقلال ورکړی دی خو دبل د ضرر څخه منع کړی دی مثلاً: اسلام مسلمان ته د دې اجازه نه ده ورکړې چي یو ذمي کافر ته ضرر ورسوي بلکه ذمي په اسلامي ملک کي هم و خپل غیر مشروع عبادت ته اجازه لري مسلمان یې نه سي ځني منع کولای . خو دیمکراسي چي خپلو پیروانو ته عامه ازادي ورکړې ده د هغه په نتیجه کي هر څوک کولای سي چي د بل چا په شخصي ژوند کي هم مداخله وکړي او د بل پر دین او مقدساتو هم تېرى کولای سي چي دا دي موږ ولیدل چي په وار وار د اسلامي مقدساتو سپکاوی وسو، بلکه د مطلق انسانیت سپکاوی هم په دیمکراسۍ کي څه ممنوع عمل نه دی، چي بالاخره دغه بې سرحده ازادي د دنیا د ناخوالو بنیاد کښېښودی . که اروپا خپله دیمکراسي زموږ د هیوادونو څخه ټوله کړي په میاشت دننه به په ټوله اسلامي نړۍ کي د امن څادر اوار سي . او دا یو داسي حقیقت دی چي کفار هم قناعت په لري . په (۲۰) د کب د

میاشتي په (۱۳۹۶) شمسي کال په متحده عرب اماراتو کي د ''فکرونه کافرنس'' منعقد وو چي د فرانسې پخواني اولس مشر نیکولاسرکوزي په ډاکه دا حقیقت و وایه چي په کوم هیواد کي د دیمکراسي نظام دی هلته کډوډي ده، بې امني ده او چیري چي دیمکراسي نسته هلته امن دی .

☆ ☆ ☆

په اندونشیا (اندونیزیا) کي د علماؤ غونډه

په کال ۱۳۹۷ کي د ثور یا غوائی د میاشتي پر ۲۲ د جمعې مبارکي په ورځ د اندونیزیا په جاکرتا ایالت کي د افغانستان او ټولي اسلامي دنیا د امن او سلامتي په بهانه یوه غونډه وسوه چي پکښي د افغانستان څخه څو تنه سکالران د پاکستان څخه علماء او د اندونیزیا څه کسان پکښي برخوال وو . په نوموړي غونډه کي که څه هم د افغانستان د اوسني جهاد (چي د امریکې او د هغه د لاس پوخو په خلاف خورا په شدت سره جریان لري) په باب څه د پام وړ خبره نه وه او نه پر طالبانو د جنګ بندي ږغ پکي سوی دی . البته دومره خبره پکښي واضح سوه چي په افغانستان کي د امریکا وجود د ټولي اسیا لپاره خطر دی . که امریکا په افغانستان کي وجود لري د طالبانو سره خبره کول داسي مثال لري لکه: په څاه کي چي مرداري پرته وي او ته اوبه څني کاږې نو که هر څو مره اوبه وخیژي بیا هم څاه نه پاک کیږي تر څو چي مرداري ختلې نه وي . یعني دامریکا دلته وجود مرداري ده، د افغانستان او ټولي اسلامي نړۍ کشاله هلته حل کېدلای سي چي امریکا خپلې پښې سپکي کړي، اسلامي ملک مسلمانانو ته پریږدي تر څو مسلمانان اسلامي

نظام پکښې نافذ کړي . خو مېډيا په ډېره ناځوان مردانه طريقه د دغه غونډې پر ړکړه ليک تحريف کړی او تر مسلمانانو پورې يې ور ورساوی . چې د ذکر سوې تحريف او درواغو حساب به مېډيا خبريالان او واکمن د قيامت په ورځ الله (جل جلاله) ته ورکوي . فانتظر انا معکم من المنتظرين . خو بيا هم موږ پردې خبره بحث کوو چې که خدای ناکرده دغه خلک حق هم پټ کړي د افغانستان موجوده جهاد ته د جنګ نوم ورکړي او د بنديز غوښتنه يې وکړي، آيا د دوی په وينا دغه جهاد جنګ بلل کيږي ؟ آيا د دوی په فتوی دغه جهاد حرام بلل کيږي ؟ صلح په داسې شرائطو کې جواز لري؟ د دې پوښتنو جواب د شريعت له نظره څه دی؟ په دې اړوند بحث کوو انشاء الله تعالی . اللهم وفقنا لما تحب و ترضا من القول والفعل والعمل

له بده مرغه په دې وروستيو کلونو کې مسلمانان د کفارو لخوا داسې نوو بخولو سره مخامخ سوي دي چې پخوا يې چا فکر هم نه کاوه . کفارو زموږ له توکم څخه زيات شمېر خلک لوېديځ پلوي، ليبرالان او سيکولران کړل او په ډول ډول چلونوکو موکونو او نازونو يې د ځان کړي او د هغو په ملتيا او مرسته يې فلسطين او افغانستان نيولي، که څه هم په فلسطين ، افغانستان ، عراق او نورو ځينو اسلامي هيوادونو کې اصلي واک اختيار د دغو اشغالګرو او استعمارګرو کفارو دی، خو په ظاهره يې خپل دغه تالی څټي د خپل جنګي مشين په زور د واک پر ګدۍ کښېنولي دي، نو په دغسې شرايطو کې اسلام مسلمانانو ته څه حکم کوي؟آيا د کفارو د دې لوی ظلم او عوان پر مهال به سم هغوی سوله خوښوونکي اوسي، لکه کفار چې يې په دغسې مواردو کې له موږ څخه هيله لري؟

نه داسي هيڅکله نه ده . ځکه چې اسلام يو بشپړ او جامع دين دی، نو په هر ډول حالاتو کې ځانکړې لارښووني لري . او په دغسي حالاتو کې هم څرګند احکام لري .

اسلام او اسلامي اورشوګانو باندي د دښمن هجوم په قطعي توګه ناروا عمل ګڼي، په هر ډول او په هر نامه او په هر څومره شدت او جدت چي وي او لاملونه چي يې هر څه ګڼل کيږي . اسلام مسلمانانو ته لارښوونه کوي چې دار الاسلام بايد د مسلمانانو په لاس کې او د هغو تر واک او لارښوونه لاندې وي او دا چې پر اسلامي اورشو باندي د هجوم پر مهال پر مسلمانانو څه لازميږي، نو د مسلمانانو په منځ کې په دې کې هيڅ اختلاف نسته چي په دې حالت کې د دښمن سره په ځواک او قوت سره جهاد د نيول سوي او رشو پر خلکو باندي فرض عين دی . که يې څه هم يوه لوېشت ځمکه نيولې وي . په دې صورت کې د اشغالګر دښمن او د هغه د ملګرو په وړاندي نوري خبري نه سي کېدلای . په دې صورت کې به يا له اشغال سوي مځکي څخه اشغالګران وزي او يا به جهاد ورسره کيږي .

په دې هکله په خپل عصر کې د احنافو د امام علامه ابن عابدين شامي رحمة الله عليه په نامتو کتاب رد المحتار کې داسي لارښووني راغلي دي:

"وعبارةُ الدُررِ و فرض عينٍ اِي هجموا علٰى ثغرٍ من ثغور الاسلامِ ، فيصيرُ فرضَ عينٍ على من قرب منهم ، و هم يقدرون على الجهاد و نقل صاحب النهاية عن الذخيرة أنّ الجهادَ اذا جاء النّفيرُ اِنّما يصيرُ فرض عينٍ على من يقربُ من العدوِ ، فأمّا مَن وراء هم ببُعدٍ من العدوِ فهو فرض كفاية عليهم ، حتى يسعهم تركه اذا لم يحتج اليهم فإن احتيج اليهم بأن عجز من كان يقرب من العدوِ عن المقاومة مع العد و أو لم يعجزوا عنها لكنهم تكاسلوا و لم يجاهدو

فإنه يفترض على من يليهم فرض عين كالصلاة والصوم ، لا يسعهم تركه ثم و ثم الى أن يفترض على جميع اهل الاسلام شرقاً و غرباً على هذا التدريج " (رد المحتار ۲۴۰/۳) همدا راز په تبين الحقائق شر ح كنز الدقائق او مجمع الأنهر في شر ح ملتقى الأبحر كي هم دغسي راغلي دي .

ترجمه : د حنفي فقهي د نامتو عالم ملا خسرو د نامتو كتاب "درر الحكام شر ح غرر الاحكام" عبارت په دې ډول دی : او كه كفار د اسلام له سرحدونو (پولو) څخه پر كومه پوله هجوم ور وړي ، نو جهاد فرض عين دی . په دې صورت كي پر هغو كسانو چي دغي پولي ته نژدې دي او د جهاد كولو وس او قدرت لري ، جهاد فرض عين گرځي .

او د "النهاية" په نامه د كتاب ليكوال حسام الدين السغناقي الحنفي د علامه برهان الائمة البخاري الحنفي له "الذخيرة" نومي كتاب څخه داسي نقل كړي دي : كه چېرې نفير عام سي ، يعني په عمومي صورت د دښمن سره د جگړې لپاره د ټولو خلكو د چمتو كېدو او ور وتلو وخت او حالت سي ، نو جهاد پر هر هغه چا چي دښمن ته نژدې وي فرض عين گرځي ، خو له دې ور پرته پر هغو كسانو چي له دښمن څخه ليري وي فرض كفايي دي ، ان كه دوی ته اړتيا نه وي كولای سي چي جهاد پرېږدي ، خو كه ورته اړتيا وي ، لكه چي كوم كسان چي دښمن ته نژدې وي د هغه سره له مقاومت څخه عاجز سي ، يا عاجزه نه سي ، خو سستي ځني وسي او جهاد ته ور ونه دانگي ، نو پر هغو كسانو چي دوی ته نژدې دي د لمانځه او روژې غوندي فرض عين گرځي او نه سي كولای چي جهاد پرېږدي .

په همدې ترتيب دغه جهاد پر هغو كسانو چي تر دوی وروسته ور نژدې دي . چي د نړۍ له لوېديځه نيولې د هغې تر ختيځه پر ټولو

مسلمانانو فرض کيږي .

البتـه بايد بيا هم ووايو چي اسلامي عالمانو د مسلمانانو او کفارو د اوسنيو نړيوالو شرائطو او د الهي احکامو او نبوي سنتو په کتو سره له جهاد څخه تولي هغه هلي ځلي عبارت بللي دي چي د دښمن د ماتي او له اسلامي اورشو څخه د هغه د وتلو، د دوی له مظالمو څخه د خدای د بې وزلو او مستضعفو بنده ګانو د ژغورلو او د اِعلی کلمة الله لامل سي، چي په دې کي د دښمن په وړاندي د ټولو مسلمانانو يووالى او په ټولو ممکنه وسايلو او لارو چارو د هغو سره مقاومت او ضديت، په شتو او سربښندنه، ژبه، قلم، دعوت او تبليغ، وخت لګولو، زيار او زحمت ګاللو، د پوهي او استعداد په کار اچولو او اسلامي دفاعي سياست کولو سره هلي ځلي کرده شاملي دي . لوی څښتن جلت عظمته فرمايي:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَى تِجَارَةٍ تُنجِيكُم مِّنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ۔ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَتُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ﴾

(الصف ۱۰ ـ ۱۱)

ترجمه: اې مومنانو! آيا زه تاسي ته هغه سوداګري در وښيم چي تاسي له دردناک عذاب څخه وژغوري ؟ پر الله او د هغه پر پېغمبر باندي ايمان همېشه توب (مداومت) وکړئ او د الله په لار کي په خپلو شتمنيو او ځانونو سره جهاد وکړئ . ا (سوداګري) ستاسي لپاره (د دې دنيا تر سوداګرئ) ډېره ښه ده که تاسي (د شيانو په تاوانونو او ګټو) پوهېږئ (نو دغه چاري تر سره کړئ) .

په دې باره کي آيتونه ځورا ډېر دي او رسول الله ﷺ هم فرمايي:

"جَاهِدُوا الْمُشْرِكِينَ بِأَمْوَالِكُمْ وَ أَنْفُسِكُمْ وَأَلْسِنَتِكُمْ" (د مشرکينو سره

پـه خپـلـو مـالـونـو، ځـانـونـو او ژبـو سره جهاد وکړئ) . دغـه حدیث چې د احادیثـو پـه ډېرو کتـابونو کې روایت سوی دی حاکم پـه المستدرک کې او نوررو حدیث پوهانو د مسلم پر شرط صحیح بللی دی .

همدا راز علمـاء کـرامـو پـه دې جهـاد کـې د اشغـالکرو پـه وړاندې د مسـلـمـانـانو اعتصابونه، پاڅونونه او بغاوتونه، دروزلو سوو مجاهدینو پـه واسطـه د کمین نیولو جنګ، پـه لازمو مواقعو کې د دښمن پر پوځیانو او نـوررو میـنـونـه او بمونه چول او استشـهادي عملیات تر سره کول (البتـه چې بې ګـنـاه او مستـضـعفو وګړو ته هیڅ تاوان پکښې و نه رسیږي) او داسې نـورَ هـم شـامـل ګنـلي دي . لـکـه چې د اسلامي نړۍ یو نامتو عالم دکتور عبد الله قادري الاهدل لیکي:

"أمـا اذا کـان الـمـقـصـودمـن الجهاد دفع عدوان العدو الذی تمکن من اغتـصـاب أرض الـمـسـلمیـن ، کـمـا هـو الـحـال فـی الارض الـمبـارکة" فـلسطین" فان الواجب علی جمیع المسلمین فی هذا لبلد، أن یتحدوا و یـخـطـطـوا لـلـقـیـام بـمـقـاومـة الـعـدو الـمـمـکـنـة ، و هی تمـثـل فی العصیان الـمـدنـی ، کـالاضـراب الشـامـل او الجزئی، وحرب الکمائن التی تقوم بها الـوحـدات الـمـنـفـصـلـة ذات التـدریـب الـعـالـی ، مع التنسیق الممکن فیما بینها .و القاء المتفجرات فی صفوف مقاتلی العدو من الجیش النظامی وغیـره، فـی ای موقع من مواقعه، و بأی وسیلة مشروعة ممکنة ، بما فی ذلک العملیات الاستشهادیة . . . و غیر ذلک مما یتیح للمجاهدین عمله، مما یلقی الرعب فی قلوب عدوهم، و یشغله عن تقویة نفسه علیهم . . .

و هذا الـعـمـل مع ما فیه من التضحیة بالنفس والنفیس، و من تلقی الـضـربـات الـمـوجـعـة مـن الـعـدو الغاشم الذی یملک من العدو و العدة ما لا یتـحـمـلـه الا اولـو الـعزم مـن الـرجـال، فـان الآثـار التـی تحدثـهـا عملیـات

المجاهدين النوعية التى لا يملكها العدو أشد نكاية فيه، و أشد تحطيما المعنويات .

و قد تبين ذلك فى المدة الاخيرة التى انطلقت فيها حركة الأقصى الجهادية، حيث ارتفعت ضحياه ارتفاعا لم يسبق له مثيل، و تدنى اقتصاده الى ادنى دركاته، و تحطمت معنويات جنوده، و أعلن بعضهم تمرده و نادى بعصيان أوامر قياداته، و (صيب كثير منهم بالأمراض النفسية . .

و حزم بعض اليهود حقائبم فارين من لهيب العمليات الفدائية، معاكسين بذلك الهجرة الى الارض المباركة . . .

وتحركت الحكومة الامريكية لنجدة اليهود بالوعد باقامة دولة فلسطينية بجانب الدولة ما يسمى بالدولة الاسرائيلية، و هى حركة ظالمة هدفها القضاء على الحركة الجهادية الفلسطينية . . .››

ربښتيا هم دغسي چاري او هلي ځلي دي چي په افغانستان کي يې هم زموږ امريکايي او لوېديزو دښمنانو ته د هغو د ډول ډول اقتصادي، پوځي او جاسوسي ځواکونو او ورو ډېرو مکرونو او چلونو د پر لار اچولو سره سره سخت تاوانونه رسولي دي . د هغو د پوځيانو او نورو معنويات يې ور ضعيف کړي، اختلافات او سرکښۍ يې پکښې را منځ ته کړي، په اروايي ناروغيو اونورو ډول ډول ستونزو يې اخته کړي، اقتصاد يې ور دړي وړي کړی او بالاخره يې د داسي ماتي او سر اسيمه ګۍ سره مخامخ کړي دي چي امريکايان، لوېديزيان او د دوی ملګري يو د بل پر ضد ډول ډول ضد او نقيضي پاليسۍ خپلوي، چي پايله دا سوه چي په افغانستان کي يې خپله ماته منلي او ترمپ په ناهيلۍ سره ويلي دي چي خپل پوځونه د افغانستان له دوږخه باسم او له بله اړخه د دوی لاس

کمپنو لې اداره هم د مجاهدینو سره د روغي جوړي لپاره زاری کوي .

په دغسي حالاتو کي له دښمن سره د سولي کولو حکم

څنګه چي پر اسلامي اورشو باندي د تېري په اړه موږ ته د اسلامي شریعت حکم څرګند سو ، نو اوس موږ پوهیږو چي د دغسي متجاوز او اشغالګر دښمن سره د سولي حکم څه او څنګه دی او آیا جواز لري که نه؟

په دې اړه د اسلامي نړۍ د جیدو عالمانو جواب دا دی :

که دلعوله پر دې وي چي د دښمن اشغال ومنل سي او پر اشغال سوې ځمکه یې تېری دفع نه ، بلکي تثبیت سي او د سولي له لاري د هیواد د تل تر تله اشغال او زموږ د مادي او معنوي شتمنیو د غلا لپاره رسما موقع ورکړه سي ، نو دا سوله د شریعت له مخي ګرد سره باطله ده . ځکه دا د باطل اشغال منل دي او هغه څه چي پر باطلو ترتیب سوي وي هماغسي باطل او بلل سي . دا په حقیقت کي زبون او د ماتي په حال کي دښمن ته تسلیمېده او د هغه د واک او قدرت بېرته ټینګول او منل او د شریعت د ځینو احکامو بدلېده او لغو کېده ، د کفارو سره دوستي او موالات او پر باطلو شرطونو باندي د هغو سره اتفاق دی .

دا خو داسي معنا لري ، لکه د بدمعاشو غلو یوه وسله واله ډله چي د یو څو کوچنیو خس دزانو او کیسه برانو په ملتیا د یو چا کور ته د وسلې په زور ننوزي ، د کور په غړو مرګ ژوبله ګډه کړي ، شیان یې چور کړي او په کور کي ډول ډول بدمعاشۍ او فحاشۍ پیل کړي او ډول ډول ورانۍ او خرابۍ رامنځ ته کړي او بدمعاشه غله سر نه خلاصوي ، خو د دوی خس دزه ملګري د دوی د څو نورو ځیره خورو په واسطه د کور خاوند ته وایي

چې راسه په دې کور کې د لویو غلو او خس دزانو تسلط ومنه او په دې هکله خبري او سوله ورسره وکړه . نو آیا په دغسې صورت کې د دغسې غلو سره سوله شرعًا او عقلًا د منلو وړ ده؟

په مخکنیو مهالونو کې په ډېرو هیوادونو کې داسې هم سوې دې چې د دغسې سولو په پایلکه کې دښمن په ظاهره له صحنې وتلی دی. خو د هغه خاینو لاسپوڅو ته زمینه مساعده سوې ده چې د جهاد ثمره د هغو له خاوندانو څخه بیا هم غصب کړي او په واک کې د هغو په بیا پاته کېدو سره دښمن بیا هم د هیواد د چارو واکې په خپل واک کې ولري .

ځکه نو دغسې سوله د دښمن سره هیڅوک نه سي کولای . هر څوک چې وي او په هر نامه چې وي، ځکه د اسلام ځمکه د یو څو تنو حق نه دی، نو هیڅوک دا حق نه لري چې د دښمن یا د هغه د ملګرو سره د سولې دغسې خبري وکړي، ځکه چې ځمکه د لوی څښتن او بیا د مسلمانانو ده، نو هیچا ته روا نه ده چې په داسې څه کې چې د بل وي او خپل ملکیت یې نه بلل کیږي، د هغه د څښتن ، یعني د الله د دین د احکامو مخالف او د مسلمانانو له سلا مشورې پرته په هغه کې تصرف وکړي او که د داسې وکړي ستر دیني او ملي خیانت او لوی جرم به یې کړی وي او د مجاهدینو او قربانیو به یې سودا وکړو معامله کړې وي . لوی څښتن فرمایي:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَخُونُوا اللَّهَ وَالرَّسُولَ وَتَخُونُوا أَمَانَاتِكُمْ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ﴾ (سورة الأنفال: ٢٦)

ترجمه: اې هغو کسانو چې الله او پیغمبر ته مو ایمان راوړی دی په شریعت کې خیانت مه کوئ د الله او د هغه د پیغمبر سره خیانت مه کوئ او مه په خپلو امانتونو کې، په هغو شیانو کې چې الله یې په لاس کې درکړي دي

خيانت كوئ (په دې كې مالي معاملې، ادبي، ژورناليستيكې او سياسي چارې، ژمني او وعدې او ملي او وطني مصالح تړول راځي) . په داسي حال كې چې تاسي پوهېږئ .

له بلې خوا تر څو چې د اسلام ځمكه د دښمن تر اشغال لاندي وي، دغسي سول پر دې سربېره چې د دښمن د تېري تثبيت باله سي، د فرض عين جهاد باطلېده او لغو كېده هم دي .

دغسي اشغال سوې ځمكه بايد د اسلامي جهاد په مټ د دښمن او د هغه د ملكرو له ناولو منكولو څخه وايستل سي او د رشتيانيو مسلمانانو پاكو لاسونو ته وسپارل سي . الله (جل جلاله) داسي فرمايي:

﴿وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِي الزَّبُورِ مِن بَعْدِ الذِّكْرِ أَنَّ الْأَرْضَ يَرِثُهَا عِبَادِيَ الصَّالِحُونَ ـ إِنَّ فِي هَٰذَا لَبَلَاغًا لِّقَوْمٍ عَابِدِينَ ﴾ (سورة الانبياء:۱۰۵ـ۱۰۶)

ترجمه: او موږ په لوح محفوظ كې تر ليكلو وروسته په خپلو نازلو كړو كتابونو كې ليكلي دي چې د ځمكې وارثان به زموږ غوره (صالح او نېك) بنده ګان وي، (كوم چې پر هغو تېنګ ولاړ دي چې د لوى ښښتن لخوا يې امر ورته سوى دى او له هغو ډډه كوي چې لوى ښښتن منع كړي دي البته دوى د رسول الله ﷺ امتيان دي) په دې ويل سوو نصيحتونو كې د عبادت كوونكو لپاره د عبرت پوره پيغام دى .

په دې اړه جيدو اسلامي عالمانو ډېرې واضحې لارښوونې او څرګندونې كړې دي چې موږ يې دوې بېلګې درته رااخلو .

وقد أجمعت الشرائع السماوية والضعية على حرمة الغصب و وجوب رد المغصوب الى أهله و حثت صاحب الحق على الدفاع والمطالبة بحقه، ففى الحديث الشريف:

"مَنْ قُتِلَ دون مال ه فهو شهيدٌ، ومَنْ قُتِل دون اهله فهو شهيدٌ، ومن

قُتِلَ دون دينـه فهو شهيدٌ ، و مَنْ قُتِلَ دون دمه فهو شهيدٌ '' و في حديث آخر ''عَلى اليدِ ما أخذتْ حتّى تُؤدّيَهُ''۔ په ١٣٧٥هـ، ق كال د مصر د جامع الازهر د جيدو عالمانو له فتوا څخه .

و الجواب أن الصلح اذا كان على أساس رد الجزء الذى اعتدى عليه الى أهله كان صلحاً جائزاً و ان كان على اقرار الاعتداء و تثبيته فانه يكون صلحا باطلا، لأنه اقرار لاعتداء باطل و ما يترتب على الباطل يكون باطلا مثله .

د مصر د لوى مفتي او د ازهر د پوهنتون د مشر شيخ حسن مامون او نورو عالمانو له فتوا څخه وګورئ . المكتبة الشاملة الاصدار الثاني .

همدا شان په دې اړه د موضوع د لا زياتي روښانتيا لپاره ستاسي پام هغي فتوا ته هم رااړوم چي په ١٩٨٩ ع كال د نړۍ د دوولسو هيوادونو (٦٣) تنو جيدو اسلامي عالمانو، په هغو كي زموږ له هيواد څخه نن سوله غوښتونكي هر يو لكه عبد الرب رسول سياف، ګلبدين حكمت يار ، برهان الدين رباني او انجينير احمد شاه احمد زى ور كړې ده:

فتوى علماء المسلمين بتحريم التنازل عن أى جزء من فلسطين عام ١٩٨٩ و في عام ١٩٨٩ م أصدرت مجموعة من صفوة علماء العالم الاسلامي فتوى بتحريم التنازل عن أ ى جزء من فلسطين و فيما يلي نصل الفتوى:

الحمد لله الذى أسرى بعبده ليلا من المسجد الحرام الى المسجد الأقصى ، و الصلاة والسلام على من أسرى به الى الأرض المبارك فيها للعالمين ، قبلة المسلمين الأولى و أرض الأنبياء ، و مهبط الرسالات و أرض الجهاد والرباط الى يوم الدين ، و على آله الأخيار و صحبه الذين عطروا بدمائهم الزكية تلك الأرض الطيبة حتى أقاموا بها الاسلام ، و رفعوا فيها رايته خفاقة عالية ، و طردوا منها أعداء ه الذين دنسوا قدسه المبارك والكفر ، و على

الذين ورثوا هذه الديار فحافظوا على ميراث المسلمين و دافعوا عنه بأموالهم و أنفسهم ، و بعد : فان مهمة علماء المسلمين و أهل الرأى فيهم أن يكونوا عصمة للمسلمين ، و أن يبصروهم اذا احتارت بهم السبل و ادلهمت عليهم الخطوب ، و نحن الموقعين على هذه الوثيقة نعلن للمسلمين فى هذه الظروف الصعبة أن اليهود هم أشد الناس عداوة للذين آمنوا ، اغتصبوا فلسطين و اعتدوا على حرمات المسلمين فيها و شردوا أهلها ، و دنسوا مقدساتها ، و لن يقر لهم قرار حتى يقضوا على دين المسلمين ، و نحن نعلم بما أخذ الله علينا من عهد و ميثاق فى بيان الحق أن الجهاد هو السبيل الوحيد لتحرير فلسطين ، و أنه لا يجوز بحال من الأحوال الاعتراف لليهود بشبر من أرض فلسطين، و ليس لشخص أو جهة أن تقرر اليهود على أرض فلسطين أو تتنازل لهم عن أى جزء منها أو تعترف لهم بأى حق فيها ۔ ان هذا الاعتراف خيانة لله والرسول و للأمانة التى و كل الى المسلمين المحافظة عليها ، و الله يقول : "يا أيها الذين آمنوا لا تخونوا الله و تخونوا آماناتكم و أنتم تعلمون" و أى خيانة أكبر من بيع مقدستا المسلمين ، و التنازل عن بلاد المسلمين الى أعداء الله و رسوله والمؤمنين ؟؟ إننا نوقن بأن فسطين أرض اسلامية و ستبقى اسلامية و سيحررها أبطال الاسلام من دنس اليهود كما حررها الفاتح صلاح الدين من دنس الصلبيين ، و لتعلمنّ نبأه بعد حين ، و صلى الله على عبده و رسوله محمد و على آله و صحبه و سلم ، و قد وقع على الفتوى ٦٣ عالما من ثماني عشرة دولة ۔

البته زما د معلوماتو له مخي له کله څخه چي د فلسطين ربړه ولاړه سوې ده تر دې څو نژدې کلونو پوري (له ۱۳۵۵هـ ق . څخه) د فلسطين په هکله دغسي نوري ډېري فتواوي هم ورکول سوي دي او هيڅ عالم د يهودو سره د سولي د حرمت په باب مخالفت نه دی کړی . خو له بده مرغه

په دې وروستيو کې ځينو عالمان د خپلو خاينو واکمنو د سياستونو په پيروي په دې هکله داسې فتواوي هم ورکړي دي چې د مسلمانانو د مصالحو پر ځاى د اسرائيلو، امريکايانو او د عربو د سيکولرو واکمنو کټې خوندي کوي .

څنګه چې د فلسطين او افغانستان ربړه تقريبا يو شان ده، نو د فلسطين په هکله د جيدو او رشتيانيو عالمانو فتواوي د افغانستان په هکله هم صدق کوي .

علاوتاً کله چې روسانو زموږ ګران هيواد افغانستان اشغال کړی وو ، نو د نړۍ اسلامي عالمانو، په هغو کي ډاکټر شهيد عبد الله عزام د روسانو سره د سولي د خبرو په هکله داسي ليکلي دي:

و لذا بالنسبة للروس فلا يجوز التفاوض معهم حتى ينسحبوا من كل شبر من آراضى افغانستان ، و لا مع اليهود ابدا فى فلسطين .
(الدفاع عن اراضى المسلمين اهم فروض الاعيان)

ترجمه: د روسانو سره د سولي خبري تر هغو چي د افغانستان له لوېشت لوېشت مځکي څخه وتلي نه وي روانه دي او نه د يهودو سره د فلسطين په هکله روا دي .

نو موږ هم ويلای سو چي دامريکايانو او د هغو د لاس کښېنولو کسانو سره هم ترهغو پوري چي امريکايان زموږ له خاوري څخه وتلي نه وي د سولي خبري روا نه دي . دغه راز شهيد عبد الله عزام په نوموړي کتاب کي ليکي:

په افغانستان کي د سولي خبري په دې شرطونو روا دي:

چي روسان د مسلمانانو هيواد(افغانستان) څخه ووزي .

د دوی تر وتلو وروسته په افغانستان کي اسلامي حکومت را منځ

ته سي او په افغانستان کي خپلي مداخلي بندي کړي .

وتل يې بې له قيد او شرطه وي .

روسان مجاهدين په رسميت وپېژني او د سولي وړانديز ورته وکړي .

او بالاخره مجاهدين ډاډه سي چي روسان د سولي په غوښتنه کي رشتياني دي او د غولوني په فکر کي نه دي" . (الدفاع عن أراضي المسلمين أهم فروض الأعيان) .

پر دې بنسټ اوس موږ هم د دې بل امريکايي يرغلګر سره سولي په خبرو کي دغه شرطونه اېښوول لازم ګڼو:

د هيواد د ژغورني لپاره مبارززه او جهاد او له هغه څخه د اشغالګرو ايستل حتماً قربانيو ته اړتيا لري . په دې لار کي به ډېري ويني توی سي ، هيواد ته به ډېر تاوانونه ورسيږي او خلک به د ډول ډول ستونزو سره مخامخ سي ، خو له دې وو څخه چاره نسته . دا چاري خو د غو نيواکګرو پر موږ او زموږ پر هيواد تپلي دي . که موږ د دې خبرو او يا ستړيا يا د جهاد د زياتو کړاوونو له امله جهاد پرېږدو او دښمن ته پر دې هيواد باندي د دغه ناروا اشغال د دوام اجازه ورکړو ، نو په دې هم بايد وپوهيږو چي د تل لپاره به تر دې لا په ډېر سختو او ناوړو ستونزو اخته سو . او په داسي حال کي چي د نړۍ زياتو ولسونو د اسارت جوغونه له اوږو غورځولي دي ، موږ به په دې د کمپيوټر او موډرني تکنالوژۍ په پېر کي بې عزته او زبون اسيران او مريان اوسو او په خپل هيواد کي به نه د ځان نه د ناموس او ن ه د بل څه واک اختيار لرو . لعنت دې وي پر دغسي ژوند ، تر دې خو مرګ ډېر ښه دی .

عزت ، لوړتيا او خپلواکي په تصادفي توګه او په لټي ، هوسايي او

تېښته ژوند کې نه تر لاسه کېږي. نو مونږ ته د رسېدو په دغه ترسره
مال تر پېسو، تم الوت ... او د جهاد او د وجه سکړ کړي او نو د حکم
نور وسله او نور کار ته اړتیا ده. د وسلو او نورو لخوا نه جوړېږي هغه چې د
عزت او د دین ورو نو ... خو که چېرې په غېږ کې وي او خوږ يې بخوښي، ع
عزت او هلاکت تر د دین مونږ ګټونه په برخه وي.

مونږ ته داسې چې که چېرې مونږ ... د نني ... او ...
ژوند او مات ... د دښمن په وړاندې ... کېږي ...
... خني په مونږ ته او استقامت پر مخ بوزي، نو بلاخره به بری حتمي زمونږ
وي او د مسلکیې غیب به هم زمونږ په کې ... خو ...
انګرېزانو او روسانو غوندې ... د الله جل جلاله فرمودنه.

﴿وإن جندنا لهم الغالبون﴾ (الصافات: ۱۷۳) او یقینا زمونږ په لښکر
کې هم زمونږ د مجاهدینو لښکر حتما پر خپلو دښمنانو لاسبري او
غالب دي.

د الله جل جلاله فرمايي: ﴿ولا تهنوا في ابتغاء القوم إن تكونوا تألمون فإنهم يألمون كما تألمون وترجون من الله ما لا يرجون وكان الله عليما حكيما﴾ (النساء: ۱۰۴)

ترجمه: او تاسې د دښمن (یعنی د جګړې د ډګر کفارو دښمنانو) په
تعقیبولو (لټولو او جګړه) کې سستي او کمزوري مه ښیئ. (او که
تاسې ته په دې لار کې د مرګ او ژوبلې او جنګېدو) که تاسې کړېږئ
نو جګړه او زخمي کېږئ، تکلیف او درد در رسېږي، او خوږ او ...
تاسې ته هم دا رسېږي)، نو هغوی هم د تاسې په شان کړېږي. نو که تاسې چې ...
کړئ (او خوږ او ... ته تاسې ته در رسېږي، خو هغوی هم ستاسې په
نه جګړې غوندې لاس نه خلي)، خو (تاسې هغه په ثمر کې تر ...

چمتو اوسئ، ځکه‌چي ستاسي او د دوی توپیر په دې کي دی چي) تاسي له الله څخه د هغه څه هیله لرئ، چي دوی یې نه لري . او الله (ستاسي په ټولو احوالو او په کته او تاوان) ډېر پوه او (په خپل کار او تدبیر کي) د حکمت (د لوري کچي پوهي) څښتن دی .

په پای کي باید تکراراً وواېو چي په دې کي د شک هیڅ ځای نسته چي که د اشغالګرو سره پرې سوله وسي چي هغوی لاندي سوې اورشو خپلو اوسېدونکو ته پرېږدي او له اشغال سوي ځمکي څخه ووزي، ن و دا سوله رواده . خو که د دښمن یا د هغو د پلویانو سره یو ډول داسي سوله وسي چي د دښمن د اشغال منل پکښي نغښتي وي، ن و دا سوله د شریعت له مخي کرد سره باطله ده .

اللهم تقبل منا هذا

☆ ☆ ☆

اختلاف

محترم موکتونکو ! تاسو ته به معلومه وي چي په تېرو وختونو کي په جهادي صفونو کي اختلاف او تفرقې، د ګوندونو جوړولو، پر مختلفو جبهاتو د مجاهدینو تقسیم . د جهاد وصفت څومره تاوان وکړی ، دیو نیم میلیون شهیدانو قرباني څنګه په سیند باندي لاهو سوې، د کونډیانو ارمانونه څنګه دغسي نیم خواپاته سول، یتیمان مو څنګه د خپلو باباګانو د قرباني د نتیجې تږي پاته سول، په کورني جګړو کي مو څه هستي د لاسه ورکړي، د دښمنانو زړونه مو څنګه په ځان باندي یخ کړل، څه ممعیوبین مو وسول، وطن مو څرنګه په کنډوا له بدل سو . دا ټول د اختلاف او تفرقي عواقب ول چي موږ په خپلو سترګو مشاهده کړل

. الله (جل جلاله) هغه کسانو ته سخته سزا ورکړي څوک چې د دغه بدبختيو عاملين وو . اوس چې په افغانستان کي بيا مجاهدين ورځي تر بلي مخ په وړاندي روان دي، قرباني ورکوي، وينه توی وي، کونډياني پريږدي، يتيمان پريږدي، هجرتونه کوي، د بند سختي پر ځان ګالي، خلاصه چې د دين مبين د دفاع په خاطر پر هيڅ باندي دريغه نه کوي، چې دا دی تقريبا د قربانيو نتيجې ته يې ځانونه نژدې کړي دي، په داسي حالاتو کي بيا د ځينو خود غرضه انسانانو له خوا هڅه کول کيږي چې هغه ترخه تجربه يو ځل بيا تکراري کړي، بيا اختلاف جوړ کړي، بيا د مجاهدينو قرباني د خاورو سره خاوري کړي: چې دغه تفرقه اچونکي کسان د الله (جل جلاله) د دين سره هم خيانت کوي، د دې ملت د سپېڅلو هيلو سره هم غټ خيانت دی، که خدای ناکرده دوی په دغه خپلو هڅو کي بريالي سي او الله (جل جلاله) دي نه کوي اختلاف جوړ کړي، نو د ټولو بدبختيو حساب به الله (جل جلاله) د دوی سره کوي .

الله (جل جلاله) فرمايي: ﴿وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا﴾

ترجمه: د الله (جل جلاله) په رسۍ پسې لاس ټينګ کړئ . اختلاف مه جوړوئ .

وعن ابی ذر قال قال رسول الله ﷺ: من فارق الجماعة شبرا فقد خلع ربقة الاسلام من عنقه . (رواه احمد و ابو داؤد)

ترجمه: د حضرت ابو ذر رضی الله تعالی عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل څوک چې د جماعت (د مسلمانانو) څخه يو لوېشت جلا سي (اختلاف ورسره وکړئ) نو يقيناً هغه کړی د اسلام يې د غاړي څخه وکښل .

حضرت ابو هريره رضی الله عنه فرمايي: چې عليه السلام مبارک

فرمايي: الله (جل جلاله) ستاسو لپاره درې شيان خوښوي، درې شيان ستاسو لپاره ناخوښه بولي . ستاسو لپاره دا خوښ بولي چي تاسو يوائې د الله (جل جلاله) عبادت وکړئ، شريک مه ورسره نيسئ . بل دا چي تاسو ټول د الله (جل جلاله) پر دين لاس ټينګ کړئ (اختلاف مه کوئ) بل دا چي د خپلو اميرانو خير خواهي غواړئ .

او ستاسو لپاره داناوښه بولئ چي : تاسو معلومي او مجهولي خبري کوئ (د خبري حقيقت نه معلوموي، چي داسي کول د اختلاف منبع ده) بل دا چي مال ضائع کوي، بل دا چي ډيري پوښتني (بې فائدې) کوې .

حضرت عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنه فرمايئ چي عليه السلام مبارک وفرمايل چي الله (جل جلاله) زما امت پر ګمراهي نه سره جمع کوئ، د الله (جل جلاله) نصرت د جماعت (د مسلمانانو) سره دی، څوک چي د مسلمانانو د جماعت څخه بېل سو (اختلاف يې سره جوړ کړی) هغه اور ته وغورځېدی .

بيت المقدس او
د امريکا سفارت

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَى تِجَارَةٍ تُنجِيكُم مِّنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ـ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَتُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ﴾

ترجمه:

اې مومنانو ! تاسو داسي تجارت و نه ښيم چي د دردناک عذاب څخه مو خلاص کړئ؟ (هغه تجارت دا دی) پرالله ايمان ولري، د الله (جل جلاله) پر رسول ايمان ولرئ، د الله (جل جلاله) په لاره کي په مالونو او ځانونو

باندي جهاد وكړئ، همدغه ستاسو لپاره خير دی، كه تاسو پوهيږئ .

لـه كومي زمانې چي مسلمانانو د الله (جل جلاله) دغه عظيم حكم ته شا كړې ده او د جهاد، اسلام او اسلامي ارزښتونو دفاع يې پرې ايښې ده نو لههماغه وخته مسلمانان په تنزل روان دي او ديو ملت په حيث د تحقير تذليل او محكوميت كندو ته د غورځېدو په حالت كي دي تر دې چي مسلمانان د غلامۍ او ذلت له ژوند سره تر دې حده پوري عادي شول چي د خپل خلاصون او خپل عزت او خپلواكۍ د ترلاسه كولو په هكله هيڅ كومه چاره ورته په نظر نه ورځي، تر دې اندازې د دښمن تبليغاتو متأثره كړل چي دوست ورته دښمن او دښمن ورته دوست ښكاري، خلاصون ورته هلاكت او هلاكت ورته خلاصون په نظر ورځي، خپلي چاري يې داسي كسانو ته سپارلي چي هغو ته د اسلامي ارزښتونو پر ځای كفري ارزښتونه مقدم دي، د ټولو اسلامي هيوادونو مشران داسي خلك دي چي د خپلو ديني او ملي مقدساتو ته د ژمنتيا پر ځای د هغو په له منځه وړلو لګيا دي، د دې پر ځای چي د خپلو ولسونو حفاظت وكړي نور يې هم د مرګ كومي ته بيايي، شپه او ورځ د خپل ولس په وژلو لګيا دي، صلاح الدين ايوبي چي كله بيت المقدس د غاصبينو څخه ازاد كړی نو په خپله لمړنۍ تاريخي وينا كي يې داسي وويل: كه په مسلمانانو كي يو با احساسه غيرتمند مشر پاته وي، بيا به غاصبين دغه مقدسه خاوره نه كړي لاندي .

خو افسوس چي نن په مسلمانانو كي داسي څوك مشر نسته چي د امريكايانو د دغه مردار وجود څخه دغه مقدسه مځكه پاكه كړي . بلكه هر هغه مشر چي له كفارو څخه د اسلام د خاوري د آزادۍ غوښتونكي وي مسلمانان ورته د شك په ستركه ګوري چي لا د نورو په غلامۍ يې تورنوي

تر دې حده د کـفـارو تـر تـأثيـر لاندې شـول چـې لـه کفر سره مقابله ورته نا شونې ښکاري . جهاد ورته د وروسته پاتې او بې تمدنه خلکو کار ايسي، نو د مسـلمانانو د دغو ټولو بد بختينو سبب او لامل د اسلام د عظيم رکن پرېښوول دي چې عبـارت لـه جهـاد څخـه دي، د جهـاد فـايده چې کـومـه د مؤمنـانـو، شهيدانـو، مجاهدينو او د اسلامي حکومت منشرانو ته ده هغه بالـکل څرګنده ده، هيڅ بيان ته ضرورت نه لري، که رښتيا هم د اسلامي نړۍ مشران له غاصبو يهودانو څخه د القدس ازادول غواړي نو بيا دې هغه تکلاره عـمـلي کړي چې زمـوږ اسـلافـو دوه ځـلې د همدې وحشيـانو لـه منکولو څخه همدا مقدس ځای پر ازاد کړی، او که چير هسي د مسلمانانو تېر ايستـل يـې مـقـصـد وي او ی څـو ور ځ پـه رسنيو کي همدې موضوع باندي ګـرمـې او تـوندي خبري کوي څو د مسلمانانو په وړاندي خپل قدر او عـزت زيـات کـړي او بـس، خو دا مسئله په دې اوتو بوتو نه حل کيږي او نه تـونـدي خبـري د کـفـر پـه وړانـدي سپر کېدای شي، ځکه يوازنۍ نسخه چې پـه استـعـمـال سـره يې د مسـلمـانـانو ټولي ناخوالي حل کيږي هغه د الله (جـل جـلالـه) پـه لار کي د مقدس جهاد اعلا ن دی، همدا د قرآن او سنتو فيصلـه ده . ځـکه د اسلام سر نوشت په همدې باندي تړاکل کيږي، او هم د مسلمان ملت عزت او ذلت تر همدې پوري تړلی .

پـه آخر کي د رسـول الله ﷺ د مبارک ژونـد د غزاوو او داسي نورو پـه اره د کتـونکو سره څه معلومات شريکوو الله (جل جلالـه) دي يې زموږ او د ټول امت مسلـمـه د فائدې ذريعه وګرزوي .

☆ ☆ ☆

د نبي عليه السلام غزاګاني او سريې

فائده:

غزا هغه جنګ ته ويل کيږي چي نبي عليه السلام په خپله برخه پکښي اخيستې وي ، سريه بيا هغه جنګ ته ويل کيږي چي نبي عليه السلام په خپله برخه نه وي پکښي اخيستې البته د مجاهدينو ګروپ يې يو ځاى ته د جنګ په خاطر ليږلى وي .

فائده :

د موته په جنګ کي رسول عليه السلام په خپله شريک نه وو خو هغه ته غزا ويل کيږي ځکه چي دغه جنګ رسول الله ته الله (جل جلاله) براه راست ښکاره کوي او پر دې د جنګ او عليه السلام له مابينه پورته وي نو ځکه دغه جنګ ته محدثين او مؤرخين غزا وايي:

په اسلام کي (۲۸) داسي جنګونه سوي دي چي عليه السلام مبارک په خپله پکښي موجود سوى دى په لاندي جدول کي موږ د غزا نوم، تاريخ او د شرکاء و تعداد ليکو:

نمبر	غزاء	سنه	شريک صحابه
۱	غزوة ابواء	۲ هج صفر	(٦٠) مهاجر صحابه
۲	غزوة بواط	ربيع الاول يا ربيع الثانى ۲ هج	(۲۰۰) صحابه
۳	غزوة عشيره	جمادى الاولى	(۲۰۰) صحابه

۴	غزوۃ صفوان	۲ ھج	
۵	غزوۃ بدر	رمضان ۲ ھج	(۳۱۳) صحابہ
٦	قرقرۃ الکدر	شوال ۲ ھج	(۲۰۰) صحابہ
۷	غزوۃ قینقاع	۲ھج	
۸	السویق	ذوالحجۃ ۳ ھج	(۲۰۰) صحابہ
۹	غزوۃ غطفان	۱۲ ربیع الاول ۳ ھج	(۴۵۰) صحابہ
۱۰	غزوۃ نجران	ربیع الثانی ۳ھج	(۳۰۰) صحابہ
۱۱	غزوۃ احد	۱۵ شوال ۳ ھج	(۷۰۰) صحابہ
۱۲	غزوۃ حمراء الاسد	۱۹ شوال ۳ ھج	د احد مجاهدین
۱۳	غزوۃ بنو نظیر	ربیع الاول ۴ ھج	
۱۴	غزوۃ ذات الرقاع	جماعدی الاولی ۴ ھج	(۴۰۰) صحابہ
۱۵	بدر موعد	شعبان ۴ ھج	(۱۵۰۰) صحابہ
۱٦	دومۃ الجندل	ربیع الاول۵ ھج	(۱۰۰۰) صحابہ
۱۷	بنی مصطلق	۲ شعبان ۵ ھج	
۱۸	خندق	شوال ۵ ھج	(۳۰۰۰) صحابہ
۱۹	بنی قریظه	ذوالقعده ۵ ھج	
۲۰	بنی لحیان	ربیع الاول ٦ ھج	(۲۰۰)
۲۱	ذی قرد	ربیع الاول ٦ ھج	(۵۰۰)

۲۲	خیبر	محرم الحرام ۷ هج	(۱۴۰۰) صحابه
۲۳	صلح حدیبیه	٦ هج	(۱۵۰۰) صحابه
۲۴	موته	جمادی الاولی ۸ هج	(۳۰۰۰) صحابه
۲۵	فتح مکه	رمضان ۸ هج	(۱۰۰۰۰) صحابه
۲٦	حنین	شوال ۸ هج	(۱۲۰۰۰) صحابه
۲۷	طائف	شوال ۸ هج	(۱۲۰۰۰) صحابه
۲۸	تبوک	رجب شعبان ۹ هج	(۲۳۰۰۰) صحابه

...... ☆ ......

د نبي علیه السلام

د وخت سریې

نمبر	دسریې نوم	سنه	دشرکاؤ تعداد
۱	حمزه بن عبد المطلب	ربیع الاول، ربیع الثانی	(۳۰) صحابه
۲	عبیده بن حارث	شوال ۲ هج	(٦۰) یا (۸۰) صحابه
۳	سعید بن ابی وقاص	ذوالقعده ۲ هج	(۲۰) صحابه
۴	محمد بن مسلمه	۱۴ ربیع الاول ۳ هج	(۴۰۰) صحابه

۵	زید بن حارثہ	جمادی الاخری ۳ ھج	(۱۰۰) صحابہ
٦	عبد اللہ بن جحش	جمادی الاخری ۲ ھج	(۱۰۰) صحابہ
۷	عمیر بن عدی	۲۴ رمضان ۲ ھج	یواحٔي دغہ عمیر
۸	سالم بن عمیر	شوال ۲ ھج	یواحٔي دغہ صحابي
۹	ابي مسلمہ	محرم ۳ ھج	(۱۵۰) صحابہ
۱۰	عبد اللہ بن انیس	محرم ۳ ھج	یواحٔي دغہ صحابي
۱۱	عاصم بن ثابت	صفر ۳ ھج	(۱۰) صحابہ
۱۲	منذر بن عمر الصاعدي	صفر ۴ ھج	(۷۰) صحابہ
۱۳	محمد بن مسلمہ	محرم ۴ ھج	(۳۰) صحابہ
۱۴	عکاشا محصن	ربیع الاول ۴ ھج	(۴۰) صحابہ
۱۵	محمد بن مسلمہ	ربیع الاول یا ربیع الثانی ۴ ھج	(۱۰) صحابہ

۱۶	عبیدہ بن جراح	ربیع الثانی ۴ھج	(۴۰) صحابہ
۱۷	زید بن حارثہ	ربیع الثانی ۴ھج	
۱۸	زید بن حارثہ	جمادی الاخری ۴ھج	(۱۵) صحابہ
۱۹	زید بن حارثہ	جمادی الاخری ۴ھج	(۵) صحابہ
۲۰	ابو بکر صدیق	جمادی الاخری ۴ھج	(۱۰۰) صحابہ
۲۱	عبد الرحمن بن عوف	رجب ۴ھج	(۷۰۰) صحابہ
۲۲	زید بن حارثہ	۴ھج	
۲۳	عبی بن ابی طالب	۴ھج	(۱۰۰) صحابہ
۲۴	زید بن حارثہ	رمضان ۴ھج	
۲۵	عبد اللہ بن عتیک	رمضان ۴ھج	(۵) صحابہ
۲۶	عبد اللہ بن رواحہ	شوال ۴ھج	(۳۰) صحابہ
۲۷	کرز بن جابر الفہری	۴ھج	(۲۰) صحابہ

۲۸	عمرو بن امیہ الضمری	۴ ھج	
۲۹	ابان بن سعید	محرم ۷ ھج	
۳۰	عمر بن خطاب	شعبان ۷ ھج	
۳۱	ابو بکر الصدیق	شعبان ۷ ھج	
۳۲	بشیر بن سعد	شعبان ۷ ھج	(۳۰) صحابہ
۳۳	غالب بن عبد اللہ اللیثی	رمضان ۷ ھج	(۱۳۰) صحابہ
۳۴	بشیر بن سعد	شوال ۷ ھج	(۳۰۰) صحابہ
۳۵	اخرم سلمی	ذوالحجۃ ۷ ھج	(۵۰) صحابہ
۳۶	غالب بن عبداللہ اللیثی	۸ ھج	(۱۵) صحابہ
۳۷	غالب بن عبد اللہ اللیثی	صفر ۸ ھج	(۲۰۰) صحابہ
۳۸	شجاع بن وھب	ربیع الاول ۸ ھج	(۲۴) صحابہ

۳۹	کعب بن عمیر	ربیع الاول ۸ هج	(۱۵) صحابه
۴۰	کعب بن عمیر	ربیع الاول ۸ هج	(۱۵) صحابه

فائده:

دغه دوه جنګه دغه صحابه کرامو په یوه ورځ کړي دي، چي په دوهم جنګ کي کعب رضی الله تعالی عنه د خپلو ټولو ملګرو سره په شهادت ورسېدی، صرف یو ملګری یې پاته سو چي هغه بیا تر رسول الله ﷺ پوري حال راوړی.

۴۱	عمرو بن العاص	جمادی الاخری ۸ هج	(۳۰۰) صحابه
۴۲	ابو عبیده بن جراح	رجب ۸ هج	(۳۰) صحابه
۴۳	عمرو بن العاص	۸ هج	
۴۴	ابو قتادة بن حارث السلمی	شعبان ۸ هج	(۱٦) صحابه
۴۵	//	رمضان ۸ هج	(۸) صحابه
۴٦	اسامه بن زید	رمضان ۸ هج	
۴۷	سعد بن زید الاشهلی	رمضان ۸ هج	(۲۰) صحابه
۴۸	خالد بن ولید	رمضان ۸ هج	(۳۰) صحابه
۴۹	عمرو بن العاص	رمضان ۸ هج	
۵۰	خالد بن ولید	رمضان ۸ هج	(۳۵۰) صحابه

۵۱	ابو عامر عبيد الاشعرى	شوال ۸ هج	
۵۲	طفيل بن عمر وائلى	شوال ۸ هج	
۵۳	قيس بن سعد	ذوالقعدة ۸ هج	(۴۰۰) صحابه
۵۴	خالد بن وليد	ذوالقعدة ۸ هج	
۵۵	عيينة بن حصن فزارى	محرم ۹ هج	(۵۰) صحابه
۵۶	عبد الله بن عوسجة	صفر ۹ هج	
۵۷	قطبة بن عمار الانصارى	صفر ۹ هج	(۲۰) صحابه
۵۸	ضحاک بن سفيا الكلابي	صفر ۹ هج	

☆......**فائده:**

د نبي عليه السلام په زمانه کي په ټولو غزاواتو او سرياؤ کي د دواړو طرفو څخه يو زر اته (۱۰۰۸) صحابه شهيدان سوي دي، اوه سوه نه پنځوس (۷۵۹) کفار مړه دي .

د نبي عليه السلام توري دغه لاندي دي:

۱ . ماثور

۲ . العضب

۳ . ذوالفقار

۴ . القلعى

۵ . البتار
٦ . الحتف
۷ . المخزم
۸ . الرسوب
۹ . القضيب
۱۰ . الصمصامة
۱۱ . اللحيف
د نبي عليه السلام زغري:
۱ . ذات الفضول
۲ . ذات الوشا ح
۳ . ذات الحواشي
۴ . السعدية
۵ . فضة
٦ . البتراء
۷ . الخريق
د نبي عليه السلام كمان:
۱ . الزوراء
۲ . الروحاء
۳ . الصفراء
۴ . شوحة
۵ . الكتوم
٦ . السداد
د نبي عليه السلام ډال:

۱ . الدلوق
۲ . الفتق
۳ . الموجز
۴ . الذقن

د نبي عليه السلام نېزې:

۱ . المثوى ۲ . المثنى ۳ . البيضاء
۴ . العنزة ۵ . السغاء

د نبي عليه السلام خول:

۱ . ذالسبوغ ۲ . الموشح

پر نبي عليه السلام باندې د پيرې كوونكي صحابه رضوان الله تعالى عليهم اجمعين:

۱ . حضرت ابو بكر الصديقؓ
۲ . حضرت عمر فاروقؓ
۳ . حضرت على المرتضىؓ
۴ . حضرت زبير بن عوامؓ
۵ . حضرت عباسؓ
٦ . حضرت سعد بن ابى وقاصؓ
۷ . حضرت عبدالله بن مسعودؓ
۸ . حضرت طلحهؓ
۹ . حضرت بلال حبشيؓ
۱۰ . حضرت ابو ذر غفاريؓ

۱۱ . حضرت سعد بن معاذؓ
۱۲ . حضرت حذیفہؓ
۱۳ . حضرت عمارؓ
۱۴ . حضرت ابو ایوب انصاریؓ
۱۵ . حضرت محمد بن مسلمہؓ
۱۶ . حضرت قیس بن سعدؓ
۱۷ . حضرت عباس بن بشیرؓ
۱۸ . حضرت انس بن مرثدؓ
۱۹ . حضرت ابو ریحانہؓ
۲۰ . حضرت زکوان بن عبد قیسؓ
۲۱ . حضرت عصمۃ بن مالک خطمیؓ
۲۲ . حضرت ادرع اسلمیؓ
۲۳ . حضرت محجن بن ادرع

هذا ما اوردناه فی هذه الرسالة و اخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمین .

اللهم انصر الغزاة والمجاهدین . اللهم اهلک الکفرة والیهود والنصاری واعوانهم . آمین ثم آمین

☆ ☆ ☆

کتاب السیر

سوال:...... که کفارو په یوه مرکز او یا په یوه ولایت حمله کوله نو د دغه ولایت مرکز ساتل په باچا فرض دي که نه؟

جواب:...... بالکل یې ساتل په باچا فرض دي .

"کل موضع خیف هجوم العدو منه فرض علی الامام او علی اهل ذلك الموضوع حفظه و ان لم یقدروا فرض علی الاقرب الیهم اعانتهم إلی حصول الکفایة بمقاومة العدو الخ" (رد المحتار / ص: ۲٤۰ / ج: ۳)

سوال:...... که د کفارو کاروان روان وو د مسلمانانو موټر یې پخپل کاروان کې په زوره داخل کړ، د دې لپاره چې مجاهدین حمله پر و نه کړي آیا مجاهدینو لره دا شته چې حمله پر وکړي که نه؟

جواب:......بالکل مجاهدینو لره دا جواز شته چې حمله پر وکړي خو مقصود به په ویشتلو سره کفار ګرځوي .

"و لا بأس برمیهم و ان کان فیهم مسلم اسیر او تاجرا و ان ترسوا بصبیان المسلمین او بالا ساری لم یکفوا عن رمیهم و یقصدون بالرمی الکفار الخ"(عالمگیري / ص: ۱۹٤ / ج: ۲ ، رد المحتار / ص: ۲٤٤ / ج: ۳)

سوال:......که یو والي یا ولسوال یا یو قمندان د مجاهدینو خپل مجاهدینو ته امر وکړي چې غیر شرعي قتل سره یا په غلا سره یا په بل غیر شرعي کار سره آیا دغه مجاهدین به یې اطاعت کوي که نه؟

جواب:......هر امیر چې مجاهدین امر کړي په غیر شرعي کار سره دغه مجاهدین دې اطاعت نه کوي .

"قال محمدؒ إذا امر الامیر العسکر بشئ کان علی العسکر ان یتبعوه فی ذلك الا

ان يكون المامور به معصية بيقين الخ"(عالمگيري / ص: ۱۹۲ / ج: ۲)

سوال:— كه كفار او مسلمانان سره گډ وو مجاهدين حمله وكړي مسلمانان په كي ووژل شول آيا په دغو مجاهدينو كفاره يا ديت شته كنه؟

جواب:— په دغو مجاهدينو نه كفاره شته او نه ديت شته.

"ونرميهم بنبل ونحوه وان تترسوا ببعضنا ولو تترسوا بنبي [illegible] ونقصدهم اي الكفار وما اصيب منهم اي من المسلمين لا دية فيه ولا كفارة لان الفروض لا تقرن بالغرامات الخ" (در المختار على هامش رد المحتار / ص: [illegible] / ج: ۳، عالمگيري / ص: ۱۹٤ / ج: ۲)

سوال:— كه مجاهدين غنيمت گير كړي د كفارو څخه آيا د جواز قسمت شته چي يو مجاهد ته زياته حصه وركړي چي ته به جنګ وكړې د غنيمت څخه او مخكي تر جنګ د قسمت د خبره نه وي كړي چي هر چا چي به جنګ وكړي زياته حصه وركوو؟

جواب:— دا غير جائز دي.

"ولما تنفيل بعد احراز الغنيمة لا يجوز الخ" (المحيط البرهاني / ص: [illegible] / ج: ۵)

سوال:— كه مجاهدين په كفارو باندي حمله وكړي په دغه حمله كي بعضي مسلمانان ووژل شي د كفارو سره په خطا كي او ورثه د مسلمانانو دعوه وكړي چي د دوي په قصد سره وژلي دي او مجاهدين انكار كوي نو د چا قول معتبر دي؟

جواب:— قول د مجاهدينو معتبر دي سره د قسم.

"وذكر السرخسي ان القول للرامي بيمينه في انه قصد الكفار لانه ينكر [illegible] المقتول انه تعمد قتله الخ" (رد المحتار / ص: [illegible] / ج: [illegible])

سوال:— كه مجاهدين د الحرب ته ولاړ د كفارو څخه [illegible]

کړی آیا دا جواز مجاهدینو ته شته چي بې غیر ضرورت او بې له یوې فایدې دا غنیمت په دار الحرب کي تقسیم کړي؟

جواب :...... بغیر ضرورت او بې له یوې نایدې غنیمت تقسیم کول په دار الحرب کي غیر جائز دی:

"و انما تكره القسمة فی دار الحرب عند علمائنا رحمهم الله حالة الاختيار اما فی حالة الضرورة فلا بأس به الخ"(المحيط البرهانی / ص: ٤١١ / ج: ٥)

سوال :...... که کفارو مجاهدین په یو ځای کي محاصره کړل که مجاهدینو جنګ کړی وای شهیدان کول یې کـه یې جنګ نه وای کړی ګیرول یې او بندیان کول یې نو په دغه حالت کي په دوی جنګ لازم دی کنه ؟

جواب :...... په داسې حالت کي په دوی جنګ لازم نه دئ .

"فان علم انه إذا حارب قتل و ان لم يحارب اسر لم يلزمه القتال الخ"(در المحتار علی هامش رد المحتار / ص: ٢٤٢ / ج: ٣)

سوال :...... که مجاهدین دار الحرب ته ولاړل د کفارو څخه یې غنیمت ګیر کړی دار الاسلام ته یې نه وو را نقل کړی دغه غنیمت خو دغه او هم یې په دغه غنیمت کي ښځي د کفارو هم نیولي وې یوه مجاهد د یوې ښځي سره بد کاري وکړه بیا یې مړه هم کړه په دغه مجاهد باندي حد یا قصاص یا تاوان شته کنه؟

جواب :...... په دغه مجاهد هیڅ شی نشته .

"قال محمدؒ و لو جيش دخلوا دار الحرب فاصابوا الغنائم و سبايا فلم يخرجوها إلی دار السلام و لم تقسم بعد حتی فجر رجل بامرأة من السبی ثم قتلها خوفا من ان تخبر الامام بما صنع ثم اطلع الامام علی ما صنع لم يكن عليه حد و لا عقد و لا قصاص و لا ضمان الخ"(المحيط البرهانی / ص: ٣٩٤ / ج: ٥)

سوال :...... یو مجاهد ته په ډېرو کفارو باندي حمله کول جائز ده که نه؟

جواب :...... که د دغه مجاهد دا ګمان وو چي تاوان ور رسولای شم نو بالکل

جائز ده .
"لا بأس ان يحمل الرجل وحده و ان ظن انه يقتل إذا كان يصنع شيئا بقتل او بجرح او يهزم فقد فعل ذلك جماعة من الصحابة بين يدى رسول الله ﷺ يوم احد و مدحهم على ذلك الخ"(رد المحتار / ص: ۲۴۳ / ج: ۳)

سوال :...... كه مجاهدينو د كفارو څخه غنيمت ګير كړى قومندان د دغه مجاهدينو دغه غنيمت تقسيم كړى لږ شى د غنيمت پاته شو چې تولو مجاهدينو ته نه رسېدى آيا دا جواز شته چې ده لږ شي د غنيمت قومندان خيرات كړي مسكينانو ته يې وركړي كنه ؟

جواب :...... دا جواز شته چې دغه لږ شى د غنيمت څه پاته شو په مسكينانو يې تقسيم كړي .
"وذكر محمد" الخ في والى عسكر قسم الغنائم و بقى شئ لا تحتمله القسمة لقلته يتصدق به على المساكين لانه حق الغانمين و قد تعذر ايصاله إلى المستحق الخ"(المحيط البرهانى / ص: ۲۹۷ / ج: ۵)

سوال :......كه يو مسلمان قادر وو پر جهاد باندي په نفس او په مال سره نو په دغه مسلمان باندي جهاد په نفس او مال سره لازم دى كه يوازي په نفس سره يا په مال سره؟

جواب :...... هم په نفس سره پرې لازم دى هم په مال سره .
"ثم من كان قادرا على الجهاد بنفسه و ماله فعليه ان يجاهد بنفسه و ماله الخ"(عالمګيري / ص: ۱۹۱ / ج: ۲)

سوال :......كه مجاهدين دار الحرب ته ولاړل د كفارو څخه يې غنيمت ګير كړ دغه غنيمت مجاهدينو دار الاسلام ته راوړى تقسيم كړى يې نه وو يو مجاهد څه شى د غنيمت د مال څخه هلاك كړ آيا پر دغه مجاهد يې تاوان شته كه نه چې هلاك يې كړى؟

جواب :......په دغه مجاهد چې د غنيمت د مال څخه بې څه شى هلاك كړى دى

تاوان يې شته .

"ولو كانت الغنائم احرزت بدار الاسلام الا انها لم تقسم بعد فاتلف رجل من الغانمين شيئاً من الغنيمة الخ ضمن جميع ما اتلفه الخ"(المحيط البرهاني / ص: ۳۹۵ / ج: ۵)

سوال:...... كه يو مسلمان يوه مجاهد ته پيسې وركړي چې په دغو پيسو زما پر ځاى جهاد وكړه په مزدورۍ باندې دغه كار جائز دى كه نه؟

جواب:......دا غير جائز دى .

"وإذا قال القاعد للغازى خذ هذا المال لتغزو به عنى لا يجوز لانه استئجار على الجهاد الخ"(رد المحتار / ج: ۳ / ص: ۲۴۳)

سوال:...... كه يو مسلمان د مجاهدينو سره دار الحرب ته ولاړ ى د دې لپاره چې د مجاهدينو خدمت وكړي په مزدورۍ باندې . مجاهدينو غنيمت گير كړى آيا دغه مزدور ته دا جواز شته چې د غنيمت د شي څخه خوراک وكړي يا يوه بله نفع د غنيمت پر شي واخلي كه نه؟

جواب :......دغه مزدور ته دا جواز نشته چې د غنيمت پر شي باندې نفع واخلي .

"ومن كان دخل دار الحرب ليخدم بعض الجند باجر فلا يباح له ان يتناول شيئا من الغنيمة الخ"(المحيط البرهانى / ص: ۳۷۹ / ج: ۵)

سوال:...... كه په ښار كې يو فقهي عالم وو بل دغسې فقهي عالم نه وو په دغه ښار كې كه جهاد فرض عين شو نو پر دغه عالم باندې جهاد فرض دى كه نه؟

جواب:......بالكل فرض دى .

"وعالم ليس فى البلدة افقه منه فليس له الغزو خوف ضياعهم (سراجية) وعمم فى البزازية السفر ولا يخفى ان المقيد يقيد غيره بالاولى وفرض عين ان هجم العدو فيخرج الكل ولو بلا اذن الخ"(در المختار على هامش رد المحتار / ص:

۲٤۲ / ج: ۳)

سوال: ...... كه يو مسلمان دار الحرب ته تلى په امن سره دغه مسلمان ته دا جواز شته چي قران كريم دځان سره يوسي كه نه؟

جواب: ...... دغه مسلمان ته دا جواز شته چي قران كريم دځان سره يوسي كه يې يقين وو چي كفار پخپله وعده ولاړ دي بې عزتي يې نه كوي .

"و إذا دخل الرجل ارض الحرب بأمان فلابأس بان يدخل المصحف مع نفسه إذا كانوا قوما عرفوا انهم يفون بالعهد الخ" (المحيط البرهانى / ص: ۳۱۸ / ج: ٥)

سوال: ...... كه يو مجاهد لره دا معلومات وو چي كه زه حمله وكړم په دغو كفارو ضرر نه شم ور رسولاى نو ده لره دا جواز شته چي حمله پر وكړي كه نه؟

جواب: ......ده لره دا جواز نشته چي حمله پر وكړي .

"فاما إذا علم انه لا ينكى فيهم فانه لا يحل له ان يحمل عليهم لانه لا يحصل بحملته شيئ من اعزاز الدين الخ"(رد المحتار / ص: ۲٤۳ / ج: ۳)

سوال: ...... كه يو مسلمان دار الحرب ته په امن سره تلى د تجارت لپاره د دغه مسلمان سره اسلحه هم وه خو قصد يې د دې نه وو چي دغه اسلحه په كفارو خرڅه كړي آيا دغه سړي ته به حكومت اسلامي اجازه ور كړ چي ولاړ شي كه نه؟

جواب: ......دغه سړي ته به اجازه وركړي چي ولاړ شي په دې شرط چي دا يې يقين وي چي كفار دغه اسلحه نه ځيني اخلي .

"و إذا اراد المسلم ان يدخل دار الحرب بامان للتجارة و معه فرسه و سلاحه هو لا يريد بيعه منهم لم يمنع ذلك منه و لكن هذا إذا كان يعلم ان اهل الحرب لا يتعرضون له في ذلك الخ"(عالمگيري / ص: ۲۳۳ / ج: ۲)

سوال: ...... په كفارو باندي وسپنه خرڅول يا موټر خرڅول جائز دى كه نه؟

جواب: ......وسپنه خرڅول يا موټر خرڅول په كفارو باندي غير جائز دي .

"يحرم ان نبيع منهم ما فيه تقويتهم على الحرب كحديد و عبيد و خيل الخ"(در المختار على هامش رد المحتار / ص: ۲٤۸ / ج: ۳)

سوال:......كه د مجاهدينو يوه امير دا امر وكړي چې په فلاني قرارګاه حمله مه كوئ او مجاهدينو لره دا يقين وي چې كه چيري حمله پر و نه كړو نو موږ ته ضرر رسوي او په جنګ باندي قدرت پيدا كوي زموږ سره او في الحال قدرت نلري په دغه صورت كې طاعت د امير واجب دى كه نه؟

جواب:......په دغه صورت كې طاعت د امير واجب نه دى .

"و ان علموا انهم يتضررون بترك القتال في الحال بيقين بان علموا ان اهل الحرب لا يتطيقونهم في الحال و عسى ان يلحقهم مدد يتقوون به على قتال المسلمين لا يطيعون فيه الخ"(عالمگيري / ص: ۱۹۲ / ج: ۲)

سوال:...... كه يو كافر دار الاسلام ته راغلى په امن سره دغه كافر په دار الاسلام كې يوه ذميه په نكاح كړه آيا دغه كافر په دغه نكاح سره ذمي كرځي كه نه؟

جواب:...... دغه كافر په نكاح سره د ذميه ذمي نه كرځي .

"ولو دخل الحربي دارنا بامان فتزوج ذمية لايصير ذميا بتزوجها الخ".(عالمگيري / ص: ۲۳۵ / ج: ۲)

سوال:......يو فاسق سړى د جنګ امير كېداى شي كه نه جواز لري كه نه؟

جواب:......بالكل كېداى شي كه ده لره پوهي په كار كې د جنګ وه جواز لري .

"و يجوز ان يولى الامام الفاسق إذا كان له تدبير في امر الحرب الخ"(عالمگيري / ص: ۱۹۲ / ج: ۲)

سوال:......كه د مجاهدينو امير دا خبره وكړه چې هر مجاهد كه يو كافر مړ كړي سامان د هغه كافر د هغه مجاهد دى يو مجاهد يوه كافره ښځه مړه كړه آيا دغه مجاهد دا حق لري چې سامان يې واخلي كه نه؟

جواب:...... دې كافري ښځې كه جنګ كوى دغه مجاهد حق لري چې سامان يې

واخلي که يې جنګ نه کړی بې حق نه دي.

"ولو قال الامير من قتل قتيلا فله سلبه الخ. ولو قتل ...
سلبها وان كانت لا تقاتل فلا سلب له الخ" عالمگيري ص ... ج ...

سوال: که د کفارو په قرارګاه کي ...
قرارګاه سوځولای شي او جنګ ور باندي کولای شي که نه؟

جواب: بالکل جنګ ور باندي کولای شي ...
مقصود به يې په سوځولو ... د کفر وي.

"ولا بأس بأن يحرقوا حصونهم ويغرقوها ويخربوا البنيان ...
زياد يقول هذا إذا علم انه ليس في ذلك الحصن اسير مسلم ...
فلا يحل التحريق والتغريق وكذا ...
المشركين والظهير والحصون ...
بذلك الخ" عالمگيري ص ... ج ...

سوال: که د مجاهدينو ...
کړي ... د دغه کافر د دغه مجاهد ...
... کړي په دغه مجاهد د حق ... چي ...

جواب: بالکل حق ... چي ...

"ولو قال الامير من قتل قتيلا فله سلبه فقتل ...
... الخ فله سلبه الخ" عالمگيري ص ... ج ...

سوال: مجاهدين ... شته چي ...
شرعي نعل ...
ولا ... شي که نه؟

جواب: که مجاهدين ...
شي ... دغه ...
ولا ... شي ... نه دي.

"قوم من الصلحاء يريدون الغزو و معهم قوم من اهل الفساد يخرجون إلى الغزو و معهم مزامير فان امكن للصلحاء الخروج بدونهم لا يخرجون معهم و ان لم يمكن الخروج الا معهم يخرجون معهم الخ" (عالمگيري / ص: ١٩٤ / ج: ٢)

سوال:...... که لس کفار جنګ ته راغلل د مجاهدينو مير لسو مجاهدينو ته وويل چي که دغه کفار تاسو مړه کړل سامان يې ستاسو دی دغه مجاهدينو نهه کفار مړه کړل يو ځيني ولاړی آيا دغه مجاهدين حق لري چي سامان يې واخلي که نه ؟

جواب:...... دغه مجاهدين حق لري چي سامان يې واخلي .

"ولو خرج عشرة من المشركين للقتال والمبارزة فقال الامير لعشرة من المسلمين ابرزوا اليهم ان قتلتموهم فلكم اسلابهم الخ . فان قتل تسعة من المشركين وهرب العاشر يستحقون اسلابهم استحسانا الخ" (عالمگيري / ص: ٢١٩ / ج: ٢)



باب المغنم و القسمة

سوال :...... کـه مـجـاهـدیـن یو کافر ګیر کړي په پیسو یې ور پرېښولای شي کنه ؟

جواب :...... که مجاهدینو پیسو ته حاجت درلودی بالکل جواز لري .

"اطلاق اسيرهم باخذ بدل منهم اما مال او اسير مسلم فالاول لا يجوز في المشهور ولا بأس به عند الحاجة الخ۔ وعلى هذا فقول المتون حرم فدائهم مقيد بالفداء بالمال عند عدم الحاجة اما فداء بالمال عند الحاجة او باسرى المسلمين فهو جائز الخ"(رد المحتار / ج: ۲۵۱ / ج: ۳)

سوال :......که د مـجـاهـدیـنو یوه امیر وویل چې هر چا یو کافر مړ کړی د هغه کـافـر مـال د هـغـه مـجـاهـد دی ، درې مـجـاهدینو یو کافر مړ کړی آیا دغه درې مجاهدین حق د دغه سامان لري که نه؟

جواب :...... دغه درې مجاهدین حق نلري چې د دغه کافر څخه چې دوی مړ کړی دی دا سامان واخلي .

"لو قال من قتل قتيلا فله سلبه و ان قتله الثلاثة فلا شيئ لهم الخ"(عالمگيري / ص: ۲۱۸ / ج: ۲)

سوال :...... کـه مـجـاهـدیـنو د کفارو څخه موټر یا ټانکونه ګیر کړل بیرته یې کفارو ته په مقابل د پیسو کې ور پرېښولای شي که نه ؟

جواب :.......که د مجاهدینو پیسو ته ضرورت وو نو ور ایله کولای یې شي .

"(قوله و خيل و سلاح) اى إذا اخذناهما منهم فطلبوا المفاداة بمال لم يجز ان نفعل لان فيه تقوية بما يختص بالمقتال فلا يجوز من غير ضرورة الخ"(رد المحتار / ص: ۲۵۱ / ج: ۳)

سوال: ...... که يو مسلمان د کفارو په صف کي ولاړ وو او معاون د کفارو وو. دغه معاون د کفارو څخه پخپل شخصي مال سره پنځه موټر واخيستل او د پنځه موټرو مطالبه او خواست يې د کفارو څخه هم وکړې کفارو پنځه موټر ورکړل مجاهدنو په دغه معاون حمله وکړه او لس سره موټر يې گير کړل دغه ټول غنيمت گرځي که نه؟

جواب: ......هغه پنځه موټر چي کفارو ورکړيدي هغه غنيمت گرځي او هغه چي پخپل شخصي مال سره يې اخيستيدي هغه غنيمت نه دي.

"ولو قاتل مسلم مع الكفرة المسلمين فقتله رجل مسلم منفل له لميكن له سلبه لان المسلم وما في يده لا يغنم وان كان السلب مما اعاره المشركون فقتله انسان فله سبله الخ"(عالمگيري / ص: ۲۲٤ / ج: ۲، رد المحتار / ص: ۲۱٦ / ج: ۳)

سوال: ...... که د مجاهدينو يوه امير وويل چي که ما يو کافر مړ کړې د غه سامان زما دى آيا امير که يو کافر مړ کړې حق د سامان لري چي وايې خلي که نه؟

جواب: ...... دغه امير حق نلري چي د هغه کافر چي مړ کړې يې دى سامان يې واخلي.

"ولو قال من قتلته انا فلى سلبه فانه لا يستحق السلب الخ"(عالمگيري / ص: ۲۱۸ / ج: ۲)

سوال: ...... که د مجاهدينو يوه قومندان وويل چي تا هغه کافر چي په هغه فلاني موټر ياټانک کي سپور دى مړ کړې ستا لس زره (۱۰۰۰۰) افغانۍ مزدوري ده په ما باندي هغه مجاهد هغه کافر مړ کړې آيا دغه مجاهد حق لري چي لس زره افغانۍ د قومندان څخه واخلي؟

جواب: ...... دغه مجاهد حق نلري چي لس زره افغانۍ د قومندان څخه واخلي ځکه دا اجرت پر جهاد باندي دى اجرت پر جهاد جائز نه دى.

"لو قال امير لمسلم حر او عبد انقتلت ذلك الفارس من المشركين فلك على

اجر مأة دينار فقتل لم يكن له اجر لانه لما صرح بالاجر لا يمكن حمل كلامه على التنفيل و الاستئجار على الجهاد لا يجوز الخ"(رد المحتار / ص: ۲٦۲ / ج: ۳)

سوال :...... كه ديوه مجاهد سره آس وو د كفارو سره يې جنګ وكړى غنيمت يې ګير كړى وروسته تر جنګ يې خپل آس خرڅ كړى آيا دغه مجاهد لره د آس حصه هم وركول كيږي كه نه؟

جواب :......دغه مجاهد حق لري دآس د حصې هم چي وريې كړي .

"ولو باعه بعد الفراغ من القتال لم يسقط سهم الفرسان بالاتفاق الخ" (عالمگيري / ص: ۲۱۲ / ج: ۲)

سوال :......كه يوه مسلمان جهاد كوى خو مراديې په حقيقت كي مال وو دغه مسلمان لره اجر شته كه نه؟

جواب :...... دغه مسلمان لره اجر نشته او دغه حال حال د منافق دى .

" انه يريد الجهاد و مراده فى الحقيقة المال فهذا كان حال المنافقين و لا اجر له الخ"(رد المحتار / ص: ۲۳۸ / ج: ۳)

سوال :...... كه مجاهد دار الحرب ته ولاړى د كفارو څخه يې اسلحه او وسپنه ګير كړه او دغو مجاهدينو قدرت نه درلودى چي دار الاسلام ته يې راوړي اوس به په دغه اسلحه څه كوي؟

جواب :...... كوم شى چي سوځل كېدى هغه دي وسوځي او كوم شى چي نه سوځل كېدى هغه دي داسي ځاى پټ كړي چي كفار يې پيدا نه كړي .

"إذا اراد الامام العور ومعه مواشى و لم يقدر على نقلها إلى دار الاسلام لايعقرها و لا يتركها بل يذبحها و يحرقها و يحرق الاسلحة ايضا و ما لا يحترق منها كالحديد يدفن فى موضع لا يقف عليه الكفار"(عالمگيري / ص: ۲۰۸ / ج: ۲)

سوال :...... كه مجاهدينو د كفارو څخه غنيمت ګير كي او په خپل مينځ كي يې تقسيموي خو قومندان دا دعوه وكړه چي ما ته بايد ډېره حصه را كړئ ځكه چي زه قومندان يم آيا قومنداند زيادت حق لري كه نه؟

جواب :......دغه قومندان د زیادت حق نلري بلکه هر څومره غنیمت چې هغو نورو مجاهدینو ته رسیږي د ده حق هم هغومره دی .

"یقسم الامام الغنیمة فیخرج الخمس و یقسم الاربعة الاخماس بین الغانمین الخ امیر الجندی هذا بمنزلة رجل من الجند الخ" (عالمگیري / ص: ۲۱۳)

سوال :...... که مجاهدینو یو څه کفار په جنګ کې ګیر کړل او کوچنیان یې هم ورسره ګیر کړل خو د امیرانو اختلاف سره راغلی یوه امیرویل چې هغه کفار چې جنګ یې کوی هغه مړه کړي او اولادونه یې بندیان کړه او بل امیر وایي چې ټول بندیان کړئ د کوم امیر قول معتبر دی؟

جواب :...... نه به یې مړه کوي ټول فَيَّ دي که نر دي که ښځې دي .

"ولو حکم احد المحکمین بقتل المقاتلة و سبی زراریهم و حکم الاخر بسبی الکل فانهم لا یقتلون و یکونون فیأ الرجال والنساء جمیعا الخ"(عالمگیري / ص: ۲۰۲ / ج: ۲)

سوال :...... د یوه لښکر مشر د بیت المال د پیسو څخه پورو مسکینانو ته ورکولای شي که نه؟

جواب :......قومندان د بیت المال پیسې په پور مسکینانو ته نه شي ورکولای .

"و امیر الجند له انیتصدق بالفضل و لیس له ان یستقرض علی البیت المال الفقراء والمساکین الخ"(عالمگیري / ص: ۲۱۷ / ج: ۲)

سوال :......که یو مجاهد د کفارو په لاس کې بندي وو یا یو مسلمان تجار وو په دار الحرب کې یا یو کافر وو اسلام یې راوړی وو خو په دار الحرب کې وو آیا دغه کسان صلح د کفارو سره کولای شي که نه ؟

جواب :...... دغه مذکوره کسانو که د کفارو سره صلح وکړه نو صلح یې صحیح نه ده .

"و لا یصلح للحکومة اسیر من المسلمین فی ایدیهم و ذلك تاجر من المسلمین

معهم في دارهم و كذلك رجل منهم اسلم هو في دارهم الخ"(عالمگيري / ص: ۲۰۲ / ج: ۲)

سوال:...... کـه کفارو ديوه مسلمان ښځه پنځه موټره مثلاً کير کړل يا غير د موټردار الحرب ته يې نه وو نقل کړي مجاهدينو پر دغو کفارو حمله وکړه نو دغه پنځه موټر يې د کفارو ښځه کير کړل آيا دغه پنځه موټر د دغو مجاهدينو حق دی که د هغه اول مالک دي؟

جواب:...... دغـه مـجاهـدين هيـڅ حق نلري په دغه پنځو موټرو کي هغه اول مالک ته به يې وسپاري .

"هذا إذا غلب الكفار على اموال المسلمين و احرزوها بدارهم اما إذا لم يحرزوها حتى غلبهم المسلمون عليها و اخذوها ثم جاء صاحبه فانه يأخذه بغير شيئ لانهم لم يملكوها قبل الاحراز الخ"(عالمگيري / ص: ۲۲۵ / ج: ۲)

سوال:......مـجـاهـدينو د کفارو سره جنګ وکړی يو څه غنيمت يې کير کړی خو په دغه غنيمت کي څه اسلحه وه او دغه غنيمت يې نه وو تقسيم کړی د جنګ حالت وو دغه اسلحې ته ضرورت پيدا شو يوه مجاهد دغه د غنيمت اسلحه راواخيستله استعمالوله يې دغه ځيني خرابه شوه يا ورکه شوه آيا پر دغه مجاهد باندي د دغي اسلحې تاوان شته او که نه ؟

جواب:......پر دغه مجاهد يې هيڅ تاوان نشته .

"من ركب فرسا او لبس ثوبا او رفع سلاحا قبل القسمة فلا بأس به إذا احتاج اليه فإذا فرغ من الحرب رده إلى الغنيمة و لو تلف قبل الرد فلا ضمان عليه الخ"(عالمگيري / ص: ۲۱۱ / ج: ۲)

سوال:......کـه کـفارو ديوه مسلمان ښځه لس موټر کير کړل او دغو کفارو په خپل مينځ کي تقسيم کړل وروسته مجاهدينو حمله ورباندي وکړه هغه لس موټر يې ځيني کير کړل آيا دغه موټر د دغو مجاهدينو حق کيږي که نه؟

جواب:...... هغه اول مالک ته دي وسپاري دغه مجاهدين حق نه په كي لري .

"وكذا لو قسموها في دار الاسلام فان قسمتهم لا تجوز فإذا غلبهم المسلمون كان ذلك المال لصاحبه بغير شيئ الخ"(عالمگيري / ص: ۲۲۵ / ج: ۲)

سوال:...... كه مجاهدينو د كفارو څخه غنيمت كير كړى يو څه اسلحه په كي وه او دغه غنيمت يې تقسيم كړى نه وو خو حالت د جنګ وو ضرورت دغه اسلحې ته پيدا شو آيا يو مجاهد كولاى شي چې دغه اسلحه استعمال كړي كه نه؟

جواب:......مجاهد كولاى شي چې دغه اسلحه استعمال كړي او چې جنګ خلاص شو بيرته دې غنيمت وسپاري .

"من ركب فرسا او لبس ثوبا او رفع سلاحا قبل القسمة فلا بأس به إذا احتاج اليه فإذا افرغ من الحرب رده إلى الغنيمة الخ" (عالمگيري / ص: ۲۱۱ / ج: ۲)

سوال:......كه يو كافر دار الاسلام ته داخل شو په امان سره دغه كافر په دار الاسلام كي ديوه مسلمان يو څه سامان غلا كړى او دار الحرب ته يې نقل كړى . او دغه سامان په دار الحرب كي يو بل مسلمان د دغه غله څخه رانيوى او دار الاسلام ته يې را نقل كړى آيا هغه اول مالک دغه خپل سامان د دغه مشتري څخه اخيستلاى شي كه نه، بې له پيسو؟

جواب:...... هغه اول مالک خپل سامان د دغه مشتري مسلمان څخه بې له پيسو اخيستلاى شي .

"حربى دخل دار الاسلام بامان فسرق من رجل منهم طعاما او متاعا و دخل به ارض الحرب فاشتراه منه مسلم و اخرجه إلى دار الاسلام اخذه صاحبه بغير شيئ لان الحربى كان ضامنا له قبل ان يخرجه من دار الاسلام فلا يكون محرز له بادخاله دار الحرب الخ" (عالمگيري / ص: ۲۳۰ / ج: ۲)

سوال:......كه مجاهدينو يو كافر په جنګ كي كير كړى چې يو لاس يې كاټ وو يا يې يوه پښه كاټ وه يا كونګ وو يا كوڼ وو جنګ يې كوى آيا مرګ د

[illegible]

جواب: [illegible]

[illegible]

[illegible] علیہ [illegible]

سوال: [illegible]

[illegible]

جواب: [illegible]

[illegible]

[illegible] علیہ [illegible]

سوال: [illegible]

[illegible]

جواب: [illegible]

[illegible]

[illegible]

سوال: [illegible]

جواب:...... که مصلحت د مسلمانانو په کي وو جائز ده .

"إذا رأى الامام ان يصالح اهل الحرب او فريقا منهم و كان ذلك مصلحة للمسلمين فلا بأس به الخ" (عالمگيري / ص: ۱۹٦ / ج: ۲)

سوال:...... که مجاهدين دار الحرب ته ورغلل جنګ يې وکړی څه کفار يې کير کړل او بنديان يې کړل کله چي بيرته مجاهدين دار الاسلام ته راتلل قدرت يې نه درلودی چي دغه بنديان د ځان سره راولي اوس دغه مجاهدين څه ورباندي وکړي؟

جواب:...... دغه مجاهدينو که قدرت نه درلودی چي د ځان سره يې راولي او اسلام يې هم نه راوړی نو هلته دي مړ کړي .

"و اما السبى إذا لم يقدروا على نقلهم فانه يقتل الرجال منهم إذا لم يسلموا الخ" (عالمگيري / ص: ۲۰۸ / ج: ۲)

سوال:...... که يو مسلمان دار الحرب ته په امان سره ورغلی دغه مسلمان ته غلا د کفارو ښځه يا قتل د کفارو په دغه دار الحرب کي جائز دی که نه ؟

جواب:...... دغه مسلمان ته نه غلا جائز ده او نه د کفارو قتل جائز دی .

"دخل مسلم دار الحرب فأمان حرم تعرضه لشيئ من دم ومال و فرج منهم اذ المسلمون عند شروطهم الخ" (رد المحتار / ص: ۲۷۰ / ج: ۳)

سوال:...... که په دار الحرب کي دوه مسلمانان بنديان وو يو عالم وو يو جاهل وو يو مسلمان دار الحرب ته ورغی آيا کوم يو به مخکي راخلاصوي .

جواب:...... اول به جاهل راخلاصوي .

"رجل دخل دار الحرب و عنده من المال ما يمكنه شراء اسير واحد فشراء الجاهل افضل من شراء العالم الخ" (عالمگيري / ص: ۲۰۸ / ج: ۲)

سوال:...... که يو کافر دار الاسلام ته داخل شو بې له اجازې يو مسلمان کير کړی آيا دا غنيمت دی که نه فی دی؟

جواب: ......دا فی دی د ټولو مسلمانانو لپاره دئ .

"حربی دخل دارنا بغير امان فاخذه احدنا فهو و ما معه فئ لكل المسلمين سواء اخذ قبل الاسلام او بعده و قا لا لآخذه خاصة الخ"(در المختار علی هامش رد المحتار / ص: ۲۵۵ / ج: ۳)

سوال: ...... كه مجاهدينو يو كافر ګير كړی آيا بدون عوض څخه به يې پريږدي كه نه؟

جواب: ......دغه كافر دي بغير د عوضَ نه پريږدي كه څه فايده په كي نه وه .

"و لا يجوز لمن علی الاساری و هو يطلقهم مجانا الخ" (عالمگيری / ص: ۲۰۷ / ج: ۲)

سوال: ...... كه يو مسلمان دارالحرب ته بغير د امان په غلا سره داخل شو دغه مسلمان ته غلا د كفارو د مالونو اوقتل د كفارو جائز دی كه نه؟

جواب: ...... دغه مسلمان چي دار الحرب ته بغير د امان او په غلا سره داخل سوی دی ده ته غلا د مالو د كفارو او قتل د كفارو جائز دی .

"بخلاف الاسير فيباح تعرضه و ان اطلقوه طوعا لانه غير مستأمن فهو كالمتلصص فانه يجوز له اخذ المال و قتل النفس دون استباحة الفرج لانه لا يباح الا بالملك الخ"(در المختار علی هامش رد المحتار / ص: ۲۷۱ / ج: ۳)

سوال: ...... كه د كفارو باچا د مسلمانانو باچا ته تحفه پيسي مثلاً راواستولي آيا د مسلمانانو باچا ته دا جواز شته چي وايې خلي كنه ؟

جواب: ......په هغه صورت كي ورته جائز دي چي په بيت المال كي يې كښيږدي كه يې په بيت المال كي نه كښېښوی بيا غير جائز دي .

"و يكره لامير الجيش او قائد من قواد المسلمين ان يقبل هدية اهل الحرب فيختص بها بل يجعلها فيئا للمسلمين الخ"(عالمگيري / ص: ۱۹۷ / ج: ۲)

سوال: ...... كه يو مسلمان يا يوې مسلماني ښځي يوه كافر ته يا يوې ډلي د كفارو ته امن وركړی امن د دغه يوه مسلمان يا د يوې مسلماني ښځي

صحيح دی که نه؟
جواب:...... بالكل ان د دغه يوه مسلمان يا ديوې ښځي صحيح دی .
"إذا امن رجل حرا او امرأة كافرا او جماعة او اهل حصن اومدينة صح امانهم ولم يجز لاحد من المسلمين قتالهم الخ"(رد المحتار / ص: ۲٤۸ / ج: ۳)
سوال:...... كه يو مسلمان عادل باچا وو بعضو خلكو بغاوت څيني وكړی او جنګ يې ورسره وكړی خو باچا مجاهدينو ته امر وكړی چي جنګ ورسره وكړي مجاهدينو جنګ ورسره وكړی او ډېر مال يې څيني ګير كړ خو وروسته هغه باغيان تسليم شړل، آيا دغه مجاهدين به هغه اموال چي څيني ګير كړي يې دي هغه به وركوي كه غنيمت دی؟
جواب:...... كله چي دغه باغيان تسليم شول هغه د دوی شخصي مالونه به وركوي دا غنيمت نه ګرځي .
"بخلاف ما لو اخذ من اهل البغى حيث يرد عليه بعد وضع الحرب اوزادها لانه ليس فيئا الا قبله لانه اعانة لهم"(عالمگيري / ص: ۱۹۷ / ج: ۲)
سوال:...... كه د مسلمانانو يوې ډلي د كفارو سره وعده وكړه چي يوه مياشت به مثلاً جنګ كوي وعده يې ورسره وكړه بې له اجازې د باچا دغه وعده يې جائز ده كنه؟
جواب:...... دغه وعده چي بې له اجازې د باچا د كفارو سره كړې دا جائز ده .
"ولو وادعهم فريق من المسلمين بغير اذن الامام فالموادعة جائزة على جماعة المسلمين لانها امان و امان الواحد كامان الجماعة الخ"(عالمگيري / ص: ۱۹٦ / ج: ۲)
سوال:...... كه يوه مجاهد كفارو ته مين پټوي خو په دغه مجاهد باندي و چاودېدی آيا دغه مجاهد شهيد دی كه نه؟
جواب:...... دغه مجاهد شهيد دی او اجر يې د شهيد دی .
"رجل قصد العدو ليضر به فاخطأ فاصاب نفسه فمات يغسل لانه ما صار مقتولا

بفعل مضاف إلى العدو ولكنه شهيد فيما ينال من الثواب في الاخرة لانه قصد العدو لا نفسه الخ"(البحر الرائق / ص: ١٩٦ / ج: ٢)

سوال:......كه يو مسلمان كفارو په دار الحرب كي بندي كړى او بيرته يې پرېښوى نو دغه مسلمان ته غلا د كفارو اوقتل د كفارو جائز ده په دار الحرب كي كه نه؟

جواب:......دغه مسلمان ته غلا د كفارو او قتل د كفارو جائز ده ځكه دغه مسلمان غير مستأمن دى .

"دخل مسلم دار الحرب بأمان حرم تعرضه لشئ من دم ومال و فرج منهم الخ ـ بخلاف الاسير فيباح تعرضه و ان اطلقوه طوعا لانه غير مستأمن الخ"(در المختار على هامش رد المحتار / ص: ٢٧٠ / ج: ٣)

سوال:...... كه د مسلمانانو او كفارو مړي سره ګډ شول نه سره پېژندل كېدل آيا اوس به لمونځ ورباندي كوي كه نه؟

جواب:......كه چيري په دغه جنګ كي غلبه مجاهدينو لره وه نو لمونځ په ټولو وكړئ اوقصد به يې په لمانځه سره د مسلمانانو لپاره دعا وي .

او كه غلبه د كفارو لپاره وه لمونځ دې په ټولو نه كوي او غسل دې وركړي خو داسي غسل دې نه وركوي لكه غسل د مسلمانانو خو دا په هغه وخت كي چي هيڅ علامه ورباندي نه وي چي دغه كافر دى يا مسلمان دى .

"موتى المسلمين إذا اختلطوا بموتى الكفار اوقتلى المسلمين بقتلى الكفار الخ ، و ان لم تكن علامة كانت الغلبة للمسلمين يصلى على الكل و ينوى بالصلوة الدعاء للمسلمين و يدفنون في مقابر المسلمين و ان كانت الغلبة للمشركين فانه لا يصلى على الكل ولكن يغسلون و يكفنون ولكن لا على وجه غسل موتى المسلمين و تكفيهم و يدفنون في مقابر المشركين و ان كانا سواء فلايصلى عليهم الخ"(عالمگيري / ص: ١٥٩ / ج: ١)

سوال:......كه يو مسلمان مشركينو ته امن وركړى وروسته بلي ډلي

مسلمانانو حمله پر وکړه په دغه مشرکینو خو خبر نه وو چي امن يې ورکړی دی مړه یې کړل او مال يې ځيني ګير کړي پخپلو ځانو يې تقسيم کړی وروسته خبر شول چي امن يې ورکړی دی آیا په دغو مجاهدينو ديت شته او هغه مال به يې بيرته ورکوي که نه؟

جواب:......په دغو مجاهدينو ديت هم شته او هغه مال به يې بيرته د دغو مقتولينو اهل ته ورکوي .

"إذا امن رجل من المسلمين اناسا من المشركين فار عليهم قوم اخرون من المسلمين فقتلوا الرجال و اصابوا الخ ۔ الاموال و اقتسموا ذلك ثم علما بالامان فعلى القاتلين دية من قتلوا و ترد المال إلى اهلها الخ"(عالمگيري / ص: ۱۹۸ / ج: ۲)

سوال:......که يې د جنګ په میدان کي يو مړی پيدا کړی او هيڅ يوه علامه د قتل هم نه وه وربانديږ او نه هم کفارو داسي يوه اسلحه استعمال کړې وه چي په هغې انسان مړ کيدی او هيڅ يوه علامه يې نه پيدا کوله آيا دغه شهيد دی کنه؟

جواب:...... دغه کس شهيد نه دی .

"ولو وجد في المعركة ولم يكن به اثر القتل من جراحة او خنق او ضرب او خروج دم لم يكن شهيدا الخ"(عالمگيري / ص: ۱۶۹ / ج: ۱)

سوال:......مجاهدينو لره داجواز شته چي د کفارو سره تبادله وکړي د کفارو بنديان ور پريږدي کفار په مقابل کي دمجاهدين بنديان ور پريږدي که نه؟

جواب:......مجاهدينو لره دا جواز شته چي د کفارو بنديان په مقابل د مجاهدينو بنديانو ور پريږدي .

"قال محمدؒ في السير كبير لا بأس بان يفادى اسراء المسلمين باسراء الكافرين الذين في ايدى المسلمين من الرجل و النساء هذا قول ابى يوسفؒ و محمدؒ و هو اظهر الروايتين عن ابى حنيفةؒ الخ"(عالمگيري / ص: ۲۰۶ / ج: ۲)

سوال: ...... كـه مـجـاهـديـنـو شـكـست وخوړى او پـه موټرو كي وو خو دغـه يو مـجـاهـد پـه مـوټر بل مجاهد ووهى او مړه شول آيا دغه مجاهد چي مړه شول غسل غواړي كه نه؟

جواب: ...... غسل غواړي .

"و ذلك لـو انهزم المسلمون فوطئت دابة مسلم مسلما و صاحبها عليها او سائق او قائد غسل الخ" (عالمگيري / ص: ۱٦۸ / ج: ۱)

سوال: ...... كـه مسـلـمـانـان د كـفـارو پـه لاس كـي بنديان وو مسـلـمـانـانو ته دا جـواز شتـه چـي دغـه بـنديان مسلمانان په اسلحه سره چي كفارو ته اسلحه وركړي په مقابل د اسلحه هغه بنديان خوشي كړي كه نه؟

جواب: ...... پـه اسـلـحـه سـره يا په هغه شي سره چي د جنګ لپاره وي او په جنګ كي استعماليږي په هغه شي سره دي نه را خلاصوي .

"و يجوز ان يفادى اسارى المسلمين الذين فى دار الحرب بالدراهم والدنانير و ما ليـس لـه قـوة من امر الـحرب كـالثياب وغيرها و لا يفادون بالسلاح والخيل الخ"(عالمگيري / ص: ۲۰۷ / ج: ۲)

سوال: ...... په شهيد به خوشبويي پاشي كه نه؟

جواب: ...... په شهيد دې خوشبويي وپاشي .

"و يجعل الحنوط للشهيد كما فى الميت الخ"(عالمگيري / ص: ۱٦۸ / ج: ۱)

سوال: ...... باچـا لـره دا حق او جـواز شتـه چي د بيت المال څخه مسكينانو ته پور وركړي كه نه؟

جواب: ...... بالـكـل جـواز شتـه چـي مسـكينانو ته باچا پور وركړي د بيت المال څخه .

"و الامام الاعظم لـه ان يتصدق و لـه ان يستقرض على بيت المال للمسلمين الخ"(عالمگيري / ص: ۲۱۷ / ج: ۲)

سوال: ...... كه ديوه شهيد په جامه يا بدن باندې څه نجاست وو آيا دغه نجاست به پريمنځي كه نه؟

جواب: ...... دغه نجاست به پريمنځي .

"ولو كان فى الشهيد نجاسة تغسل الخ"(عالمگيري / ص: ١٦٨ / ج: ١)

سوال: ...... كه يو كافر دار الاسلام ته راغلى په امن سره دى دا حق لري چي يو كال په دار الاسلام كي تېر كړي كه نه؟

جواب: ...... دغه كافر دا حق نلري چي دى يو كال په دار الاسلام كي تېر كړي ځكه چي كفارو ته جاسوسي و نه كړي .

"لا يمكن حربى المستأمن فينا سنة لئلا يصير عينا لهم و عونا علينا الخ." (رد المحتار على هامش در المختار / ص: ٢٧٢ / ج: ٣)

سوال: ...... كه مجاهد روان وو او پيسې او اسلحه هم ور سره وه د كلي خلك يا غير د كلي خلك ورته ودرېدل او اسلحه او پيسې يې ځني اخيستل دغو مجاهدينو جنګ ورسره وكړى او څه مجاهدين يې مړه كړل آيا دغه مجاهدين شهيدان دي كه نه؟

جواب: ...... بالكل دغه مجاهدين شهيدان دي .

"ومن قتل مدافعا عن نفسه او ماله او عن المسلمين او اهل الذمة باى الة قتل بحديد او خشب فهو شهيد الخ"(عالمگيري / ص: ١٥٨ / ج: ١)

سوال: ...... هغه مجاهدين چي د كفارو سره جنګيږي او هغه مجاهدين چي مركز ونه ساتي دوى دا حق لري چي د خپل او خپل كور مصرف د بيت المال څخه واخلي كه بيت المال موجود وو؟

جواب: ...... بالكل حق لري چي خپل او د خپل كور مصرف د بيت المال څخه واخلي .

"ومصرف الجزية والخراج ومال لتغلبى و هديتهم للام الخ. وما اخذ منهم بلا حرب الخ مصالحنا كسد ثغور و بناء قنطرة و حسر و كفاية العلماء و المتعلمين الخ و

رزق المقاتلة و ذراريهم الخ"(در المختار علی هامش رد المحتار / ص: ۳۰٦ / ج: ۳)

سوال:...... كه دوه موټر د مجاهدينو روان وو په اول موټر كفارو بم يا غير د بم څخه داسي شي استعمال كړ چي په اول موټر يې اور واخيستى دغه اور د اول موټر هغه دوهم موټر ته ورسيدى په هغه دوهم موټر كي هغه مجاهدين مړه شول اياد دغه دوهم موټر مجاهدين شهيداً دي كه نه؟

جواب:......د دغه دوهم موټر مجاهدين هم شهيدان دي لكه د اول موټر چي شهيدان دي .

"ولو كان المسلمون فی سفينة فرماهم العدو وبالنار فاحترقوا من ذلك و تعدى إلى سفينة اخرى فيها المسلمون فاحترقوا فهم كلهم شهداء الخ و حكمه ان لا يغسل و يصلى عليه الخ۔"(عالمگيري / ص: ۱٦۸ / ج: ۱)

سوال:......كه دوې ډلي مجاهدين سره مخ شول او هري ډلي پر هغه بلي ډلي دا گمان وكړ چي دغه كفار دي په موږ پسي راغلل موږ گيروي جنگ يې سره وكړ د هري ډلي څخه يا ديوې ډلي څخه يو څه كسان مړه شول وروسته سره معلومه شوه چي دواړه ډلي مجاهدين وو آيا پر دغو مجاهدينو ديت او كفاره شته كه نه؟

جواب:......پر دغو مجاهدينو نه ديت شته او نه كفاره شته .

"إذا التقت سريتان من المسلمين و كل واحد ترى انهم مشركون فاجلوا عن قتلى من الفريقين قال محمد لا دية على احد و لا كفارة لانهم دافعون عن انفسهم الخ"(رد المحتار / ص: ٦۷۰ / ج: ۱)

سوال:......كه مجاهدينو يو كافر گير كړی دغه كافر مجاهدينو ته وويل چي ما پريږدئ زه به تاسو ته سل نفره در وښيم مجاهدينو پريښوی وروسته يې ورونه ښول آيا باچا لره دا حق شته چي مړ يې كړي كه نه؟

جواب:......بالكل جواز شته چي باچا يې مړ كړي .

" ولـو قـال اسير فـي ايدينـا امـنـوني على ان ادلك على مأمة رأس الخ ثم لم يدلهم فللامام ان يقتله الخ"(عالمگيري / ص: ٢٠٤ / ج: ٢)

سوال :...... كـه يـو عـسكر د ملي اردو يا چارواكي مجاهدين شهيدان كړي وو وروستـه دغـه عـسـكـر مـجـاهـدينـو تـه تسليم شو او د مجاهدينو امير عفوه ورتـه وكـړه آيا پـه دغـه عـفـوه سره امير دغه عسكر د دعوې د هغه وارثانو د شهيدانو څخه خلاصيږي كه نه او هغه ورثه حق د قصاص لري كه نه؟

جواب :...... دغـه عـسـكـر بـه د اميـر پـه عفوه سره د هغه شهيدانو د وارثانو څخه خلاصيږي او د شهيدانو وارثان حق لري چې قصاص يې كړي .

"اما الـحقوق الشخصية فلا تسقط الا بمسامحة او اسقاط اصحابها كما هو معروف فقد قرر الفقهاء ان حقوق الادمين لا تسقط بالتوبة مالم ترد المظالم لاصحابها كما انه لا يغفر ها البارى سبحانه الا بمغفرة صاحبها و لا يسقطها الا باسقاطه الخ"(الفقه الاسلامى / ص: ١٧٦ / ج: ٦ ، رد المحتار / ص: ٣٨٩ / ج: ٥)

سوال :...... كـه يو قومندان خپل لښكر تـه وويل : هر مجاهد كه كافر مړ كړى ټـانک د هـغـه كافر هم د هغـه مجاهد دى نو يوه مجاهد كافر مړ كړى خو د هغه كافر سره ډاټسن وو آيا دغه مجاهد حق د دغـه ډاټسن لري كـه نه؟

جواب :......دغـه مـجـاهـد د دغـه ډاټسـن حـق نلري ځكه ډاټسن او ټانک سره جلا وي .

"و لـو قـال الامير مـن قـتـل قتيلا فلـه فـرسـه فقتل رجلا مشرك على برذون فانه يستـحـق سـلبـه ولـو كـان عـلـى حـمـار او بـغـل او جـمـل لا يستـحـق السـلـب الخ."(عالمگيري / ص: ٢٢٤ / ج: ٢)

سوال :...... كـه پـنـځـه نـفـره مجاهدين سره ناست وو يوه مجاهد خپله اسلحه پـاكـولـه پـه خطا كي ټک ځيني وشو او يو مجاهد يې مړ كړى آيا پـه دغـه قاتل مجاهد ديت او كفاره شتـه كه نه؟

جواب :......پر دغه مجاهد ديت شتـه او كفاره هم شتـه .

"ورد تشريع الكفارة في القتل الخطاء في القرآن الكريم:﴿ وَمَن قَتَلَ مُؤْمِناً خَطَئاً فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُسَلَّمَةٌ إِلَى أَهْلِهِ إِلَّا أَن يَصَّدَّقُوا﴾(النساء: ٩٢) إلى قوله ﴿فَمَن لَّمْ يَجِد فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ تَوْبَةً مِّنَ اللَّهِ وَكَانَ اللَّهُ عَلِيماً حَكِيماً﴾(النساء ايضا ٩٢) اى ان الواجب تحرير رقبة مؤمنة ان وجدت فان لم توجد فصيام شهرين متابعين الخ۔"(الفقه الاسلامى / ص: ٢٩٥ / ج: ٦)

سوال:...... كه ديوه مجاهد مقصود اصلي جهاد وو خو طمع د غنيمت يې هم درلوده آيا ثواب د جهاد
يې شته كه نه؟

جواب:......بالكل يې د جهاد ثواب شته .

"إذا كان معظم مقصوده الجهاد و يرغب معه فى الغنيمة فهو داخل فيه قوله تعالى:﴿لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَن تَبْتَغُوا فَضْلاً مِّن رَّبِّكُمْ ﴾(البقرة: ١٩٨) يعنى التجارة فى طريق الحج فكما انه لا يحرم ثواب الحج فكذا الجهاد الخ"(رد المحتار / ص: ٢٣٨ / ج: ٣)

سوال:......كه يوه سړي ناحق مړى وكړى بيا د مقتول وارثانو عفوه ورته وكړه قاتل ته سره د دغه عفوي باچا حق د تعزير لري چي دغه قاتل ته تعزير وركړي كه نه؟

جواب:......باچا بالكل د تعزير حق لري .

"إذا عفا ولى القتيل عن القاتل عما صح العفو وبقى عند الحنفية و المالكية حق السلطان فى عقوبته تعزير الخ و حدر المالكية نوع فقالوا إذا عفا ولى الدم عن القاتل عمداً يبقى للسلطان حق فيه فيجلده مائة و يسجنه سنة الخ۔"(الفقه الاسلامى / ص: ٢٩١ / ج: ٦)

سوال:...... كه مجاهدينو د كفارو څخه د ښكار سپى ګير كړى او يا يې باز ګير كړى دغه غنيمت ګرځي كه نه؟

جواب:......بالكل غنيمت ګرځي .

"وما اصیب مما له ثمن نحو کلب الصید و سائر الجوارح من البزاة و الصقور فانه غنیمة تقسم بین الغانمین کغیرها من الاموال الخ"(عالمگیري / ص: ۲۱۵ / ج: ۲)

سوال: ......که مجاهدینو د کفارو سره جنګ و کړی او غنیمت یې ګیر کړی خو د دغو مجاهدینو څنګ ته نژدې نور لس کسه مجاهدین هم وو که یې چیري غوښتي وای دغو لسو کسانو مجاهدینو چي جنګ ته ورشي جنګ هم ور رسېدلای شوای خو جنګ ته نه ورغلل او نه یې هم ځانونه د جنګ لپاره تیار کړي وو نو دغه لس کسه مجاهدین حق لري په هغه غنیمت کي چي هغو نورو مجاهدینو ګیر کړی دی که نه؟

جواب: ......دغه لس کسه مجاهدین په غنیمت کي حق نلري چي هغو مجاهدینو ګیر کړی دی.

"ولو ان عسکراً من اهل الحرب دخلوا دار الاسلام انتهوا إلی مدینة من مدائن المسلمین فخرج قوم من اهل المدینة و قاتلوا اهل الحرب علی باب المدینة و هزموا اهل الحرب و اخذوا غنائهم و باقی اهل المدینة فی المدینة لم یتهیؤوا للقتال ولم یخرجوا إلی باب المدینة فالغنیمة لمن شهد الوقعة و لا شیئ لمن بقی فی المدینة و ان کان من بقی فی المدینة یقرب ممن شهد الوقعة بحیث یصلح معینا لهم لو استعانوا به الا انهم لم یریدوا القتال حیث لم یتهیوا للقتال الخ"(المحیط البرهانی / ص: ۵٤٠ / ج: ۵)

سوال: ...... که درې یا څلور مجاهدین مثلاً دار الحرب ته داخل شول بې له اجازې د باچا، غنیمت یې ګیر کړی په دغه غنیمت کي خمس شته که نه؟

جواب: ......دغه ټول حق د دغه مجاهدینو دی خمس نشته په کي.

"قال فی السیر الکبیر ولو ان رجلا ا و رجلین ثلاثة او لا منعة له من المسلمین او من اهل الذمة دخلوا دار الحرب بغیر اذن الامام فاصابوا غنائم فارجوها إلی دار الاسلام کان ذلك کله لهم ولا خمس فیه

الخ"(عالمگيري / ص: ٢١٦ / ج: ٢)

سوال:......که د مجاهدینو یو قومندان سره د پنځو کسانو مجاهدینو د کفارو سره جنګ وکړی غنیمت یې ګیر کړی خو شل کسان ملګري د دغه قومندان لیري په بل ځای کي وو که یې راغوښتي وای جنګ ته نه شوای را رسېدلای اوس دغه شل کسه مجاهدین هم د هغه پنځه کسانو سره شریک دي په هغه غنیمت کي که نه؟

جواب:......دغه شل کسان مجاهدین د هغه پنځو کسانو مجاهدینو سر په هغه غنیمت کي چي هغه پنځه کسانو ګیر کړی دوی حق نلري .

"وإذا وقع القتال فی دار الاسلام بان دخل قوم من اهل الحرب دار الاسلام قاصدا المسلمين فاستقبلهم امير من امراء المسلمين مع جيشه و قاتلهم و هزمهم و اخذ اموالهم فالغنيمة لمن شهد الوقعة و لمن كان ممن شهد الوقعة بحيث يصلح ان يكون رداء معينا لمن شهد الوقعة لو استعان به من شهد الوقعة امكنه اعانته و يشترط مع ذلك ان يكون مريدا للقتال حتى ان الذى لم يشهد الوقعة إذا كان بعيدا من الوقعة بحيث لو استعان به من شهد الوقعة لا يمكنه اعانته او كان قريبا منه الا انه لا يرد القتال فلاحظه من هذه الغنيمة الخ"(المحيط البرهانى / ص: ٥٣٩ / ج: ٥)

سوال:......که یو قومندان عمر ته وویل: که تا دغه کافر مړ کړی اسلحه او سامان یې ستا دی هغه کافر عمر او بکر په دواړو سره مړ کړی آیا هغه اسلحه او سامان یې یوازي د عمر دي او که بکر هم ورسره شریک دی؟

جواب:...... اسلحه او سامان یې یوازي د عمر دي .

"إذا قال الامير لمسلم ان قتلت هذا الكافر فلك سلبه فقتل هو و رجل اخر من المسلمين فالسلبه كله له و لا شيئ للاخر منه الخ"(عالمگيري / ص: ٢١٨ / ج: ٢)

سوال:...... که د مجاهدینو د یوه قومنان سره دېرش کسه مجاهدین وو دغه قومندان سره د لسو کسانو مجاهدینو د کفارو سره جنګ وکړی او غنیمت

يې ګير کړې او هغـه شـل کسـه مـجـاهـدين دغـه قومندان مخ او شا تـه کښېښـول ډ دې لپاره چې کـه نور کفار راغلل تاسو به يې مخ وګرځوئ او جنګ بـه ورسره وکړئ خو نور کفار رانغلل او دغو مجاهدينو بالکل جنګ ورسره و نـه کړې خو نـور کـفـار رانـغـلـل او د دغـو مجاهدينو بالکل جنګ کـونـکي اوس شـل کسـه مـجـاهـدين حق لري په دغـه غنيمت کي چې هغه قومندان سره د لسو کسانو ګير کړي دي که نه؟

جواب :...... دغـه شـل کسـان هـم د هـغـو لسـو کسـانو سره شريک دي پـه هغـه غنيمت کي چې ګير کړې يې دی .

”ان القتال متى وقع فى دار الاسلام فالغنيمة لمن شهد الوقعة و لمن كان قريبا ممن شهد الـوقعة بحيث يصلح معينا لهم بشرط ان يكون مريدا للقتال الخ“(المحيط البرهانى / ص: ۵۴۱ / ج: ۵)

سوال :......که يو کافر دار الاسلام ته داخل شو په امن سره او بې له اجازې يې د کفارو سره جنګ وکړې غنيمت يې ګير کړې په دغه غنيمت کي برخه لري که نه؟

جواب :......په دغه غنيمت کي برخه نلري .

”والحـربـى الـمستأمن إذا قـاتـل بغيـر اذن الامام فلا حظ لـه فـى الغنيمة الخ“(عالمگيري / ص: ۲۲۳ / ج: ۲)

سوال :......کـه مـجـاهدينو د کفارو سره جنګ وکړې غو غنيمت يې ګير کړې آيا دغـه غـنـيـمـت يوازې د هغو کسانو دی چې جنګ يې کړې وي او جنګ ته حـاضـر شوي وي او کـه د هـغو کسانو هم دی چې نه يې جنګ کړې وي او نه هم جنګ ته حاضر شوي وي؟

جواب :......دغـه غنيمت يوازې د هغو کسانو دی چې جنګ يې کړې وي او جنګ ته حاضر شوي وي .

”و إذا وقع القتال فى دار الاسلام بان دخل قوم من اهل الحرب دار الاسلام

قاصدا المسلمين فاستقبلهم امير من امراء المسلمين مع جيشه و قاتلهم و هزمهم و اخذ اموالهم فالغنيمة لمن شهد الوقعة الخ"(المحيط البرهانی / ص: ۵۳۹ / ج: ۵)

سوال:...... که مجاهدينو په دار الحرب کي غنيمت ګير کړی دار الاسلام ته يې نقل کړی نه وو يو مجاهد مړ شو هغه حصه د غنيمت د دغه مړه مجاهد دده وارثان په ميراث ورلای شي که نه ؟

جواب:......په ميراث يې نه شي ورلای ځکه دغه مجاهد يې مالک نه دی ګرځېدلی هغه وخت يې مالک ګرځېدی که يې دار الاسلام ته ورسره نقل کړی وای .

"الغنائم لا تملك قبل الحرز بدار الاسلام الخ۔ إذا مات واحد قبل الاحراز بالدار لا يورث نصيبه"

سوال:......که يوه مجاهد پهره کوله پر خپلو ملګرو باندي خو يو نفر راروان وو دغه پهره دار دا ګمان وکړی چي دا کافر دی و يې ويشتی مړ شو آيا په دغه پهره دار ديت او کفاره شته کنه؟

جواب:......پر دغه پهردار ھم ديت شته او هم کفاره .

"والخطاء على نوعين خطأ فی القصد و هو ان يرمی شخصا يظنه صيداً فإذا هو ادمی او يظنه حربيا فإذا هو مسلم الخ ، و موجب ذلك الكفارة والدية على العاقلة الخ"(عالمگيري / ص: ۳ / ج: ٦)

سوال:......که مجاهدينو يو کافر ګير کړ او خوله يې ور بنده کړه او يا يې ووهی ددې لپاره چي کلمه ووايي آيا دا جواز لري که نه؟

جواب:...... دا کار غير جائز دی .

"المسلمون إذا اخذوا اسيرا و خافوا ان يسلم فكمموه ای سدوا فمه بشیئ حتى لا يسلم او ضربوا حتى يشتغل بالضرب فلا يسلم فقد اساء وا فی ذلك الخ"(المحيط البرهانی / ص: ۵۵۱ / ج: ۵)

سوال:......که مجاهدينو کفارو ته کمين نيولی وو دغه کمين ته مسلمانان

ولوېدل مجاهدينو حمله پر وکړه او مړه يې کړه، دوی دا گمان وکړی چې کفار دي آيا پر دغو مجاهدينو ديت او كفاره شته كنه؟

جواب:...... پر دغو مجاهدينو كفاره شته او په عاقله وو د دغو مجاهدينو ديت شته كه د دغو مجاهدينو نومونه په دفتر كي د عسكري نويشته وو نو مراد د عاقله وو څخه هغه عسكر دي چي نومونه يې په دفتر كي د عسكري نويشته وي او كه د دغو مجاهدينو نومونه په دفتر كي د عسكري نه وو نويشته بيا مراد د عاقله وو څخه هغه قريبان مجاهدين دي .

"والخطاء على نوعين خطاء في القصد و هو ان يرمى شخصا الخ يظنه حربيا فإذا هو مسلم الخ و موجب ذلك الكفارة والدية على عاقلة و تحريم الميراث الخ"(عالمگيري / ص: ۳ / ج: ٦ ، بحث العاقلة الفقه الاسلامى / ص: ۳۲۲ / ج: ٦)

سوال:...... كه مجاهدينو د كفارو څخه غنيمت كير كړی او قومندان د دغو مجاهدينو غنيمت تقسيم كړی هر مجاهد ته يې خپله حصه وركړه وروسته يو مجاهد راغلی دعوه يې وكړه چې زه هم ورسره وم او خپل حضور يې په شاهدانو سر ثابت كړی، آيا دغه مجاهد ته به د بيت المال څخه حصه وركول كيږي كه به تقسيم بيرته د سره كوي؟

جواب:...... دغه مجاهد ته به د بيت المال څخه حصه وركوي .

"إذا قسم الامام الغنائم بين الجند و قبض كل واحد منهم نصيبه و تفرقوا إلى منازلهم ثم جاء رجل و ادعى انه كان شهد الوقعة معهم و اقام على ذلك شاهدين و قضى له بذلك القياس ان ينقض القسمة و في الاستحسان لا ينقض و يعوض من بيت المال قيمة نصيبه الخ"(المحيط البرهاني / ص: ٤١٣ / ج: ٥)

سوال:...... كه يوه مجاهد كفارو ته مين پټ كړی خو په دغه مين كفار رانغلل يو مسلمان مثلاً پر راغلی او پر دغه مسلمان پټاو شو او مړ يې كړ آيا پر دغه مجاهد ديت او كفاره شته كنه؟

جواب :...... دغـه مـجاهـد كه دا مين په اجازې د امير سره پټ كړى وو نو پر دغه مـجاهد نه ديت شته او نه كفاره شتـه، او كه يې بې اجازې د امير پټ كړى وو نو ديت وربانـدې شتـه .

"إذا وضع الرجل فى الطريق حجر الخ فهو ضامن إذا اصاب شيئا و اتلفه الا ان المتلف إذا كانا ذميا فانه يجب الضمان على عاقلته الخ ، و لا كفارة عليه الخ ان فعل ذلك بغير اذن الامام يضمن و ان فعل باذن الامام يضمن الخ"(عالمگيري / ص: ٤٠، ٤١ / ج: ٦)

سوال :......كـه يـوه مـجاهـد د غـنيمت څخه يو شى غلا كړ او وروسته پښېمانه شو، قومندان يا باچا خپل ته يې دغه شى چې غلا كړى را نه وړى او قـدرت يې هم نه درلودى چې دغه غلا شوى شى چې د كومو كسانو حق وو هغو ته يې وركړي اوس به په دغه غلا شوي شي څه كوي؟

جواب :......دغه شى چې د غنيمت څخه يې غلا كړى دى او قدرت نه لري چې د هر چا حق دى هغو ته يې وركړي ښه كار دا دى چې خيرات يې كړي .

"و ان لم يأت به الغال إلى الامام ان لم يقدر على رده إلى اهله فالمستحب ان يتصدق به الخ"(رد المحتار / ص: ٢٦٥ / ج: ٣)

سوال :......كـه مـجاهـدين كفار مړه كړي او يا يې پزه يا غوږونه يا يې بل اندام پرې كوي دا جواز لري كه نه؟

جواب :......داغير جائز دي .

"و نهينا عن غدر و غلول و عن مثلة بعد الظفر بهم الخ"(در المختار على هامش رد المحتار / ص: ٢٤٥ / ج: ٣)

سوال :......كـه مـجاهـدينو د كـفارو څـخـه غـنيـمت ګير كړى يوه مجاهد د غنيـمت څـخه يو شى غلا كړ او پټ يې كړ كله چې قومندان دغه غنيمت تقسيم كړى په مابين د مجاهدينو كې او مجاهدين سره جلا شوه وروستـه دغه مجاهد هغه شى راوړ، چې ده غلا كړى وو نو په

دغه شي به اوس څه کوي؟

جواب :......دغـه شـی چـي مـجـاهـد غـلا کړی دی یا خو دي‌بیر ته‌دغه مجاهد ته ور کړي، ورته و دي وايي چي هر څوک چي يې مستحق دی هغه ته يې ور کړه يا دي قومندان يا باچا ځيني واخلي، پنځمه حصه دي هغه مستحق ته ور کړي . او نور حکم د هغه شي لري چي شی پيدا شي او نفر يې معلوم نه وي نو په بيت المال کي دي کنبېږدي .

"ان الغال إذا ندم و اتى بما غله إلى الامام بعد تفرق الجيش فان شاء رده عليه و امره بصرفه إلى مستحقيه و ان شاء اخذه منه و دفع خمسه لمستحقه و يكون الباقي كاللقطة الخ"(رد المحتار / ص: ٢٦٥ / ج: ٣)

باب المستأمن

(په دار الاسلام کي داوسېدونکو کفارو احکام او مسائل)

د دار الاسلام جوړېدو لپاره شرائط

سوال: له يوه ملک څخه ددار الاسلام جوړېدو لپاره څه شرائط دي ؟

جواب: دفقهاء کرام په دې خبره باندي اتفاق دی چي له دار الحرب څخه د دارالاسلام د جوړېدو لپاره يو شرط دادی چي په احکامو کښي داسلام ظهور وشي نو هغه به دار الاسلام ګڼل کيږي .

لما قال العلامه الحصكفي ودار الحرب تصير دار الاسلام باجراء احكام اهل الاسلام فيها كجمعة وعيد الدر المختار على هانش رد المحتار ج ۳ ص ۲۷۷ كتاب الجهاد قبل باب العشر والخراج والجزيه .

وقال العلامه الكاسانى لا خلاف بين اصحابنا فى ان دار الكفر تصير دار الاسلام بظهور احكام الاسلام فيها بدائع الصنائع ج ۷ كتاب السير ومثله فى الهداية ج ۲ ص ۴۳۲ كتاب السير الباب الاخامس فى استلاء الكفار .

د دار الحرب جوړېدو لپاره شرائط:

سوال د دارالاسلام څخه د داراالحرب دجوړېدو کوم شرائط دي ؟

جواب: له دار الاسلام څخه د دار الحرب دجوړېدو لپاره فقهاء کرامو

تر منځ اختلاف دی دامام ابو حنیفه رحمه الله په نزد د درو شرطو موجود یدل ضروري دي .

۱: چي دکفر احکام پکي ظاهر شي .

۲: چي دار الکفر سره متصل شي .

۳: چي مسلمان او ذمي پخپل امن کښي پاته نه شي بلکه دکفارو په امن کښي داخل سي . او دصاحبینو په نزد د دار الحرب جوړیدو لپاره یواځي یو شرط دی او هغه دا چي دکفر ادحکامو ظهور وشي .

لما قال العلامه الکاسانی قال ابو حنیفه انها لاتصیر دار الکفر الا بثلث شرائط احدها ظهور احکام الکفر فیها والثانی ان تکون متاخمة دار الکفر والثالث ان لایبقیٰ فیها مسلم دار الکفر بظهور احکام الکفر فیها .بدائع الصنائع ج ۷ ص:۱۳۰ فصل احکام جختلف باختلاف الدارین .

وفی الهندیة قال محمد فی الزیادات انما تصیر دار الاسلام دار الحرب عند ابو حنیفة بشروط ثلثة احدها اجراء احکام الکفار علی سبیل الاشتهار وان لا یحکم فیها بحکم الاسلام والثانی ان تکون متصلة بدار الحرب لا یتخلل بینهما بلد من بلاد الاسلام والثالث ان لایبقیٰ فیها مؤمن ولا ذمی امناً بامانه الاول الذی قبل استیلاء الکفار للمسلم باستلامه وللذمی بعقد الذمة وقال ابو یسف ومحمد بشرط واحد لا غیر وهو اظهار احکام الکفر وهو القیاس (الفتاویٰ الهندیة ج ۴ ص ۲۳۲ کتاب السیر الباب الخامس فی استیلاء الکفار) ومثله فی تنویر الابصار علیٰ هامش رد المحتار ج ۲ ص ۲۷۷ کتاب السیر کتاب الجهاد قبل باب العشر والخراج والجزیة .

دسمندر په دار الحرب کي داخليدل:

سوال: نن صبا په جغرافيائی تقسيم کي دسمندر څه حصې دنږدې ممالکو په قبضه کي دي چي په هغه کي دبل ملک له اجازې پرته داخليدل دسمندري حدودو خلاف ورزی گڼل کيږي اوس سوال دادی چي ايا دکفري ممالکو اړه سمنر هم د دارالحرب په حکم کي داخليږي او که نه . بينوا توجروا .

جواب: کله چي کفار دمسلمانانو دکوم ملک په لاندې کولو سره دهغه ځای په سمندري حدودو باندي هم قبضه وکړي او له اسلامي بلادو څخه دهغه ملک تعلق ختم کړي نو دهغه ملک سمندر ي حدود هم حکماً په دار الحرب کي شامليږي .

لما قال العلامه ابن عابدينقوله واحرزو ها دارهم ويلحق بها البحر الملح ونحوه کمفازة ليس ورائها البلاد الاسلام نقله بعضهم عن الحموه وفى حاسية ابى سعودعن شر ح النظم الهاملى سطح البحر له حکم دار الحرب ردالمحتار ج ۳ ص۲٦٦ کتاب الجهاد باب استيلاء الکفار .

په دار الاسلام کي ديوه حربي په امن کي دپاته کېدو موده:

سوال: يو کافر په اسلامي حکومت کښي تر څومره وخته پوري داجازې حصلولو سره پاته کېدلی سي ؟

جواب: دکفارو اخلاق او عادتونه ته په کتو سره هر وخت له

هغو شخه اسلامي معاشره په خطر کي وي نو ځکه دوی ته له یوه کال څخه زیات وخت په اسلامي ممالکو کښي داوسېدو اجازت نه وي بیاهم که دوخت حاکم ئې مناسب وبولي نو دزیات وخت لپاری داوسېدو اجازه ورکول سي .

لما قال العلامه الحصکفی لا یمکن حربي الینا مستامنا فینا سنة لئلا یصیر عینا لهم دعونا علینا وقیل له ان اقمت سنة وضعها علیک الجزیة فان مکث سنةفهو ذمی (الدر المختار علیٰ هامش ردالمحتار ج ۳ ص ۲۷۲ کتاب الجهاد فصل فی استأمن الکافر وقال العلامه المر غنانی واذا دخل الحربی الینا مستأمنا لم یکن ان یقیم فی دارنا سنة ویقول له الامام ان اقمت تمام السنة وضعت علیک الجزیة (الدایة ج ۲ ص ۲۷۸ کتاب السیر باب المستأمن) ومثله فی البدائع الصنائع ج۷ ص ۱۱۰ فصل من یسع ترکه فی دار الحرب .

له کافرو قیدیانو سره داسلام دمجاهدینو چلن:

سوال دجهاد په دوران کي که چیري مجاهدین څه کفار ونیسي او همدا رنګه کفارو هم ځیني مسلمانان بندیان کړي او که دمسلمانو قیدیانو سره دي تبادله کړي او که فدیې پرې واخلي او خلاص ئې کړي ؟بینو توجرو .

جواب: دجهاد په وخت کي کله چي کفار دمجاهدینو په لاس قیدیان شي نو د وخت دحاکم مرضي ده چي قتلوی ئې یا غلامان ځیني جوړوي او یا په هغو باندي دذمی حکم جاري کوي او پرېږدی ئې دامام ابو حنیفه په نزد ددښمن په قید کښي دمسلمانانو بندیانو په بدله کي غیر

مسلم بنديان به آزاديږي او احكم ادې چي دصاحبينو په نزد له هغو څخه دفديې اخيستلو په ځاى دى بايد مسلمان بنديان آزاد كړل سي .

لما قال العلامه برهان الدين المرغيناني وهو فى الاسارى بالخيار ان شاء قتلهم وان شاء استرقهم وان شاء تركهم احراراً ذمة للمسلمين الىٰ ان قال ولايفادى بالاسارىٰ عند ابى حنيفة وقالا يفادى بهم اسارى المسلمين (الهداية ج٢ ص ٦٢١ كتاب السير باب الغنائم .

قال العلامه ابن عابدين وقتل الاسارى ان شاء ان لم يسلموا واسترقهم او تركهم احراراً ذمة لنا الا مشركى العرب والمرتدين كما سيجى وحرم منهم اى اطلاقهم مجاناً ولو بعد اسلامهم ابن كمال لتعلق حق الغانمين و جوجوزه الشامى لقوله تعالىٰ :فا ما منا بعد واما فداء حتىٰ تضع الحرب او زارها .قلنا نسخ بقوله :فاقتلوا المشركين حيث وجد تموهم .شرح مجمع وحرم فدائهم بعد تمام الحرب واما قبله فيجوز بالمال لا بالاسير المسلم درر وصدر الشريعة وقالا يجوز وهو اظهر الروايتين عن الامام شمنى (ردالمحتار ج٣ ص٢٥١ كتاب الجهاد باب المغنم وقسمته)

له اجازې نه بغير دحربي دار الاسلام ته د داخليدو حكم

سوال: آيا داجازه نامې يعنى قانوني اسناد ونه پرته كه چيري يو حربي دار الاسلام ته داخل سي نو هغه ته به سزا وركول كول كيږي او كه نه؟

جواب: کله چي ملک کي د دارالاسلام شرائط پوره وي او هلته اسلامي حکومت وي دحربي په نوموړي ملک کي دحکامو له اجازې پرته داخلیدل ددې خبري دلیل دی چي دکفارو له خوا جاسوسي ته راغلی دی په داسي حالت کښي دسزا په توګه دی هغه غلام جوړ کړل سي .

لما قال العلامه ابن عابدين قيد بالمستأمن لانه لو دخل دارنا بلا امان كان وما معه فيا ولو قال دخلت بامان الا ان يثبت (ردالمحتار ج۴ص ۲۷۲ كتاب الجهاد'

وقال العلامه ابن نجم لانه لو دخل دارنا بلا امان وما معه فی ء فان قال دخلت بامان لم يصدق واخذ (البحر الرائق ج۵ ص ۱۰۱ باب المستأمن ومثله فی فتح القدير ج۵ ص ۲۷۱ كتاب السير .

وقال العلامه ابن نجم لانه لو دخل دارنا بلا امان وما معه فی ء فان قال دخلت بامان لم يصدق واخذ (البحر الرائق ج۵ ص ۲۷۱ كتاب السير .

افغانستان دار الحرب دی که دار الاسلام؟

سوال، جناب مفتی صاحب دافغانستان دجهاد په وخت کي افغانستان دار الحرب وو که نه؟

جواب، فقهاء کرامو دیو ملک د دارالحرب دجوړیدو لپاره چي دکومو شرائطو لحاظ کړی دی هغه د جهاد په وخت کي په مکمله توګه موجود نه وو نو ځکه دا خبره چي افغانستان دار الحرب وو صحیح نه دی .

لما قال العلامة بدرالدين محمود بن اسماعيل لاتصير دارالحرب الا باجراء احكام الشريعة و اتصالها بدار الحرب بان لايكون بينها وبين دار

الحرب مصر للمؤمنين وان لا يبقىٰ فيها مسلم او ذمي امنا على نفسه لامان الاول لايبقىٰ امنا الا بان المشركين وعندهما باجراء احكام الشريعة تصير دار حرب اتصلت اولا وبقى احدبا لامان الاول او لا (جامع الفصولين ج۱ ص ۱۲ كتاب السير .

وقال العلامة التمر تاشي لاتصير دار الاسلام دار حرب الا بامور ثلاثة باجراء الاحكام اهل الشرك و باتصالها بدار الحرب وبان لا يبقىٰ فيها مسلم اث ذمي امنا بالامان الاول (تنوير الابصار على هامش الرد المحتار ج۴ ص ۲۷۷، كتاب الجهاد فصل استئمان الكافر ومثله فى الهندية على هامش الهندية ج٦ ص ۳۱۲ كتاب السير باب الرابع وما يصير الكافر به مسلماً .

په اسلامی مملکتو کي دکافر و لپاره دنوي عبادت ځايو نو دجوړولو حکم

سوال: په يوه اسلامي ملک کښي چي کلهٔ کفار اوسيږي نو ايا هغو ته دځانونو لپاره دنوى عبادت ځايونو دجوړولو اجازه سته او که نه ؟

جواب، په هيڅ يوه اسلامى ملک کي هم اوسيدونکو کفار دخپلو ځانونو لپاره دنوي عبادت ځايونو دجوړولو شرعاً اجازه نه لري البته دهغو دمخکني عبادت ځايونو دحفاظت ذمه وار اسلامي مملکت دى .

لما قال العلامة التمر تاسى ولا يحدث بيعه ولا كنسية ولا صومعة ولا بيت نار ولا مقبرة فى دارالاسلام ولو قرية فى المختار (تنوير الابصار علىٰ هامش رد المحتار ج۴ ص ۲۹٦ كتاب الجهاد فصل

في الجزية '

وقال العلامة الكاساني واما الكنائس والبيع القديمة فلا يتعرض لها ولا ينهدم شيء منها واما احداث كنيسة اخرىٰ يمنعون عنه فيما صار مصراً المسلمين لقوله عليه السلام لاكنسية في الاسلام الا في دار الاسلام (بدائع الصنائع ج ٧ ص ١١٤ كتاب السير ومثله في الهندية ج٢ ص ٢٤٧ كتاب السير .

په دار الاسلام کښې دعيسائيت د تبليغ حکم

سوال، نن صبا په پاکستان کې عيسائيان په آزاده توګه په عامو بازارو ن وکښې دعيسائيت تبليغ کوي نو ايا اسلام ددې خبري اجازه ورکوي چې يو کافر دي په اسلامي ملک کې دخپل مذهب په ازاده توګه تبليغ وکړي ؟

جواب: اسلام ددې خبري هيڅکله اجازه نه ورکوي چې يو کافر دي په ازاده توګه په مسلمانانو کې دخپل مذهبپه آزاده توګه تبليغ وکړي بلکه دوخت په مسلمان حاکم باندي دا لازم دی چې دوی له داسي عمل څخه منع کړي . تر کومه ځايه پوري چې په دار الاسلام کښې ددوی دمذهبي آزادئ تعلق دی نو هغه يوائې دهغوی تر خپلو مذهبونو پوري محدود دی ان تر دې چې هغوی به په جګ اواز سره دخپل مذهبي کتاب تلاوت هم په دار الاسلام کې نه کوي .

لما قال العلامة ظفر احمد عثماني وقد حكىٰ ابن تيمية اجماع الفقهاء وسائر الائمه رحمهم الله علىٰ مراعات تلك الشروط قال ولو لا

شهرتها عند الفقهاء لذكرنا الفاظ كل طائفة فيها ومن جملة الشروط بعود باخفاء منكرات دينهم وترک اظهارها كمنعهم من اظهارها الخمر والناقوس والنيران والاعياد ونحو ذلک ومنها يعود باخفاء شعائر دينهم كاصواتهم بكتابهم (اعلاء السنن ج۱۲ ص۴۸۸ باب الشروط اهل الذمة وما يجوز لهم فی دارنا وما لايجوز لهم)

